
## د کتاب پېژندنه




د کتاب نوم: د اور په لیکه
لیکوال: جنرال پرویز مشرف
ژباړن : عبدالمالک دادووال
دچاپ کال: ۱۳۸۵ لمریزکال
تیراژ: (2000) جلد

Download from:aghalibrary.com

## دژباړن سرېزه

بسم الله الرحمن الرحیم

د پاکستان ولسمشر جنرال پرویز مشرف د نړۍ هغه څېره ده چې پاکستان یې په رېښتېني ډول په نړېواله کچه مطرح کړ. د نوموړي کلک هوډ د ستاېلو وړ دی. ما دا کتاب ددې لپاره وژباړه چې دافغانستان ، ترهری او دهغه څه په اړه ډېر څه لري چې باېد زموږ خلک پرې وپوهېږي. دمشرف دا کتاب دافغانستان د راتلونکي او اوسمهال سره ډېرې اړېکې لري.

دده له پوځي ژونده نیولې تر سیاسي ژونده پورې ټول دیوه گاونډي ولسمشر په توگه ضروري ده چې افغان چارواکي او زموږ د سیاست ټیکداران یې ولولي.

ښاغلي مشرف په دې کتاب کې له پیله ترپایه داسې هڅه کړې چې ځان د پاکستان یوازېنی خد متار او خواخوږی وښیي. د د خپل کوچني والي په اړه داسې څه لیکلي چې وښیي نوموړی همغه مهال داسې بدماش او له تاو تریخوالي ډک ژوند درلود چې وروسته ټولې نړۍ ولېد . جنرال مشرف دخپلې کورنی انځور داسې کښلی چې گواکي مور او پلار ورسره ډېرې خواری گاللې. د دخپل ښونځي او کالج وختونه داسې انځور کړي چې گواکي لا همغه مهال یې د نورو همزولو مشري کړې ، هغوی یې غولولې او په لویه کې یې هغوی استعمال کړي. مشرف په واضحو ټکو کې لیکلي چې د کالج پر لېلېه کې د اوسېدو پر مهال یې بمونه جوړ کړي او دخپلو مشرانو لپاره یې خښ کړي. دا کیسه ددې ښکاروند ویي کوي چې نو موړي لا هغه مهال د خلکو د ویرولو او دځان د ښولو لپاره له هیڅ ډول هڅو لاس نه دی اخیستی. خو دکتاب په وروستیو برخو کې یې بیا ډېره هڅه کړې چې خپل خلک او پاکستانیان نړۍ ته داسې وړاندې کړې چې د ترهری سره هیڅ اړیکه نه لري.

کتاب دمېنې خوږې کېسې هم لري چې په خپله جنرال په کې ښکېل شوی دی. پوځ ته دورتې او بیا د پوځي ماموریت د شپو انځور یې داسې ایستلی چې تل د یوه پوځي افسر په توگه په هر ډگر کې ځلېدلی او دنورو پام یې ځانته را اړولی. ده د پاکستان او هندوستان تر منځ په څو جگړو کې ځان نېغ په نېغه ښکېل گڼلی او د پاکستان د پوځ د لاس برۍ متالونه یې را وړي.

ښاغلي مشرف تر پایه پورې د پاکستان په پوځ ویاړ کړی او د یوه هیواد پا ل پوځ په توگه یې په زیاتو ځایونو کې یې د ستاینې بېلې راوړي. د هند ، کشمېر او بیا د ترهری سره په روانه جگړه کې ده د پاکستان د پوځ کار کړنې ستایلي . نوموړي د پولېسو څخه ډېره کمه یادونه کړې ، خو د یوه پوځي افسر په توگه یې د پاکستان پوځ ددغه هېواد د بقا ضامن بللی.

بله مهمه مسله دپاکستان سیاسي لوبې دي چې ښاغلي مشرف هڅه کړې په مستقیم ډول د پاکستان واکمن په خپله تله کې تللي او له ځان پرته دنورو ټولو څخه یې په یوه ډول سرټکولی چې گواکې د پاکستان د خلکو سره یې خیانت کړی.

ده یوازې د پاکستان بنسټ ایښودونکي قائد اعظم محمد علي جناح ډېر ټېنګ ستایلي. خو تر هغه وروسته یحیی خان. ایوب خان ، ذولفقار علي بوټو ، جنرال ضیا الحق ، غلام اسحق خان ، بینظیر بوټو او په نواز شریف باندې یې بېلا بېل تورونه لولي چې دده په وینا د بېلا بېلو لارویې له پاکستان سره

خیانت کړي.
په دې ډله کې د ذوالفقار بوټو او نواز شریف تله درنه ده. دواړه یې د پاکستان د تباهی عاملین بللي . چې دده په وینا که وایي نو نن به پاکستان نه و.
د پاکستان هستوي وسلې یې داړتیا پر بنسټ جوړېدونکې بللي او داسې یې ښولې چې په څه ډول پاکستاني سیاستوالو د تاریخ له حساسو شیبونه دخپل هېواد د پرمختې په ډگر کې گټه اخېستې . افغانستان ته دشورویانو راتې دپاکستان داتومي بم دجوړېدو لامل شو چې لوبدیځ په چپه خوله ترې تېرشو.خو د قدیرخان موضوع ورته د سردرد جوړ کړې و. چې د ډېرو پاکستا نیانو په باور د دغه هېواد د اتومي بمب له پلار سره یې نا ځواني وکړه. دمشرف په وینا چې قدیر خان په پټه په نورو هستوي ټکنا لوژۍ پلورلې. اول خو داسې امکان نه لري ځکه مشرف دخپل پوځ او استخباراتو ډېره ستاینه کړې بیا څرنګه داسې کیږي ، او که داسې شوي وي نو بیا داسې ښکاري چې پاکستاني چارواکې او اداري ترډې زیاتې بې غوره دي. امکان لري دترهرو سره هم ورته چلند روان وي.

ښاغلي مشرف د پاکستان د پوځي نظام یا مارشالا راتې هم تر ډیره بربده د اړتیا سره سم بللی. ځکه چې دده پوځ پکې ونډه درلوده. وروستی کودتا چې دی یې واک ته رسولی داسې یې ښولې چې گواکي دی ترې هېڅ خبرنه و. خو په ډاگه یې په څو ځایونو کې داسې اشارې ورکړې چې گواکې د نواز شریف په کارونو کې یې د اړتیا پر بنسټ له پخوا گوتې وهلي. داسې یې ښولې چې له ډېره پخوا راهیسې په دې پوهېده چې په پاکستان کې پوځي کودتا ته اړتیا شته. ددغې کودتا وروسته یې دخپلو تصمیمونو او رهبری څرگندونه کړې چې په څه ډول شرایطو کې یې واک تر لاسه کړ او د پاکستان په خیر یې څه ډول ټلاره غوره کړه.
ده دخپلو ډېرو پرېکړو او ټلاروڅخه د ببلې په توگه یادونه کړې چې د پاکستان د اقتصاد د بیا رغا ونې لپاره یې څومره خدمت کړی. که داسې شوي وي او پاکستان پخوا همغه ډول پر مخ روان و چې ده یاد کړي نو په رښتیا چې د پاکستان په تاریخ کې یې ستر کار کړي
تر ډېره داسې بریښي چې د پاکستان اصلي واک د پوځي چارواکو په لاس کې وچې د اړتیا پر وخت کې یې حکومت نړولی.
د ( اورپه لیکه ) کتاب دهند سره سیالي هم په روښانه ټکو کې یاده کړې چې تر ډېره بربده یې دا کتاب د پاکستاني پوځ لپاره یو ویاړ بولي. په سیاسی ، پوځي او اټومي ډگر کې جنرال مشرف د پاکستان پوځ لها فتخاراتو ډک بللی ،چې د ده په لیکنه د هند هر تکل ته یې ځواب ویلی. له مخامخ جړو نبولې بیا تر سیاسي چنو وهلو پورې ټول دا څرگندوي چې گواکې د پاکستان پوځي چارواکو دهند د ستر پوځ ځواب ویلي شو . مشرف د خپلې ولسمشری په دوره کې دهند سره دخو ډېپلو ما ټیکو کتنو پایلې هم داسې انځور کړي چې پاکستاني چارواکو په کلکې سیاسي وړتیا سره له خپلو هندي سیالانو سره دخبرو مېدان ته ورداڼلې ، چې دده په اند هند یانو لکه د پوځي ډگر په شان په شاتې کړي. له هندي چارواکو سره د کشمېر پر سر لانجه هم داسې ښول شوې چې هندیان ظالمان او ډارن دي. خو په دې یې سترگې نه دي پټې کړې چې گواکې پاکستان دکشمېریانو سره مرسته نه ده کړې
دافغانستان سره اړیکې هغه ډول چې ورته اړتیا ده نه دي روښانه شوي خو دافغان مجاهدینو سره د جهاد پر مهال د پاکستان دخلکو او حکومت مرسته ډېره اغېزمنه او ستره بلل شوې. ښاغلي مشرف په ډاگه ویلي(( که پاکستان نه واي نو دافغانستان جهاد به نه وو بریالی شوی ، داسې ښول شوې چې شورویانو ته ستره ماتې پاکستان ورکړې (( . دافغانانو په قربانیو هم سترگې نه دي پټې شوي ، خو دغه وسله واله مبارزه یې ترډېره خپل و یاړ بللی. دافغان مجاهدینو سره یې ډېر اړخ نه دی لولی خو د ترهری او طالبانو په سریې خپل ډېر سرخوږلی.
دافغانستان د جهاد پر وخت یې د بهرنیو بنسټ پالو راتې د غرب په خوښه بللې چې د شمېرې له کبله یې هم په زرگونو یاد کړې. چې دده په وینا له همغه پیل راهیسې د پاکستان داستخباراتي اداري په لارښونه افغانستان ته لیږل کېدل . ده ویلي لویدیځ د شوروي له ماتې وروسته تېروتنه وکړه چې افغانستان یې یواځې پرېښود . ده ویلې دافغانستان د کورنی جړې او په دغه هیواد کې دترهرو د ځالې د جوړېدو اصلي لامل دافغانستان یوازې پریښودل وو.
د طالبانو دغورځنې په اړه یې هم په زړه پورې لیکنې نه دي کړې او داسې یې ښولې چې گواکې دا په خپل سر را ولاړ شوی غورځنو. دملاعمر پیژند گلوي یې کړې. او هغه ته یې د خپلو څو وړاند یزونو او د پاکستان او سعودي داستخباراتي ادارو د مشرانو د لیدنو کتنو یادونه هم کړې.
دطالبانو په رسمیت پیژندل یې دخپل هېواد مجبوریت بللی او نوروته یې هم داسې لارښونې کړي چې گواکې هغوی په رسمیت وپیژني.چې دده په لیکنه هڅو یې پایله نه لرله.
د اسامه بن لادن په اړه یې هغه څه لیکلي چې تر دې مهاله یې نړی په اړه معلومات لري. داسې یې ښولې چې پاکستان د القاعدې په خطر تر هغه نه پوهېده چې د سپټامبر ۱۱ پیښه رامنځ ته شوه . تردې پېښې وړاندې نوموړی د خپلو کارونو په سمبالولو بوخت و او ورسره جوخت د هند سره یې په سیالی فکر کاو.
د سپټامبرله ۱۱ وروسته مشرف په یوه نوي لوبې کې ښکېل شو.نوموړي ته ځان او پاکستان په سخته لومه کې ښکېل معلوم شو دامریکې نېغو گواښونو نوموړی دېته اړویست چې د طالبانو خوا خوشي کړي او د امریکې په خواکې ودریږي. دده په وینا د امریکې دمتحدو ایالتونو د بهرنیو چارو دوزارت مرستیال ورته گواښ وکړ. مشرف وایي له همغو لومړنیو گواښونو وروسته یې وپتېله چې طالبان په دې نه ارزي چې امریکا سره دې اړیکې پرې خرابې شي . ده داسې څرگنده کړې چې طالبان د پاکستان په گټه وخو تردې وروسته یې نوره گټه نه درلوده. او دخپلو همدغو ملرو پر وړاندې یې امریکایي الوتکو ته ځای ورکړ. ښاغلي مشرف داسې په ډاگه کړې چې گواکې پاکستان په خطر کې و نو دهمدې لپاره یې دا پرېکړه وکړه. خو بیایې هم دخپلو مغزونه کار

اخیستی او دالقاعدې او طالبانو پر سره یې ښه سوداګري کړې. په افغانستان کې د طالب واکمنی له ړنګېدو وروسته بهرني ترهروته د پاکستان ښارونه د پټېې ښه ځايونه ښکاره شول چې تر ننه پکې پټ دي. نو موږی تر هغه دې ستونزې ته نه وو متوجه چې کله په خپله ددغو ترهرو تر برغل لاندې راغی. تر همدې برېدونو وروسته یې د امریکا دخوشحالو لو لپاره ښه چانس تر لاسه کړ. له یوې خوایې دالقاعدې د غړو نیول پیل کړل او له بل پلوه یې د قبایلي سېمو د لاندې کولو لپاره پلان ونیو.
په لومړي ځل پنجابي پوځیان دکشمېر د غرونو په پرتله په سختو سېمو کې په جړه کې ښکیل شو. مشرف لېکلي چې پر دغو جړو یې هم امریکې ته ځان نژدې کړ او هم یې ښه غوښنه مرسته ترلاسه کړه. په قبایلي سېمو کې یې دجړې څخه دا ګټه پورته کړه چې افغان غاړه ورته له مجبوریته یو ځل بیا د مرستې لاس اوږد کړي. خود وزیرستان په غرونو کې د جړې د کنټرل شوي کیسې نه داسې ښکاري چې پاکستان په خپله دترهرې کوربه شوی. سره له ده چې مشرف ډېره هڅه کړې ځان او خپل خلک له دغو ترهرو لېرې وښيي خو ورسره جوخت یې داسې په ډاګه کړې چې دامریکا دمتحدو ایالتونو د مرستو تر ورکړې به دغه جړه روانه وي.نوموړي په پاکستاني ښارونو کې د القاعدې د ځینو مهمو کسانو د نیولو په زړه پورې کېسې کښلې. چې له دغو نیونو سره جوخت د بو شمېر پاکستانیانو ښکېلتیا هم پکې نغښتې.
دکتاب وروستی پاڼې په لنډو داسې ښيې چې چې ګواکې تر پایه مشرف دخپلې ټلارې ټینګه پلوي کړې. ده پاکستانیانو او نړیوالو ته داسې یادونه کړې چې چورلټ یې د پاکستان او نړی په ګټه کارونه کړي او پاکستان یې له سترو ناورینونو ژغورلی. خو عام پاکستانیان او مخالفې ډلې پر جنرال صاحب له تېرو څو کلونو راهیسې کلکې نیوکې کوي چې په دغه هېواد کې یې ډیمو کراسی تر پښو لاندې کړې. ولې مشرف د ولسوالیو د ټاکنو د متال په راوړلو سره ځان د ډیمو کراسی ټېکدار ښولی.
ددغه کتاب په ژباړه کې دخپلو ملرو له هڅونو او دهغوی له مرستې نه مننه کوم. په ځانګړي توګه زما دډېر خواږه ملري ( قادرځدراڼ (څخه چې تل یې له ما او خپلو هېوادو والو سره مرسته کړې.
ددغو ټولو موضوعګاني د د پوهېدو لپاره درته ددې کتاب د لوستلو بلنه درکوم.

ژباړن
عبدالمالک دادووال
د ۱۳۸۵ لمریز کال دجدې میاشت
کابل

## د لیکوال سریزه

داکتاب د معاصر پاکستان د پیژندلو او پکې زما درول یوه دربخه ده .ما په ځوانۍ کې له شوره ډک ژوند درلود. او شاید یو بې پروا ژوند. خو تل مې په ځان د بسیا کېدو او دخپل هېواد د ښه کېدو په اړه فکر کړی. تل د ډېر بې پردې والي او سېده والي له کبله رټل شوی یم. او ډاډه یم چې دغه صفات به په دغه کتاب کې پیدا کړی. زه دحسا سو موضوعگانو له ویلو کومه ویره نه لرم. خو داچې که ملي امنیت پکې نغښتی وي.

کله چې پاکستان د ترهری په وړاندې په نړېوالې مبارزې کې مرکزي ځای ومونده ، د خپل ژوند لیک د لیکلو تصمیم مې ونېو. ځکه چې زما او زما دهیواد په اړه هر چا دمعلوماتو د ترلاسه کولو کوښښ کاو. نو دهمدې لپاره غواړم نړېوال په حقېقت پوه شي.

پاکستان د مختلفو قشرونو ، غریبو ، بډایو ، ښاریانو ، کلېوالو ، لوستو اونالوستو هېواد دی. ددغه هېواد ۱۲۰ مېلیون وگړي په بیلا بېلو ژبو خبرې کوي عصري کیدل له تند لاری سره ټکر کوي. او لوېد ځتوب له سنتي والي او محافظه کاری له نوي فرهنږ سره په ټکر کې دی. دیوه کس لخوا پر پاکستان مشري کول په نړی کې یو سخت ما موریت بلل شوی. د ۲۰۰۱ کال د سپټامبرد ۱۱ پیښنو د پاکستان نهونې زېاتې کړې. دغې پیښې زموږ د هېواد مسالې لوېې کړې او د پاکستان نړېوالو اړیکو ته یې تغېر ورکړ.

زموږ ملت د یوشتمې پیړی د تاریخ په لېکلو او جوړولو کې مهم رول لوبوي .له همدې کبله هغه څه چې د پاکستان په سیاسي ، ټولنېز ، او اقتصادي ډگر کې پیښېږي له څو کلونو وروسته نه یوازې د ترهری سره دنړېوالې جرې په پاېلو کې مرسته کوي. چې د اسلام او غرب جوړښت ورسره تړلی. زه باورلرم چې یو سوله ییز او ښه راتلونکی به ولرو. نه یوازې پاکستان بلکې ټوله نړی. دا وضیعت هله راتلای شي. چې اسلام او دامریکا په مشری غرب اوږه پر اوږه د مسلو په حل کې گامونه پورته کړي.

میرمن مې صهبا او دکورنی نورو غړو او ملرو ، هدایت خیسگې ، هما ، افتاب او شبنمې ددغه کتاب لیکلو ته وهڅولم. له بوختېا وو سره سره هغوی ماته ډاډ راکړ چې ددغه کتاب په لیکلو کې به مرسته وکړي.

د همایون گوهر اوبروس نېکولاس نه هم ددغه کتاب په ډ ېزاېن کې له مرستې مننه کوم. همایون په نیمه شپه کې کافي تیل وسوځول چې زما متنونه و ویني. ښه به وي چې د برېگیډ عصېم بجوه زما زحمت کش کار کونکي څخه مننه وکړم چې زما دفکر په ضبطولو او بیا د کاغذ پر مخ د هغه د پیاده کولو کې راسره مرسته کړې. دهغه اغېزمنې قربانی پرته ددغه کتاب پوره کول سخت کار وو.

زما ژوند لیک زما دتاریخ سره مرسته ده ، خو دا زما شخصي داستان دی چې د پیښنو ډک ژوند مې په خپل ډول پکې بېان کړی .

پرویز مشرف
د ۲۰۰۶ کال د اگست۱
اسلام اباد

## د ترهګرۍ په ولکه کښې

ناڅاپه زوروره چاودنه وشوه. زما موټر سم هوا ته ج شو، زۀ د ترهګرۍ په ولکه کښې ږم، دا ۲۰۰۳ دا دسمبر 14پېښنه ده. زۀ د اسلام اباد په هوائی ډګر له کوزيدو سمدلاسه وروسته په موټر کښې خپل کورته چې په پوځي چاونۍ کې وو تلم. د الله پاک فضل ږ چې زه بيخی روغ پاتې شوم. نور څه لوی زيان رامنځ ته نشو.له دې نه وړاندې هم څو واري زه د مرګ خولې ته ورغلی يم خو بخت راسره تل ياري کړي. په اول ځل په۱۹۶۱کال کښې کله چې نوی ځوان وم په ما د مرګ يو ساعت تير شو، زه د آم د ونې د يو ښاخ نه پړمخ راځوړند ږم. دا ښاخ مات شو، زۀ زمکې ته راولويدم. زما ملګرو وويل چې ګنې زه خو لاړم. بيا چې کله ما ۱۹۷۲ کال کښې دهېواد په شمالی سېمو کښې د فوځ دجړن په توګه د يوې ډلې پوځيانو مشري کوله، زۀ د پی ائی اې ياد پاکستان نړېوالو الوتکو د شرکت په الوتکه کښې بايد نا ست وايي، کومه چې له ګلګيت نه اسلام اباد ته راتله خو د همالپا دغرونو د يخ په طبيعي کڼلونو کې ولیده. زموږ دوه ملګري د واورې د پاڼونود پريوتو له کبله د مرګ له کومې تير شوي وو، د هغوی جنازې هم په دغه الوتکه کښې اسلام اباد ته راوړل کېدې. ما او زما کوماندان د الوتکې سيټونه پريښودل چې جنازو ته ځاي پيدا شی. دا الوتکه هم په لاره کښې ورکه شوه او تر ننه ئې هيڅ پته ونه لګيده. بيا په سي ۱۳۰ الوتکه کې زما موجوديت حتمي وو. د کومې په پيښه کښې چې1988 دا ګست په17 کي ضياء الحق مړ شو.زۀ د ضيالحق پوځي سکرټر ته غوره شوی وم ،خو قسمت ته ګوره، زما په ځاي يو بل بريدمن وټاکل شو او په دغه پيښه کښې هغه هم په حق ورسيد.

)ارنولډ لوېيس رافيل) د متحدو ايالتونو سفير هم په دغه پيښه کې مړ شو. ددغې پېښې سمه توضيح لا تراوسه نه ده شوي او د پاکستان په معاصر تاريخ کې دا راز همغسې ګونځ پاتې دی.

په ۱۹۹۸ کې چې کله دتورن جنرالی په رتبه کې د (منګلا )د قول اردو کومندان وم، زه د پوځي کومندې په مرکزکې په يوې ناستې کې د ګډون لپاره پينډۍ ته راغلم، له کانفرنس وروسته زۀ له ډګرمن (اسلم چيمه) سره د خبرولپاره د هغۀ دفتر ته لاړم، کوم چې کافی لرې وو. منګلې ته بېرته د تلو په وخت کې دهيلي کاپټر مسول په ما پسې ګرځيد، خو چې پيدا يې نه کړم نو روان شو. د الوتنې په وخت کښې دا هيلي کاپټر هم د پيښې ښکار شو.

په ۱۹۹۹د اکتوبر په ۱۲ کله چې زۀ د پوځ مشروم، د (سرې لانکا له کولمبو) نه بېرته پا کستان ته راتلم. زماد سپرلۍ الوتکه بايد د کراچۍ په هوايي ډګر کې کوزه شوې وای،خولومړي وزير(نوازشريف) الوتکې ته د کوزېدو اجازه ورنکړه. رن وې يا ځغاست ليکه بنده شوه ،چې ورسره د ټول هېواد هوائی اډې زما پرمخ بندې کړی شوې. زما الوتکې ته د پاکستان د فضا نه بل ځاي ته د تللو امرو شو ،خو په الوتکه کې د سره تيل نۀوو. که پوځ د کراچۍ دهوايي ډګرواک په خپل لاس کې نه وای اخيستی نود7 دقيقو تيل پاتې وو چې په زمکه راکوز شو. له لومړي وزير سره مرګوني مخامختيا موضوع واک ته زما درسېدو سبب شوه.

ددې پيښې تفصيل به وروسته راځی.

بيا په ۱۹۶۵کال کې (دپاکستان او هندوستان) په جنګ کښې هم دوه ځله زه مرګ ته نژدې وم خو بچ شوم، ولې تراوسه بې لاخطرې پاتې وې په ۲۰۰۱ کال کښې د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ته د وينا نه وروسته زۀ هېواد ته بېرته راتلم. زمونږ الوتکه د نيويارک نه راالوتې وه چې پيلوټ د هوايي ټرافيک دکنټرول دا پيغام واوريد چې په الوتکه کې بم دی. موږ د نيويارک په هوايي ډګرکې بېرته کوز شو. دوه سا عته پلټنې وشوې خو دايوازې دروغ وو.

خود دسمبر ۲۰۰۳ کې زه د ترهګرۍ خلاف جګړه کې شريک شوم. د دسمبر په۱۴ زه له کراچۍ نه راغلم .د(چکلالې )په هوائی اډه کې کوز شوم چې د اسلام اباد نه لس او د پينډۍ نه ۴ کيلومتره لېرې دی. پوځي مينې ته روان ږم. زما ځانړي ياور دوه خبرونه راکړل. پاکستان په نېزه بازی کښې هند ته ماتې ورکړه او صدام حسين ونيول شو. موټر کښې را سره ښې خواته زما پوځي سکر ټر تورن جنرل ند يم تاج ناست وو. له ده سره په خبرو بوخت وم چې ناڅاپه موږ د خپل سيټ شا ته د چاودنې اواز واوريد. زما موټر خو سم په هوا کښې والوتو يا پورته شو. ما وې چې ګنې زۀ د ترهګرو په ولکه کې راغلی يم. د نورو ملکونو مشران خو د دا رنګ کومې پيښې نه وروسته سېمې ته ورځی، خو زۀ پخپله د ترهګرۍ نښه ږم. خود نورو يو شمير ملکونو د مشرانو برعکس زۀ يو پوځی هم يم، د دا ډول حالاتو سره دمقابلې روزنه مې هم کړې. او زۀ د ترهګرۍ خلاف د جنګ په لومړۍ کرښه کې يم. مونږ پوځي اډې ته نژدې په يو پله تيريدو چې دا پيښه وشوه. زما موټر د زمکې نه پورته شو.

زه پوه شوم چې د ماين چاودنه وه پوځي منشي مې هم داسې فکر کاو خو دواړه په دې هم پوهېدو چې قوې چاودنه وه.ځکه چې مېرسېډيزموټر درې تنه له سړکه اخوا وغورځول. شاته مو چې وکتل دوړې، خاورې وې او وران پل معلوميده چې شيبه وړاندې پرې راتېر شو. مونږ۴۰۰ متره مزل دغسې وکړ. پوځي اډې ته د رسيدو نه وروسته زما مرستيال پوځي سکرټرعصيم بجوا، چې په بل موټر کښې ږ ما ته يې ووئيل چې زمونږ د وژلو کوشش شوي ږ.

زۀ پوځي مېنې ته لاړم. زما مېرمنه صهبا چې په سختو شپو ورځو کښې زما ملګرې پاتې شوې ده زما له مور سره په يوه کوټه کې ناسته وه. صهبا د چاودنې غږ اوريدلی وو چې ما ته يې وکتل نو وې وئيل: دا چاودنه څنګه وشوه؟ مور مې بل خوا متوجه وه.ما ګوته په خپلو شونډو کيښوه او په اشاره مې ورته دچپ پاتې کيدو او د کوټې نه بهر ته د راتګ ووې. مور مې زۀ ليدلی نۀ ږم. ما نه غوښتل چې زما مور ته دې په دې وخت کې څه پته ولګيږي. ما صهبا ته په دهلېز کې ووئيل چې زما د وژلو کوشش شوی و، خو الله پاک فضل وکړ. کله مې چې هغه په کرار کړه. بيا زه بېرته هغه پله ته راغلم چې دچاودنې د ځای لېدنه وکړم.

پل وران شوی وو که څو تانيې وړاندې چاودنه شوې وايي نو موږ به د سوري شوي ۷ متره سړک نه لاندې لوېدلي وايي. خو ټول خلک ما ته حيران وو. موږ بی بی ته مې هم د پيښې پته ولګيده، ځکه خپل خپلوانو مو د احوال د اخيستلو لپاره کورته زنګ وهلی وو. سبا بيا ټول خبر په تلويزيون راغی. او د خبري رسنيو لومړی کرښې پرې ډکې شوې. چې د نيزه بازی او د صدام د نيولو خبر زما د خبر تر اغېزې لاندې راغی.
په دغه ماښام ما او صهبا ته د اسلام اباد د سرينا په هوټل کې د وادهٔ په يوه دستوره کښې ګډون کولو دعوت شوی وو. چې موږ هلته لاړو نو هر يو ګوته په غاښ و. مانه غوښتل چې له پيښې وروسته په کور کې پاتې شم. ځکه چې له خلکو سره به اند ښنې زياتې شي. تردې پېښې وړاندې به په ښار کې د عادي ټرافيک سره جوړه تلم راتلم، خو حالات اوس بدل شول او زما د تګ راتګ لپاره لارې بند بدل پېل شول چې موټر سايکل سپرو ته يو څه ستونزې پيدا شوې.
ددې پيښې يادونه لا کيده چې په ۲۵ د سمبر ۲۰۰۳ کال کې هم داسې يوه بله پيښه مخې ته راغله. زهٔ د ورځې په يوه بجه او ۱۵ دقيقو په اسلام اباد کې يو کانفرنس ته د ويناکولو نه وروسته کورته راروان وم. ځانګړی امنيتي افسر ډګروال الياس او همدارنګه جرن تنوير د ساتونکو په لارښود کاروان کې په بل موټر کې وو. تر هغه وروسته مې د ساتونکو موټر وو او زه له خپل پوځي منشي سره په ۳ موټر کې وم.
په هغه پله راواوښتو ، چرته چې پخوا زما د وژلو کوشش شوی ړ. دا پل جوړيده او ټرافيک پرې بند و. د پله اخواد پټرولو يو پمپ و، د کومې مخې ته چې د راتاويدونکو موټرو لپاره فراخ ځای و. هلته يو انضباط پولېس هم ولاړ و. دلته ما يو سوزوکی موټر بيځايه ولاړ وليد چې په پراخ ځای کې تيريږي او زموږ اړخ ته را روان و. ما په شکمن نظر وروکتل.موټر ښی خوا ته راغي، ماله ښی خوا ور وکتل بيرته مې لا مخامخ نه وو را اړولی چې په څو تانيو کې يوه چاودنه وشوه .زما موټر په هوا شو. هر لوري ته تياره خوره شوه. هر اړخ ته دوړې وې د انسانانو اندامونه هم خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وو ما خپله تفانچه را ويستله زما موټروان محمد بريک ووهلو، خو ما ورته په اردو کښې ووئيل "دباړ، دباړ " ځغله ،ځغله هغه په ايکسيليټر پښه ټينګه کړه. څه کم ۱۰۰ ګزه لرې به موږ يو بل پټرول پمپ ته رسيدلی وو چې يوه بله چاودنه وشوه. ړومبۍ چاودنه زموږد ښی اړخ شا ته شوې وه، خو دا چاودنه مونږ ته مخامخ وشوه او په ډير زور سره زما د موټرشيشه په ټوټو چې د مرمۍ ضد دی ولګيده، يوه لوي داغ پرې جوړ شو.
يو وارې بيا موټر په هوا شو. هر خوا تيارهٔ وه، لکه چې شپه وی، دوړې شوې. زما د موټر ټايرونه الوتی او له منځه تللي وو. ډرايور جان محمد بيا بريک نيول غوښتل، خو ما ورته د "دباړ دباړ " ځغله ، ځغله خبره وکړه. په دې وخت کې موټر په چينونو روان وو، دا مخصوص موټر ۳۵ ميله پورې په چينونو چليدی شي .موږ په همدې ډول پوځي اډې ته ورسيدو.
صهبا هم دچاودنو اوازونه اوريدلی وو. هغې منډې راوهلې. چې وې ليدل موټر په چېنونو روان دی، لوګی ترې خيژی او د انسان غوښه ورسره هم نښتې وه نو هغې چغې وهلې ما کله هم هغه داسې په ژړا نهٔ وه ليدلې. هغه خو په سختو حالاتو کښې هم ځان کابو ساتی. د ډېرې جذ بې له کبله هغې زه ونه ليدم او بهر د دروازې خوا ته بې را منډه کړه. ماوې: "چرته ځې؟ " خو هغې کريکې وهلې. او ويل يې "څهٔ وشول، څهٔ وشول "؟ اخر ما هغه ونيوله او دننه مې راوسته. هر څه نه مې خبر کړه او ورته مې وويل چې زه روغ رمټ يم. له دې وروسته کراره شوه.
زه بېرته بهر ووتم چې موټرونه مې ولېدل د لومړي موټر دمخې دروازه بېخې ويجاړه شوې وه. د انسان په غوښو او وينو موټر لړلی وو . زما وروستيو موټرو هم تا وان ليدلی وو او ماته يې وويل چې ټول ۱۴ تنه په دې پيښه کې ووژل شول چې ۳ تنه زموږ پوليس وو. دا په ما وړمبۍ ځان وژونکې حمله وه. وروسته راته معلومه شوه چې دوه ځان وژونکې حملې شوې وې. دريم ځان مرګی بريد هم کيدونکی وو خو داسې ونه شو. غا لباً دغه ځان وژونکی دخپلو دوو ملګرو حشر ليدلی او ويريدلی و. ا و ښا به يې فکر کړی وي چې ۲ ملګرو يې زما کار وکړ او هغه وتښتيدو ، که هغه له ما سره جنګيدلي وای نو يقيناً چې زه به مړ وای.ځکه موټر مې خراب وو . الله تعالی هم داسې د بنده مرسته کوی.
ددغو ۲ پيښو د عواملو په اړه په کستان کې دالقاعدې يو شمېر نېول شويو کسانو يو څه معلومات راکړل. ددغو پلټنو پوره کېسه ليکلو ته اړتيا لري ځکه چې دا د ترهری په وړاندې زموږ ستره بريا ښيي. چې وروسته به يې پوره بيان کړم. خو وړاندې تردې بابد پوه شی چې ولې تترهرو زه وژلم زما ژوند زما دهېواد دپيدا ايښت دتاريخ سره تصادف کړی. دهمدې لپاره راتلونکي برخې نه يوازې د يوه کس ژوند تشريح کوي بلکې د پاکستان په نوم د يوه هيواد تصوير کاږي .

## ۱ څپرکی

لومړی برخه
دژوند لومړی شیبې
پاکستان ته راتګ

نېټه: ۱۹۴۷ د اګست ۱۴
ځای: هند او پاکستان
پیښه: د برتانیې د امپراطوری تیارې او رڼې
د هندوستان ازادی او د پاکستان جوړېدل
دا دېرې بدامنې ورځې وې. د ازادۍ رڼا رابښکارېده او د قتل عام تیارۀ لا خوره وه. دا یوه توده او تېژنه ورځ وه. د ۲ هېوادونو کېسه وه. داوړې په یوه ګرمه ورځ کې له ډهلی نه یو ریل ګاډی د مسافرو ګردجن توکې د کراچۍ خوا ته بار کړل. په سلونو کسان د ریل په خونو کې سپاره شول. په راهرونو کې ولاړ وو. مسافر د کړکیو او دروازو پسې نښتې وو. بوه لوېشت ځای هم نه وو. د مسافرو سره د ګرمۍ او تاړ ویره نه وه. د او سپنې کرښه په بد حالت د وژل شویو کسانو په جسدونو ډکه وه. مسافرو په کاروان کې ځانونه کلک نیولي وو .دوی په نوي هېواد کې د نوي ژوند په هیله پاکستان ته روان وو چې د سختې مبارزې او قربانی وروسته یې تر لاسه کړی وو. ډېرو خلکو روژه نیولې وه ددې میاشت( اګست ) په دوران کښې د انډیا زرګونو کورنیو کډې وکړې. ډک ډک ټرینونه د نوی منزل په لوری راتلل. خو ډېر خلق د سکهانو د لاسه د مرګ له کومی تیر شول، ډېر سکهان او هندوان چې د پاکستان نه هند ته روان وو د مسلمانانو لخوا ووژل شول. ټول هغه کسان چې په دې سفر کې وو او ژوندي پاتې شول د ویلو لپاره یې کیسه لرله.
دا د یو منځنۍ درجې د کورنۍ قیصه ده، چې ښځه او خاوند د خپلو دریو زامنو په شمول له ډېلی را روان شول، د دوی دویم زوې د څلورو کالو او درېو ورځو و ، ما ته دریل دغه سفر صرف دومره را په یاد دي چې مور مې د سکهانو په لاس د وژنې ویرې اخستې وه. د ریل په هرتم ځای کې به یې ویره زیا تېده. د ریلوې په پټلۍ او دې سره خوا وشا مړو ته چې به بې وکتل نو فکر به بې زیاتیده. دغه کاروان باېد له ټول پنجابه تېر شوی وای چېرته چې ډېرې وژنې شوې وې. وړوکي ځوی ته دخپل پلار پریشانی هم یاده ده. هغه د یو صندوق په اړه فکرمند ړ ، کوم کښې چې اووۀ لکه روپۍ وې، دا د هغه دور ډېر لوی رقم و چې پلار او مورمې ترې ساتنه کوله. هغوی به دخوب پر مهال هم له دغو پیسو نه ساتنه کوله. دا پیسې د نوی مملکت پاکستان خارجه دفتر ته ځانړې شوې وې. دغه وړوکی هلک د ۱۹۴۷ د اګست په ۱۵ کراچۍ ته داورګاډي رارسېدل په یاد دي، چرته چې ددې کورنۍ تود هرکلی وشو یوشمېر خلکو یو بل په غېږ کې نیولي وو ، خندا او خوښي ښکارېده د شکرانې لمونځونه مو وکړل . د خوشحالۍ دغه لمحې هم دې بچی ته یادې دی.
نقل قول مې ځکه له دریم کس نه پیل کړ.ځکه دغه کیسه ما ته مشرانو کړې. ماته دخپل ماشومتوب ورځې ډېرې کمې را په زړه دي.
د ډهلي په پخوانی مغلي برخه کې د ۱۹۴۳ کال د اګست په ۱۱ خپل خاندانی کور نهرواله (نهر ته نژدې ) حویلۍ کې وزیږیدم، جاوېد وروو مې چې نا بغه ښکاري تر ما یو کال مخکې پیدا شوی. او دکشر ورور نوید په پیدا کېدو زموږ کورنۍ بشپړه شوه. د نهروالې دا حویلۍ زما دغور نیکه خان بهادر قاضی محتشم الدین ملکیت و. څوک چې ډیلی کښې ) دمالیو دراټولولو مرستېال) و. هغه د خپلې لور امنه خاتون چې زما نیا ده واده له سید شرف الدین سره وکړ څوک چې د حضور(ص) په آل کښې و. ماته وویېل شول چې څو نسلونه وړاندې زموږ مشران له سعودی عرب نه راغلی وو.وایې زما نیکه دهند په سوبل په (پانې پت) کې ډېره زمکه درلوده او د ښه صورت خاوند وو. زما نیکه زما نیا پرېښوده او بل واده یې وکړ.زما دنیا آمنې خاتون دوه زامن وو ، سید مشرف الدین (زما پلار ) او سید اشرف الدین. نیا مې دوی دواړه، ځان سره کړل اود نهر واله حویلۍ ته دخپل پلار کره راغله.چېرته چې وروسته زه وزیږیدم.
سید مشرف الدین زما پلاراو مشرورویې د هند د(علیګر )د اسلامي پوهنتون نه فارغ شوي وو. وروسته زما پلار د محاسب په توګه د بهرنیو چارو په وزارت کې کار کا وو چې بیا ریس شو. او فقط څو میاشتې وروسته له هغه چې زه ولسمشر شوم هغه ومړ.
خان بهادرزما دمورد پلار قاضی فضل الهی ډېر روڼ انده انسان ړ. هغه د بچو تعلیم ته ډېره توجه وکړه. زما مور زرین دډهلی پوهنتون نه فارغه شوه. بیا یې د لکنهوله پوهنتون نه ما ستړې واخیسته. هغه مهال ډېر و کمو مسلمانو ښځو د تعلیم جرات کاو. بیا ئې زما له پلار سره واده وشو او د نهرواله حویلۍ ته راغلل. دواړو ښځې اوخاوند به کار کولو. چې د دربو ځامنو لپاره د زدکړې ښې چارې برابرې کړې. دغه حویلی ۱۹۴۲ کښې خرڅه شوې وه .مونږ یوه بل کور ته د ډهلي د بارون په واټ کې چې په خالي مېدان کې وو راغلو ، چې تر ۱۹۴۷ پورې چې بیا پاکستان ته راغلو همدلته اوسېدو. زما مور په یوه ښونځي کې دنده تر لاسه کړه ،پلار او مور مې نژدې اړیکې درلودې او ګډه هڅه یې داوه چې خپل ماشومان ښه وروزي. مور به مې هره ورځ دوه میله پیاده ښونځي ته تله او راتله. هغه به ټانګه کښې ځکه نه تله چې یو څه پیسې بچت کړی اوزموږ د پاره میوه واخستی شی. موږ به تل دغې مېوې ته په هېله و.
زموږ لپاره د ښه تعلیم برابرول زموږ دکورنۍ اصلي موخه وه.دا هغه ارزښت وچې زما مور او پلار له خپلو والد نه په مېرات وړی و او موږ ته یې راپرېښود. خو په هیڅ توګه دوی بډای نه وو. ولې په ښو ښونځیو کې مو درس ولوست. زه او جاوېد په ډهلې کې د (چرچ ) په لیسه کې شامل شو. خو دهغې دورې نه مې هیڅ نه دي په یاد. او نه هم دهغه مهال دوستان او ګاونډیان را یاد دي .

## ۲ څپرکی

### په کراچۍ کې میشتېدل

کراچۍ یو پخوانی ښار دی لکه زموږ نور ښارونه لرغونی دی. په پیل کې د عرب سمندر په څنډو کې د کبانو د نیولو یو کلی وو. په ۱۹۴۷ کښې د پاکستان دارالحکومت یا پلازمینه شوه. وروسته پلازمینه د همالیا دغرونو په لمنو کې ښکلو غونډېو ته چې اسلام اباد نومیږي ولېږدول شوه. کراچۍ ته په رسېدو زما پلار ته په( یعقوب لاینز ) سېمه کې د ۲ کوټو یوه حویلي ورکول شوه.اشپز خانه یې درلوده او په پخوانې سیستم تشناب یې لاره. د ودانۍ په یوه کونج کې برنډه وه. زمونږ د کورنۍ ټول غړي لکه ترونه ، ترور ګانې او نور خپلوان هم موږ کره راغلل. چې موږ سره یو ځای ژوند وکړي.

یو وخت داسې راغي چې د ۲ کوټو په دغه حویلي کښې مونږ اتلس کسان اوسیدو. خو ټول خوښ وو. اوس فکر کوم چې موږ ډېر تکلیف تېراوو ،خو چې زموږ روحیه فوق العاده قوي وه. په واقیعت کې موږ کولای شو یو غوښتنلیک برابر کړو چې په ډهلي کي زما د قاضي نیکه لوی کور ببرته ترلاسه کړو. خو هغه اوس د دښمن په لاس کې وو ، او د یو شمېر لاملونو له کبله هیڅوک په دغه کار پسې ونه ګرځېدل .یوه شپه مې غل ولید چې زموږ په اپارتمان کې دکوچ ترشا پټ دی. سره له دې چې وړوکی هلک وم خو دا زړورتیا مې درلوده چې مورته ورشم چې په برنډه کې ویده وه. او هغه خبره کړم. زما پلار ترکې ته تللی و. ورته مې وویل چې غل دی ، هغې شور جوړ کړ، ګاونډیان راغلل او د غله نه یې زمونږ د کالیو یو بنډل را و ویستو ، کله مو چې غل وواهه هغه په ژړا شو او وې ویل چې زه غریب یم. زما مور پرې ډیره خفه شوه. کله چې پولیس راغي نو مور مې ورته وویل چې دلته هیڅ غل نشته او بیا یې پرې ډوډۍ وخوړه. دا په هغه مهال کې زما د مور د مرستې یوه نمونه وه .زموږ اشپز شوکت چې مور ته مې په جهېز کې ورکړ شوی وو له ډهلي نه موږ سره کراچۍ ته راغلی وو. ډېر ښه پخونکی وو. او س د سند په حېدر اباد کې ژوند کوي او اخر ځل چې ډګر جنرال وم ما ولید .زه او وروړمې جاوېد د ( سینټ پاټرېک ) په ښونځي کې شامل شو چې د عیسوي مذهبي مبلغینو لخوا اداره کېده. خو اوس دهغې دورې نه مې زیات څه نه په یادیږي. بغیر له دې چې شاوخوا یونیم کېلومتر پیاده تلو او راتلو .زما پلار د بهرنیو چارو په نوي وزارت کې کار پیل کړ چې د موهاتا په قصر کې وو. وروسته دغه ودانۍ د دمیرمن فاطمې جناح د اوسېدو ځای شو. نوموړې د قائد اعظم علي جناح خور وه. خو اوس دغه ودانۍ موزیم دی. کله کله به مې هلته له خپل پلار سره کتل. هلته دناستې څوکۍ نه وه، د لرګی په یو کریټ به ناست و او کار به یې کولو. دفتر کښې کاغذ ا و قلم هم نه وو ، د دې په ځای به هغوی د کیکر نۍ استعمالولو .پلار به مې څو وارې نۍ په مشوانۍ کښې غوپه کوله او لیکل به ئې پرې کول .په نوي جوړ پاکستان کې وضیعت دا ډول وو. ددې لپاره چې هند توکي نه راپرېښول. او حتی حاضر نه و پاکستان ته له وړاندې جلاشوې برخه پیسې ورکړي .په واقیعت کې برتانیې پریکړه کړې وه چې د ۱۹۴۷ په جون کې به هند خوشې کوي.هغه څه چې هندیان یې په ډېر غرور سره (( ستره ازادي ) ) بولي هغوی ترلاسه کړه. خو (لورد لویس مونت باتین ) وروستي نایب السلطنه لندن قانع کړ چې برتانیه تر دې وخته نشي پاتې کېدای او دخوشې کولو وخت یې را وړاندې کړ. دغه تصمیم په اپریل کې اعلان شو. له جلاکېدو ۴ میاشتې وړاندې د پاکستان ، برتانیې او هند د استازو لخوا د ډېرو پریکړو په خواکې یو تصمیم داو چې پانه راټوله او په دوو نویو هېوادونو وویشل شوه. خو کله چې هند د برتانیې له واکه خلاص شو دغه ژمنه یې پلې نکړه .پلار مې ډېر صادقه سړی وو. سره له دې چې بډای نه وو له بې وزلو سره به یې مرسته کوله. ځکه هغوی ډېر اړوو. په دغه موضوع مې مور ورسره نه جوړه. هغې به ویل دخلکو په اړتیاو له فکر وړاندې باېد خپلې اړتیاوې له منځه یوسو.مو ر مې لکه دنورو اسیا یې مېندو په څېر پر کورنۍ مهم اغېز درلود. خو د اړو کسانو سره د مرستې په برخه کې مې پلار په خپله لاره روان وو. او په دې اړه به یې له چاڅه نه پوښتل.

مور مې داړتیا وو د پوره کولو له مخې خپل کار ته دوام ورکړ، خو دا ځل یې په ګمرک کښې کار ونیولو. په یاد مې دي چې په سپین یو نیفورم کې به د کورنګۍ کریک سیمې ته تلله. چرته چې به ئې د بهر نه د راتلونکو الوتکو پلټنه کوله.یو ځل یې د (قاچاق) شوی سامان یوه ذخیره ونیوله چې ډېر انعام پرې ورکړ شو.........................

یوه غمجنه پیښنه چې ښه مې په یاد ده د پاکستان د بنسټ اېښودونکي قاېد اعظم مرګ وو ، چې د ۱۹۴۸ د سپټامبر په ۱۱ یې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. دهغه په مړینې پاکستان هغه ماشوم ته ورته وو چې په ۱۳ میاشتني عمر کې یې مور او پلار مړه شي.

امرېکایې لیکوال ( استېنلي ولپرت ) قاېد اعظم داسې معرفي کوي. (( کم شمېر خلک د تاریخ ټلوری بدلوي ، چې کم یې بیا د نړۍ نقشې ته بدلون ورکوي ، کم کسان دملت جوړونې اعتبار ترلاسه کوي. خو محمد علي جناح دریواړه تر سره کړل. ) ) دهغه مړینې نوي زېږېدلي ملت ته ټکان ورکړ. دهغه جنازه باېد دکراچۍ د بندر له اصلي واټ نه تېره شوې وای. چې زموږ کورته نژدې و ، په یاد مې دي چې د خپلو ملرو سره څو ساعته پر یوه دیوال ناست و او دده دجنازې د تېرېدو انتظار مو ویست. کله چې کاروان را ورسېد ټولو وژړل ، ما دخپلو اوښکو مخه ونشوه نیولای. دا ستره ضایعه وه .ملت ته ناهېلي پیدا شوې وه. دغه اعتبار د قاېد اعظم ځای ناستي او د پاکستان اول لومړي وزیر لیاقت علي خان خپل کړ ، چې ملت یې په ښه توګه له دغه خفګانه را وویست.

دغه وخت مونږ د خپل نوی ملک له امله ډېر خوشحاله وو. تعلیم جاری و ، په کراچۍ کې دا موده زما لپاره ډېر مهم وخت و ما به دخپل حال او راتلونکي په اړه فکر کاو. دا هغه ورځې وې چې زړه مې روغ شو. دهنده د بیلوالي په لومړیو کلونو او میاشتو کې په ماکې یو بدلون راغی. یوه بې ربښې واړه ماشوم زمکه پیدا کړې وه. هغه د تل لپاره پکې ربښه وځغلوله. زه به له دغې خاورې د خپل ځان په بیه ساتنه وکړم.

# دریم څپرکی

## ترکیه: جوړونکي کلونه

کراچۍ ته د راتلو نه دوه کاله وروسته زما پلار په ترکيې کې د پاکستان په سفات کې د حسابداری دادارې دمشر په توګه دنده تر لاسه کړه. هغه د انقرې په سفارتخانه کښې مقررشو. مونږ دریواړه وروڼه نوی ملک ته په تللو ډیر خوشحاله وو. په ترکيې کې د ۷ کاله اوسېدا نه وروسته راته معلومه شوه چې زما په ژوند یې ژور اغېز اچولي وو. ترکیه او پاکستان ډېر یورښوالی لري. ترکیه هم د پاکستان په شان اسلامی ملک دی. پاکستان په ډېرو شیانو کې له ترکېې سره اړیکې لري.

د اتا ترک هېواد په پاکستان کې په (( نوې ترکېې )) یادیده. د عتماني خلافت په له منځه تلو مصطفی کمال اتاترک دغه هېواد د تجزېې له خطره بچ کړ.او ترکېه یې په یوه عصري هېواد واړوله.

منلو خلکو یې هغه ته د اتاترک یا د( ترکې د پلار ) لقب ورکړ. هغه دیوه برېالي قومندان په توګه د جنرال په نوم یادیده. دوهم نوم (کمال) هم د یوه روزونکي لخوا ورکول شوی وو . هغه په ځوانی کې زړه راښکونکی ځوان وو. د پاکستان زیات خواړه ترکي ریښې لري. مورنی او ملي ژبه اردو مې هم ترکې ریښې لري.

اردو ترکي کلیمه ده چې د پوځ معنی لري. په ترکی کې د اوو کالو په دوران کښې زه د ۲ خبرو نه ډیر اغیزمن شوم. ړومبۍ دا چې ترک ولس ډیر وطن پال دی، هغوی د ترکې په هر شي ویاړ کوي او بله دا چې هغوی پاکستان او د پاکستان له عوامو سره د ژورې مینې څرګندونه کوي.

زموږ د دریواړو کم عمر ماشومانو لپاره د ترکی سفر ډیر نا اشنا و. مونږ د ( ایچ ام ایس دوارکا ) په سمندري بېړۍ کې له کراچۍ نه د (عراق) بصرې ته ولاړو. د سمندري بېړۍ سفر یو بې مثاله تجربه وه. له هغه ځایه انقرې ته په ریلوې ټرین کښې لاړو. دې مزل کښې درې څلور ورځې تیرې شوې. خو ولې دا سفر د ۱۹۴۷کال د ټرین د مزل نه زیات په زړه پورې او د خوشحالۍ وړ و.

په انقره کې مو یو کور پیدا کړ، چې یو کال مو پکې تېر کړ. وروسته ۳ نورو کورونو ته ولاړو او د یوه کال په تېرولو سره ۴ کورته ولاړو چې په ترکې د اوسېدا پاتې وخت مو هلته تېر کړ. متو سط کورونه وو .خو زموږ لپاره کافي او ارام و. البته د کراچي له دوه خونو کورونو څو ځلې ښه.

زما مور ته هم دټائپسټ په توګه دپاکستان په سفارتخانه کښې دنده پیدا شوه .هغه ډېره کارګره ښځه او ښه ټایپسټه وه. د تېزټ د سفارت انعام یې هم وګاټه. هغې هارمونیه هم ښۀ غږولې شوه او اوازي هم خوږ و. زما مور او پلار په نڅا او موسیقۍ مین وو او په عام ځای کې ګډه دوه نفري نڅا یې ډېر خوښ و. خو د پلار ګډا مې ډېره په زړه پورې وه .ډېر ښکلي نڅېدل. د انګلستان دملکې د تاجپوشۍ په د ستورې کې ګډا پیل شوه. زمونږ د سفارتخانې ګڼو خلکو پکې برخه واخسته. زما مور او پلار د سالون په نڅا کښې ړومبی انعام ترلاسه کړو. زما د مور یو ورور غازی غلام حیدر چې دراډیو پاکستان دانګلیسي خبرونو لومړی ویاند و ترکی کې یې موږ سره ډیره ښیګړه وکړه. هغه به اکثر نوی ودونه کول. د هغه اوله ښځه نیمه ترکي وه. د هغې د ورور نوم حکمت و چې له هنده ترکې ته ګډه شوی و. انقرې ته درسیدو نه وروسته زما پلار حکمت ډیر وکوت. په ورځپاڼو کې یې اعلان هم ورکړ، خو څه پته یې ونه لګیده. خدای پاک مر سته وکړه. یوه ترکي ښځه په سفارتخانه کښې ملازمه شوه، نوم یې مهر شا ن و. هغې حکمت پیژندلو. هغه په استنبول کښې و. هغې ښځې ورته ټیلفون وکړ، هغه انقرې ته راغي او مونږ سره یې و لیدل.

موږ به یوه او بل ته میلمستیا وې کولې.

مونږ دریواړو وروڼو ۷ اتۀ میاشتې په یو ترکي ښونځي کې زده کړه وکړه. په انګلیسي ژبه لوست ورکول کېده. موږ ترکې ژبه هم دلته یاده کړه. چې له کبله یې موږ ښه ترکي ملري پیدا کړل. ددغه عمر ماشومان ډېر ژر ژبه زده کوي. او زموږ ویل او اوریدل ښه شو .ډېر ژر مو په روانه ترکې خبرې زدکړې چانه پیژندو ،حتی همدا اوس په پاکستان کې ښه ترکي خبرې کوم. خو دانګلیسي یادولو ته مو اړتیا درلوده. له دې نه وروسته مونږ په یوو انګلیسي ښونځي کې داخل شو. دا د یوې جرمن ښځې شخصي ښونځی وو. دغلته به ډیرو غیر ملکی هلکانو او جینکو سبق ویلو. دښونځي د مالکې مادام قدرت خا وند ترکی وو. هغې په ریاضي او جغرافیې ډېر ټېنګار کاو. ددې نه وروسته ما او جاوید دغه دوه مضمونه ښه زده کړل. (مادام قدرت) د ددغو ۲ مضمونونو په تدرېس کې ښه وړتیا درلوده. تعلیم نه مونږ ښه فایده واخیسته. دې نه وروسته به مو تل په ریاضي کښې ښې نمبرې اخستې. چې د مادام قدرت دهڅو نتیجه ده.

دغو ۲ مضومونو پوځ ته دتلو په برخه کې ډېره مرسته راسره وکړه .د مادام قدرت ښونځی ګډ وو بهرنیو نجونو هم پکې لوست کاو. مونږ ټول وروڼه به دجینکو نه لرې تللو خو جینکو او نورو هلکانو به موږ سره ټوکې کولې. او موږ به یې په خپلو کورونو کې میلمه کولو. کېدای شي نجونې په دې پوهېدې او له دې کاره چې موږ به شرمېدو خوند یې اخېست. لس کلنې نجونې د لس کلنو هلکانو په پرتله ژر وده کوي او ستربږې او زموږ نه ګردې تاوېدې.

په ترکېه کې مې له لوبو یا ورزش سره ډېره مینه پیدا شوه. لوبغالو ته ولاړم د والیبال، فوټبال او بېلې منتېن لوبې مې وکړې. بېلې منتېن ترکي لوبه نه ده خو د پاکستان په سفارت کې به کېده. ترکېان د فوټبال سره ډېره مینه لري. د نړۍ دنورو ماشومانو په څېر مې مردکي هم کړې. چې مور به مو ډېره په قهر کېده. په ژمي کې به مې لاسونه چاودېدل او حتی وینې به ترې راتلې. له ورایه به ښکارېدل چې مردکي مو کړي.لاسونه به مې تړل او مردکي به مې په جورابه کې له موره پټول.

زه ډېر شوخ خو هوښيار هلک وم. په درسونو کې ښه وم. خو دجاوېد په شان ځلېدلی نه. او دجاوېد دومره مې له درس سره مينه هم نه وه.
ترکی کښې زموږ د کور مخې ته د لبنان سفارتخانه وه چې په باغ کښې يې د ميوې ډېرې ونې وې. کله به چې د سفارتخانې مساتونکی د ودانۍ نه وو تللو نو ما به ميوې پټې راشوکولې.
تل به مې داسې کارونه کول چې نورو ماشومانو نشو کولای. په خپله کوڅه کې ډېر مشهور وم. مور به مې چې زما له مسخره لوبو خبره شوه ډېره به خفه شوه. کله به مې چې ملرې د لوبو کولو لپاره راپسې راغلل مور به مې خفه کېده. هغې به ماشومانو ته وېل ورک شی. پرېږده چې درس وواېي.
دغه کار به زه هم په قهر کولم. خو په دې هېله به وم چې کله به له کوره د بهر وتلو چانس راته پيدا کېږي.
البته زه به پلار سره د هيليو ښکار ته ضرور تلم. پلار به مې د سفارت له نورو کارکونکو سره د ))گل باشي )) په نوم جهېل ته تلو. دغه سېمه اوس دانقرې په ګڼ مېشته سيمه بدله شوې. د مرغا بېو ښکار مې ډېر خو ښېده. ترټولو ښه لحظه به هغه وه چې دهېليو دناستې لپاره به په کمين کې غلي ناست وو. هغه ډېر به مې هېر نشي چې يوه مرغابی مې پرې وويشتل شوه او د اوبو پر سر به را ولوېده. خو په هوا کې مې ونشوه ويشتلای.
زموږ د گا ونډېانو په منځ کې هم لکه د نړۍ د نورو سېمو په څېر دماشومانو ډلې او گروپونه وو .مو ږ به جنېدو. خو دا جنې به رښتېا نه و. په يوه او بل به مو د ډبرو وارونه کول او د سپر په واسطه به مو له ځانه دفاع کوله. دهرې ډلې به خپل بيرغونه وو. حتي په همغه عمر کې به مې هم سترا تېژې، ټلارې او پلا نونه جوړل.ښه پکې ماهر وم.موږ به نورې ډلې سېمې ته را غوښتې ، په هغو به مو برېدونه کول او دهغوی بېرغ به مو راښکتته کاو چې دا به زموږ لپاره بريا او دهغوی لپاره ماتې وه ، زه به د کورنه په بهر وتلو او لوبو کولو خوشحاليدم. کله به چې مور په کور کښې بندولم نو ډير به خفه وم.
ما ډېره انرژي درلوده او په لوبو به مې مصرفوله. هغه مهال تلوېزون نه وو چې له هلکانو کورنۍ چرگان جوړ کړي.
جاوېد به تل کتا ب لوست ، خو ما به د مجبوريت پر وخت کتاب لوستلو. موږ د برتانېې د فرهنيې شورا د کتابتون غړيتوب هم
تر لاسه کړ. هر يوه به دوه کتابه سهمېه له کتابتونه وړل ، خو جاوېد په لوستلو کې ډېر حرېص وو. په۲ ورځو کې به يې خپل کتابونه خلاص کړل او بيا به يې زما کتابونه لوستل. د اونۍ په پای کې به يې۴ نور نوي کتابونه راوړل. خو ما به په دغه وخت کې يو کتاب نه وو خلاص کړی. مابه جا وېد ته وېيل چې داونۍ په پای کې کتابونه ور وړو چې په همدې خبره به مې له جا وېد سره شخړه وه.
د فاطمې په نوم مو يوه ترکی کار کونکې درلوده ، چې د احترام له مخې به مو ورته مېرمن فاطمه ويلې. مشرانو راته داسې لارښونه کړې وه چې مشرانو ته احترام وکړي او په سپک نوم يا کارکونکې مو نشو يادولای.خو ډېره صادقه کار کونکې وه.
مېرمن فاطمه بوډۍ،نا لوستې او ساده ښځه وه. خو ډېره زحمت گالونکې وه. هغه ته به مو ويل چې پاکستان لکه جنت غوندې دی هغې به وېل پاکستان ته مې بوزی چې دغه جنت ووينم .نه پوهېږ م چې هغه به داخبره منلې وي او که به يې زمو ږ د خوښولو لپاره داکار کاو.
زموږ په سفارت کې ۲ نظامي اتشو کار کاوو. ډگروال مصطفی او اسماعېل .په همغه وړوکوالي کې د هغوی زړه راښکونکې يو نيفورم زه پوځ ته د تلو لپاره وهڅولم .خو داسې څوک چې پر ما يې ډېر اغېز لرلی ، حمېد دهغوی مرستېال وو. دی يو ټېټ پوړی افسر وو. دا هو ښيار او ښايسته ځوان د کشمېر و. هغه به زمو ږ له کو رنی سره ډېره مېنه ښوله. زه او جاوېد به يې د غونډېو چکر ته بولو ،تر هغه لېرې لا ژوبې وو موږ به پلې ورتلو او بېرته به ترې راتلو. د حمېد ډېرې لوبې يادې وې. او موږ ته به يې راښولې.
زموږ دکور مخامخ د سړک په ها غه بله خوا کې د يوه متقاعد ترکي جنرال کور و ، چې وروسته يو ستر صنعتېر شو ، د ريان په نوم يې يوه ښکلې لور درلوده. هغه به د خو نې له پنجرې حمېد دکار دمېز تر شا ليده. يوه ورځ يې ورته په کور کې د چايو ست کړی و. په ډېر حېرانونکې ډول، زاړه جنرال، حمېد ته دهغه له لور سره دواده وړانديز وکړ، ستر ه غو غا جوړه شوه. کله چې حمېد بېرته پاکستان ته ولاړ مېرمن يې هم ورسره وه. هغه ډېر روښانه سړی وو او ډېر پر مخ ولاړ. او دجړنی په رتبه کې تقاعد شو وروسته يې سوداگري پيل او ډېر پکې برېالی وو. وروستی ځل مې چې هغه ولېد په کراچی کې د يوه ټولې مشر وو ، خو د ناڅاپي قلبې حملې له کبله ومړ.کله چې ولسمشر شوم او په لندن کې د يوه بهرني سفر پر وخت روان وم د حمېد مېرمن رېان مې هلته په لندن کې ولېده.
ترکی کښې د اوسېدو په دوران کښې مې سپو سره مينه پيدا شوه. زمونږ په کور کښې د نسواری رنګ ډير ښکلې سپې و چې نوم يې "وهسکی "و. چې د سړک په يوه پيښه کښې مړ شو ، خو له سپو سره مينه کول زما د ژوند برخه جوړه شوه. واړه سپې مې خو ښيږې. نه غټ.ملرې مې وايې يو کومانډو بايد له سترو سپېو سره مېنه ولري.
په ترکې کې ۷ کاله د ستړگو په رپ کې تېر شول له ډکو زړونو ، ډېرو ملرو څخه جلا او پاکستان ته راغلو. کله چې مونږ د ترکې نه راتللو. نو مونږ ژړل. دا ۷ کاله زما د ژوند ښه کلونه وو. زموږ د بېرته راتلو سفر هم د حيرانۍ وړو. مونږ له انقرې نه تر بصرې پورې د خپل پلار په آستن (موټر ) کې راغلو.موږ په ترکې، سوريې او لبنان راتير شو اود اردن په لار عراق ته راورسيدو. بصرې نه مونږ سمندري بيړی کې سپاره شو او کراچۍ ته راورسيدو .

## ۴ خپرکي

کور

مونږ د ۱۹۵۲ په اکتوبر کښې کراچۍ ته راورسیدو. زما عمر د دیارلسو کالو وو. په کراچۍ کښې مو ډیر ملګري، خپل خپلوان وو او بیا خپل کور ته د راتګ خوشحالي خو بل ډول وه. مونږ اووۀ کاله پس راغلو. د کراچۍ ښار لوی او په یو نړیوال ښار بدل شوی و. پلار مې د بهرنیو چارو وزارت ته خپل کاري رپوټ یوړ. مونږ ته د ناظم اباد په دریم بلاک کښې یو ښه کور راکړ شو. ډیر ښار ګوټې د کډوالو لپاره جوړ شوي وو. نظیم اباد په ښه پلان جوړ شوی وو. لوی سړکونه او ګلدانونه یې درلودل.

ډیر ګاوندیان مو د منځنۍ کورنۍ خلک و. موږ له هغو څو کورنیو څخه وو چې موټر مو درلود. ډیر وخت نه و تېر چې مور ته مې د دنده پیدا شوه. زما د پلار د یوې هالنډۍ ښځې او خاوند برېنکس سره دوستي شوه. ښاغلی برنکس د فلپس کمپنۍ مشر ړ. چې د (( ساپټ )) په نوم په نوې صنعتي سېمه کې وه. مور ته مې د هغه په دفتر کښې د سیکرتر دنده ورکول شوه. تنخوا یې ښځ وه. ددې دندې یوه لویه فائده دا وه چې مور ته مې په ارزانه بیه یو فلپس رادیو ترلاسه شو. ډېره موده یې هلته کار وکړ. کلونه وروسته مې د برنکس د کورنۍ سره درې ورځې په هالنډ کې تېرې کړې.

مونږ دواړو ورونو ما او جاوید د همغه کال په مني کې د ((سینټ پاټریک)) ښونځي په اتم او نهم صنف کې د داخلې لپاره برېالی امتحان ورکړ. دا د سېمې همغه پخوانی ښونځی وو چې پخوا پکې وو. دغه ښونځی د عېسوي مبلغانو لخوا اداره کېده. خو موږ په اردوژبه کې له ناکامۍ سره مخامخ شو. موږ په ترکیه کې اردو نه ویېلې. جاوېد په ټولو مضمونونو کې د ښونمرو په درلودلو سره په ښونځي کې ومنل شو. او زه یې ونه منلم. زه موقتا د((ماري کولاکو)) په نوم ښونځي کې شامل شوم. سمدلاسه مور او پلار مې هڅه وکړه چې زما د اردو سوبه لوړه کړي. او یو کورنی معلم یې راته ونیو. له دریو میاشتو وروسته مې دومره اردو یاده کړه چې د)) سنت پاتریک)) په ښونځي کې شامل شوم. فکر کوم دژر منلو لامل په شل فیصده ازموینه کې د ښونمرو له کبله و.

کشر ورور نوېد مو بیا وروسته په ۱۹۵۷ کې د سینټ پاټریک د ښونځي په ۲ ټولۍ کې شامل شو. هغه به تل متوسطې نمرې اخېستې.

په انقره کې زموږ ښونځی د شنو پټیو شاته وو، خو په کراچي کې ډېر لېرې و او لاره هم چندانې ښه نه وه. کله به پلار په موټر کې بېولو، خو معمولا به په ملي بس کې تلو، بسونه به تل له خلکو ډک و. او خالي څوکۍ به نه وې. له ښونځي به د کور ته راتلو پر وخت زه او جاوېد د )) رېال (( د سینما په لور تلو. دلته یوه ګولاېې وه او بس به په کرارېدو ،موږ به په منډه ور ختلو، دا خطر ناکه لوبه وه.

خو د جمناسټیک د لوبې برکت و. زموږ همزولو له موږ سره د مقابلې وړتیا نه درلوده، کورته مو په ګرمۍ کې نیم ساعت لاره وه. ناظم اباد کښې د هلکانو بیلې بیلې ډلې وې. زه هم په یوه ډله کښې شامل شوم. خو ډېر تریخ وم.

په پاکستان کې یوه په زړه پورې لوبه د کاغذ باد د پورته کولو ده. خو په توپیر سره تر سره کېده د لته لکه د افغانستان هلکا ن تار په کلکو سرېښو او مېده کړې ښیښې باندې لړی او بیا یې په جنګ اچوي او هره خوا هڅه کوي د سېال تار پرې او هغه ازاد کړي. او کله کله شیشه د کاغذ پران د پورته کونکې دلاس ګوتې پرې کوي او وینې ترې بهیږي. دا ډېر درد کوي او تردې زړه بوږنونکي دا چې کاغذ پران دې درڅخه بل هلک ونیسي.

د افغانستان په اړه تازه خپور شوي رومان یا ناول (کاغذ پران باز) دغه دود ښه تصویر کړی. او زما شخصي تجربې هم په دغه کېسه کې شاملې دي. دلته د سېمې یو بدمعاش و چې هر کاغذ باد الوزونکي پسې به تللو او ورته به یې وئیل چې د کاغذ باد تار راکړه. هلکانو به اکثر د هغه خبره منله. یوه ورځ زما مشر ورور کاغذ باد الوزوو چې هغه بد معاش راغی او زما د ورور نه ئې د کاغذ پران د اخستلو هڅه وکړه. ما د خپل ورور لاس ونیولو او ورته مې ووئیل چې موږ تاته ولې کاغذ پران درکړو؟

ما ورته سوک ورکړ جنګ شروع شو. ما هغه ښه ووهلو، خلک راټول شول. له دې نه وروسته ما ته په سیمه کې د "داداګیر" یا سوک وهونکي لقب راکړل شو. له دې نه ما دا سبق واخېست چې که تاسو دا ډول بدمعاش و نهوی نو بیا به هغه پخپلو پښو ونه دریدی شی. له دې نه وروسته چې کله زه پوځي شوم نو دا سبق راته ډېر ېکار راغی.

د سینټ پاټریک د ښونځي مې هر څه یاد دي. هلته مې له ښونځي بهر هر څه زدکړل خو شو خې مې کمه نشوه چې بوه ښونکي ښاغلي)) دې لېما (( په خپلو شوخیو ماته ډېرې سزاګانې راکړې. کله به د ټولي په یوه کنج کې څملول شوم او جزا به راکول شوه. اوکله به د ټولي نه بهر ویستل شوم. او جزایي به شوم. یوه ورځ په بهر کې په یوه پښه جزایې ولاړ وم چې پلار مې د ښونځي له مدیر سره د خبرو لپاره راغی ،ما د بېوال بېخ ته ځان پټ کړ چې ومې نه وېني. ما ته یوه بله سزا نن هم راپه یاده ده: عمومي ناظم یوه ورځ زه ولید م چې نور هلکان مې په تباشیر ویشتل. زه یې د لاس په لرګي ۲ ډانه ووهلم، ډېره مې لکه اور سوځېده.

کله چې د پاکستان د ولسمشر په توګه د نوي ښونځ کال د پیل لپاره خپل ښونځي ته لاړم نو ما عمومي ناظم ته دوینا پر وخت هغه سزا وریاده کړه "استاده ! ما داسې فکر کاوه چې ګنې زه په واوره ناست یم" دا خبره ما د خپلې وینا پر وخت وکړه. په دغه وخت کې مې یوه همصنفي مائیکرو فون راواړ او د ناظم نه ئې سوال وکړ "استاده !آیا هغه وخت تاسو پوهېدی چې یوه ولسمشر ته جزا ورکوئ".؟ په دې خبره ټولو وخندل. زما په زړه کښې د ناظم او خپلو نورو ښونکو لپاره ډیر عزت او احترام دی.

زما یو ښونکي (مندیس) نومېده ښه ښونکی و، او زموږ د شخصیت په اړه یې ډېر فکر وکړ.

په ښونځي کې مې شوخی محدودې نه وې.

ما ما مې غازي غلام حیدر خان هغه کس چې د نیمه ترکی ښځې سره یې واده کړی و. د ځوانانو سره په یو ځای کېدو کې ډېر ماهرو. هغه به دعملي ساعتېرېو پر وخت د هلکانو مشري پر غاړه اخېسته، هغه به په خپل الماني ډوله ( اوپلریکوړډ ) موټر سایکل تر لسو پورې هلکان سپرول. او د شیطانی لپاره به بهر تلو.
یوه ورځ یې ( فرېرباغ ) ته دچکر لپاره بوتلو دلته به خلک دمېلو لپاره راتله. هغه یو کس ولېد چې په بوه غالی ناست وو او پک سر یې ځلېده، ده هلکانو ته وویل که چا دغه کس په سر په څپیړه وواهه ۵ روپی ورکوم. ټولو ځانونه غلي کړل او ومو ویل داکار نشي کېدای. زړور ماما مې وو ېل )) وګوری ) ) : هغه نېغ د پک کس شاته ورغی او ښه په زوره یې سرته څپېړه ورکړه او ورته یې وویل بشیره ته یې ؟ زه له ډېره وخته په تاپسې ګرځم. سر بې لکه دوزخ داسې سور شو. پک کس په ډېر قهر سره راتاوشو. مخکې له دې چې څه ووایي ماما مې ترې ببښنه وغوښته. ویې ویل (( ډېره بښنه غوا ړم وروره، تا سوه زما ملري بشیر ته ورته وی، او درباندې وغولېدم، له بشیر سره مې همدلته وعده کړې وه. دغه بیچاره کس چې لا په قهر و لړ اخوا بلې څو کی ته ولاړ او د پسه په ډول یې اخوا او دېخوا کتل. موږ له خندا شنه او ډېر حېران و. خو هېله مو وکړه چې ماما مو بل ځل داسې خطرناکه کار ونکړې. هغه بل شرط کېښود، بیا یې وویل اوس لس روپی هغه هلک ته ورکوم چې بیا دغه پک کس په سر ووهي، ټول حېران شو. وایي پکه دادې لا بله سپکه.
موږ انکار وکړ، خو سمدلاسه ده وو ېل خی وګوری( بیا د پک کس خواته ورغی او تر تېر ځل بې په زوره هغه کس په سر په څپیړه وواهه او ورته ویې ویل دادی بشیره ته دلته یې ،وړاندې مې د تا په څېر یو بل کس وواهه. دغه بیچاره کس بیا په قهر را وګرځېد او سترګې یې وحشي شوې وې. خوله یې لکه طلای ماهي غوندې ډېره وازه شوې وه، مخکې له دې چې څه ووایي ماما مې تر هغه بل ځل زیاته ببښنه غوښتل پیل کړل. په دروا غجن او ډارن ډول یې وویل نپوهېد م چې تا سو خپله څو کی بدله کړې ؟؟
ما ما مې بې له دې چې سړی خبرو ته پرېږدي زموږ خواته راغی. او موږ له ډېرې خندا په کبلو کې رغړېدو.
خو هغه همدارنګه په هوایي ځواکونو کې و.او د پاکستان له جلاکېدو وړاندې بې د هند په هوایي ځواکونو کې د تورې جایزه اخیستې وه.

.....................................................................

زۀ د پنځلسو کالو په عمر کې په لسم ټولګی کې وم. نسبتا پوه زدکونکی وم. په ټولي کې له اوله تر ۴ نمبره پورې زما درجه وه. خو ناڅاپه زما درجه ټېټه شوه . په اصل کښې یوې نجلۍ سره مې "مینه " پیدا شوې وه. د ځوانانو اوله مېنه لکه لېونتوب وي.خو دغه مینه هم مختلفه وي. ما دغې مېنې ته ډېر پام کاو ، ځکه چې له اسمانه راته راغلې وه، زه به دهغې په یادونو کښې ورک وم. په دې معامله کښې هغه جینۍ له ما مخکې شوې وه. زه خو ډېر سخت شرمیدم. او نشو مې کولای دواده خبرې ورسره وکړم. هغه زمونږ په ګاونډ کښې اوسیده. او زما همزولې به وه. دا ډېره راته په زړه پورې وه مخکې تر دې چې زه په هغې مېن شم یوه جینی له ماسره مینه کوي. له هغې پرته مې هېڅ په زړه کې نه ګرځېدل.
د هغې انګریزی ښه نه وه او زما اردو کمزورې وه. هغې به ماته په اردو کښې خطونه لیکل، بیابه ما ته یو ملګری لوستل او ما به هم په هغه ملګری ځواب لیکلو. هغه کس زماد کشر وړور ملری وو ، چې د هغې جینۍ خطونه به یې راوړل او ځواب به ئې هم وروړلو. دا ډېر چالاکه هلک وو او هر کورته به یې سر ور ننو یستو ، پټ به په دېوال د جینی کورته ورتلو زما لیک به یې ورکولو او دهغې به یې را وړل.
خبره داسې ځای ته ورسېده چې په ) نیا ) مې بې له دې چې پوه شي دا کار بې پیل کړ. هغه مهربانه ښځه وه. او لکه دنورو محافظه کارو مسلمانو ښځو په څېر به یې چادرې اغوسته. نیا ته به مې وېل بایډ دګا ونډ یانو پوښتنه وکړي او دجېنی دکور خواته به مې مخا مخ کړه، چې دهغوی کورته ورشي، بیا به ما خطونه د نیا د برقعې یا چادری په یو جیب کې اچول او هغه جینۍ به ترې ویستل. هغه جېنی پوهېده ،ما ورته ویلی وو. خو نیا مې نا خبره وه او که پوه شوې وایی چې داسې عاشقانه لیکونه پرې لیږدوم نو خفه شوې به وه. خو وروسته مې مور خبره شوه.
دې جینی ډېر ښه اندام درلود ، او یوه نمایشي مینه وه. تر هغه چې زما مور پلار د کور بدلولو فیصله وکړه دا ځای د((ګارډین ) په سړک کې لږ لیرې د کراچې ژوبڼ ته نژدې وو چې ښکلي باغونه یې درلودل او دمېنې دغه کیسه په همدې ډول پای ته ورسېده.
اوس مونږ ګارډ ېن روډ یا سړک ته راغلو. دلته زه د مېنې له یوې بلې کیسې سره مخا مخ شوم .دا یوه ښائسته بنګالۍ پیغله وه، خود مېنې دا نکل د اول په څېرنه و. هغه بې اوس وادۀ کړې ده او په بنګال کې د خوشحالۍ ډک ژوند تیروی. فکر کوم مور به مې پوهېده ځکه په درس کې کمزوری شوم.هغه ډاډه نه وه خو له ضعیفه پایلو مې په قهر وه. خو دکلنی ازموینې پایلې مې ښې وې. او د اول نمره سره په ۴ نمرو دوهم شوم. په ریاضي کې مې لومړی جایزه واخیسته.
په دې وخت مې مور وویل چې زما مشر ورور جاوید به د پولیسو یو مشر جوړیږی. د ټولو کشر نوید به ډاکټري کوي او زه به د شوخی له کبله پوځ ته ځم ،چې همداسې وشو .

## ۵ څپرکی

د کور کلي پرېښودل

فوځ ته د تللو لپاره نېغ نشو تللای اول باېد کالج ته تللي واي ، يولسم اودولسم مو پاس کړی واې. که دغه دوه کلونه په انساني علومو کې ويل شوي وای د هنرونو درجې ( اف اې ) او که به د ؟؟؟ علومو په څانګه کې لوست شوی واي د ساينس ايف اې ته ورتلل و. د ا دبرتانيې او امريکا د درسي سيستم خلاف و چې يولسم او دولسم ټولي د ښونځي برخه وي لکه افغانستان.
يوازې د ( اف اس سي ) له پاس کولو او د وسله والو ځواکونو د ازموينې له کامېابی اود فزيک له سختې ازموېنې وروسته به پوځ ته ورتلای شو.
په دغه وخت کې په کراچۍ کښې هېڅ ښه کالج نه و. ځکه نو مور اوپلار مو راته د لاهور وتلي کالج (( فورمن کرېسشن ) ) چې په اف سي مشهور و غوره او برابر کړ. دا کالج دامريکايي عېسوي مبلغانو لخوا اداره کېده. دا ښکلی ښار له ډېر پخوا راهېسې د هنر ، فرهنګ شعر او ادبیاتو په ډګر کې د سېمې مرکز و. دکالج مدېر يو امريکايي ښکلی سړی و. چې له ټولو زدکونکو سره يې ښه چلند درلود. بل امرېکاېې چې هلته وو هغه ممبی نومېده او د فزېک لوست به يې زدکونکو ته ورکاو او دلوبو په برابرولو کې يې ښه ذوق درلود. جاويد (مشر ورور ) مې په دولتي پوهنتون کې داخل شو. دغه کالج ته به ډېر وتلي زدکونکي تلای شو اوس پوهنتون شوی دی .د پاکستان بل مشهور کالج (( اسلامي کالج ) ) و.چې د پاکستان په لومړيو وختونو کې يې د پاکستان ډېر کرکيټ لوبغاړي تربيه کړل. ايف سی کالج د انګريزي ډوله زدکونکو لپاره مناسب بلل کېده. او اسلاميه کالج د ډيسی ډوله هلکانو کالج و. او دولتې کالج به ډېر تکړه زدکونکي جذ بول. دې درېواړو کالجونو دپاکستان د ژوند په بېلا بېلو برخو کې مشران پيدا کړی دي، ځکه دې پو هنتونونو به دهغو زدکونکو برعکس چې بهرنيو پوهنتونونو ته تلل خپل زدکونکي د وطن له دودونو سره تړلی ساتل.
بهرنيو پوهنتونونو عموماً سياسی مشران پيدا کړی دي چې د پاکستان له تاريخ، تهذيب او ثقافت سره بلد نه وو. دغو مشرانو دخپل کار اود غير ملکی سياسی او اقتصادی فکرونو له کبله پاکستان ته صرف زيان رسولی دی.
زه له کور نه بهر پاتې شوي نه وم. ځکه هغه وخت ماته دا احساس نه و چې زه به له مورا و پلار سره داوسيدو لپاره چرته کورته رانه شم.
ما يوازې هېڅکله ژوند نه و کړی او نه پوهېدم چې د تحصيل په وخت کې به له مور او پلار سره ژوند ونشم کړی. خو دتحصيل په وخت کې زه يوازې وم ،خو دلته مې ايف سی کالج کښې ډير کسان ملګری شول. د (( کېنډي ) ) په سالون کې يوه خونه راکړل شوه. د سالون مشر ښاغلی ( دوتا (زموږ داهليسي ښونکی هم و. ښه سړی و ،سخت خو عادل. د فورمن کريسشن کالج ښکلی و او د لوست او لوبو لپاره يې ښه وسايل درلودل.د جمناسټېک ، ځغاستې ، او زيبای اندام او نورو لوبو په سياليو کې به مې برخه اخيسته. په جمناسټېک کې مې لومړی ،په ځغاسته کې مې څلورم او په زيبای اندام کې مې دريم مقام ترلاسه کړ. چې د اف سي کالج د ښاغلي يا ما ستړ نوم مې وګاټه.
همدا رنګه يو تصديق ليک مې ترلاسه کړ. چې ښه نوم يې درلود.
په دغه لېلېه کې مې د بېلابېلو ځوانانو او خارجيانو سره ولېدل. ځېنې بډای ، غريب ، مذهبيان او ځېنې هم عصري ځوانان وو. دختېځې افرېقا څوتنه هلکان هم و .په دې کې طارق عزيز هم شامل و. طارق زما د ولسمشر کېدو نه وروسته زما مشر سکرټروټاکل شو او اوس د عامې روغتيامشردی. د پوهنتون په يوه لوبه کښې برخه اخستل ضروری خبره وه، خو ما به باډی بلډر، جمناسټک او په منډه کښې هم برخه اخسته. زه د " ايف سی کالج "دزده کونکو مشر هم غوره شوی وم. د امان الله نېازي په نوم له يوه ځوان سره ملری شوم هغه په قوم نېازی وو ، وروسته برېګډير شو هغه او ټولو ملګرو ماته د اول کال د دزکونکو د استازي په ټاکلو کې د برخې اخستلو خبره وکړه. په دغه وخت کې ما په وړومبی ځل " دخلکو يوې غونډې " ته وينا هم وکړه.
زه په يو ميز ودرول شوم. زما پښې رېپيدلې، ما يوازې دا وويل که تاسو زه وټا کلم نو زه به ستاسو د ګټو ساتنه وکړم .د کراچی د نېازېو زدکونکو او د شمالي افريقې زدکونکو ملاتړ رانه وکړ دماشومتوب شيطانيو لا دوام وکړ. د ايف سی کالج لېلې يا شپې خونې به ماښام اووه اته بجې بنديدلې.
خو ما او ځينو نورو ملګرو به د (ام) د ونې په ذريعه او دجمناسټېک دلوبې له برکته بهر ته تلو او د شپې به مو فلمونه کتل.معمولا به د رېا سېنما ته تلو . او يوه نيمه بجه به پياده بېرته راتللو ځکه چې د ايف سی کالج په څېر لېرې ځای ته به ټانګې والا نه تلل.
د بېرته راتلو نه وروسته به دروازه بنده وه، موږ به دلوبې دروازې سره په جومات کښې ويده کيدو. ځکه د دود له مخې لاروېان په جومات کې له بېده کېدو څوک نه منع کوي او سهار به چې د پوهنتون دروازه خلاصه شوه نو غلي غلي به ور دننه شو.
ايف سی کالج کښې ما ساعتي بم "ټائم بم " جوړول زده کړل. چې وروسته مې د يوه کوماندو په توګه ترې ښه ګټه واخيسته. د ترهګرۍ په دې ورځو کښې دا ډول خبره کول ګران کار دی. خو هغه ډيرې ښې ورځې وې. هغو ورځو کښې دا د "مالوټوف کاک ټيل " په بمونو مشهور وو.هغه چې په کورونو کې جوړيدل.د ټايم يا ساعتي بم دجوړولو لپاره به داعامې پټاکی استعماليدې، چې ورسره به سګرېټ تړل کېده.د سګريټ اوږدوالي به د بم په اندازه و. يوه ورځ موږ درې څلورو کسانو تصميم ونيو چې د خپلې لېلېې د ساتونکو دمشر د ويرولو پروګرام جوړ کړو. موږ د هغه دکور نه بهر "ټائم بم " په يوه او سپنېز بکس کې کېښودو. چې غرېږې لوړ شي. همدا ډول مو بل ساعتي بم د ليليې د ساتونکو د مرستېال مشراو دريم بم مود دروازې سره نژدې دخطونو په بکس کښې کېښودو. دا کار مو وکړ او زه خپلې خونې ته لاړم.

د ناظم د کور نه بهر بم ړومبی وچاود ید. هر څوک به هغه اړخ ته تلل، زه هم هلته ورغلم موږ چې هلته ورسیدو نو د مرستیال د کور نه بهر دویم "بم" وچاودید. زه هم پکې وم. مونږ چې هلته ورمنډه کړه نو دخطونودبکس "بم" هم وچاودید. هر اړخ ته غوبل جوړ شو. څو ورځې وروسته ناظم یو زدکونکی چې حمېد نومیده ونیولو او ورته ئې ووئیل چې وایه د بمونود پیښنو تر شا د چا لاس دی؟ که ودې نه ښودل نو د کالج نه به وویستل شې؟
حمید د حیدراباد (سندھ) اوسیدونکي و. هغه ماته راغلو او وې وئیل چې له داسې ستونزې سره مخ دي. ما وویل که زما له امله حمید ته سزا ورکړ شی نو دا به ډیره بده وی، ځکه نو ما حمید ته ووئیل چې عمومي ناظم ته هر څه رښتیا رښتیا ووایه .هغهٔ ورته زما نوم وښودلو ، په همغه ماښام ناظم زه خپل کور ته وغوښتلم. په لاره کې دا اندښنه راسره وه که وویستل شم نو مور پلار ته به څه ځواب وایم. ناظم پوښتنه وکړه چې د بم په چاودنو کښې دچا لاس دی؟ ما په دې کار اعتراف وکړ. هغهٔ ووئیل ! "پرویز ته د لیلیې د یوه بلاک مشرځارونکی یې او تا دا کار وکړ؟" زهٔ سخت ملامت وم. ما بښنه وغوښته او ومې وئیل چې بیا به داسې نه کوم. هغه زه پرېښودم. دا رنګ ما ته معلومه شوه چې رښتیاو کښې څومره زور وی. دا یو داسې سبق و چې له ما نه هیر یږي.
له مرګ سره په اول ځل ایف سی کالج کښې مخا مخ شوم. کالج کښې د ام یوه ونه د امونو نه ډکه وه. ملګرو راته ووئیل چې وروخیژه او امونه راوشوکوه. ور وختم را ځوړند به شوم او ملاق به مې واهها او په پښه به مې ملرو ته امونه را توېول. ما امونه شوکول چې ښاخ راباندې مات شو زه راپریوتم او بې هوشه شوم. ملګرو سوچ وکړ چې ګنې زه خو لاړم.
زه ډیر وخت وروسته په هوش راغلم چې ومې کتل نو د ناظم په کوټه کې وم او ډاکټر هم موجود و. تکړه ځوان وم او ژر جوړ شوم.
د لاهور وتلی ښځینه کالج (کېن نا ېرډ ) نومېده او هروخت به په ځانړې توګه مازدیګر ددغه کالج مخې ته سرګردانه وم .یوه ورځ په اف سي کالج کې یوه مباحثه برابره شوه چې د لاهورد کین نا یرد د کالج نجونې هم ورته رابلل شوې وې. یو هلک زما شاته ناست وو ، زما څوکی به یې په پښه وهله نا ارامه یې کړم څو ځلې مې ورته وویل چې بس کړي خو دوام یې ورکړ. په داسې حال کې چې نجونې همدلته وې عصابو مې لټ وخوړ او ورته مې وویل چې له ښونځې بهر شې، بهر مو سخت جنجال پیل شو ، خو نورو زدکونکو سره بیل کړو.هلکانو وویل هغه د ( پهلوان بیدي ) د غېږ نیونې د لیلې غړی دی او بیا به راشي ما به ووهي خو هېڅکله بیا رانغلو.
له دغو کیسو به پوه شو ي یاست چې درسونو ته ډیر پابند زدکونکی نه وم.
لاهور ستر جذاب ښار دی. په ځانړې توګه له مور او پلاره د لیرې هلک لپاره.
زما مور پلار چې ماته کوم سبق راکړی وهغه تل له ما سره و. خوهغوی زما د تعلیم په اړه ډیر اند یښمن و .خو زه د اف اې تر ازموینې وړاندې دپاکستان د "پوځي اکیډمی " لپاره غوره شوی وم.
له دغې اکاډمۍ نه مې بریالی پایله ترلاسه کړه او د پاکستان د پوځ د افسر سند مې ترلاسه کړو. او په وروستیو ازموینو کې بریالی شوم. خو د پوځ د افسر په غوره کیدو یې کومه اغیزه ونکړه. په همدې سره مې د یوه زده کونکي په توګه ژنوند پای ته ورسید. او دژوند لوی فصل مې په پیل کیدو و. هغه فصل چې د یوه سرتیري او واکمن په توګه یې زما دژوند تلوری ټاکه .

## ۲ فصل

دومه برخه: داور په منځ کې

په پوځ کې ژوند

د کلال څرخی د فوځ یوه پوځي څه ډول تیاریږی؟
بلکل داسې لکه چې یو کلال لوښی جوړوي. هغه اول د خاورې انتخاب کوي، په ګوتوو سره ئې ګوری، د خاورې خوښولو نه وروسته ترې په صفا اوبو خټه جوړوی اوبیا ترې د خپلې خوښې لوښی جوړوی. بیا ئې په مخصوصه بټۍ کښې اچوی او د یو ټاکلی وخت نه وروسته یې راباسی بیا نو لوښی تیار وی. د فوځ سرتېری هم دا شان تیاریي. د پوځي اکیډ می د هلکانو انتخاب لکه د خاورې غونډې کیږې.
د پوځي اکاډمی یو زدکونکی د کلال سره ورته والی لري. پوځي ژوند سستي له منځه وړي، داچې څومره به پوځي بریالی وي د هغه اور پورې تړلې چې دی د پوځ په ورځني دېي کې پخیږي.
پوره ۱۸ کلن وم چې د پاکستان پوځي اکاډمی ( پي ام اې ) ته په۱۹۲۱ کال کې داخل شوم. دیوه هوښیار لوبغاړي او ځیرک هلک لپاره د ټولو پام راګرځول اسانه کار وو .په پیل کې په کراچۍ کې د لېکلو یوه ازموینه پرانیستل شوه، د پرلپسې نورو ازموینو لپاره غوره شوم. او د یوه کاروان په واسطه راولپنډۍ ته ولاړم. بیا وروسته د سرحد ایالت شمال لوید یځ کوهاټ ته ولاړم.د جسمي ،دماغي او اروا پوهنې ازموینې کېدې. د اروا پوهنې د ازموینې او معاینې پر وخت راته وویل شو هرهغه څه چې همدا اوس د سپینې پاڼې په لېدلو سره په مغزو کې لرم ولیکم. اقتصادي او ټولنیز بحثونه هم وشول.زه یې د**۵** کسانو مشر وټاکلم. او په ما ینونو دیوې ککړې سېمې د پاکولو امر یې راته وکړ. په ټول پروګرام کې مې مهارت وښود ،۱۰۰ متره ټاکل شوې لاره مې په نیم ټاکل شوي هغه وخت کې ووهله.وروسته د پوځ مشر له موږ سره مرکې وکړې، دا مرکې راته ګرانې نه وې. پوهېږم چې ښه پکې وځلېدم. ددغو ازموینو پر مهال مې له (( پي کیو مهندې ) ) سره مې ګډه خونه درلوده. هغه وروسته د هوایي ځواکونو مشر شو. په یاد مې دي چې د ((سویرا ) ) په نوم فلم مو سره ولید.
زه دپاکستان پوځ ته دوردننه کېدو په ازموینه کې بریالی شوم او نظامي اکاډمۍ ته مې رپوټ ورکړ.
دپاکستان پوځي اکاډمي ( پي ا م اې ) تاریخي ځای دی.شین زرغون چمنونه او په سرو تختو پوښلې ښکلې ودانۍ لري.دغه ودانۍ د همالیا د غرونو په لمنه کې دکاکول په سېمه کې د (اوبوټ اباد ) یا ایبټ اباد ) ته نژدې موقیعت لري.
په تازه صورتونو د نویو ځوانو خورد ظابطانو یوه ډلۍ په هیاجاني ډول په نویو ملکي جامو کې چې کله زموږ لارۍ سېمې ته ورننوزې نو فکر وکړی؟لوړ پوړې افسران لکه ښکاریان زموږ په تمه وو.اوس نو فکر وکړي وروسته له هغه چې زموږ موسکا ته په ګڼونکې ډول ځواب وویل شو نو څه حال به مو درلود ؟
))د لارۍ لاندې پروت وکړی، اوس لارۍ ته وخیژۍ ) ) یو په بل پسې فرمانونه راتلل ،موږ لارۍ ته ختلو او کوزېدلو. دلارۍ نه لاندې د چټکو او ګرمو پروتونو په ترځ کې مې فکر وکړ چې همدا پوځ دی ،زه به دوام ورکړم، ماته ماتې نشي راکولای. کله مو چې جامې پوره په خاور ککړې شوې اړ شو چې په ختو کې منډې پیل کړو ، کښته او پورته پکې تلو. که خپلو میندو لیدلای وایي ویریدلې به وې.
لوړ پوړو افسرانو د ماښام د ډوډۍ دخوړو اجازه راکړه. وروسته یې په یوه انتظار خونه کې راټول کړو او ټول اویا اتیا کسه یې یو بې بخارۍ ته نژدې په یوه چرګۍ سره کینولو.
وروسته یې د پوځ په ډول د وښتانو جوړېدو ته بوتلم. د پسونو په څېر یې زموږ وښتان وخرېيل ،ډیر عجیب ښکاریدو ، ډیر احمقانه کارونه بې راباندی کول. د کاکول په سیمه کې په یخ کې له یخو اوبو دیوه ډک لن په سر کینښول ددغو کارونو برخه وه. که به لن ز موږ له سره ولوید نه یوازې پدې یخ کې لمد بدو بلکې په سر د یوه بل ورته لن نیول حتمي و.
ماته بې ویلې ود نورو سختو او تیارو تجربو انتظار وباسۍ ،هغه څه چې په پاکستان کې ورته تاوتریخوالی وایي، خو هغه څه چې مو تجربه کړل ډارونکي وو.
په اوله شپه چې په خپل بستر کې ولویدم ډول ډول احساسات راته پیدا شول چې بې باوري او ستړیا په کې وه. په کراچۍ کې مې د مور او پلار ارامه کور، د سنت پاټریک ښوونځی د اف سي کالج او ښالۍ نجلې داټول مې په خوب کې ولیدل.
په دغو نابرابرو شرایطو کې ډیرو زیاتو هلکانو تاب راوړ او زه بې په اوچتو ګامونو ددغو کارونو له عهدې ووتلم. دغه ازموینه لومړی لس ورځې وه. ما زده کړل چې له موجونو سره په همدې ډول وړاندې ولاړ شم، ما ټول هغه څه کول چې هغوی به ویل.کوښښ مې کاوه چې ځان ته لږ زحمت ورکړم او کله کله به په حمام کې پټیدم ترڅو چې دغهموچ ونه او کارونه به پای ته ورسیده.
پوهید م چې د اړیکو د ټینګولو اجازه نلرم او پدې هم پوهیدم چې که زما رتبه لوړه شي له نویو افسرانو سره به همدا ډول چلند کوم، خو کله چې زما وار

راورسید هغوی ته مې لږ زحمت ورکړ او بې رحم نه وم. نویو افسرانو ته مې د یو هدف لپاره تکلیف ورکاوه، ددی لپاره چې د چارواکو نظم او درناوی د سرتیرو په منځ کې دود شي. سرتیري د پوځ یوه قرباني ورکوونکي برخه ده چې په ډیر شوق سره بې له کومې پوښتنې د خپل هیواد لپاره ځان قربانوي.

په جدي توګه مې د پاکستان په پوځي اکاډمۍ کې خپلې زده کړې پیل کړې، له نیکمرغه پوه شوم، که وغواړم کولای شم ښه واوسم. یو شمیر مضمونونه راته تدریس شوي وه لکه: ریاضیات، جغرافیه، نقشه او پوځي تاکتیکونه، همدارنګه یو لړ پوځي تمرینونه او د وسلې نه ګټه اخستل مو هم زده کړي وه ،چې څه ډول باید کسانو ته لارښوونه وشي او په څه ډول ترې ګټه واخستل شي.

دا مو زدکړل چې په څه ډول رواني فشارونو ته اوږه او جسمي قوت ته پراختیا ورکړو. پردې سربیره په سختو شرایطو او وختونو کې مو د تصمیم نیونه هم زدکړه، هغه شرایط چې د مرګ او ژوند ترمنځ واټن پکې کم وو .که تر لاس لاندې کسان د مشر په هوډ او تصمیم باور ونکړي ډاډه به نه وي چې ستاسو په امر مبارزې او جګړې ته ولاړ شي.

پوځي اکاډمي ددې لپاره ډیر ښکلی ځای دی چې په کړ کیچنو حالاتو کې د یوه توانمنده او وړ سړي کړنې پکې زدکړې. خو په دې شرط چې همداسې ښه اکاډمي وي، او د پاکستان پوځي اکاډمي په نړۍ کې یوه ښه اکاډمي ده.

په دغه اکاډمي کې مې لوست ښه وو او د پوهنځۍ وتلی زدکوونکی وم چې یوه له لسو تورو ګټونکو څخه وم.

زه یو جنجالي ځوان، غیر مسول او لږ بې نظمه کس وم. زه یو له هغو ۴ افسرانو څخه وم چې د انګلستان د (( سند هارسټ )) په پوځي پوهنتون کې مې د تحصیل د بشپړېدو چانس ترلاسه کړ.خو یو بل افسر د ( علي خان خټک ) په نوم غوره شو .کله چې زه د پوځ مشر وم هغه د تورنجنرالی په رتبې د ځواکونو د عمومي ریس په توګه په کور کیناست ،.خو زه فکر کوم هغه په خپله په کور کیناست، ددې لپاره چې د پوځ مشرۍ ته ونه رسید.

کله به هم بې دقته وم، یوه ورځ په بیدیا کې د یوه تمرین په ترڅ کې د قطعې مشر راته وویل افسران وګوره چې څه شی یې په یونیفورم کې کم دي؟ ما وکتل ولې داچې څه شي د هغوی په جامو کې وو چې ما نه دولودل په دې پوه نه شوم. له مایې وغوښتل چې په لعنتي سرمې لاس کېږدم او وګورم چې څه نه لرم. سرمې لوڅ وو ، سبایې له همدې کبله دمارش کولو جزا راکړه ،د پوځي تمرین د ترسره کولو مامور به راته چغې وهلې ) مارش،مارش، ښی ګېرس، کیڼ ګېرس، ارام شی، تیارشی.... ) د قطعې مشر مې له تمرین نه ډیر خوښ وو او د بلې جزا له ورکړې پرته یې راته د تمرین ددوام وویل چې ډیر ښه تمرین دی او مارش ته دوام ورکړی.

په واقیعت کې د جسمي توان د ښه والي له کبله د سلام ورکونې په ازموینه کې بریالی شوم. او ښونکي زما دکار له ستاینې پرته رانه وپوښتل چې له کومې پوهنځۍ نه دلته راغلي یم. کله چې ما ورته وویل د پوهنځۍ نه نه بلکې د ) فورمن کرېسشن ) دکالج نه حیران شو. وروسته یې د یوې پوځي ریژې د ترسره کولو پر وخت د پوځي تمرین دنندارې لپاره د ټولو لوړ پوړو افسرانو په مخکې زه غوره کړم. زما دغه غوراوي راته یولړ ستونزې راپېښې کړې، مشرو افسرانو داکار او هغوی ته د تمرین ورکول ځانته یوه ګستاخي او سپکاوی وباله. له همدې کبله ډیرې سزاګانې کله ناکله ددوی لخوا راکول کېدې.

یو ځل خو نژدې وه له اکاډمۍ نه وویستل شم . له فراغت نه لږ مخکې په اکاډ مي کې د لومړي پړاونو د افسرانو د پوځي تمرین سیالي پیل شوه ،چې په هغه سیالۍ کې لوړ پوړو افسرانو د کتونکو په توګه برخه درلوده. او هیله کېده چې هغوی تورې جرابې واغوندې خو ځینو په غلطی سره بل ډول جرابې اغوستي وې. دقطعې قومندان ماته راغږ کړ او امر یې وکړ چې ددغو افسرانو نومونه او سریال نمبرونه ولیکم. او په لوړ غږ یې وویل خپل نوم دې د نوم لړ په سرکې ولیکه.زموږ سزا داوه چې ۹ میله منډې ووهو.

کله چې د واټ یوې ګولایې ته ورسېدو زموږ ځېنو په زړورتیا سره تصمیم ونیو چې دمنځ له لارې منډې کړي او تقریبا خپله لاره یې ۱۸۰ متره لنډه کړه .خو له دې نا خبره چې د یو دوربین په واسطه څارل کېدو. زموږ نژدې ۱۵ تنه ونیول شو.اختنې پوښتنې پیل شوې. ټول مسایل ډیر جدي وو ، سره له دې چې په دغو افسرانو کې یې ۲ تنه د تورې ګټونکي هم وو.او باید چې د فراغت دد ستورې برابرونکي وایي. داکاډمۍ چارواکي هوډمن وو چې په منډه کې د تقلب په جرم موږ له اکاډمۍ نه وباسي. خو له نیکمرغه مثبت احساسات زیات شول، او له ویستلو بچ شو. خو دهغه پرځای د تحصیل درجه ټیټه شوه. زه د کنډک دخورد ظابط لاندې وم. چې د لیاقت پراساس باید په ټولۍ کې ډیر لوړ واي، خو دجزا په توګه۲ درجې راښکته شوم. سره له دې چې ۴ نمره وم لسم نمبر شوم.د ټولۍ ټول افسران ترما ۲ درجې لوړ فارغ شول.

د پاکستان په پوځي اکاډمۍ کې تجربه ډیره اغیزمنه وه. داسې لکه چې د بدن ټول غړي مې سره جلاشوي وي او له یو لړ بدلونونو وروسته بېرته سره یوځای شوي وي. په واقیعت کې اکاډمۍ ته ورتلل او منل کېدل د سمې خاورې په څېر وو ، اکاډمۍ موږ لانده کړو او کلال بیا دمنې دجوړېدو پر څرخ کېښودو چې کلال په خپلو لاسونه ډول او څېره ورکړه. چې وروسته ټول د پخېدو لپاره په بټۍ کې کېښول شو او اوس په یوې ښې لارښونې سره د پوځ لپاره تیار یو .

## ۷ څپرکی

### د اور په منځ کې

له اکاډمۍ تر فارغېدو وروسته نشی کولای نېغ په نېغه د هوايي ضد قطعاتو ته وردننه شي مگر دا چې د توپچي یوه دوره تېره نکړي .زما ټول پلان له خاورو سره خاورې شود همدې لپاره يې زه له ۶ میاشتو وروسته د توپچي ۱۲ غنډ ته ولېږلم. تردې بده دا چې زما د مینې کېسه په نا څا پي توگه پای ته ورسېده.

هغه دا چې د نجلۍ کورنی نني بېلد ښش ته ستنه شوه. له همدې کبله هېڅکله دهوايې دفاع ځواکونو ته ورد ننه نه شوم او همداسې د توپچي په څانه کې پاتې شوم. له همغې دورې وروسته مې ټول ژوند د هېواد دفاع ته ځانګړی شو.

زه تر ښاغلي ...... ډېر یو افسر وم. زیات وخت نه وو تېر چې د ستونزو سره لاس او گریوان کېد ل پیل شو.

د **۱۹۶۵** کال په منځ کې کله چې له هند سره د جګړې وریځې پورته شوې زموږ ټولی لاهور ته نژدې د (چهنه منهه ) په سیمه کې د کراچۍ نه د ۲۴ ساعته په واټن په یوه ځنله کې ځای پر ځای شو.

ډېر ځوان افسران د پنجاب اوسېدونکي وو. او يوازې څو ساعته پاتې وو چې خپلو کورنیو ته ورسېږي.ما د خپلو اونېزو رخصتیو سره د ۸ ورځې رخصتی غوښتنه وکړه. چې کراچۍ ته ولاړ شم.

خو مشر افسر مې دا خبره رد کړه او وېې ویل چې دا اوږده رخصتي ده. ما فکر وکړ چې دا ډېر غېر معقول او بې رحمه کس دی او دهغه له دې پرېکړې سره مې مخالفت وښود. دربل ټکټ مې وکړ په ( کراچۍ اکسپرس ) کې سپور شوم او د۸ ورځو لپاره کورته ولاړم.

جاوید غازي اشرف چې تر ما لږلوړ افسر وو چې د ډګر جنرالی په رتبې په کور کېناست او زما په کابېنې کې اول د اوسپنو د لارو او بیا دښونې وزېر وو راته زنګ وواهه چې ژر بېرته راشم. هغه وویل که رانشي نو د زیاتو پوځي او انظباطي ستونزو سره به لاس او گریوان شم. دا غوښتنه مې رد کړه. او ځان ته ورکړې ۸ ورځینۍ رخصتي مې په مزه تېره کړه. او په بېرته راگرځېدو مې مشر افسر خبره اوږده او ان پوځي محکمې ته کش کړه.

هغه څه چې له دې خلاص کړم له هند سره د **۱۹۶۵** کال جګړه وه. هغه مهال هند په ټولو کرښو کې پر پاکستان برید وکړ. او دمسافرو په یوه کاروان يې د توپونو ډېرې ډزې وکړې چې زیات مسافر پکې مړه شول. دهند برید د سپتامبر په ۶ مه پیل او تر ۱۷ مې نیټې يې دوام وکړ. چې د ملرو ملتونو د امنیت د شورا په منځگړیتوب اوربند وشو. خو پاکستان هند ته خو نړۍ او ډارونکی ځواب ورکړ.خو ستراتیژېکه لاس ته راوړنه د هېچا لاس ته ورنغله.

خو له تاکتیکي نظره مو یو څه پر مخټ وکړ زیاته ځمکه مو ونیوله هند ته مو زیاته مرگ ژوبله واړوله ، زیات کسان مو ونیول او تقریبا د هند هوايي ځواک مو له منځه یووړ. زما کړنو په دې جنګ کې ماته ښه نوم را په برخه کړ ،او د زړورتوب جایزه مې وگټله .او په دغه جنګ کې د اور شیندونکي ځوان په توگه وځلېدم.

زموږ د توپچي غنډ د پاکستان د پوځ د یوازېنۍ ممتازې فرقې مهمه برخه بلل کېده. چې د )) پاتون )) په نوم په امریکایي ټانونو سمبال وه.

د **۱۹۶۵** کال د سپټامبر په ۷ مه مو د ) قصور د خیم کران ) په سیمو کې برید تر سره کړ. په دې سربېره مو د پله خواته د (روح نو الله ) په نوم یوه پوځي اډه جوړه کړه او تقریبا دد ښمن د خاورې **۱۵** میله ځمکه مو لاندې کړه. او دخېم کران د ښارگوټي غټه برخه مو ونیوله. د توپچي وسله مو د ښار په ډېرو برخو کې ځای پر ځای شوه. د ډزو د تبادلې پر وخت مې د ( خېم کران ) کوڅو ته په لنډو کتو د ډېر وېاړ احساس مې وکړ. یوازې سپیو غپل هیڅ انسان نه لېدل کېده. د جګړې پر وخت مې لومړی لیک خپلې مورته ولېږه او په ویاړ سره مې ورته ولیکل زه له هند نه تا ته دا لیک درلېږم.

تردې ورځینۍ جګړې وروسته مې د فرقې فرمان ترلاسه کړچې د لاهور بحراني سېمې ته ولاړه شي. چې د هند تر گواښ لاندې ده. له دوو ورځو سختې جګړې وروسته مو هلته خپل موقېعت تثبیت کړ. په خپل ټول پوځي ژوند کې مې چې کله دټوپک خوله د مرمیو د ویشتو له کبله سره او سوزونکي ولید له همدغه وخت وو.

د لاهور په جبهه کې تر لږتم کېدو وروسته امر وشو چې بیرته د ( سیالکوټ )کرښې ته ولاړ شو. دا هغه کرښه وه چې د (( چاوندا ) ) د ټانکونو مشهور جنګ پکې شوی دی. د جګړې په پای کې دغه سېمه د هندي ټانکونو په هدیره بدله شوې وه.

له مرگ سره بله مخامختیا مې د **۱۹۶۵** کال د سپټامبر په ۱۲ مه شپه وه .د توپچي د کتونکي په توگه د پیاده سرتېرو سره په همکاری کې په جزبېاتو امر وشو چې د (( جودان ) ) په نوم کلي باندې برید وکړم. او هغه لاندې کړم. دغه کلي د غونډۍ پر سر موقېعت درلود. لومړی برېدمن (( بلال ) ) د پیاده سرتېرو مشر مې ښه ملری وو.دا سې وپتېل شوه چې د شپې په نېمايې کې برېد وکړو. د یو لړ ترتیباتي خوځښتونو وروسته د موځې په ۷۳۰ متری کې ځای پر ځای شو.

پیاده سرتېرو د لته د وروستي برید لپاره لیکه جوړه کړې وه. ما او بلال یو بل په غېږ کې کلک ونیول او فکر مو وکړ چې دا به مو وروستی روغبړ وي.

د خپلې توپخانې ټول زور مې پر دغه کلي برید ته تیار کړ. د توپخانې په ملاتړ مو یو څه پر مختیا درلوده. او د (( الله اکبر او خدای لوی دی ) ) په نعرو مو برید پیل کړ. د توپونو ډزې ډېرې دقېقې او اغېزمنې وې. او دد ښمن سر يې ټیټ ساتلی وو. دد ښمن د متقابلو ډزو سره مو مقاومت وکړ. او هغوی مو په شاټ ته اړ ایستل. د ډېر غرور احساس مو کاوه.

بل د پام وړ عملیات د سپټامبر په ۲۲ مه شپه ترسره شول. زموږ وسلې په یوه ځای کې ځای پر ځای وې. د دښمن د توپ یوه مرمۍ زموږ په توپخانې ولېده او اوریې واخیست داور شغلې په توره شپه کې اسمان ته پورته کېدې. زموږ ډزو ته برابر توپونه په اور کې د سوزېدو تر ګواښ لاندې راغلل. وضیعت ډېر خطر ناک وو. له ځان سره مو فکر وکړچې دا څه دوزخ جوړ شو ، امکان لري د توپچې دستا مو ټوټه ټوټه شي او موږ هم پارچه پارچه کړي نو باید چې ژرترژره مو یو کار کړی وای . ټولو ځانونه پټ کړل. هغه درس مو چې د نظیم اباد په سړکونو کې زده کړی وو د اجرا وخت یې رارسیدلی وو. په ځمکه ودرېدم او په لمبو کې د سوزېدونکو ماشینونو په لور ورغلم او پرې ور وختم. یو بل زړور سرتېری هم راپسې راغی.

درې توپچیان مې ولېدل چې په وینو کې لیت پیت پراته ول. هغوی مې نا لیدلي وبلل چې د توپونو له منځه تلو وژغورلم. خپلې جامې مې وېستلې او خپل لاسونه مې وپیچل چې ونه سوزم. توپونه مې یو یو له زېرمې را وویستل. او امن سیمې ته مو ولېږدول چې ونه چوي. خدای پاک له دې ناورینه وژغورلو. کله مې چې ملرو ولېدم چې له څه ګواښ سره مخا مخ شوی یم له پټ ځایه را ووتل او زموږ خواته راغلل. په ګډه مو لومړی د چاودنې له ګواښه ځانونه او وسلې وژغورلې ، او وروسته مو درې په وینو کې لیت پیت توپچیان را بهر کړل. ومو لېدل چې یو یې لا ژوندی دی. دهغه سر مې په خپله اوږه کېښوده خو د ټپونو د ترلو پر مهال هغه ساه ورکړه . هېڅکله به مې له یاده وه نه وځي.

دجګړې بې رحمي همداده او پر مغزو تل پاتې داغونه او ښنې پرېږدي.

د خپلو کسانو او وسلو د ژغورلو د زړورتیا مډال مې تر لاسه کړ. هغه سرتېري ته هم دغه ډول مډال ورکړ شو چې له ما سره یې په دغه کار کې مرسته کړې وه.

دا شپه به مې هېڅکله له یاده وه نه ووځي.

دغو دوو عملیاتو زما په اړه د قومندانان نظر بدل کړ. باید چې د زړورتیا په دوه مډالونو زما ټټر ښکلی شوی وای ، خو دوهم مډال کورته زما د غېر قانوني رخصتی په تور د پوځي محکمې لخوا واخیستل شو .جړه د ۱۹۲۵ کال د سپټامبر په ۲۳ پای ته ورسېده او ډېر ژر زه د ج تورن رتبې ته لوړشوم.

په ۱۹۲۲ کې د ځانګړې خدماتي ډلۍ (ssg) ته غوره او ومنل شوم. دا د یوه پاکستاني کوماندو لپاره یوه وتلې او ممتازه تشکیل دی. په دغې ډلۍ کې فوق العاده جسمي او فکري استعداد او ځواک ته اړتیا ده. چې دا زما لپاره مناسب ځای و .کوماندویان باید په غرونو ، ځنګلونو او دښتو کې د ژغورنې ځانګړې زده کړې تر لاسه کړي او د پلې کولو نوښت زده کړي.

د مارانو ، چونښو او کربوړو دخوندورو خوړو خوړل نادره خبره نه ده. متوجه شوم چې انسانان کولی شي هرڅه وخوري. له دې وروسته مې د خوړو د څرنګوالي په اړه کومه اندېښنه نه درلوده هر څه به چې مخې ته راغلل ښه ول. خو د ښو خوړو قدر کوم د ډوډۍ او اوبو په خوند هغه وخت پوهېږی چې وږې او تږې شی. او په همدې وخت کې به د خدای په نعمتونو شکر وباسی.

فزیکي زده کړې جبري وې. هره ورځ د یوه ساعت لپاره سخت فزیکي تمرین تاکل شوی و. چې د دریو کیلومترو منډې په وهلو به پیل کېده. وروسته به ۵،۲ کېلومتره ځغلېدو. په اونۍ کې به مو یو ځل د څلویښتو دقیقو لپاره وسله هم درلوده او بیا به دوسلو سره په دوو ساعتونو کې د لس کېلومترو منډه وهله. او بیا له وسلو سره ۵۸ کېلومتره منډه په لسو ساعتونو کې ټاکل شوې وه. پردې سربېره څو ډوله نور تاکتیکي تمرېنونه هم و. چې په سلونو میله مارش کول هم په کې راتلل. په تېزو تلونکو جهېلونو او کانالونو کې لامبو وهل ، او له هوانه په پاراشوټ کې ۷ ډوله راکوزېدل هم په روزنه کې شامل و.

دغه ازمویني مې ډېرې ښې تر سره کړې .د درېو تنو په منځ کې مې لوړې نمرې ترلاسه کړې. دغې دورې زما پر جسمي او فکري وړتیا زما باور قوي کړ. زده مو کړل چې هر ډول سختیو ته ټینګېدل په فکري او جسمي وړتیا پورې تړلې خبره ده.

له لومړنیو زده کړو وروسته دوه څلورنیم کلنې او دوه ، دوه نیم کلنې دورې مې په ځانګړې خدماتي ډلۍ کې خدمت وکړ.

لومړی ج تورن وم او بیا جړن شوم. کله چې مې په دغه دوره کې خپل کار ته ګورم دا سې احساس کوم په ځان ښه باور مې د یوه سرتیري او فوق العاده مشر په توګه زما صفت لوړ کړ.

احساس کوم چې تر سختو جسمي شرایطو باخبره فکر او د سختو ما موریتونو د تر سره کولو لپاره تیار شوم.

SSGد خپلې رهبری او عملي نوښت د ښولو لپاره راته ښه فرصتونه درلودل. ځکه چې د روزنې او عملیاتو خپلواکی هڅولو. ما دخپلو کسانو د روزلو لپاره خپله نوې لاره رامنځ ته کړه .ما به له خپلو کسانو غوښتل چې پر ځان د باور او دمغزو د ازمویني څو تمرېنونه تر سره کړي.

یوه ازموینه داوه چې خپل جوړ کړی پلاستیکي لاسي بم چې په دېرشو ثانیو کې چاودېدلو او سورې یې درلود په لاس کې وساتي. دا سې هېله کېده چې بل داوطلب سرتېری هغه مهال بم وغورځوي چې د وروستي فیوز څخه وروستی لمبه درې ثانیې دمخه له چاودنې پورته شي. ځینې هلکان ویریدلي و او بم یې بې وخته وغورځاو.

دوهمه ازموینه د سېند پر هغه پله منډه وه چې سور یې څه کم یو متر ، لوړوالی یې ۹۰ متره او اوږدوالی یې ۱۳۲ متره و. دا واټن باید په ډېره کمه موده کې وهل شوی وای. کېدای شي اسانه معلوم شوی وای ، خو کله به چې څوک د پله نیمایي ته ورسید او له دغه نرې پله نه به یې لاندې څپ څپانده سېند ته وکتل سر به یې وګرځېد او ګنس به شو. چې کېدای شي سېند ته لوېدلی وای.

یو بل تمرین د او سپنې دپټلی خواته نژدې د یوه کس څملول ، او دهغه په خیټه کېناستل و چې ریل به په ډېرې بېړې سره دهغه له خوانه په نیم متر یا له هغه په کم واټن کې تېرېده. په دې وخت کې د سترګو پټولو اجازه نه وه.

همدارنګه به مې خپل کسان په نژدې واټن کې د ډزو لپاره کښېنول چې له ۱۸۰ تر ۲۷۰ متره لېرې به پرې ډزې کېدې. پر له پسې تېزو او سختو ډزو به د جړې په ډګر کې دهغه مقاومت زیاتولو.

ما تل د لومړی کرښې په هغه مشري باور درلود چې په خپله به مې ځان نوروته یوه بېلګه او الګو ګرځاو. هیڅکله له خپلو کسانو د داسې کار هیله مه کوی چې په خپله یې نه شی تر سره کولی. دهمدې لپاره به مې ځان د تمرینونو د ترسره کولو له ورتیا او دهغه له مشری نه ډاډه کولو..................

زه په اتو ما تېکو ټوپکونو یو استثنائي ډزې کونکی سر تېری شوم. همدارنګه ښه ځغاستونکی وم. په ټولو تمرینونو کې به مې له خپلو کسانو سره سیالي کوله. او که به مې باېلوده سوړ څښاک یا نوشابې به مې ورته اخیستې.

یوازې څو تنو ماتې راکړه نه ټولو. دغه کار زما سره زما دکسانو مینه زیاته کړه. ځکه عادل او مهربانه کس وم. د هغوی اند ښینې به مې درک او ستونزې به مې ورغوځولې. زما مشرو افسرانو زه د یوه استثنائې، خو بې پردې او لږ څه بې نظمه افسر په توګه پیژندلم.

په بېلا بېلو برخو کې د لاس اچونې، نا فرمانی، او بې نظمی له کبله راته جزاګانې راکړل شوې. کله چې د پوځ مشر شوم، یوځې منشي مې زما دخدمتونو دوسېه راته راوړله او په بې ادبۍ یې رانه وغوښتل چې پخوانی کړنو او انضباط ته مې وګورم. البته ټکان ورکونکې و. په ټول کاغذ کې سور رنګ معلومېده. یوازېنی ډاډ راته داو چې هیڅکله د اخلاقي فساد او شخصیتي سرغړونو په تور نه یم جزائي شوی. خو کلنی پټ محرم رپوټ مې تل ښه و. یوازې د نظم درلودل زه وروسته غورځولم.

په ټوله کې په SSG کې ژوند سخت، فعال، حیرانونکی، خطرناک او له ژمنتیا ډک و، چې هیڅکله به رانه هېر نشي. هغه څه چې نن یم د پاکستان د ځانګړې ډلۍ له برکته دي.

کېدای شي تاسو فکر وکړی لکه ما غوندې یو کس به د مینې اړیکې درلودې او واده به یې کړی وي، خو زه په پخوانیو دوو دونو کې ګیر وم او د مور پلار په خوښه مې واده کړی. زما یوې ترور د صهبا فرید په نوم دنجلی له مور او پلار سره پیژانده او وړاندیز یې راته وکړ چې که واده ورسره وکړې نو ښه کورنی او میرمن به ولرې. پلار مې د مرکې د ورلېږلو تیاری وکړه. یوه ورځ چې د صهبا دوی کورته د لیدلو لپاره ورغلو په پتلون. کمیس او خلاصو څپلیو کې چې د پیښوریانو د خوښې وړ دي او همدارنګه په غیر نظامي جامو کې چې د پوځ د خوښې وړ څپلۍ وې ورغلو. ددغو څپلیو اخیستلو توان مو په سختی سره درلود.

صهبا چې د پوځ نجلی نه وه زما له وضیعته وېریدلې وه. چې غوښتلو ته یې څه ډول کس راغلی. ترما وړاندې ورته ډېر نور ریباران راغلي و. خو د بیلا بیلو لاملونو له مخې یې ټول رد کړي و. او یا کېدای شي د غوښتونکي یا هلک وېښتان او یا جامې به د صهبا نه وي خوښې شوې.

او یا به یې ږیره او بریتونه نه وي خوښ شوي. خو ما هم بریتونه درلوده او ښې جامې مې هم نه وې اغوستې، ولې ماته یې د نه ځواب رانکړ. او لږ تر لږه یې زما سر او صورت خوښ کړ.

صهبا فوق العاده ښکلې وه او زه یې ژر جذب کړم. هغه مهال چې هر څوک ووایي دهرڅه خاوند دی رښتیا نه وایي. زه بختور وم چې صهبا د ښکلې صورت ترڅنګ سېرن او بصیرت هم درلود. او ښه انسا ن مې پیدا کړ. فوق العاده مور او دکور ښه میرمن. هغې زما تند مزاج او خوی را کم کړ. او وتوانېده چې ما یو څه نرم کړي. ماته به یې ویل ) له تا پورته افسرانو سره دعوا کول که هغوی نا حقه هم وي ستا پر کار منفي اغېز کوي. ) په کرار کرار یې نصیحتونو پر ما اغېز وکړ. خو یو څه وخت یې ونیو چې زه ځان ته بدلون ورکړم.

وروسته صهبا وویل چې په ټوله کورنۍ کې یې پلار غلام غوث فرید چې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې یې کار کاو زه یې ډېر خوښ شوی وم. پلار یې صهبا ته ویلي و: ډېر ښه افسر دی او یو ځای ته به ورسیږي. سره له دې چې باور نه لرم خسر، زه او نه بل څوک به په دې پوهېدو چې کومو ځایونو ته به زه ورسېږم.

له صهبا سره مې وروسته وروسته مینه را وپارېدله. کله چې په رسمي توګه سره کوژده شو. زه یې د پاکستان ختیځ ( چیټاګونګ ) سیمې ته ولېږلم. یو لړ لیکونه مو سره بدل را بدل کړل. ما به د صهبا د لیک املا او هغې به زما املا سموله. زما لپاره دا نه ډېره عشقي وه او نه هم کومه ځواني. ځکه د صهبا اهلیسي تر ما ډېره ښه وه. کله به چې کراچۍ ته راغلم ځیني وخت به مو سره لیدل کتل او وخت به مو سره تېراو. دفلمونو لیدلو او د متروپول په هوټل کې به ډانسخونو ته هم پټ پټ تلو.

د ۱۹۲۸ د دسامبر په ۲۷ مې له صهبا فرېد سره واده وکړ. له واده سمدلاسه وروسته له هغې سره جوړه د سرحد د ( چراټ ) غرنی سیمې ته ولاړو. هلته له رسېدو یو دوه ورځې وروسته بایډ د پراشوټ په واسطه مو له هوا ځانونه راغورځولي وای. چې زموږ د روزنیز تمرین یوه برخه وه.

ومې غوښتل یو څه دمینې چلند او یو خیال ولرم، له یوه دوسته مې وغوښتل صهبا هغه ځای ته بوزي چې موږ پکې راکوزیږو. صهبا ته مې وویل چې په هواکې به د پیژندګلوی لپاره سپین د ستمال ورته وښوروم. فکر کوم په دې کار کې یو څه ځان غوښتنه هم مطرح وه. ځکه غوښتل مې خپله زړورتیا ورته وښیم.

ټولې چارې ښېې تر سره شوې. خپل ستر سپین د ستمال مې له ځانه سره یوړ. او په بریالۍ توګه مې په هواکې اهتزاز ورکړ. د خپلو ملرو په منځ کې صهبا زه

وپیژندلم. او لاندې پر ځمکه دهغې د متقابلو لاس ښورونو څخه مې ډېر خوند واخیست.
)چراټ) پېښور ته نژدې د غرونو او غونډیو په لمنو کې پرته سیمه ده. قوطیو ته ورته کورونه اوبامونه لري او ودانیو له ۴۵ تر ۹۰ مترو پورې له یوه او بل سره واټن درلود. دغه کورونه له مارانو او وحشي حیواناتو ډک و. او د یوې نا وې د نوي ژوند دپیل لپاره ډېره ستونزمنه خبره وه. خو داهغه څه دي چې د ځوانو پوځي افسرانو میرمنې یې له مجبوریته تېروي.
یو شپه مجبوره شوم بهرته په څه پسې ولاړشم ،د شپې په یوه بجه بېرته را وګرځېدم. کله چې کورته راغلم دروازه له بهره قلف وه. په پرلپسې توګه مې وټکوله. خو صهبا دروازه خلاصه نکړه. اند ېښمن شوم او شیشه مې ماته کړه ،چې کورته وردننه شوم زموږ د خونې دروازه هم بنده وه. دکوټې دروازه مې وډبوله. په پایله کې یې په سختی سره دروازه بېرته کړه. بېلابېل ډارونکي غږونه یې اورېدلي و. دهمدې لپاره یې راډیو روښانه کړې وه او اواز یې لوړ کړی و چې ددغو غږونو له شره خلاصه شي. خو په خواشینی سره چې راډیو هم خطرناکه اوازونه خپرول چې هغه یې نوره هم ویرولې وه.
هغه مهال یې د اند ېښنو په اړه ډېر حساس چې باید وای نه وم. خو کله چې وروسته پلار شوم زما چلند بدلون وکړ. او ډېر مسولیت مې احساساو. یو ناڅا په مې ځان د یوه وړوکي موجود په اړه مسول وموند. زموږ لومړی ماشوم زموږ لور( عایله) وه چې د ۱۹۷۰ کال د فبروری په ۱۸ پیدا شوه. بلال ځوی مې تر هغې یو نیم کال وروسته د ۱۹۷۱ کال د اکتوبر په ۱۷ وزېږېد .په دومره کم وخت کې ددغو ۲ وړو ماشومانو پیدا کېد لو زموږ ېېخوبي زیاته کړه. چې زما ورځني کارونه یې اغېز من کړل. فکر وکړی چې څومره به یې بوخت کړی وم. په ځانړې توګه دهغوی میندو به څه حال درلود.
وایي چې دهر نارینه دبریا تر شا د یوې ستړې ښځې لاس وي. ما هم په خوښی سره له صهبا سره واده وکړ. ځکه ښکلا ، حیثیت او دروندوالي یې زه جذب کړی وم. هغه د صفت وړده چې له ما سره یې ډېره مرسته کړې. هغه زه له یوه بې پروا او بې فکره افسر څخه یو ه متوازن او مسول کس ته واړولم.هغه په ما کې د دهرکار د ښه تر سره کولو انېزه پیدا کړه. دخپلې انلېسی یو څه ښه والی دهغې د زحمتونو پوره وړی بولم. هغه تل تر ما ،ماهره وه. همدا اوس هم چې له کوم لغات او یا عبارت سره ستونزه پیدا کړم په ډکشنری کې د لېدلو پرځای له هغې پوښتنه کوم. صهبا پر ټولو هغو کسانو اغېز درلود چې له دې سره یې اړیکې درلودې. هغه یوه جذابه میرمنه وه.
له همغه پېله دواړو ماشومانو موږ ته ډېره ارامتېا رابښلې. او زموږ د خوښی ریښتینې منبع وه. د پوهنتون اود ژوند په نورو برخو کې دهغوی دواړو تمرکز او همکاري حېرانونکې وه.
داسې ښکاري چې هغوی دواړود خپل مور او پلارپه اړه د فدا کاری او ژمنتیا کلک حس درلود. هېڅکله یې زموږ سر نه دی ټیټ کړی. بلال او عایله په ځوانی کې سالم او پرمختللي شخصیتونه لري.
د هغوی صفت دروندوالی او انسانیت دی. چې په لوړ درک سره دوه برابره شوي.
د بلال نوم راته ځانړی اهمېت لري. لومړی یې نوم (شهریار) و ، خو کله چې زما تر ټولو ښه ملری بلال د هند سره د۱۹۷۱کال په جړه کې ووژل شو ، ډېر خفه شوی وم ، صهبا ته مې زړ وواهه او ورته مې وویل زموږ د ځوی نوم زما د شهېد ملري په یاد په بلال واړوي.چې همداسې یې وکړل. زه او بلال هم دوره و. د ۱۹۶۵ کال په جړ کې یو ځای و. چې بیا وروسته یو ځای (ځانړي خدماتي ډلې ) ته وردننه شو . ډېر زېات سره نژدې و. ماته هېڅکله بلال له درد پرته نه دی را په یاد شوی. خو بلال ځوی مې دخوښی پرته نه را یادېږي.
لمسیان هم دخوښی ستره منبع وي. که یې ولری نو بې له مسولیته ټولې خوښی ستاسو دي. کله چې له ستړیا خلاصېږی بوازې هغه څه چې کوی دادي چې هغوی یې خپلو مېندو او پلرونو ته وروړی.
د عایلې لور مرېمه د ۱۹۹۷ کال د جون په ۲۳ پیدا شوې او زېنب لور یې د ۲۰۰۰ کال د جولای په ۱۲ نړی ته راغلې. ډېرې نازولې او ارامه دي. سره له دې چې بلال او مېرمن یې (ابرام) له خپل ځوی حمزه سره چې د ۲۰۰۳ کال د سپټامبر په ۱۸ پیدا شوی. او لورکی زاویا ) سره چې د ۲۰۰۵ کال د جولای په۳۱ نیټه پیدا شوې د شپې یې خوبې تېروي اوس بیرته په پاکستان کې سیاسي پراختیاوو ته راګرځو. په۱۹۷۰ کال کې د ټاکنو نه وړاندې یو موسمي او ورانونکی باد را والوت چې چټکتیا یې په ساعت کې ۱۹۰ کیلومتره وو. دغه توپان د پاکستان په ختیځ کې را الوتی وو. وروسې د شلمې پیړۍ مرګونی توپان راوالوت چې دوه سوه زره کسه پکې ووژل شول. د ولسمشر یحیی خان او د هغه د کابینې د غړو غبرګون ډېر پڅ وو ، له ډېر ځنډ وروسته یې هغه ته ځواب ورکړ. ان تر دې چې د څو ورځو په تیریدو سره و نه توانیدل چې توپان ځپلې سیمې له نژدې وګوري. د ختیځ پاکستان اوسیدونکي له دې کبله نا خوښه ول. هغوی ځان پردی حس کړ او داسې یې وانېرله چې ګواکې هغوی د پاکستان تر ښکیلاک لاندې یوه سیمه ده نه د پاکستان د نورو سیمو په څېر د پاکستان اصلي سیمه. زما په نظر دغه کار په خلکو کې دا روحیه راژوندی کړه چې د پاکستان د لویدیځو برخې اوسیدونکي له دوی سره ځان په دغه ناورین کې شریک نه ګڼي او دې کار دې ته لاره هواره کړه چې د شیخ مجیب الرحمن د (عوامي لیګ ) په ټاکنو کې ډېرې رایې خپلې کړي.

په پاکستان کې د ۱۹۷۰ کال د ډسامبر د اوومې نیټې ټاکنې په دغه هیواد کې تر ټولو ډېرې بدې ټاکنې وې. اوسنی بنګلدیش چې هغه مهال د ټولنې د نیمایي برخې ټاټوبی وو او تر هغه دمه له دې هیواده بیل شوی نه وو ،د ریښتیني انتخاباتو ګټونکی وو او د شیخ مجیب الرحمن او د هغه د عوامي لیګ ګوند په پاکستان کې ټولې څوکۍ ترلاسه کړې. د ۳۰۷ څوکیو څخه هغوی ۱۲۰ کرسۍ او ختیځ پاکستان ۱۲۲ کرسۍ په ملي شورا کې خپلې کړې. د پاکستان د لوید

يځ ايالت چې پنجاب او سند په کې راتلل د ذوالفقار علي بوټو او دهغه د خلکو ګوند پي پي پي ته يې رايې ورکړې. د لويديځ پاکستان لپاره هغه مهال ۱۳۸ کرسۍ بېلې شوې وې چې بوټو ۸۲ ځوکۍ خپلې کړې. دغو ګوندونو د پاکستان د بلې برخې نه استازيتوب نه شو کولای.له ټاکنو وروسته بوټو ډېر ژر ځان لومړی وزير وټاکه او د ختيځ او لويديځ پاکستان لپاره يې د دوو اساسي قانونو وړانديز وکړ چې له مخې به يې دوه لومړي وزيران درلودل. خو له دې نه بې خبره وو چې د دغه هيواد لويديځ او شمالي ايالتونه په هر څه کې سره بېل دي او د لويديځ پاکستان خبره د بېلتون پرته نور څه نه وه. هغه د پاکستان په لويديځ کې د مېشتو وګړو له ويرې دا اعلان وکړ چې په ملي شورا کې د غوڅ اکثريت د رايو په خپلولو سره به داسې يو قانون جوړ کړي چې له مخې به يې څلورو واړو ايالتونو ته خپلواکي او خود مختاري ورکړل شي. يوازې دفاعي ، مالي او بهرنۍ چارې به د مرکزي حکومت له خوا اداره کيږي او نور صلاحيتونه به هغوی ته پرېښودل کيږي.
ښاغلي بوټو د بنګاليانو د واکمنۍ نه په ويره کې وو. خو دا يې هير کړي ول چې هغوی هم پاکستانيان دي او د عوامي لې پارټۍ هم په غوڅ اکثريت او مشروع توګه ټاکنې ګټلې دي. بوټو ان تر دې چې د لويديځ پاکستان نه هغه غړي چې د قانون جوړولو لپاره ملي شورا ته راغلي ول هغوی يې تهديد کړل او ورته يې ويلي و که چيرته د ختيځ پاکستان په پرانيستونکې غونډه کې چې په (ډاکه )يعنې د اوسني بنګله ديش په پلازمېنه کې ګډون وکړي د هغوی پښې به ورماتې کړي. دا يې هم ورته ويلي ول چې که غواړې په دې غونډه کې ګډون وکړي نو د يوې مخې ټکټ دې وکړي.او په کار دا وه چې د پاکستان لپاره د نوي قانون مسوده په دريو مياشتو کې جوړه کړي او بوټو د دغه کار لامل وو. او دا د بوټو او پوځي حاکمانو تر منځ جوړ جاړی وو چې پاکستان يې خراب کړ.
د شيخ مجيب الرحمن لنډ نظر او سخت رفتار هم ستونزه کمه نکړه او په ختيځ پاکستان کې د هغه محاصره کيدل هم د بوټو او يحيي خان د لوبو وسيله شوه. ښاغلي الرحمان دا هيره کړې وه چې دی نور د ټول پاکستان لومړی وزير دی او اړتيا ده چې د لويديځ پاکستان څلورو ايالتونو ته هم سفر وکړي او سيدونکو ته يې ډاډ ورکړي.
طمعه لرونکي بوټو د خپل واک د ساتلو له پاره چې يحيي خان د قانون جوړونې د شورا غونډه د ۱۹۷۱ کال د مارچ په ۲۵ نېټه تر نامعلوم وخته پورې وځنډوله،داهم ورته بس نه وه. يوه ورځ وروسته يې د عوامي ليک ګوند غير قانوني اعلام کړ او د ګوند دمشر شيخ الرحمن چې ټاکنې يې ګټلې وې ونبو. دغه کار د بنګالي او سيدونکو قهر نور هم زيات کړ ، چې کړکيچونه رامنځته شول او د هنديانو له خوا ورسره ملاتړ وشو. سره لدې چې د پاکستان پوځ د پاڅون په ارامولو کې راګير وو. هند دپاکستان د ختيځو پولو په څو سيمو کې د ۱۹۷۱ کال د نوامبر په۲۱ بريد وکړ او پاکستان يې له شا په توريې وواهه. د هند او پاکستان ترمنځ جګړه د ۱۹۷۱ يم کال د ډسامبر په ۳ يمه نېټه له سره پېل شوه.
په دغو بحراني شرايطو کې زما ماموريت په ختيځ پاکستان کې له حالاتو سره نيغه اړيکه درلوده. د کوماندو د تشکيلاتو په دغه مهم کنډک کې له۴ کاله خدمت نه وروسته د ۱۹۷۰ کال په ډسامبر کې د پاکستان د ځانګړې خدماتي ډلګۍ (SSG )نه بهر د توپچي يوه غونډ ته واستول شوم. په داسې حال کې چې د جګړې ګرد په اسمان کې ليدل کېده او د پاکستان په ختيځ کې د جګړې تاوتريخوالی زيات شوی و. پوځ تصميم ونيو(( ځانګړې خدماتي ډلګۍ (( پياوړې کړي.د ۱۹۷۱ کال په اکتوبر کې بيا وغوښتل شوم چې په چراټ کې د ( ځانګړې خدماتي ډلګۍ ) نوي تشکيلات جوړ کړم. دغه کار يوه نيمه مياشت وخت ونيو . کله چې ختيځ پاکستان ته دتلو له پاره تيار شو جګړه ونښته او له لويديځ پاکستان نه ختيځ او له هغه ځای نه دبخوا ته ټولې الوتنې بندې شوې .هغه مهال زما کنډک په پنجاب کې ځای پر ځای شو.
ځانګړو تشکيلاتو ته زما په مشرۍ لاربښوونه وشوه چې د لويديځ پاکستان له خوا د دښمن په خاوره کې ۳۲ کيلومتره دننه د يوه پله نيولو ته تيار شي. داپل دې تر هغه وخته پورې وساتل شي چې مرستندويه ځواکونه ور ورسيږي. له خپلو کسانو سره مې ددغو عملياتو له پاره تمرين کاوو. ما حتي د ډېرو بدو شرايطو د راتلو وړاندوينه هم وکړه .يعنې که د پله له نيولو وروسته مرستندويه ځواکونه را ونه رسيږي بايد د دښتو له لارې په لاريو او بسونو کې چې له وړاندې برابر شوي وو خپل هېواد ته راوګرځو.ما تر خپلې کوماندې لاندې ځواکونو باندې پوره باور درلود او د بريد له پاره تيار شو ، چې اوربند اعلام شو او ختيځ پاکستان په جبري توګه زمونږ له بدنه بېل او د بنګلاديش په نوم هېواد ترې جوړ شو. کله مې چې خپلو کسانو ته وويلا وربند پلی شوی، زمونږ ۹۰ زره ملکي او نظامي ځواکونه تسليم شوي او د خپلې موخې د نيولو له پاره زمونږ پلان لغوه شوی زړه مې مات شو ، ستونی مې ونيول شو ، ومې ژړل او ټولو زوړورو سرتيرو راسره وژړل .دامې د ژوند درد منده او غمجنه ورځ شوه. زما قهر دهغه وخت د حکومت پرجنرالانو اوځينو سياستوالو وه چې لا اوس هم زما بدن ته اور ورته کوي.هغه څه چې په ختيځ پاکستان کې ترسره شول د پاکستان دتاريخ غمجن فصل دی. دبنګال جلا کيدل د خپلواکۍ وروسته زمونږ د سياست جوړونکو ناکامه پاليسي وه خو پړه يې د پوځ په اوږو واچول شوه.کله چې په حالاتو کې پرمختګ وشو پوځ د ناممکنو شرايطو سره مخامخ شو. عمومي ستر پاڅون او دهند هېواد بريد چې کېدای شي د پخواني شوروي په ملاتړ چې هغه وخت يې د سولې او دوستۍ تړون سره درلود ، چې اصلا د جنګ ائتلاف وو له يوې خوا او له بل پلوه زمونږ پخوانۍ متحد دامريکا دمتحده ايالاتو له خوا د يوې بيانيې له خپرولو او د لاسونو له ښورولو پرته نور څه نه ليدل کېده ډېر بد حالت و.
د نړۍ هيڅ پوځ به داسې څو اړخيز تهديد ته ټينګ نشي.
د ۱۹۷۱ کال په ډسامبر کې اوربند وشو او پاکستان په دوو ټوټو وويشل شو .

## ۸ څپرکی

په پوځ کې ژوند

د ۱۹۷۱ کال په اوربند پسې د ځانګړو خدماتو ټولې ډلګۍ بیرته بوتلل شوې چې بیا ورغول شي ،زما قطعه د (( کمري )) سیمي ته چې د همالیا دغرونو جنوبي څنډو ته پرته ده ولیږدول شوه ترڅو هغه رپوټونه وارزوو چې ویل کېده د هند ځواکونه غواړي په سیمه بریدونه وکړي. تریوې میاشتې زیات په دغه ناهواره سیمه کې دغه حرکتونه ترسره شول او زما تجربه ښیي چې د نړۍ په لوړو غرونو کې د هېواد د پولو ساتنه څومره سخت کار دی.
لومړی مو د قراقورم په مشهورې لارې ۴۰۰ کیلو متره مزل په جیپ موټرونو سره وواهه ، چې پاکستان له چین سره نښلوي. دا سفر د ګلګیت په لور وو هغه مهال دا لاره د بیارغاونې په حال کې وه ، د لارو دګټو بند بدنو او د ښوئیدلو غرونو څخه په تیریدو سره دغه سفر ۱۰ ورځې وخت ونیوه له ګلګیت ها خوا په جیپ موټرونو کې ولاړو بیا مو پاتې سفر په قچرو سره ترسره کړ. ډیر ورو او په سختۍ سره د)) ګذرګاه بورزیل )) په لور چې د ځمکې له سطحې څخه ۴۴۰۰ متره لوړ دی،ولاړو. د (( میني مرګ )) درې ته وردننه شو ، چې د ځمکې له سطحې څخه ۲۷۰۰ متره لوړ دی او پیاده مو خپل ځان (( کمری )) ته ورساوو ، چې د ځمکې له سطحې څخه ۴۰۰۰ متره لوړ دی.( کمری ) ) د صنوبر په شنو ځنګلونو پوښلې ښکلې سیمه ده. دا تجربه به زما د ژوند ترپایه را سره وي.
په دغو لوړو سیمو کې باید دهوا یا اکسیجن له کموالي سره باید عادت وکړې،په ژمي کې په مترونو واورې اورې،پېچلې لاره وه خو مونږ په ښه توګه ترسره کړه. نږدې یو کال مې په سختو شیبو کې تیرې کړ ، خو هلته مې له اوسیدو څخه خوند واخېست او په ځان ډیر ډاډه ترې راووتم. په ژمي کې به مې د بیلا بیلو درو او غرونو څخه لیدنه کوله ،هغو سیمو ته چې کمو خلکو د ورتګ جرائت کولی شو.
زمونږ دغو حرکتونو او د پوځ نندارو پر دښمن اغیز اچولی وو او په ټول ژمي کې یې د ځمکې له لاندې سنګرونو سرونه راپورته نکړای شول.
یو سفر مې چې په ۱۹۷۲ کال کې درلود په جنجال بدل شو. تصمیم مې ونېو چې له)) کمری ) ) نه د کشمیر مرکز مظفراباد ته یوازې سفر وکړم ترڅو د هند او پاکستان ګډه پوله هم ښه ووینم. دا لاره ۲۸۰ کیلومتره اوږده وه چې باید یوازې د اتموکام په سیمه کې ۲۰۸ کیلو متره پیاده تللي وای. له خپلو ۷ ساتونکو او سرتیرو سره مو له (( کمری (( سیمي نه مزل پیل کړ ،اوله موخه مو د (( نګرون ) ) سیمه وه چې ۲۴ کیلومتره واټن یې درلود. مونږ د (( ګذرګاه کمری ) ) چې د اوبو له سطحې څخه ۴۱۰۰ متره لوړ وو تیر شو. له څو لوړو غرونو چې ۳۲۰۰ متره لوړ وو تیر او بالاخره د ((نګرون ) ) درې ته وررسیدو.
په دغه ۳ ورځني سفر کې له یوه انسان سره هم مخامخ نشو .یوازې له سپیده چاوده د ورځې تر یوولسو او بیا د ماسپښین له دریو څخه مو تر لمر لوېدو پورې مزل وکړ. ځکه چې د واورې ښوئیدل یا برف کوچونه معمولا د ورځې د ۱۱ او ۳ بجو په منځ کې واقع کېدل. سره له دې چې په دغه سیمه کې مزل هر وخت خطرناک وو . ځکه کله ناکله به لوړ غږ کولو هم واوره ښویوله او برف کوچ به راتلو.
کله چې له ((نګرون ) ) نه روان شو له ډیرو ښکلو سیمو سره مخامخ شو د (( کیشن ګنګا ) ) سیند د هندي کشمیر نه چې د پاکستان خوا ته رابهیږي چې بیا د ( نیلوم ) د سیند په نامه یادیږي.
زمونږ سفر له نګرون څخه د (( کیل ) ) په لوري تر (( اغوقام ، نیلو ) ) پورې ترسره شو. د ځمکې د سر جنت خو همدې ته وایي.
کله چې ختیځ پاکستان زمونږ له بدن نه جلا او بنګلادیش ترې جوړ شو د بوټو کښې څوکۍ چې پاتې پاکستان کې ورپاتې وې هغو ته یې شکمن مشروعیت ورکړ .په هرحال هغه د پاکستان ولسمشر شو.
خو د اساسي قانون د نشتوالي په بهانه یې وکولې شو تر څو د پوځ قانون جوړوونکی هم پاتې شي هیڅ داسې څنډ نه وو چې بوټو د ۱۹۲۵ کال له اساسي قانون نه کار اخېستی وای ،خو هغه له خپل واک نه خامه ګټه پورته کړه .حقیقت خو دا دی چې په پیل کې د بوټو ملاتړی وم ،ځوان،تحصیل کړی او فعال سړی وو. د ولس مشر ایوب خان د ریاست پر وخت یې ۸ کاله د حکومت کولو تجربه درلوده ، خو د وخت په تیریدو سره مې د بوټو په اړه نظر بدل شو.
جاوید ورور مې چې د سویل لویدیځ سرحد د ځانګړي وزیر اصلي منشي و راته وویل چې بوټو ښه سړی ندی او هېواد بڅوران کړي .ورور مې رښتیا وویل ، ومې لیدل چې په څهڅدول مې هېواد په ځانګړي توګه اقتصاد یې د ملي جوړونې د پوچې مفکورې لاندې ورک شو.
همدا رنګه د بوټو د (( اسلامي سوسیالیزم ) ) د مقولې تر نوم لاندې د هېواد بنسټونه برباد شول بوټو په کرار ، کرار زمونږ د ټولو ملي صنایعو اداره په خپل لاس کې واخېسته، د فولادو جوړولو ، کمیاوي موادو ،سمنټو ،کشتۍ چلونې،بانکداری، بیمې ،د ګاز او بریښنا د وېشلو او همدا رنګه د وړو صنایعو لکه د وړو ژرندې او میلونه، د وریجو د پاکونې کمپنۍ او د خصوصي ښوونځیو او کالجونو ادارې هم د هغه لاس ته ورغلې ،چې زمونږ د ښوونیز نظام د خرابوالي پیل جوړوي.
بوټو نه یوازې په ډیموکراټیک یا ولسواکه توګه حکومت ونکړ ، بلکې یو مستبد او ډکټاټور هم وو. هغه د ورځپاڼو د مدیرانو ،خبریالانو ، کارتون ایستونکو په ګډون خپل ډیر مخالفین زندان ته واستول. هغه واقعا نژاد پالونکی وو او هیله یې وه چې تل حکومت وکړي.
دا په خپله یوه غمیزه وه، ځکه چې د بوټو په څیر کسانو هېواد ته ډیر څه کولی شول. کله چې د بوټو حکومت پای ته ورسید ، زه دې پایلې ته ورسیدم چې

بوټو هغه بده پدېده وه چې پاکستان تجربه کړه. لاهم په دې باور یم چې بوټو تر بل هر کس ډیر ورانی کړی ، دومره ورانی چې لایې جوړولو ته نوبت ندی رسیدلی.

هغه لومړی سړی و چې له مذهبي حقونو یې ناوړه ګټه پورته کړه، هغه الکولي مشروبات او قمار منع کړ او د یک شنبې رخصتي یې جمعې ته بدله کړه ، خو ټول پوهېدل چې هغه دې ارزښتونو ته درناوی نه درلود او دا کارونه دهغه ریا وه.

لا جګړن وم چې د یوې معتبرې زده کړې له پاره په ۱۹۷۴ کال کې د افسرانو د مشرۍ په کالج کې غوره شوم. دا دوره مې په خوښۍ سره پای ته ورسوله. لږ وروسته په کراچۍ کې په ۲۰۲ نمبر لوا کې د جګړن په رتبې وګمارل شوم چې په پاکستان کې د یوه جګړن له پاره ډیره غوره دنده ده ،چې وروسته دغه لوا د بلوچستان د (( سوی اوکوهلو )) په سیمه کې د قبایلي یاغیانو دعملیاتو سره مخامخ شوه .ددغې سختې دندې پرمهال فوق العاده خاصې تجربې د پلان جوړولو او عملي کولو په برخه کې ترلاسه او زده کړې.

ما د یوه افسر په توګه په کوهلو کې د ځینو قومي مشرانو سره ښې اړیکې ټینګې کړې او ځینې مې تر خپل کنټرول لاندې راوستل، په دغه کار کې د یو لړ خطرونو سره بریالی شوم.

یو ځل د (( مري )) وحشي قبیلې مشر د سهار ډوډۍ ته په یوه غره کې مېلمه کړم. چې زمونږ له پوځې اډې نه ۵۲ کیلومتره لیرې وو ، ملمستیا مې ومنله. له یوه ډرایور یا موټر چلوونکي او مخابرې سره په جیپ کې سیمي ته وخوځېدم. یوه تفنګچه راسره وه، دا له پوځي قانون نه تیری و ،چې ویل به یې کله چې یو افسر خطرناکو سیموته سفر کوي باید له یوه پیاوړي ساتونکي سر هغه هم په ل.....۵ پټ ولاړ شي.

دا کار مې یوه بیباکي وه .ځکه پوهیدم چې بلوچ قبایل سوله خوښوي او هغې ته درناوی لري. دغې لوبې مې ښه پایله لرله (( پیردادانی )) میلمه پال یا زما کوربه ،ټوله لاره د خپل قوم په وسله والو ډکه کړې وه. ترڅو د خپل میلمه ساتنه وکړي. تر دې وروسته مې (( پیردادانی )) ملګری شو او تل به یې زمونږ له اډې نه لیدنه کوله. پوره زموږ همکار شوی وو.

بلوچستان د پراخوالي او مساحت له کبله د پاکستان لوی ،خو د وګړو د شمیر له کبله وړوکی ایالت دی او د پاکستان وروسته پاتې ایالت هم دی. ددغه ایالت ۴۰ فیصده او سېدونکي پښتانه چې د سرحد ایالت او د شمال غربي سیمو د اصلي اوسیدونکو نسل دی او ۲۰ په سلو کې یې بومي بلوڅان دي.

بلوڅان په قبیلوي ټولنه کې ژوند کوي او نژاد یې له ۷۷ قبیلو څخه جوړ دی. یو شمیر تل پکې د دولت ضد یا مخالف وو.

بلوچستان له اداري کبله ازاده یا (ب).سیمه بلل کیږي چې دولت پر دغو سیمو پوره واک نلري او سیه بیز مشران یا سرداران پکې مهم رول لري. یوازې ۵ په سلو ) الف) سیمه د ه ،چې دولت پکې قانوني اداره لري. د بلوچستان یو شمیر سردارانو په څو لسیزو کې له وسله والو مزدورانو نه نیمه پوځي ځواک جوړ کړی او په پاکستان کې یې دحکومت په راتلو سره له هغوی نه ناوړه ګټه پورته کړي او هغوی یې وسله وال کړي دي.

ما له ځان سره ژمنه وکړه چې د (( ب )) ټوله خپلواکه سیمه به د ((الف )) په څیر کوم او د دولت واک به پکې چلووم. تر اوسه مې له ۲۲ خپلواکو سیمو نه ۱۴ یې د دولت تر واک لاندې راوستې دي.

یوه بله تل پا تې تجربه دکوماندې لاندې لوا یو همکار مې د سیلاب ځپلو سره د بشري مرستو په عملیاتو بوخت وو. په ۱۹۷۶ کې کله چې واورې ویلې شوې او طبیعي یخچالونه اوکنګلونه د غیر عادي بارانونو له اوربنت سره یو ځای ددې لامل شول چې ټول سیندونه په ځانګړې توګه ((اندوس )) سیند ډیر ډک او په ځپو شي او په پاکستان کې بد سیلاب راووزي. تر ټولو زیات زیان د سند ایالت ته ورسید. زمونږ لوا د )) سوکور )) سیمي ته ولیږل شوه ، چې سخته سیلاب ځپلې وه.

د لوا مشر وویل چې په کانا ل کې د د رز د ډکولو مسوولیت په غاړه واخلم .داکار مې له مسوولیت نه بهر د لوا د ارکان د رئیس په توګه و، خو د هغه باور له مخې چې راباندې شوی و او هغه ننګونه چې په دې کار کې ورسره مخ وم، ومې منله. هغه کسان چې راکول شوي وو بې مثله وو. پردې سربیره د پوځ انجنیران، دسند د جنګي قبیلې ۲۰۰ قهرمانان او ۲۵۰ پابنده بندیان چې د )) سوکور )) له زندان څخه وو زما په واک کې راکړل شول. ددغو غیر متجانسو یا مختلفو ډلو او کسانو څخه مې یوه ډلګۍ جوړه کړه او ټوله شپه مو په کارکولو سره هغه درز یا چاود بند کړ.

کله چې سبا سهار د لوا امر د وضعیت د ارزولولپاره راغی ،حیران شو ، ډیر خوشحاله وو او ددې کار له کبله یې ډیر وهڅولم.

د لوا مشر نه یوازې د رئیس ارکان په توګه وپیژندم ، بلکې د یوه زوړور رهبر یا مشر په توګه چې په ټول شوق سره په هره بیه چې وي کولی شم خپل راسپارل شوی کار ترسره کړم.

په دغه دوره کې سیاسي صحنه ورځ تر بلې تیاره کیده. دبوټو ظالمانه،مستبد او دیکتاټوره واکمني د ټولو خلکو نه وه خوښه. هغه د (( نازي ګشتاپوی )) په څیر(( فدرال امنیتي ځواک یا ایف ایس ایف ((جوړ کړ، چې ډیر منفور او ډاروونکی و. د هغه شخصي راشه درشه له دوستانو ،همکارانو ،او دښمنانو سره دومره بې ډوله او بد رنګه وه، چې خلکو به ترې کرکه کوله ،خو دا احساس یې له وېرې نشو په ډاګه کولی. هغه د (( لالي )) په سیمه کې د سیاسي بندیانو توقیف خانه جوړه کړه ترڅو خپل مخالفین انسانان کړي.

وضعیت د شا ه په وخت کې ایران ته ورته او یا د صدام په وخت کې عراق ته ورته وو . ویل کیږي چې بوټو د خپلو کارکوونکو لکه د پوځ د مشر جنرال ضیاآلحق پر وړاندې سپکونکی چلند غوره کړی وو چې دا چلند د ټولو مخالفینو د یو والي لامل شو.

په دې وخت کې وو چې بوټو د ۱۹۷۷ کال د انتخاباتو خطر ولېدلو او هغه یې واخېست ، ترڅو خپل مشروعیت ثابت کړي. ورسره یو ځای شوي مخالف اپوزسیون ته یې د سیاسي ائتلاف رنګ ورکړ او پر هغه یې د (( پاکستان ملي ائتلاف یا پي این اې )) نوم کېښود. د ټاکنو د تبلیغاتو په وخت کې بوټو یا خپل اعصاب له لاسه ورکړي وو او یا دده د ځینو ملګرو په وینا هغه یې کوله په پارلمان کې ۲ پر ۳ څوکۍ وګټي او په اساسي قانون کې د پارلماني نظام ډول واړوي.د رایو په بکسونو کې ستر تقلب وشو. دومره اختلاس او لاسوهنه چې خلکو خپل ډاډ له لاسه ورکړ او لاریونونه یې پیل کړل.

څو ځلې دغه لاریونه په تاوتریخوالي واوښتل. خو د لاریونونو مشري د پاکستان د ملي ائتلاف له خوا کېده. پوځ د لاریون او تاوتریخوالي د ځپلو لپاره لاهور ته وغوښتل شو. بوټو په لاهور کې پوځي قانون اعلام کړ، خو سترې محکمې رد کړ.

یو ځلې خو وضعیت دومره خراب شو چې پوځ ته پر لاریون کوونکو د ډزو امر هم وشو. د پوځ درې جنرالان ډېر زوړور و او دغه امر یې ونه مانه او پر ځای استعفا غوره وبلله.

دغه جنرالان او افسران ( جنرال اشفق کندل ، جنرال نیاز احمد او جنرال اشتیاق علي خان ) و ، چې وروسته له پوځ نه ووتل.

په پایله کې دا وضعیت پای ته ورسید او جنرال ضیاالحق د ۱۹۷۷ کال په جولائ کې د ذوالفقار علي بوټو حکومت رانسکور کړ. د اساسي قانون تر ځنډېدلو وروسته په هېواد کې پوځي قانون اعلام شو. زه لا جګړن وم چې د ۴۴ توپچي ګرځنده غونډ د مرستیال په توګه د (( خریان )) سیمي ته واستول شوم.

رفیع اعلم چې هغه وخت تورنجنرال او په (( خریان )) کې زمونږ عمومي مشر وو ، په راولپنډۍ کې د پوځي اډې په مرکز کې د پوځي قانون د پلي کولو مرستیال وټاکل شو .هغه زما د مسلکي کارونو سره ورځ تر بلې مینه پیدا کوله. له دوو نورو افسرانو سره یې د پوځي مشرۍ په اډې کې د پوځي قانون د پلي کولو له پاره پنډۍ ته وغوښتم، وضعیت غیرعادي وو.

په ۱۹۷۸ کال کې د ډګرمنی رتبې ته اوچت شوم .د۴۴ ګرځند توپچي غنډ مشري راو سپارل شوه ، چې د زرهدار یا زغروالي فرقې یوه برخه وه.

په پیل کې د ګرځنده ۴۴ توپچي لوا مشري راته وړاندیز شوه او راته ویې ویل ،هلته به ارامه وې، ځکه دا یوه پخوانی جوړه لوا ده ماونه منله.د هغه پر ځای مې د ۴۴ ننګونکې لوا ترلاسه کولو ته ترجیح ورکړه .ځکه چې په ګجرات کې پرتو کسانو راته غږ کړ. او اړتیا وه چې د هغوی ستهنډرډ پورته کړم. په دغه قطعه کې د دوه کاله مشرۍ په ترڅ کې مې له هغوی نه یو ټیم جوړ او هغوی ته مې د بریا ډاډ ورکړ.

دا ټولګۍ په لوبو کې ناتوانه وو د فوټبال په یوې سیالۍ کې صفر د نهو په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو ،وروسته مې تکړه لوبغاړي وموندل.

او بل کال د کال قهرمان شولو او د عمومي مشر له خوا وهڅول شوو .مهمه داوه چې یوه غیر فعاله قطعه مې د لوبو په برخه کې له فعالو قطعو سره سیاله کړه، د یوه مړه حالت ژوندي کول اسانه کار ندی،د بنسټ نه ښې رهبرۍ ته اړتیا لري او باید د خپلو کسانو په مخکې وي او خپلو ټولو کسانو ته په ټولو برخو کې روزنه ورکړي.

یو مشر باید عادل،استوار،مهربان او خپلو کسانو ته متوجه وي او باید دهغوی نیکبختي ته یې پام وي او حتي د هغوی شخصي ستونزو په حل کې مرسته ورسره وکړي. دا هغه وخت دی چې ته به د دوی د احترام او اطاعت کچه ترلاسه کړې، په ویاړ سره ویلی شم چې تل د خپلو لاندې ملګرو د محبت لاندې وم، او هغوی هر کار په ورین تندي کاو.

سهار بۀ مې له هغوی سره منډې وهلې، له هغوی سره به مې فوټبال،بېس بال،هاکي او والیبال کاو ،په سپکو وسلو به مو ورسره ښې وېشتې له زیاتو مې ښه ښنه درلوده. دمنډې وهلو پرمهال به مې دخنډونو په اړه هغوی پوهول چې په څه ډول یې له وړاندې ورته فکر وې. تل به یې راته احترام کاوه او زه ورته ډېر اغیزمن کس ښکاریدم.په څو برخو کې یو له هغو کسانو څخه وم چې د خپلو کسانو د ټپې کیدو سمدلاسه وروسته روغتون ته ورتلم او هغوی ته مې وینه ورکوله، د یوه روغ ځوان له پاره د وینې ورکول کومه غټه خبره نده. خو کله چې سرتیري ووینې چې د هغوی مشر وینه ورکوي نو دا هغوی ته ستره معنا لري. په لویه کې د لوا مشري ډېره بریالۍ وه. زما بآور یې زیات کړ او زه یې د یوه ښه مشر په توګه خپلو کسانو ته وروپیژندلم او تل به پدې بآور وو چې رهبري او مشري کول یو هنر دی ، نه علم،تر یوې اندازې هغه زده کولی شو ، خو تر ډېره خدای ورکړې استعداد دی.

مشري مې بریالۍ وه، ځکه ماترې خوند واخېست،ځکه بختور وم چې تورنجنرال رفیع اعلم زما مشر وو. فکر کوم زه یې د یوه ښه افسر په توګه په خپلو ملګرو کې وپیژندلم.

دا خبره دهغو خبرونو پر بنسټ کوم چې زما په اړه یې لیکلي وو . بله دا چې زه یې له بهره دې دندې ته غوره کړم، چې د پوځي قانون د پلي کولو مرکزي دفتر ته ورشم،چې دا د ((ډګرمنی )) په رتبې زما ګومارل وو. هغه زه د پوځي قانون د پلي کولو له پاره د ډګروال په توګه ونومولم او په دې برخه کې یې راته پوره ازادي راکړه. پرما یې دومره باور درلود چې یوه ورځ یې دفتر ته ورغلم له لیرې واټنه مې واورېدل چې په ټلیفون کې یې وویل:که زما د پوځي قانون د پلي کېدو مشر (( ما )) هر څه امر کړی وي سم کار یې کړی. حتي د ټلیفون تر شا د شکایت کوونکي کس خبرو ته یې همغه مهال او بل هیڅ وخت غوږ ونه نیوو.

خپل ځان مې کنټرول نشو کړای او په ډاګه مې ورته وویل قوماندان صاحب تاسو پر خلکو ډېر باور کوی ،ځوک مو ونه غولوي. هغه په ځواب کې وویل زه پوهیږم چې پر چا باور وکړم.

تورنجنرال رفیع اعلم او ځینو نورو لوړ پوړو مشرانو د مشرۍ لاس راکړ .هڅه مې وکړه دهغه له ډېرو صفاتو څخه پیروي وکړم. یوه ورځ په سختې ګرمۍ کې

چې د فارنهایټ درجه(( ۱۱۰ ) ) ته رسېده د یوه اوږد تمرین وروسته جنرال اعلم زه دیوې غونډۍ سرته وغوښتم چې له هغه ځایه یې زمونږ کتنه کوله. کله چې ور ورسېدم یوه کارکوونکي یې یخ څښونکي ورته راوړل. مخکې له دې چې جنرال اعلم په هغه څکه وکړي ماته یې وکتل چې له تندې مې شونډې وچې وې سمدلاسه یې لاس زما خواته را اوږد کړ او یخ څښونکي یې ماته راکړل او په ټینګار سره یې وویل واخله زویه تر ترما ورته زیاته اړتیا لري او لایق یې چې ما هم په سر واړول.
دځواکونو دمشری په پرتله د پوځي قانون د اجرا په مرکز کې د کار کولو توپیر درلود اوغیر طبیعي وو. خو په دې ماموریت کې مې زده کړل چې یو انسان کولای شي د عدالت په اجرا کولو او د حکومت په قوي کېدو کې اغیزمن تمام شي.
ما خپل وړوکې برخه د راولپنډۍ له فرقې څخه چې د پنجاب د ایالت له ۵ فرقو څخه یوه وه ترسره کړه. زما دغه محدود ماموریت په هغه ځای کې د مد ني حکومت د کارکړنو سره اشنا کړم او ویې پوهولم چې له غیر پوځي کاغذ پرانیو سره څه ډول چلند وکړم.
د جنرال ضیاالحق په وخت کې یوه خرابه جزا داوه چې مجرمین به یې په قمچینو وهل. پوه شوم چې یوازې غریب کسان دغه جزا ویني ، نه ماړه او نه پیسه دار خلک. یوه ورځ مې تصمیم ونیوه چې د پېنډۍ زندان ته ولاړ شم او په خپله دغه وهل ووینم د عدالت د اجرا کولو له پاره ددغو وهلو په مراسمو کې حضور د کار یوه برخه وه. په قمچینو وهل یوه سپکوونکې جزا وه چې زه یې په خپله شاهد وم.
زندانیانو میزونه او کوچونه چې یو څه کیک او کلچې پرې ایښې وې تیار کړل((کلو سیوم درومان ) ) تصویر مې ذهن ته راغی. هغه وړوکی کار چې ما کولی شو داوو چې ووایم دا کیک او کلچې ژر یو خوا کړی.
یوه بیچاره چې ۵ قمچیني جزا یې وه، یوازې یو نری کمیس یې اغوستی وو او د X په څیر تړل شوی وو . هیڅ ونه ښوریده .وهونکې لنګ اغوستی وو په سخت ډول یې وواهه او په دریمه قمچینه یې چیغې کړې، څلوم او پنځم وار مې هم ولید . کله یې چې خلاص کړ پر ځمکه ولوید په وجود کې مې یې ویني ولیدلې ، بیا مې داسې سپکوونکی هیڅ ظلم ونه لید .
داوضعیت مې تورنجنرال رفیع اعلم ته ووایه او ترې ومې وغوښتل چې لږ تر لږه په قضایي ادارو کې دغه غیر انساني چلند ته پای ورکړي. دغه مهربان مشر مې خبرې ته غوږ ونیوه او قضایي ادارو ته یې وویل چې نور دې بیچاره خلکو ته دداسې جزا حکم نه ورکوي.
د پوځي قانون په مزه هله پوه شوم چې پولیسو ته مو امر وکړ چې ټول بدمعاشان وپیژني او را ودې نیسي ، چې نظم او قانون ښه شي. هغوی د خپلو څېړنو په اساس دوه ډوله خلک ګیر کړل او ویې ویل چې په دې کسانو کې د ښځینه و دلالان شامل وو ، چې د راولپنډۍ د مړو ځراغونو له سیمې نه یې راوړي وو .
پولیسو ته مو نفرین ووایه او د هغوی د ازادی امر مو صادر کړ. هغوی د پوځي قانون د مشری مرکز ته راغلل او شعارونه یې ورکول چې (( ډګروال مشرف زنده باد ) ) مجبور شوم هغوی ته مې وویل که دا سیمه مو خوشې نکړه نو د بیا نیولو امر به مو ورکړم.
خلاصه دا مو د پوځي قانون په دوران کې تجربه وه . یو لږ درسونه مو هم ترلاسه کړل . په پیل کې چې کله د پوځ په قانون کې راګیر شو و له خپلو اصلي دندو بل خوا ته ولاړو. او د پوځي عملیاتو په روزنه او تیاري یې منفي اغیزې وکړې. بل دا چې کله پر مدني حکومت پوځي قانون وضع کوې د مدني حکومت کارونه له پخوالي سره مخامخ کیږي او کله چې پوځي قانون له منځه ځي نو مدني چارې په غیر اغیزمنه توګه له پرمختګ نه پاتې کیږي.
هر قانون چې رامنځته کیږي قربانیان یې غریب خلک وي. د پوځي قانون په دفتر کې مې د خپل ټول کار په دوره کې هڅه وکړه له غریبو خلکو سره نرم چلند وکړم او هغوی ته اسانتیا ورکړم او له معتبرو کسانو سره مې جدي چلند کاوه .زما باور دادی چې غریب کس ممکن د عذ ر له پاره یو دلیل ولري ، ځکه دولت ورته څه ندي کړي. خو غني یا موړ کس چې رشوت اخلي باید سخته جزا ورکول شي ځکه چې هغه ورته اړتیا نلري.
د ۱۹۷۸ کال په جولای کې مې دوه میاشتې رخصتي واخیسته، چې له خپلې میرمنې سره بهر ته په چکر ولاړ شم، لندن ته ولاړو ، او د دولت په یوه کور کې اوسیدو بیا وروسته د امریکا شیکاګو ته د نوید ورور کور ته مو ولاړو .د یوه اوږده سفر یعنې پاکستان ته د تلو له پاره مو یوه ټویټا موټر واخیست. ښکلې تجربۀ وه موټر مو د کنسرو د خوړو ، دګازو په ډبه، خیمې، هوایي دوشکو او دوو بالښتونو ډک کړ ، او سفر ته مو دوام ورکړ. د نړۍ ګرځېد نې او توریزم له کبله مو غوره کړې لار ښۀ وه.
))دربېن ) ) سیند مو ونیو له المان نه تیر شو او د سیند په وروستیو څنډو کې مو ښکلې منظرې او ابشارونه ولیدل او سویس ته ورسیدو. له (( لویسرین ) ) نه د ایټالیا په لوري وځغلیدو او د ګومو په جهیل کې مو دمه وکړه. چې د خپلو مطالعو له وخته مې د ناپلیون په تبلیغاتو کې پیژانده. وروسته بیا د ایټالیا له میلان نه د (( ونس ) ) په لورې وخوځیدو چې دوه ورځې پاتې شو. وروسته د سیند له لارې (( یوګوسلاویا ) ) بیا د)) ادریاتیک ) ) ساحل بیا ((یونان ) ) ته د اجین له لارې او بیا له هغه ځای نه ترکیې ته د تورې بحیرې له لارې ولاړو . هره سیمه بۀ مو چې خوښه شوه دوه درې ورځې په مو پکې تیرولې. دغه سفر یو کال او ۷ ورځې ونیولې ، او داسې سفر دی چې خاطرو ته یې درناوی لرم.

.............................................

په ۱۹۷۹ کال کې د )) افسرانو او مشرانو کالج ) ) ته د استاد په توګه ولیږل شوم دا هغه ارزښتمن ماموریت دی چې لوړ پوړو ډګرمنو ته ورکول کیږي. دا هغه ځای وو چې ما خپلو عمومي وینا کولو ته پکې پراختیا ورکړه. له استادانو سره لکچر نوټونه وي، چې مونږ ورته (( تصویرونه (( وایو ځکه چې پر کاغذونو د رنګ په ډول تصویر شوي وي.

ددغه کار له ترسره کولو څه موده وروسته مو تصمیم ونیوه چې بې له تصویرونو درس ورکړو ، چې په دې ډول د خپل عملي ژوند فکرونه او تجربې زده کوونکو ته وړاندې کړو.بریالی او وتلی روزونکی یا استاد وم.
دوه کاله مې له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۱ پورې هلته تیر کړل. له مسلکي نظره راته فوق العاده ښه وو. له ټولنیز کبله هم خوندور کلونه وو . ځکه چې په یوه وړه ټولنه کې مونږ ژوند کاوه.صهبا او ماشومانو مې هم له دغو کلونو ښه خوند واخیست.
زه د پوهنځي نه د بهر پروګرامونو مسوول وم. دغه کار خپل خطرونه هم درلودل. په۱۹۸۰ کال کې با ید د (( پلاتین )) مراسم ولمانځو. دغه پوهنځی په ۱۹۰۵ کال کې جوړه شوې وه. داسې برابر شوي وو چې ولسمشر ضیاالحق دغه مراسم پرانیزي داسې وویل شو چې ځانګړی مازدیګری پروګرام برابر کړم. دا کار مې د پاکستان د فرهنګي نڅاکوونکو د یوې ډلې په ګومارلو او رابللو سره برابر کړ چې یوه ننداره به ترسره کوي. دغه ګډا کوونکي د پاکستان له مشهورو سندرغاړو ،نارینه او ښځینه وو څخه جوړ وو ،چې نړۍ ته یې د پاکستان فرهنګ ښولی .و.
تر مراسمو دوه ورځې وړاندې دغه هنرمندان له لاهور نه د کویټې په لور په ریل کې وخوځیدل، د خپل مشر له لورې راته پیغام راورسید . د خواشینی په ډول یې راته وویل ولسمشر نه غواړي سندرې او نڅا په مراسمو کې ترسره شي، په ځانګړې توګه د ښځو له خوا ، اوبل دا چې حتي ولسمشر نه غواړي کومه فرهنګي ډله کویټې ته ولاړه شي،ماته یې ټکان راکړ. له ډیرو اعتراضونو سره،سره راته وویل شول چې د ولسمشر امر دی باید اجرا شي.
کاروان وړاندې د کویټې په لور خوځیدلی وو ، څنګه مې هنرمندان کویټې ته له تلو منع کړي وای.د سند د ایالت د (( لسوکور )) په سیمې کې مې یوه سیمه بیز چارواکي ته چې جنرال وو په نیمه شپه کې زنګ وواهه، او سپینه کیسه مې ورته وکړه . ترې و مې غوښتل چې کاروان ودروي او هنرمندان بیرته لاهور ته راستانه کړي.
د جنرال ځواب ډیر غیر دوستانه او خراب وو ، چې په څه ډول یو ډګرمن په نیمه شپه کې یو جنرال له خوبه راپاڅوي او دنده ورسپاري. مجبور شوم کورته ولاړم بیامې ورته وویل چې ولسمشر ته هم دده او هم زما اعتبار په همدې ماموریت پورې اړه لري. کله یې چې سست ماغزه بیدار شول، په بیړې سره یې په کار لاس پورې کړ، او په ښه توګه یې دغه دنده ترسره کړه. د سهار په دوو بجو دا کار وشو ، خو کاش هلته وای ، چې په څه ډول دغه هنرمندان چې سبا باید په کوېټه کې وای اوبیرته په همغه ورځ سپاره شوي ځای ته راورسېدل،عکس العمل ښکاروي.
ولسمشر ضیاالحق هغه څه چې بوټو د خپل رژیم واک پر وخت پیل کړي وو په ۱۹۸۰ لسیزه کې پوره کړل، د جنرال ضیاالحق مذهبي تګلارې سیاسي بنسټ هم نه درلود د بوټو په اعدامولو یې له هغه نه یو شهید جوړ کړ او د (( پي پي پي )) ګوند یې پیاوړی کړ.
ښاغلي ضیا د اساسي قانون له جوړېدو او د مذهبي حقونو له ورکړې سره خپل ملاتړ وکړ، او هغه په اساسي قانون کې مذهبي مراسمو ته زیاته توجه وکړه چې د مذهبي ډلو ملاتړ ترلاسه کړي، چې حتي موسیقي او تفریح رسما منع شوې.
په داسې حال کې چې ماته وویل شول چې هغه په خپله له کلاسیکي موسقی نه خوند اخیست.
له روزونکي نه بیرته زده کوونکی شوم د (( دوسله والو ځواکونو د جنګ )) د دورې د زده کړې له پاره د ملي دفاع کالج(( این ډي سي )) ته یې اسلام اباد ته ولیږلم. دا د یوه افسر له پاره ډیر مهم پرمختګ دی.ځکه که یې دغه کالج نوي لوستی د جنرالی رتبې ته نشي رسیدلی. په دغې روزنیزې دورې کې تاریخي،پوځي،استراتیژیک پوځي،سیاسي جغرافیه او تر ټولو مهمه عملیاتي ستراتیژۍ مهمې برخې دي.
عملیاتي ستراتیژۍ د جګړې د څو رېښتینو لوبو او تمرین په واسطه د نقشې پرمخ لوست ورکول کیږي ،فکر کوم د ریاضی پوهې مې د جګړې مهم او اصلي عناصر لکه د زمان یا وخت او ځای یا مکان او ورپورې اړوندو مسایلو پیژندل راته اسان کړي وو.
دغه روزنیزه دوره مې په لوړو درجو سره پای ته ورسوله ،او د ښو زده کوونکو یا محصلینو په کتار کې راغلم.
دغه راته د ستړې مشرۍ یا په اداره کولو کې راته اغیزمن تمام شو. ددې دورې په پای کې مې ځان د یوه داسې افسر په توګه پیدا کړ چې پر ځان پوره باور لري. دا هغه وخت وو چې پوهېدم که ټول کارونه په مراد سره ترسره شي ډیر ژر به د جنرالی لوړې رتبې ته ورسیږم.
د جنګي چارو د زده کړې تر دورې وروسته بیا د ((خریان )) سیمې ته وګرځیدم او دا ځل مې د ۱۲ ګرځنده لوا مشرې په غاړه وه . همغه قطعه چې په تشکیل کې یې په ۱۹۶۵ کال کې له هند سره جنګیدلی وم.
هغه مهال ډګرمن وم، چې بل ځای د ډګروال په صفت د پوځي قانون د اجرا کولو له پاره په راولپنډۍ کې مقرر شوم. دا دوره مې د ډ ګروال رفیع اعلم تر مشرۍ لاندې،کار غوندې خوندوره نه وه. په څو برخو کې موږ له یوه او بل سره په ټکر کې راغلو.
یو ځل په سړک کې یو خندق وو پولیسو ته مې وویل چې دا لیرې کړي چې د خپل مشر له ټلیفوني ګواښ سره مخامخ شوم.بله ورځ له خریان نه د پوځي قانون د اجرا دفتر ته راغلم،په غمجنه روحیه دفتر ته ولاړم او ترې و مې غوښتل له دندې مې خلاص کړي او اجازه راکړي چې د خپلې لوا مشرۍ ته مې ور وګرځم؟ ورته و مې ویل ددې له پاره ځم چې که د ښو کارونو له پاره ګواښل کیږم په راتلونکي کې به ونه توانیږم څه ډول تصمیم ونیسم. دې خبرې هغه ته ټکان ورکړ او زما د کارونو عمومي ستاینه یې وکړه او ډاډ یې راکړ .په همدې سره مې د نظامي قانون کار ته دوام ورکړ او له نیکه مرغه چې هغه له ما سره په خپل چلند کې ډیر احتیاط کاوه.
له ۱۹۸۳ څخه د ۱۹۸۴ کال تر نیمایي پورې د پوځي عملیاتو د مرستیال یا ( ډي ډي ایم او ) په توګه وټاکل شوم او همدارنګه دا تائید شوه چې د

برید جنرالۍ رتبې ته ترفیع وکړم .خو موقتا مې د ډګروال په صفت کار وکړ. ځکه په دغه اداره کې د جنرالۍ کوم بست خالي نه وو.

د پوځي عملیاتو په ریاست کې مې کاري دوره هغه ډول چې باید مکافات شوی وم نه وه، ځکه چې رئیس د خپلو لاس لاندې کسانو ته د زده کړې ورکولو مهارت نه درلود. سره لدې چې په لوړو خانو کې د عملیاتي پلان د جوړونې شاهد وم. کله چې د هند او پاکستان ترمنځ د (( سیاچین )) په سیمه کې په طبیعي یخ بندونو کې جنګ وو ،ددغو یو شمیر پېښو مسوولیت زما په غاړه وو چې تر نن ورځې جګړه روانه ده.

))سیاچین )) د هند پاکستان او چین په منځ کې ستر طبیعي یخ کنګلونه دي ، چې د قراقرم په سیمه کې موقعیت لري. د پاکستان له خوا د ((سالتورو )) په سیمې سیاچین ته رسیدل چې(۵۲۰۰ څخه تر ۲۴۰۰ مترو پورې لوړ والی لري بنده شوې. په کال ۱۹۸۳ کې پوه شوم چې هند په پرله پسې توګه د سیاچین په طبیعي کنګلونو کې پوله ماته کړې وه . کومه چې پاکستان پورې یې اړه درلوده.

د ځانګړې خدماتي ډلګۍ یوه ټیم مو سیمې ته ولیږه ترڅو دغه رپوټونه وارزوي او د پولو ماتول تائید کړي. ځکه په خپله د یوې متروکې اډې علایم په کنګلونو کې ښکاریدل.

د قوماندې په عمومي مرکز کې مو د سالتور په سیمه کې د ( پخثان ) په اوبو د تیریدونکو سیمو د نیولو له پاره پلان جوړول پیل کړل. دغه سیمه د سیاچین په کنګلونو کې پرته ده.

اوبه رواني وې او مونږ په تقریبا ۴۸۰۰ مترو لوړو سیمو او منفي ۵۰ درجې یخ کې مو د عملیاتو د اجرا تجربه نه درلوده. سیاسي تصمیم داوو چې څه وخت دغه لار لاندې کړو. وخت ډیر مهم وو ځکه کیداې شي د سالتور په سیمه کې د سیاچین ددغو سیمو تیریدونکو لارو د نیولو هڅه په فکر کې ګرځیدلې وې.

د مارچ په لمړۍ مو وړاندیز وکړ ترڅو زمونږ سرتیري په ډاډه توګه له هغوی نه وړاندې خپلو موخو ته ورسیږي. ځکه دغه وخت د ژمي بدی تازه تیري شوې وې. خو دغه نظریه د شمالي سیمو د مشر جنرال له خوا چې د سیمې په اړه یې معلومات درلوده ،رد شوه. هغه په دې باور وو چې د مارچ په میاشت کې به یې ځواکونه د ډیر یخ او نا هوارې سیمې له کبله خپلو موخو ته ونه رسیږي. د هغه پر ځای یې د(می) لمړۍ ورځ وړاندیز کړه.

ددغه جنرال نظریه ومنل شوه ځکه چې د سیمې مشر و. خو دغه نظریه له اشتباه ډکه وه .ځکه کله چې مونږ هلته ورسیدو ، ومولیدل چې هندي سرتیري د سیاچین د ګنګل شاته د سالتور د سیمې پر زیاتو مهمو سیمو کنټرول ټینګ کړی وو.

خو سره له هغه هم زمونږ ځواکونه وړاندې ولاړل او د هندي سیمو شاخوا ته یې ځینې لوړې سیمې ونیولې.

په لوړو سیمو کې دواړو غاړو یوه او بل ته نږدې سنګرونه نیولي وو.

ډیر ارزښتمن ځوانانو د دښمن د ډزو ،ناهوارې سیمې او خطرناکې هوا له کبله خپل ځانونه د لاسه ورکړل،هندي سرتیرو تر مونږ څو ځله زیات زیان ولید.

له ۳ څخه تر ۷ ورځو پورې تیرې وې چې هندي ځواکونو د سیاچین د کنګل او ټولو سوریو نه تیریدونکي سیمې ونیسي. د پولې پاکستاني اړخ د سالتور سیمې ته په ریګونو کې یوه لاره وه. ځواکونه په جیپونو کې په یوه ورځ کې کولی شي تیریدونکې لارې ته پاس وخیژي. ډېرې وړې،وړې نښتې په بیلا بیلو سیمو کې په ټوله جبهه کې هغه مهال رامنځته شوې چې دواړو غاړو هڅې کولې ،لوړې سیمې ونیسي.

په پیل کې هندیانو داسې وښوولہ چې ګواکې زمونږ هڅې بې ګټې دي. هغوی ته درانده تلفات واوښتل. وروسته بیا د هندیانو د (( ستراتیژی )) بدلون ته بیخي حیران شوم ، د هغوی ځواکونو (( تقلبي )) اړیکې نیولې وې او په مخابرو کې به یې تقلبي کیسې کولې ترڅو مونږ اند ښمن کړي. په داسې حال کې چې داسې به نه وو. په څو برخو کې مو چې پیغامونه ترلاسه کړل زمونږ د کوماندو عمومي مرکز به د اند ښښنې په ښوولو سره دداسې پېښو په اړه رښآ غوښته ،چې په لومړۍ جبهه کې څه تیریږي؟ زمونږ ځواب به داوو چې هر څه ښه دي.

هند په نړۍ کې د فلمونو ستر صنعت لري، او د خیالي فلمونو په جوړولو کې مشهور دی.د همدې له پاره مونږ ته ډیره د حیرانتیا خبره نه وه چې د هغوی په مخابراتي اړیکو کې دې داسې خیالي داستانونه وي. هغوی زمونږ د پوځ په وړاندې هر ډول تبلیغات کوي. په واقعیت کې مو د دوی د درواغو څخه خوند واخیست. دهغوی فکرونه او تخیلات داوو چې دښمن برید کړی او مونږ په زوړه وره توګه دفاع وکړه.

همدارنګه په څو برخو کې مو داسې پیغامونه ترلاسه کړل چې هندي ځواکونو ته تلفات اوښتي او د خپلې نا توانۍ او خرابې هوا له کبله غواړي، سنګرونه خالي کړي.

مړه شوي پوځیان به یې د څو ورځو له پاره په یخ پراته وو ترڅو چورلکې یې ولیږدوي ،واورې او یخې هوا طبیعي یخ خونه یې د مړو د ساتلو له پاره جوړه کړې وو.

په سیاچین یا د نړۍ په بآم کې له هندیانو سره زمونږ مخامخ کیدل ستره جګړه وه. یو بل جدي او تقریبا پوره عیار جنګ موله هذیانو سره په (( کارګیل )) کې وو ، چې وروسته به پوره توضیح ورکړو. پردې سربیره دغه دوه کنټرولیدونکې کرښې چې ازاد کشمیر ،د هند تر واک لاندې کشمیر څخه جلا کوي تل به دجنګ ډګر وو.

د مرمیو تبادله،دتوپخانې مخامخ جګړه، د هرې ورځې پېښې وې. داټول سرې ته دا ورښیي چې که دوه ګاونډیان له یوه او بل سره دښمن شي نو بیا فوق العاده نا هواره ځمکه او فوق العاده خرابه هوا هیڅکله د جګړې مانع نشي کیدای .

## ۹ څپرکی

ژوند په یوه خطرناکه لسیزه کې

له کال **۱۹۸۵** څخه تر **۱۹۹۸** پورې زما په پوځي ژوند کې له ډګرمنۍ د پوځ تر مشرۍ یا دفاع وزیر پورې ورسیدم. مختلفي او پلې لارې پکې وې او د پاکستان په لوړو څوکیو کې مې له سیاست څخه یو لوړ درسونه زده کړل.
نکلونه او داستانونه مې په هېواد کې تکراري وو. انتخابي مقامونه او څوکۍ په فساد ککړې وې چې له کبله یې پوځ پر هېواد واک ټینګ کړی وو.
سره لدې چې دغه ککړ حکومتونه په واک کې وو ، د ټولنې ډیر قشرونه په ځانګړې توګه روڼ اندي به په وار ،وار پوځ ته راتلل او د نظام د بدلون غوښتنه به یې کوله.په دغه دوره کې هغه څه چې زه یې (( د ډیموکراسۍ وحشتناکه لسیزه )) بولم هم شامله ده.
د **۱۹۸۸** کال له پیل څه په اسلام اباد کې د واک ګڼ بدلونونه او له هند سره د تاوتریخوالي د زیاتېدو شاهدوو. له مرګ سره مې بل تماس هم درلود. خو دا ځل د جګړې په لومړۍ کرښه کې نه وم ،ولې خپل ځان مې همغلته حس کاو. په **۱۹۸۵** کال کې مې د جنرالۍ رتبه ترلاسه کړه او د ښوونکې په توګه (( د ملي دفاع )) کالج ته واستول شوم.
د پاکستان په پوځ کې د استخدام درې ډلې دي، چې د ټولو محور په افسرۍ څرخیږي (( قوماندانې،د ارکان ریاست او روزونکي )) دغه وېش د پوهې او وړتیا پر بنسټ کیږي او د افسر په وړتیا پورې اړه لري.هغه افسران چې ددغو دریوارو برخو وړتیا ولري په لومړۍ کرښه کې راځي او زه یې د ټولو وړ وبللم، چې په ترتیب سره مې په دریوارو کې چکر وواهه.
د ملي دفاع په کالج کې استادۍ ډېره په زړه پورې تجربه وه. دغه کالج د وسله والو ځواکونو تر ټولو لوړ مرکز دی. یو استاد باید د نویو زده کړو ،د ستراتیژۍ د تاکتیک ،عملیاتو او مدیریت په اړه نه یوازې مطالعه او څیړنې وکړي، بلکې دا چانس ولري چې خپل شخصي افکار هم وړاندې کړي.
په **۱۹۸۵** او **۱۹۸۶** کلونو کې له تدریس نه وروسته په ((خاریان )) کې د زغره والي توپچي فرقې مشر وټاکل شوم. عجیبه ده هر ځل مې چې رتبه اخېستې زه یې د ((خریان ((سیمي ته د دندې له پاره لیږلی یم. خریان هغه سیمه ده چې د لومړي ځل له پاره مې په لومړي ماموریت کې اجازه ترلاسه کړه چې په خپل دولتي جیپ بیرغ ورپوم ،چې راته د غرور یوه منبع وه.
د نوې مشرۍ په ترځ کې مې له هند سره نوی تاوتریخوالي زیات شو. دا ټول د پاکستان پولې ته نږدې د هند له خوا د یوه پوځي مانور ترسره کیدل وو ، چې څو قول اردوګانو په ځانګړې توګه یرغلګرې قول اردو په سویلي صحرایي جبهه کې ترسره کول.
پاکستان دغه مانورې جدي ونیولې. ځکه چې هندي ځواکونو د معمول خلاف خپل ټول مهمات انتقالول. ددغو تمرینونو نوم(( برس ټاکس )) او د هندي پوځونو د سخت دریځه مشر )) جنرال لوندرجي )) مفکوره وه.
مونږ پرېکړه وکړه چې هند ته قوي او له ستراتیژیک کبله لوړ ځواب ورکړو. زمونږ زغره لرونکي فرقه له ټولو یرغلیزو سنګرونو سره د پنجاب شمال د سیالکوټ سیمي ته ولیږدول شوه او د هندي کشمیر په سیمه کې مو د هندي ځواکونو ارتباطي کرښوته نیغ تهدید متوجه کړ.
دلته په ځای په ځای کېدو سره پاکستان هغه څه ته چې ستراتیژیکه برتري یا لوړوالی وایي، ترلاسه کړ. په دې سره مونږ کولای شو د دښمن ډیرې حساسې موخې په کم وخت کې تهدید کړو ،نظر هغوی ته چې د پاکستان ستراتیژیکې موخې تهدید کړې.
دغه حرکت هند دهرې ناوړه پیښې له کولو وژغوره .د تیارسۍ دغه حالت څو میاشتې دوام وکړ ترڅو چې د هند له خوا ښه نیت څرګند او ددې حالت نه د خلاصۍ له پاره خبرې شروع شوې. ددغې مخامختیا په وخت کې د پاکستاني پوځ روحیه او مورال ډېر لوړ وو. او ماهم د خپل لاس لاندې لوا په لوړه کچه تحریک کړه. تر لاس لاندې کسان مې مناسب وخت ته تږي وو ، چې له هغه څخه غچ واخلي. چ په **۱۹۷۱** کال کې په ختیځ پاکستان کې رامنځته شول.
د همدغې دورې په ترځ کې د ولسمشر ضیاالحق د پوځي منشي په توګه غوره شوم زما نوم د جنرال محمود علي دراني له خوا ولس مشر ته وړاندې شوی وو .څوک چې د میني له مخې یې خپل تخلص لیونی اېښی وو. او وروسته د تورن جنرالۍ رتبې ته ورسید ،او د ولس مشر پخوانی پوځي منشي وو.
ښاغلي دراني وروسته د یوې لوا د مشر په توګه)) خریان )) ته راغی. هغه په **۲۰۰۲** کال کې په واشنګټن کې د پاکستان سفیر شو.
ماته یې وویل چې ډیر ورو کې پیغام سره د حرکت له پاره تیار شم. میرمنې صهبا ته مې وویل چې د یوه لاسي بیک سره کور پرېږدم او وروسته به هغه د کور په راټولولو سره له مونږ سره یوځای شي.
پنځه ورځې تیرې شوې خو هیڅ رسمي خبره ونشوه. وروسته پر دغې څوکۍ د جنرال نجیب د مقررېدو خبر راته را ورسید. زړه ماتی شوم. قوماندان مې، جنرال فروخ وروسته راته وویل چې ولسمشر ضیا هغه ته ټیلیفون وکړ او ورته وېې ویل چې هغه زه ټاکلی یم. خو جنرال فروخ ولسمشر ته ویلي چې زه د کاري پرمختګ په لور روان یم او د ولسمشر د پوځي منشي په توګه ټاکل به مې خوښې کار و ي. ځکه چې د پیاده سرتیرو د لوا مشري مې لاندې کړي.
که کوم افسر غواړي لوړو پوځي څوکیو ته ورسیږي باید یو ځل د پیاده لوا مشري وکړي. پرته له دې چې له کومې نظامې برخې راغلی وي. داسې وه چې نه یوازې دنده مې بلکې ژوند مې وژغورل شو. زه یې په بهاوالپور کې د **۲۵** پیاده لوا د مشر او نجیب بیچاره یې د ضیاالحق د پوځي منشي په توګه وټاکه.
تقریبا **۸** میاشتې پردې پوست پاتې شوم، په بهاوالپور کې د **۱۹۸۸** کال د اګست په **۱۷** نیټه د جنرال ضیاالحق د (( سي **۱۳۰** ( الوتکې تر لوېدو یوه میاشت

د مخه مې بهاولپور پرېښود.
په دغه پېښه کې پر ضيا سربېره ګڼ لوړ پوړي پاکستاني افسران له هغې ډلې نه جنرال اختر عبدالرحمان، د سيمه ييزو کمپټو مشر او د ګډو ځواکونو مشر هم مړه شول، د وژل شويو په منځ کې د پاکستان له پاره دامريکا د وخت سفير ( بريد جنرال ارنولډ رافيل ) او جنرال نجيب هم وو. د خداى په فضل او د تورنجنرال فروخ په لاس وهنې وژغورل شوم. د پېښې لامل لاهم روښانه ندى.
خبرونه وايي چې څېړونکو د پېښې پرځاى کې د پوتاشيمو ، کلورينو ،انميونو ،فاسفورسو او سوډيمو اثار پيدا کړل. کوم چې دغه مواد د الوتکې په جوړېدو کې نه کارول کيږي، پلټنو ښودلې چې په اغلب ګومان په الوتکې کې دننه ورانکارى به ددې پېښې اصلي لامل وي.
په اسراري توګه ددغې پېښې دوسيه نوره ونه پلټل شوه.
د الوتکې توره بکسه پيدا شوه. خو د مانجوړى سر پيدا نشو. داسې ښکاري چې له ګازو په دغه وخت کې کټه اخيستـه. خو داچې چا دا ګازونه خوشي کړي دا يوه معما ده.
بل ماموريت مې بيا په راوالپنډۍ کې د عمومي قوماندان د پوځي منشي مرستيالي وه. دا يو غير پوځي کار وو. دلته مې دنده د پوځ د ټيټو افسرانو په کار پورې داړوندو مسايلو مديريت وو. د هغوى معنوي پلار شوم. دغې دورې مې د عدالت او مهربانۍ په صفت ښه ميخونه ټکوهل.
يوه ورځ چې هيڅ باور نه کيده د بې نظير بوټو د خاوند (( اصف زرداري )) يو ملګرى چې جاويد بادشا نوميده او پخوا مې نه وليدلى راته يې وړانديز وکړ چې د بې نظير بوټو ،چې هغه وخت لومړى وزيره وه پوځي منشي شم. نه پوهيږم چې داد هغه شخصي ابتکار و او که د لومړۍ وزيرې ملاتړ يې هم درلود. له ده مې وخت وغوښت چې پر دغه وړانديز فکر وکړم.
د شپې مې دغه خبره له خپل مشر جنرال فروخ سره شريکه کړه. هغه سمدلاسه رد کړه. او راته ويې ويل چې ته يو مسلکي افسر يې او بايد مسلکي کار ته دوام ورکړې. دا دوهم ځل وو چې جنرال فروخ زما دنده وژغورله. که د بوټو پوځي منشي شواى واى د هغې او حکومت سره به يې تللى واى.
په ۱۹۹۰ کال کې د يوې کلنې روزنيزې دورې له پاره په لندن کې د دفاعي څېړنو معتبر سلطنتي کالج ته غوره شوم. دا زما او زما د کورنۍ له پاره لوړه او ښکلې تجربه وه. په دغه کالج کې ډېرو هيوادونو پوځي افسران وو. او له ډېرو سره مې ښې اړيکې ټينګې کړې. هغه ځه مې چې دلته زده کړل له مختلفو نظرونو سره هم رنګه کيدل وو . دهرې مسئلې په اړه مختلفې نظريې شته. که نړى ته وکتل شي، بيلا بيل نظريات او منطق پکې شته. همدارنګه د اونۍ د وروستيو خالي ورځو او رخصتيو نه مې ښه ګټه واخېسته. د انګلستان ( ويلز، سکاټلنډ ) اروپا او امريکا ته په علمي چکرونو ولاړم. هېواد ته په بيرته راتلو سره د تورنجنرالۍ رتبې ته لوړ شوم . او د ۴۰ فرقې عمومي قوماندان وټاکل شوم. داد يرغليزي قول اردو په تشکيل کې يوه ضربتې فرقه وه چې د واکمنى يوې روحيې ته يې اړتيا درلوده. زه د فرقې همدې برخې ته ليواله وم ،عمومي قوماندان نيغ په نيغه ځواکونو ته امر نه کوي. داکار د قوماندان نور افسران ورته کوي. خو ما د لومړۍ کرښې رهبري کوله. ورتلم به او د تمرين په وخت کې به مې د کسانو څخه ليدنه کوله. حتي که د دوى شمير ۳۰ هم وو . دې کار به خپل اغيز درلود ، او سرتيرو ته به مې په ځان د بآور چانس ورکړ.
کله کله به مې عملا په روزنيز تمرين کې برخه اخېسته. کله بهٔ چې سرتيري په ښه ډول له خنډ څخه نشو تيرداى، په خپله به له هغه څخه د تيريدو او ددغه کار څرنګوالي به مې دوى ته ښود . همدارنګه بهٔ ليري سيمو ته په پياده تلو کې له دوى سره ملګرى کيد م.
يو ځل د ارزونې پر وخت له يوه کاناله تيريدو. معمولا بهٔ د لامبو وهونکو په سرکې وم. حتي په تياره او يخ کې هم ، دې کار به له روحي کبله د کار دارزولو او د خپلو کسانو د ضعيفه ټکو په ښولو کې قدرت راکاوو.
په کال ۱۹۹۳ کې د پوځي عملياتو عمومي مشر وټاکل شوم. چې هر تورنجنرال ته په زړه پورې څوکى ده. دا لومړى ځل وو چې تقريبا دملت پورې اړوندو مسايلو کې چې پوځ پکې ورګډ بدو ما رول درلود. د پوځي عملياتو مشرې د پوځ د څېړنيز مرکز هستـه جوړوي. او هر هغه څه چې د پوځ دمشر په مفکوره کې ګرځي پکې برخه لري. که دا سياسي او که پوځي مسايل وي. د پوځي عملياتو دمشرې په دوره کې مې ډيرې پېښې رامنځته شوې. ځکه دا هغه وخت وو چې پاکستان د يو ستر ملت په توګه ملګرو ملتونو سوله ساتي سرتيري تيار کړل.
يوه لوا مو په سوماليا کې درلوده. او ملګري ملتونه په بوسنيا کې د بلې لوا د ځاى پر ځاى کېدو غوښتونکې شول. دواړه دندې دپاکستاني ځواکونو له پاره سختې دندې وې. د ۱۹۹۲ کال په منځ کې مو په سوماليا کې په پيل کې يو پياده کنډک ځاى پر ځاى کړ. او بيا د ۱۹۹۳ کال په لومړيو کې مو هغه لوا ته پورته کړه. هغه وخت سومالياېي جنګسالار (( فره عيد يد )) واک ته ورسيد. او هيڅ ځواک سوماليا ته دتګ جرائت ونکړ. پاکستان د ملګرو ملتونو د ځانګړې غوښتنې له مخې تصميم ونيوه چې دغه سازمان ته په اړين وخت کې مرستـه ورکړي.
زمونږ لوا د سوماليا خاورې ته ورسيده او په اغيزمنه توګه ځاى پر ځاى شوه. غميزه د ۱۹۹۳ کال په جون کې هغه مهال پيل شوه چې زمونږ د قطعاتو د لسم بلوچ غنډ کاروان د ورځې د ګزمې پرمهال د (( تازه ساز )) په سيمه کې تر بريد لاندې راغى.
د ځلور طرفه ودانيو نه د مرميو بآران درانه تلفات درلودل.
۲۸۰ تنه ووژل شول او زيات نور ټپيان شول. تردې پېښې وروستـه د سوماليا پلازمينې موګاډيشو ته ولاړو. ومو ليدل چې څرنګه سوماليايانو خپل هيواد

وران کړی دی.
په چورلکه کې بهٔ مو د ښآر شاوخوا ته سفر کاوه. ډیر کم جوړ کورونه ښکاریدل. غمونکي وه. ځکه پوهیدو چې یو وخت سومالیا د پاکستان د پوځي سلاکارانو د ډلګۍ د لیږلو له پاره په زړه پورې ځای وو.
سره لدې چې رپوټونو ویل او مونږ هم ولیدل چې د پاکستاني سرتیرو روحیه لوړه ده او په سومالیا کې د ملګرو ملتونو عملیاتي قوماندانې ورته احترام کوي. زمونږ ځواکونو په ښهٔ توګه خپل ماموریت ترسره کړی وو. په واقعیت کې کله چې ملګرو ملتونو تصمیم ونېو له دغه هیواد نه خپل ځواکونه وباسي، ددغه ماموریت د سالمې ترسره کید نې مسوولیت یې پر امریکایي او پاکستاني ځواکونو ور واچاوو.
دا پاکستاني ځواکونه وو چې د پلازمېنې موګادېشو نه یې یو محافظوي امنیتي کړی را تاوه کړه. او د ملګرو ملتونو ټول اړوند کسان چې په بندرونو کې ولاړ وو، بیړیو ته ورسول.
دا د پاکستان او امریکایي ځواکونو پوځي کنډکونه وو چې د اور لاندې یې تاکتیکي په شا تګ ترسره کړ.
ملګرو ملتونو په داسې خرابو حالاتو کې د پاکستاني ځواکونو کار کړنې ښې وپیژندلې. خو په خواشینۍ سره چې په (( تورغمګین شاهین )) فلم کې په سومالیا کې د پاکستان په ونډه سترګې پټې شوې، کله چې د موګادېشو د (( مدیني بازار )) په سیمه کې امریکایي ځواکونه په دام کې کېوتل مخامخ د پاکستان د ۱۷ سرحدي غونډ ځواکونه وو چې سیمې ته ورسیدل او هغوی یې وژغورل.
د امریکایي ځواکونو دزړورتیا غوندې مونږ که ترې ډیر زړور نه وو نو کم هم نه وو. باید مساوي اعتبآر مو په برخه شوی وای. خو فلم جوړوونکي پېښې داسې انځور کړې وې چې ګواکې دا یوازې امریکایي سرتیري دي چې په پېښه کې راګیر دي. د بوسنیا ماموریت تر سومالیا ډیر جدي وو. داسې امر وشو چې بوسنیا ته ولاړ شو. په دغه هېواد کې د پاکستاني ځواکونو په ځای په ځای کیدو او ژمنتیا تصمیم ونېسو چې د څلورو افسرانو یو وړوکي ټیم پرواز وکړ. او د ملګرو ملتونو په یوه چورلکه کې (( سارایګو )) ته ورسیدو.
له پلازمېنې څخه د ۲۴ کیلومتره په وهلو سره چې په یوه زاړه جنګي موټر کې وو د ناهوارې لارې او غونډیو له وهلو وروسته د ګیسل جاک سیمې ته ورسیدو. څو کاله مخکې د المپیک ژمنۍ لوبې په دغه ځای کې شوې وې.
خو اوس دغه سیمه ورانه وه. هغه هوټل ته چې د المپیک د لوبو له پاره برابر شوی وو او اوس د ملګرو ملتونو په کارکوونکو ډک وو، ولاړو. د بوسنیا د عمومي وضعیت او د هغو سیمو په اړه مو معلومات ترلاسه کړل چې احتمالا د پاکستان پوځیان بهٔ پکې ځای په ځای کېدل. چې هغوی ورته ((پاک باټ )) ویل.
سره له دې چې ډیرو اروپایانو د دوی تر نفوذ لاندې سیمو ته د پاکستاني ځواکونو مداخله نه خوښوله پوهیدو. داخبره په راکول شویو توضیحاتو کې په ډاګه شوه. هغه جنرال چې معلومات یې راکول هڅه یې کوله زما نظر د پاکستاني ځواکونو د رالیږلو په اړه بدل کړي. دوی وضعیت خراب ښودو. او ویلې یې چې ۲۴۰۰ متره لوړې سیمې او صفر لاندې درجې تودوخه لري خو کیداې شي زما ځواب یې نه وي خوښ شوی. ما ورته وویل چې زمونږ ځواکونه د ازاد کشمیر په غنډ پورې اړه لري، چې تر ډیره د همالیا په غرونو کې پیدا شوي، اوپه ۵۴۰۰ متره لوړو سیمو او د منفي ۵۸ درجو په یخنۍ کې یې دندې ترسره کړې دي. ډاډ مو ورکړ چې پاکستاني ځواکونه په بوسنیا کې دنده په خپل هېواد کې دنده بولي. او د بوسنیا غرونه بهٔ وړې غونډۍ وبولي.
))کېشل جاک )) ښکلې سیمه ده. خو له بده مرغه چې د المپیک د لوبو پر ځای اوس د جګړې میدان شوی وو. له کېشل جاک نه بیرته په زرې موټر کې سارایګو ته ولاړو. شپې مې هلته له یوه مصري افسر سره په یوه لوی قصر کې تیرې کړې. هیڅ کله به هغه شپه له یاده رانه ونه وزي. د ورځې مې د ښار د لید نې غوښتنه وکړه. او په یوه زرهي موټر کې داکار وشو. چې له غونډیو نه د سربیانو د مرمیو نه بچ شو، سارایګو محاصره وو. خلک ولږې او یخ وهلي وو. او بربښنا پرې شوې وهلو او سړکونه خالي وو. له سپین ږیرو، نارینه وو او زړو ښځو پرته نور څوک نه لیدل کیدل. هغه مهال مې سخت ټکان وخوړ چې ومې لیدل خلک له خپلو کړکیو او دروازو پټ، پټ راګوري او زما په اوږه د پاکستاني بیرغ په لیدو به یې خوښي څرګنده کړه.
په هغه شپه مې چې د یوه مصري کنډک د ډګروال سره د پوځي اډې په حویلي کې قدم واهه، د اډې نه بهر مې د یوه موټر نوی ډول غږ واورید ومې پوښتل چې دا به څه وي؟ ډګروال پوهېده چې څه شی وو.
ویې ویل چې دا پیښې هره شپه دلته پیښیږي. زه د راننوتو اصلي دروازې ته ورغلم، په لسګونو ماشومان راغلي وو چې د خوړو له پاره یې ګدایي او ژړا کوله. سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. زړه مې د هغوی په بدمرغۍ او په خپلې ناتوانۍ وسوزید ، چې هیڅ مرسته مې ورسره ونشوه کولای. ټول ډالري نوټونه مې چې له ځان سره درلودل او باید راوړي مې وای، هغوی ته مې ورکړل او له ځان سره مې غم او درد راوړ. په پایله کې چې کله له دریو کنډکونو جوړه یوه پاکستانۍ لوا بوسنیا ته ورسیده ټول پرسونل بهٔ په اونۍ کې یوه ورځ روژه نېوله، او د همغې ورځې خواړه بهٔ یې په اړو بوسنیایانو باندې وېشل. دا کار د خلکو د ستاېلو وړ ګرځیدلی وو.
..........................................
په دغه کاري وخت کې مې نه یوازې پوځي ژمنتیا بلکې پر حکومتي چارو مې هم څارنه کوله. او کله کله بهٔ هم په غیر مستقیم ډول پکې راګیر شوم. په ۱۹۹۵ کال کې مې د ډګرجنرالۍ رتبې ته ترفیع وکړه. او د (( منګلا )) سیمې ته ولیږل شوم. د پاکستان د وتلې یرغلګریزې قول اردو مشر شوم.

لدې وروسته د پوځ د یوه خپلواک مشر په توګه د لوړ پوړي تصمیم نیونکي په توګه راښکاره شوم. ومې لیدل چې په څه ډول سیاستوالو په ځانګړي توګه مخالفو مشرانو ،د اردو مشر له حکومت سره مخالفت او واک ته را هڅاوو او د ډیرو کسانو په سیاسي پروګرامونو پوه شوم.
کله چې حکومت ضعیف وو ، چې په خواشینی سره د ډیموکراسی په لسیزه (۱۹۹۵ ) کې دا یوه عادي پدیده وه ټولې لارې د پوځ د مشر د قوماندې مرکز ته تللې وې .په همدې لسیزي کې به چې د ولسمشر او لومړ وزیر تر منځ کوم کړکیچ پیدا شو چې همدا ډول وو له ډاره به د پوځ مشر له کاره ګوښه کاو ،ټولو ډلو به له هغه نه هیله درلوده چې د منځګړي په توګه عمل وکړي.
د پاکستان پوځ د ملت د سولې او قومي اعتبار په توګه بلل کیده. او همدارنګه ومې لیدل چې په څه ډول نرموونکو فشارونو به د پوځ مشر مجبوراوو چې لومړي وزیر ته ورشي او د حکومت د څرنګوالي په اړه ورته نصیحت وکړي.
پر حکومت د مشرانو د قانوني توازن او څارنې د نشتوالي له کبله به د کم واکه کسانو تکیه د پوځ په مشر کیده.
د ولسمشر ضیاالحق د وژنې تر پېښې وروسته په ۱۹۸۸ کال کې بې نظیر بوتو د ائتلافي حکومت په جوړېدو سره د ۱۹۸۸ کال په نوامبر کې د پاکستان لومړۍ وزیره شوه .له ۱۹۸۸ څخه تر ۱۹۹۹ کاله پورې په ۱۱ کلنه موده کې هیڅ ایالتي او سیمه ییز مجلس ونه توانیدلی خپله دوره پوره کړي. د لومړي وزیر دفتر څلور ځلې بدلون وکړ، درې مختلف ولسمشران مو درلود ل. او حتي د پارلمان د وکیلانو ،کارګرانو او د یوه لومړي وزیر کارکوونکو د ملک د سترې محکمې رئیس وهلې ډبولې. ولسمشرانو په ډیر خرپ او درب سره خپل کارونه پیل کړي ،خو وروسته له تاو تریخوالي سره مله وو.
ولس مشرانو د خپل احتیاطي قانوني صلاحیت نه په ګټې اخېستو سره ملي شورا له منځه وړې، او د نویو ټاکنو ګام یې پورته کړی ،په تیرو کلونو کې مو ۴ ملي ټاکنې درلودې .څلور ځلې لومړي وزیران، نوازشریف او بې نظیر بوټو سره بدل او رابدل شول . داسې خراب حکومتي ترکیب چې پوره بې حکومتي ورته ویلای شو ، او د پاکستان په تاریخ کې یې شاهد نه وو چې په کې اختلاس او بډې هم ملي وې.
د دولت مشر به تل لومړي وزیران پړه وبلل. خو بې نظیر بوټو او نوازشریف به په غوږو اوریده او خبره به مخامختیا ته ورسېده.
پوځ تل هڅه کړې چې د پخلاینې رول ولري او د پوځي پاڅون مخه ونیسي . زمونږ بد مرغي داده چې پاکستاني ملت د اقتصادي ماتې سره مخامخ شوی. ځکه چې دا ناورین د حکومت په نشتوالي پورې اړه لري. مونږ حتي د یوه ماتې خوړلي او ناکام دولت پورې رسیدلي یو ،دا هغه دوره وه چې زه یې (( دروغجنه دموکراسي )) بولم. که له سیاستوالې نه راوګرځو د قول اردو د مشر په توګه مې کار ډیر ارامه وو. له خپلې مشرۍ مې خوند واخېست. ځکه وتوانیدم د خپلو کسانو روحیه لوړه کړم .همدارنګه مې د ( منګلا ) په جهیل کې د خلکو د تفریح او ساعتیری له پاره یو ورزشي لوبغالی پرانېسته، چې د قول اردو مرکز ته نږدې پروت وو ، بیړی چلول، اسکي یا یخمالک او د اوبو نور ورزشونه مې زده کړل او له ټولو مې خوند واخېست.
دغه اوس د تفریح له پاره په یوې ښکلې سیمې بدل شوی دی .په ۱۹۹۷ کال کې کله چې جنرال جهانګیر کرامت د اردو مشر وو داسې ویل کېده چې د ګډو ځواکونو مشر وټاکل شم. ډیرو افسرانو احساس کاوه چې زه ممکن او یا باید پدغه څوکۍ وټاکل شم ږ. پوهیدم چې جنرال کرامت د یوه ملکي افسر او پوځي قوماندان په توګه ماته احترام درلود. اود جګړې د روزنې په دوره کې مې استاد وو. کله چې د فرقې مشر وم هغه مې د قول اردو قوماندان او د ګډو ځواکونو مشر وو. تل به یې راته لوړې نمرې راکولې. سره له دې چې هغه ډګر جنرال علي قلي خان ختېک چې هغه یې یو منځنۍ افسر باله، په دغه دنده وګماره .ډیر حیران او مایوسه شوم. له ځان سره مې سلا وکړه چې همدا دې ډګر جنرالی په رتبې له پوځ نه استعفا وکړم اوصهبا ته مې وویل چې په دې پرمختګ هم باید شکر وکړو. د برتری له کبله د ډګر جنرالانو په منځ کې دریم کس وم خو غوره نشوم. دا ځکه چې د پوځ پخوانی مشر جنرال وحید کاکړ له علي قلي خان سره د ترفیع وعده کړې وه . او هغه یې وټاکه. که دغه غیر عادلانه لاس وهنه نه وای شوې زه به د همدې څوکی له پاره لومړی کس وم. او علي قلي خان به دغه مقام ته ترسېدو وړاندې استعفا کړې وای. د ګډ پوځ د مشر په توګه د علي قلي خان ټاکل کیدای شي جنرال کرامت ددې له پاره کړې وي چې تر ده وروسته د پوځ مشري ورپاتې شي. همدارنګه ویل کیده چې د پاکستان ولس مشر فاروق لغاري چې د پوځ د مشر د ټاکلو واک یې درلوده په کالج کې د علي قلي خان هم ټولګی وال وو .زه د متوسطې کورنی یو سرتیری وم، او داسې اړیکې مې نه درلودې .یو شپه چې د قول اردو مشر وم د منګلا په کور کې مې د نیمې شپې نه وروسته خفه ناست وم ناڅاپه د عبادت په ډول مې یوه مفکوره ذهن ته راغله او ژر مې په کاغذ ولیکله.لامې په شخصي پاڼو کې ساتلې وه.
یا خدایه: یوازېنی ژمنه چې له پوځ او خپل ملت سره یې کولی شم، اخلاص، رېښتنولي، امانتکاري او وفاداري ده. تا ماته پوهه راکړې ، چې حقیقت پیدا او هغه له دروغو څخه تفکیک کړم ، حکمت راکړه چې ستونزه درک کړم او د حل له پاره یې لار پیدا کړم.
جرائت راکړه چې خبرې وکړم او رڼا پرې واچوم، او رڼا راکړه چې حقیقت بیان کړم ، فرصت راکړ ي چې په ښه توګه مې ملت ته خدمت وکړم.
دا شپه مې په ۵۵ کلنی کې د ۱۹۹۸ کال د اګست په یوولسمه نیټه وه. هغه مهال نه پوهیدم چې د خدمت کولو له پاره مې کړې دعا دومره ژر قبلېږي.
هغه وړوکی ماشوم چې په کاروان کې سپور او پاکستان ته یې سفر کړی وو ،اوږده لاره یې وهلې وه خو لږ پوهېده چې د ژوند سخت پړاوونه یې تازه پیلیدونکي دي .

## ۱۰ _ څپرکی

له رياست نه عملي رياست ته:
د ۱۹۹۸ کال د اکتوبر په ۷ نيټه ماښآم اوه نيمي بجې وې له خپلې ميرمنې صهبا سره مې د منګلا په کور کې تلويزيون ليده ، د ټليفون زنګ راغی او ويې ويل چې لومړی وزير نوازشريف غواړي له تاسره وګوري. ورته ومې ويل چې سبا سهار به اسلام ابا د ته ولاړ شم. د لومړي وزير پوځي منشي ټينګار وکړ: نه صاحب ،شريف غواړي همدا اوس درسره وګوري هر څومره ژر. همدا نن شپه.
فشار را باندې راغی. په داسې حال کې چې په ګاونډ کې د ټولو مسايلو د حل له پاره د پوځ مشر موجود وي د لومړي وزير له خوا د يوه ډګر جنرال غوښتل څه عادي خبره نده . هغه هم په داسې شپه کې.
ورته ومې ويل :په سترګو ، پرېږدی چې د پوځ مشر خبر کړم.
پوځي منشي وويل: نه خير دا پټه خبر ده. تاسو د چا له خبرولو پرته راشي.
احساس مې وکړ چې دا کوم غير عادي خبره ده.
_د کومې مسلې په اړه احضار کيږم؟
_ښاغلی جنرال کله چې دلته راغلی په خپله به پوه شي اود پوځ مشر ته څه ونه واياست.
_په پوځي لباس يا جامو کې درشم؟
_هو کې او ژر راشي.
خپل يونيفورم مې واغوست د نظامي پوليسو يو مامور مې راوغوښت او ځان مې د (( ګلاک ۱۷ ) ) په ګرانې تفنګچې د احتياط له پاره سمبال کړ او د اسلام ابا د په لور وخوځيدم ، چې پوره ۹۰ دقيقې واټن يې درلود. امر شوی وو هيچاته زنګ ونه وهم .هيڅ نه پوهيدم څه به رامنځته شي.

کله چې موټر اسلام اباد ته وردننه کيده ، د بريد جنرال اعجازشا چې د لاهور د (ای ايس ای) مشر او زما ملګری وو ،زنګ راغی.
_مبارک دې وي رئيس شوې.
_څه پوچ وايې ،د جنرال کرامت دوره پای ته نده رسيدلې،څرنګه رئيس کيدلی شم.
_مشر استعفا کړې دا عمومي خبر دی.
ژر مې فکر د قول اردو ګانو د مشرانو هغه کنفرانس ته ولاړ چې څومياشتې وړاندې جنرال کرامت اعلام کړی وو ،چې لومړي وزير نوازشريف د اساسي قانون د مادې د بدلون له کبله د ولس مشر واک غلا کړی. چې ملي شورا او د پاکستان حکومت له مينځه يوسي.
هغه همدارنګه د ۳ قوو د مشرانو او د ګډو ځواکونو د مشر د ټاکلو واک په لاس کې وو. په ياد مې شول چې د ډګرجنرال علي قلي رنګ الوتي و.هغه د ولس مشر فاروق لغاري ملګری وو. داسې ويل کيده چې هغه به د پوځ مشر وټاکل شي. که نوازشريف دا ډول تصميم ونيسي،د هغوی ټول پروګرامونه بۀ خراب شي. ځينو جنرالانو ويل چې د پوځ د مشر په توګه د ټاکلو فرصت مې يوځل بيا د کور دروازه راټکولې. خو زه ځکه له دې نظر سره موافق نه وم چې د اوسني مشر تر استعفا وروسته به د علي قلي نوم واخلي. په اساسي قانون کې له بدلونونو سره سره بايد ولس مشر د پوځ د نوي مشر د ټاکلو په پاڼه لاسليک وکړي، او ولس مشر لغاري هم يو لړ ټکي درلودل.
تردې وروسته بيکاره مخامختيا د ولس مشر او لومړی وزير ، له يوې خوا ، د ولس مشر او د سترې محکمې د مشر ترمنځ له بلې خوا راپورته شوې وې. دواړه غاړې د پوځ مشر ته ورغلي او د بل د ملامتولو دعوا يې کړې وه. ولس مشر لغا رې د سترې محکمې د مشر په کارولو سره هڅه وکړه دعوا وکړي چې په اساسي قانون کې بدلونونه قانوني ندي .که د سترې محکمې مشر دا کار کړای وای نو ولس مشر لغاري به ملي شورا له منځه وړې وای، او د پېښې د زيږونکی لومړی وزير نوازشريف حکومت به يې لغوه کړی وو.
لومړي وزير دا قاضيان تقاعد کړل ، چې دده په مقابل يا مخالفه خوا کې وبلل شي. دغو قاضيانو د خپل رئيس په مقابل کې يوه ماده تصويب کړه، په کوم وخت کې چې هلته غونډه روانه وه.
د محکمې اربابان په تالارونو کې پټ شول. چې د کړکيچ مخه ونيسي که په مهربآن ډول وويل شي دا د پاکستان په سياسي تاريخ کې بدترينه ټکی دی.
جنرال جهانګير کرامت د قول اردوګانو د مشرانو کنفرانس پرانېست چې اوضاع وڅيړي. ځکه هم ولس مشر او هم لومړي وزير ورته ويلي وو چې د دوی په امر دغه ډګر ته وردننه شي. (( ای ايس ای ((ومنله چې ولس مشر اود سترې محکمې مشر دې پايلې ته رسيدلی وو چې د پاکستان ملي شورا منحل او په ترڅ کې بې اصلي موخه بې داوه چې لومړي وزير نوازشريف بې واکه کړي.

مونږ خپل نظرونه وړاندي کړل او وپتيل شوه چې د سترې محکمې مشر ته خپل پيغام ولیږو او ترې وغواړو چې خپل بې پرې والی وساتي. ځکه چې همدا ده د کار مهم اصل وو .ځينې په دې اند وو چې نوزاشريف په ملي شورا کې د مطلق اکثريت په درلودلو سره هڅه کوي چې اساسي قانون په خپل ګټه واړوي ، او په دې ډول غواړي هيواد وران کړي. ښه داده چې د وضعيت تر خرابيدو وړاندې لومړی وزير يو خوا شي.
علي قلي وويل په داسې حال کې چې ولس مشر د جګړې بايلونکی وي او له واکه ليري کيږي ولې نوازشريف پاتې شي؟ دواړه بايد هاخواشي او پوځي قانون اعلام کړو. خو ما استدلال وکړ هغه څه چې د ولس مشر او د سترې محکمې مشر کوي غلط دي.او زياته مې کړه چې نوازشريف ټاکل شوي لومړی وزير دی او که غواړو چې په پاکستان کې دموکراسي پراخه شي بايد نوازشريف خپله دوره پای ته ورسوي.
زه د نوازشريف د پاتې کيدو او د ملي شورا د نه منحل کېدو قوي ملاتړی وم. که څوک سياسي قرباني کيږي هغه بايد ولسمشر او د سترې محکمې مشر وي . په زړه مې دي چې ډير اوږد تحليل مې وړاندې کړ.
سبا جنرال کرامت د پوځ د ملکي مديرانو جلسه جوړه کړه .زه په دغه غونډه کې نه وم خو علي قلي پکې وو .بيا خبر شوم چې علي قلي غونډې ته اوږده وينا درلوده .هغه ددې له پاره چې جنرال کرامت واک په لاس کې واخلي او د پوځي قانون په اړه يې خبرې کړې وې.
له څو ورځو وروسته د پوځ مشر د پوځ په کور کې جلسه راوبلله .چې زما په ګډون د څو قول اردوګانو مشران هم پکې وو. علي بيا تکرار کړه چې پوځ بايد د هېواد واک واخلي ولسمشر او لومړی وزير دې ليرې کړي. هلته مې له علي سره لنډه لفظي شخړه راغله. ځکه چې دا عادلانه لوبه نه وه. دا شخصي غوښتنې وې بيا مو پدې فکر وکړ چې د سترې محکمې مشر ته پيغام وليږو او ترې وغواړو چې خپلو کړنو ته د فکر وکړي. خو په پايله کې پرېکړه دا وشوه چې ددې خراب وضعيت د ماتولو يوازينی لاره داده چې دواړو ،ولس مشر او لومړي وزير ته دې نصيحت وشي چې استعفا وکړي. پوځ له ټاکل شوي لومړي وزير څخه ملاتړ وکړ. بيا ټول تيت شولو.سبا په داسې حال کې چې يو هم حاضر نه وو علي قلي اصرار کړی وو چې که ولس مشر ايسته کيږي لومړی وزير هم بايد له واکه لرې شي او پوځ دې د هېواد واک واخلي. جنرال کرامت ونه منله او د نوازشريف څخه په ملاتړ کې ودريد.
ولس مشر لغاري تصميم ونيو چې استعفا وکړي. د سترې محکمې مشر هم د ډيرو قاضيانو ملاتړ له لاسه ورکړی وو. څه موده وروسته بې له ولس مشر نه پيروي وکړه او په دې ډول (( د سترې محکمې له پاره جګړه )) پای ته ورسيده. د معمول په څير د پوځ مشر د سياستوالو له خوا دغه کړکيچ ته راکښل شو خو هغه دا ځل ښه کار وکړ.
کله چې زه د لومړي وزير دفتر ته ور ننه شوم يو څه وارخطا شوم .هغه په کوچ يا تخت ناست وو او بريالی ډوله موسکا يې په شونډ کې تاوېده. هغه وويل چې د پوځ مشر استعفا کړې او زه يې پر ځای ټاکلی يم. ومې پوښتل څه شوي؟ لومړي وزير وويل ما د هغه د استعفا غوښتنه وکړه هغه ومنله يو څه شا ته يو ورپل شوم.
د جنرال کرامت تيروتنه داوه چې د سمندري ځواکونو په کالج کې يې د يوې وينا په لړ کې وړانديزونه کړي وو چې څرنګه په هېواد کې د حکومت چارې ښې کولی شو .او همدارنګه د ملي امنيت د شورا د جوړېدو وړانديز.
اوس به يې نوازشريف ځواب ورکوي .هغه څه چې ماته يې زيات ټکان راکړ ،هغه زړور چلند وو چې جنرال کرامت يې په ترخ کې استعفا ته حاضر شو. دې مسلې پوځ وکړاوو . ځکه چې د جنرال کرامت ملګرو ،افسرانو او سرتيرو دا کار توهين يا سپکاوی باله. پوهيږم چې په لويديځو دموکراسيو کې پوځي چارواکي د حالاتو مامورين دي. په ځانګړې توګه د پوځ مشران بايد سياسي بيانيې ورنکړي ،خو پدغو ولسواکيو کې هيڅکله حکومتي مشران، د پوځ مشران سياست ته نه راکشوي.
په هغه هيواد کې چې دغه ډول کړنې وي د پوځ مشر په دغو مسلو کې د احساساتو له کبله د ور ګډېدو په تور تورن نشو بللی. له لومړي وزير نه مې پرما د باور کولو مننه وکړه ،هغه په داسې حال کې چې زما د رتبې په نښان يې سنجاق وواهه ،راته ويې ويل ددې له پاره مې تاسو غوره کړی چې يوازينی ډګر جنرال ياستی. چې هيڅکله دغه پوست ته د رسېدو له پاره نه نيغ په نيغه او نه په غير مستقيم ډول ماته رانږدې شوی ياست. لومړي وزير ته مې سلامي ووهله او ترې ولاړم.
لومړی کار مې چې وکړ نيغ په نيغه پوځي کور ته ولاړم او له جنرال جهانګير کرامت سره مې چې اوس يې ځای ماته راکړل شوی وو ، خبرې وکړې. ترې ومې پوښتل
صاحبه!
څه پېښ شوي ؟
هيڅ يې راته ونه ويل حتی تر ننه يې راته ونه ويل چې ولې يې استعفا ورکړې ؟ يوازې ماته يې مبارکي راکړه. څه مې ورته ويلای شوای ، ورته ومې ويل صيب: ستاسو په استعفا خواشينی يم، او په خپله ټاکنې خوښ.
يوازې د پنځلس دقيقو له پاره ورسره وم او بيا ترې ولاړم. د شپې زرهي قول اردو ته ولاړم او معلوم داره وه چې لومړی مې مېرمنې او مور او پلار ته زنګ وواهه. لږ وروسته د علي قلي زنګ راغی چې اوس مې تر واک لاندې د ګډو پوځونو مشر وو. دی زما د سبا ورځې د معرفې د مراسمو مسئول هم وو .
زماحيرانتيا او درد وګورئ ، علي داسې ساده مبارکي راکړه (( پرويزه مبارک دې وي )) او سم د لاسه يې راته وويل بايد د واده په مراسمو کې د ګډون له

پاره سبا پېښور ته ولاړ شم.
-ورته و مې ويل: ډېره ښه که حتمي وي ولاړ شه!
-وروسته علي زياته کړه کيداى شي هيڅکله بيا رانه شم.
ما په داسې حال کې چې غوښتل مې مايوسي په خپل غږ کې پټه کړم، ورته و مې ويل علي !دا په تا پورې اړه لري. ما غوښتل چې ته همدا رنګه دفتر ته راشې. خو که نه غواړې دا په تا پورې اړه لري. علي هيڅکله بيا را نه غى او له پوځ څخه يې استعفا وکړه.
حتى له ما سره يې له خبرو کولو نه هم ډډه وکړه. هغه زما هغه ميلسمتيا يا دعوت ته هم ځواب ورنه کړ چې په پوځ کې مې خپلو هم ټولګي والو ته کړې وه. لږ تر لږه دومره ويلى شم چې عجيب چلند يې درلود. پر دې سربيره هغه يو ډګر جنرال، د ګډو ځواکونو مشر او تر ټولو مهمه زما هم ټولګى وو. لږ تر لږه د دې له پاره چې ملګرى يې د پوځ مشر شوى بايد خوشاله واى ، خو زمونږ دوستي سړه شوه او د غه متل بايد په ياد ولرو چې وايي ((د انسان حرکت او د خداى برکت. ((
تر هغه ډېر چې ما فکر کاوه د پوځ ځواکونه د جنرال کرامت په استعفا قهر وړي وو. برياليي لومړي وزير په پارلمان کې په مطلق اکثريت د واک په څرنګوالي بوخت وو او په اساسي قانون کې د بدلونونو په عملي کولو سره يې نه يوازې خپل ګوندي ناخوښي بلکې پارلماني مخالفان هم غلي کړل. ګوندي وژونکو يې په ستري محکمې بريد کړى وو ، او دغه ټول جريان د امنيتي کمرو په واسطه ثبت شوى وو . هغه قاضيانو ته بهې ورکړې وې، او د هغوى خولې يې تړلې وې. هغه هڅه کړې وه د ډله ايزو رسنيو خوله هم بنده کړي. د يو شمير ورځپاڼو مشران او خبريالان يې ونيول او تهديد يې کړل. هغه له ولسمشر څخه د يو سمبول په جوړولو د پوځ د مشر د بدلون واک خپل کړى وو . او نواز شريف به حتى فوځ په خپلو خبرو کې په تبر واهه. هغه لومړى کارونه چې ما وکړل دا وو ، چې پوځ ته وواېم زمونږ دنده له حکومت سره په بيلا بيلو برخو کې مرسته ده.
مونږ بايد د جنرال کرامت د جبري استعفا له څرنګوالي څخه تير شو او د خپل کار په فکر کې شو. که لومړى وزير د ورته کار هڅه وکړي مونږ به د پوځ پرضد بل سپکونکى چلند تحمل نکړو او مونږ بهٔ يوازې غبرګون ونښيو خو هيڅکله به يو اړخيز عمل ونکړو.
يوازې يو کال د پوځ مشر وم. مخکې له دې چې پوځ د نوازشريف پرضد کوم غبرګون ونښيي کاري اړيکې مي په پيل کې له هغه سره ښې وې. زمونږ ترمنځ اختلافات د ۲ تورنجنرالانو په وښتلو ،د ۲ ډګرجنرالانو په ټاکلو او نظامي محکمې ته د خيانت په تور د يوه خبريال په کشولو سره پيدا شو. بايد وواېم چې د هغه د کار څرنګوالي ته بيخي حيران شوم. هيڅکله مې ونه ليد چې څه ولولي يا وليکي.
))د کارګيل ) ) د پېښې او بل کلنټن ته د ۱۹۹۹ کال د جون په ۴ نيټه د هغه په ناڅاپي تسليميدنې سره زمونږ اړيکې لاسرې شوې. د کارګيل پېښه ډيره خطرناکه وه او اړتيا ده چې په تفصيل سره په جلا څپرکي کې پرې خبرې وکړو ځکه چې د هندوستان او پاکستان ترمنځ تر اټومي کېدو وروسته کارګيل لومړى جګړه وه .

## ۱۱ _ څپرکی

### د کارګیل جګړه

په ۱۹۹۹ کال کې زما د ترور له هڅو سره شاید زما د ژوند مهم وخت وي.د ۱۹۹۸ کال وروستي وختونه او د ۱۹۹۹ کال بدلونونو په ژور ډول زه له سرتیرۍ نه د ملت د راتلونکې رهبرۍ ته بدل کړم.
همدارنګه په دغه کال کې دوه اټومي قدرتونه جګړې ته سره نږدې شول. دا هغه وخت وو چې پټ رازونه را لوڅ شول.
د کارګیل د جګړې کیسه د تاریخ له پاره مهمه ده چې وې وایم. دا یوازې عملیات نه وو . ګواکې له تاکتیکي کبله د یو لړ خوځښتونو او د هغه د متقابلو خوځښتونو له پاره یوه جګړه وه ، چې د هند او پاکستان ترمنځ د شمال په واورو پوښلو لوړو سیمو کې د کنټرول د خط دواړو غاړو ته پېښه شوه.
هند هغه ځایونه نیول چې فکر کېده زمونږ حضور پکې کمزوری دی. او له ورته غبرګون سره به مخامخ کېده. د سیاچین د نیولو لړۍ د هغوی له خوا د هند د دولت له امر پرته هم همدارنګه کېسه وه. د کشمیر د ازادی غوښتونکو له خوا د کارګیل د لوړو سیمو نیول کیدل چې په ژمي کې چې د هند ځواکونو هغه سیمې خوشې کړې وې هم په دغه وخت کې پېښ شول.
د ۱۹۹۸ په اکتوبر کې هند دعوه وکړه چې د اکتوبر په ۱۲ او ۱۸ نیټه مو د پاکستان دوه بریدونه د (سیاچین) په کنګلونو کې له ماتې سره مخامخ کړل. تر امر لاندې کارکوونکو مې ټینګار کاوه چې اصلا داسې بریدونه ندي شوي. سره له هغه مې بیاهم د شمالي سیمو د قوماندې مشر راوغوښت چې پوه شم په سیمه کې رښتیا څه پېښ شوي. هغه هم ډاډ راکړ چې هیڅ رسمي برید ندی شوی او د هند د دولت رپوټونه یې درواغ وبلل او په ډاګه یې کړه چې په تیر اوړي کې هم هند ورته درواغ ویلي وو.
لږ وروسته د اکتوبر په وروستیو او د ۱۹۹۸ کال د نوامبر په ۵ مې هم ورته درواغجن رپوټونه ترلاسه کړل. وروسته پوه شوم چې کیدای شي دغه رپوټونه د کشمیر د ازادی غوښتونکو مجاهدینو په فعالیتونو پورې اړه ولري. پوهیدم چې د هند تر ولکې لاندې کشمیر نه په زرګونو مجاهدین په پاکستان کې د ازادی غوښتونکو کشمیریانو سره د مرستې له پاره د هندي ځواکونو پرضد بریدونه کوي.
د پوځي عملیاتو ادارو او د پوځي اطلاعاتو د عمومي قوماندې په مرکز او د راوالپنډۍ د قول اردو قوماندانی ته مې امر وکړ چې وضعه وارزوي. دا هغه وخت وو چې هندیانو د ((بریدونو)) رپوټونه ورکول.دغه ارزونه د ډسامبر په وروستیو کې وړاندې شوه. او پوه شوو چې د حملو شمیر او تکرار له انتظاره زیات وو ، او کیدای شي هندیانو د یوې جګړې د پیل له پاره په لاسي توګه دا کار کاوو. د هند له خوا د ((شګما)) په سیمې د احتمالي برید اطلاعات هم راغلي وو. د دغې سیمې نیول هغو سیمو ته لاس رسی اسانه کاوچې مونږ د ۱۹۹۸ کال د ژمي په لومړیو کې د ((کارګیل او داواس)) د لارو د پوښښ له پاره له هغه ګټه اخېستله او په ځواب کې یې هند د ((نیلوم)) پر درې د پوښښ له پاره د کنټرول د خط د پاکستاني خوا له پاره د ځار هڅې کولې.
د معمول په څیر هندیانو ۲ ذخیره یې لواګاني د ((لي)) له سیمې نه د ((سرینګر)) د درې په لورې په حرکت کړې. د ۱۹۹۸ کال په ژمي کې نه یوازې دغه لواګاني د ((زومیلا)) په شمال کې وساتل شوې بلکې د هند ۷۰ لوا هم د ((دراس (( په سیمه کې ځای په ځای شوه. دغه ګام هند ته د پاکستان په نسبت د خپلو پوځیانو څخه د ملاتړ له پاره یو امتیاز ورکړ.
لوی واټن په کارګیل کې زمونږ ددفاعي سنګرونو ترمنځ وو ،چې له کرښې یې هندیانو ته د تیریدو ساده امکان په لاس ورکړی وو.
هند د ۱۹۹۸ کال په وروستیو کې خاص پوځي تجهیزات سیمې ته راوړل او په ازموینو یې لاس پورې کړ. پوهیدو چې هندي ځواکونو ډیر اړو ضروري تجهیزات لوړو سیمو ته راوړل. په ځانګړي توګه وسلې اوپه واورې کې ځغلیدونکي موټر یې هم سیمې ته راوړل. هند د کنټرول له لیکې بهر پر پاکستان د حملې له پاره نږدې ښکاریده.
زمونږ اطلاعاتي منابع د ډاډ وړ وې حتی د )) شملا )) د تړونونو وروسته هند د کنټرول په کرښه پوله ماته کړې وه. د )) شملاتړونونه )) د ۱۹۷۱ کال له جنګ وروسته وشول، او د کنټرول کرښه یې معلومه کړه .تردې وړاندې هند مونږ د ((لاچوربآټ)) د قمر په برخه کې او د شمالي څنډو د ))سیاچین)) په سیمو کې وازمویلو. په پایله کې د ۱۹۹۸ په اوړي او منۍ کې د هند د دفاع وزیر له خوا د کارګیل او سیاچین له سیمو نه پرله پسې لیدنو کتنو داسې ښوو له چې هند د سترو یرغلیزو عملیاتو په لټه کې دی.

د عمومي قوماندې د کارکوونکو او د راولپنډۍ د قول اردو ارزونه هم د حالاتو له دغه منطق سره سر ولګاو. مناسبه وه چې د راوالپنډۍ قول اردو ته د تیاري اجازه شوي واى او له شمالي سیمو نه د دفاعي مانورو پروګرام قوماندانی ته وړاندې شي. چې د کنټرول کرښې د رانئوتو د څرنګوالي مخه ونیول شي.

زمونږ د سنګرونو ترمنځ د واټن د ډکولو لپاره چې له ۱۵ تر ۴۵ کیلومتره پورې وو پلان ونیول شو او د ۱۹۹۹ کاله په جنوری کې رسما ومنل شوه.

وروسته وپتیل شوه چې د راوالپنډۍ قول اردو او د سیمې ځواکونه هغه عملي کولو ته وړاندې کړي. عملیات باید د کومو ځواکونو پر غاړه اېښول شوي واى او امنیت هم مهم وو. وړوکي اطلاعاتي درز کولی شو د سنګرونو د نیولو سخته سیالي لکه د سیاچین په څیر رامنځته کړي. بیا په همدې حالاتو کې د هندي خوا ځمکه او منابع ښه وو. زمونږ معلومات (( د پوهیدو له پاره د کسانو د اړتیا )) پر اساس ساتل کیده.

د دوهمې درجې ځواکونه د قول اردو تر قوماندې لاندې چې د (( شمالي څراغ د پیاده سرتیرو )) په نوم نومول شوې وه او د سیمې له خلکو جوړه وه ،باید د لومړی کرښې سنګرونه یې نیولي واى.

ځواکونو ځانګړی دستور ترلاسه کړی وو چې د ((اب پخشان )) سیمې ته چې د کنټرول پر کرښه پورت دی نږدې شي. زما مانورې له کوم عیب پرته ترسره شوې. چې له تاکتیکي پلوه زمونږ مسلکي توب یې وښود . د اپریل تر پایه د کنټرول په کرښه شاوخوا ۱۲۰ کیلومتره سیمه د ۱۰ تر ۲۰ نفري سلو پوستو یا مرکزونو باندې ډکه او مصونه شوه.

مونږ د مخ په وړاندې تلونکو ځواکونو او په لوړو سیمو کې د سیمو په نیولو ، او داچې پاکستاني ازادی غوښتونکو څه دنده درلوده،ترې خبر وو. وروسته د اب پخشان لوړو څوکو ته زمونږ د ځواکونو په رسیدو سره، او د ۱۹۹۰ کال د مارچ وروسته د کشمیري ازادي غوښتونکو له ټولو حرکتونو خبرېدم. چې د مئ په ۷ د هغوی له ټولو سیمو او سنګرونو نه مکمل توضیحات راکول شو .

هندیان د کنټرول پر کرښه زمونږ له نویو لاسته راوړنو بې خبره وو . لومړی مخامختیا د دواړو ځواکونو ترمنځ د مئ په دوهمه هغه وخت وشوه چې هندي ځواکونو د (( شوک )) په سیمه کې زمونږ پر سنګرونو برید وکړ.

د هغوی دوهم ټکر د ازادی غوښتونکو جنګیالیو سره د (( تبآلیک (( په سیمه کې د مئ په ۷ نیټه وه. هندیانو درانه تلفات ولیدل، خو کله چې د ۱۹۹۹ کال د مئ په ۱۰ دهند ځواکونو او د ازادی غوښتونکو ترمنځ بله جګړه وشوه. دهندي ځواکونو په عمومي قوماندانی کې د هند د خطر زنګ ووهل شو. هند د خپل هوایي ځواک په ښورولو سره د غبرګون له پاره له اندازې زیا ته دغبرګون اړتیا وښوله.

د هندي الوتکو یرغل پیل شو. چې د ازادی غوښتونکو د نفوذ سیمې وپیژني. سره لدې چې د هند دهوایي ځواک برید د ازادی غوښتونکو په سنګرونو پورې محدود نشو بلکې هندي پوځیان تر هغه وړاندې ولاړل او د پاکستان د پوځ سنګرونه یې بمبار کړل چې لدې برکته پاکستاني پوځ د هند دوه جیټ الوتکې او یوه چورلکه د پاکستان په هوایي قلمرو کې رانسکورې کړې.

کله چې د )) زوجیلا )) تنګی یا پل د پوځي موټرو پرمخ پرانستل شو ،د هندیانو حرکت پیل شو .زمونږ ځواکونو او ازادی غوښتونکو جنګیالیو د هندي موټرونو کاروان ته درونډ زیان واړاوه.او هغوی مو د شپې په تیاره کې تګ ته مجبور کړل. هندیانو ۴ رسمې فرقې سیمې ته راوستې. او د توپچي دستګاوې یې هم په سیمه کې ځای په ځای کړې. هغوی حتی د خپلو یرغلیزو ځواکونو توپچي قطعه هم سیمې ته راوسته. دازادی غوښتونکو په وړاندې سخت جنګ پیل شو. هندوانو همدارنګه له کرښې دیخوا او له هوانه زمونږ په ځواکونو د حملې له پاره هیڅ ونکړل.

د مئ په ۱۵ مې د عمومي قوماندې مرکز ته امر وکړ چې د ازادی غوښتونکو سره په همغږۍ زمونږ دفاعي مورچې تقویه کړي.چې د اب پخشان په سیمه کې د هندي ځواکونو د رانئوتو مخه ونیول شي. تردې وخته ازادۍ غوښتونکو تر ۸۰۰ کیلومتر مربع زیاته اشغالي سیمه له هند نه ونیوله. (۴۰۰ کیلومتر مربع سیمه په (( موشکو (( ۱۰۰ کیلومتر مربع سیمه په (( دراس )) ۵۰ کیلومتر مربع سیمه په ((کک سار )) ۲۰۰ کیلومتر مربع سیمه په (( بتالیک )) او ۲۰ کیلومتر مربع سیمه د (( شیوک )) په سیمه کې د هندي ځواکونو له واکه ووتله.

زمونږ سیمه ییز قوماندانان د هغوی په سخت ملاتړ بوخت و. په ځانګړي توګه دهندي ځواکونو عملیات مخ په زیاتیدو وو. مونږ غوښتل هغو سیمو ته ورشو چې ازادی غوښتونکو نیولي وو. په پوله کې مو د تالاشۍ پوستې جوړې کړې. چې په سترګو او غوږونو سره کار وکړو. او تهاجمي عملیات مو هم پیل کړل.

زمونږ د ځوانانو مطلقه قرباني ،زوړورتیا او استحکام به په هغه نامهربانه جنګ کې چې په ډېرو لوړو سیمو کې د سترو هندي ډلو پر ضد وه په زرینو لیکو په تاریخ کې ثبت شي. د هندیانو خوځښتونه د مئ په پوره میاشت کې روان وو.

کله چې هند ونه توانید پاکستاني ځواکونه چې لوړې څوکې یې نیولې وې له خپلو سنګرونو په شا کړي، هندي ځواکونو پراخ عملیات پیل کړل. د یوې لوا په اندازه بریدونه پیل شول. ترڅو هغه پوستې چې زمونږ کمو سرتیرو له اتو تر لسو کسانو پورې نیولې وې ،لاندې کړي. د جون تر نیمایي پورې دغو بریدونو چنداني لاس ته راوړنه ، نه درلوده. خو سره له هغه هم هندي خبري رسنیو خپله بریا لویه وښوله.
زمونږ خواته د پاکستان سیاسي رهبری د دولتمداری مطلقه بې کفایتي ننداري ته وړاندې کړه. او د ملي صف جوړولو په برخه کې یې هیڅ پروګرام ترسره نکړ.
د دواړو هېوادونو سیاسي مشرانو د جنګ له پاره اشتها نه درلوده ، خو هندي لوري جدي کار وکړ. چې پاکستان په نړیواله کچه منزوي کړي. نړیوال فشار پر نوازشریف ناوړه اغیز واچاوو.
خو په همدې حال کې د دواړو خواوو ترمنځ خوځښتونو دوام وکړ. د جون په منځ کې د راوالپنډۍ د قول اردو قوماندانی اجازه ترلاسه کړه چې یو شمیر ځواکونه د شمال جنګ ځپلې سیمې ته ولیږدوي. د جون تر وروستیو دغه ځواکونه غرنیو سیمو ته ورسیدل. سره لدې چې دغو کسانو د جنګ په څو پاتې ورځو کې کم رول ترسره کړ ،خو د اب پخشان په سیمه کې د پاکستاني مورچو په ټینګولو کې یې مهم رول ولوباوو ،هغه مورچې او سیمې چې د جون په ۴ زمونږ ځواکونو ونیولې ډېرې مهمې وې.
که یوازې له نظامي اړخه دا وارزوو د کارګیل عملیات د پاکستان د پوځ په تاریخ کې ځانګړی تحول دی. یوازې ۵ پاکستاني کنډکونه د ازادی غوښتونکو جنګیالیو له یو شمیر ډلو سره په دې وتوانید چې هند مجبوره کړي د یرغلګرې قطعې پر ډیرو توپونو سربیره ۵۰ فرقې راوخوځوي.
هندیان همدارنګه مجبور شول خپل ټول ملي توازن له هغې ډلې نه خپل هوایي ځواک هم پورته کړي.
زمونږ ملت د خپلو ځواکونو په مشرانو ویاړ کاوو ځکه دهغوی ژمنتیا او ټینوالی ما دلومړی کرښې څخه په پرله پسې لیدنو کې ولیدل . زمونږ دځواکونو ډېرو افسرانو د شمالي سیمو د غرونو په لوړو غرونو په واورو پوښلو څوکو کې ژوند ته پای ورکړ. دا به ګناه وي که د (( شمالي خراغ )) د پیاده قطعې د ټولو د زړورتیا یادونه ونکړم. وروسته مې دغه ټولی هغوی ته د جائزې په توګه د پاکستان د منظم پوځ یوه برخه جوړه کړه. هغوی اوس د مبارزې د ملکې ) د پیاده قطعې په نوم په پوځ کې شته.

.........................................

د جولای په ۴ د لومړي وزیر نواز شریف او د امریکاد پخواني ولسمشر بېل کلنټن ترمنځ له خبرو وروسته اوربند وشو. د اوربند لپاره نړیوال فشارونه هم زیات وو . بېل کلنټون یوازېنی سیاستوال وو چې پر هند او پاکستان دواړو یې نفوذ درلود . خو حقیقت داوو چې هېڅ خبرې نه وې شوې. نواز شریف له کوم قید او شرط پرته په شاتګ ته غاړه کېښوده. له وضیعت نه ناوړه انېرنې وضېعت نور هم خراب کړ. هند خپل ناچیزه لاس ته راوړنې ډېرې لوړې وښولې او خند ونکې نمونه یې د (زړورتیا د لوړې جائزې د ویشلو او هغه سرتېرې ته دورکړې اعلام چې د جرې په کرښه کې وژل شوي وو ) . وروسته معلومه شوه چې دا کس د پاکستان سره ژوندی وو . په شرم سره باید ووایو چې زمونږ سیاسي مشری دا سې اشارې ورکړې چې زمونږ د ځواکونو لاس ته راوړنې د خندا سره برابرې دي. او ځینو د پاکستان پوځ بېکاره پوځ وباله.
د پوځ دمشر په توګه مې ځان په سخت حالت کې ولید. غونډتل مې پوځي وضیت تشریح کړم او د خپلو بریاوو وضاحت وکړم. او د پټه اشاره وکړم چې ددې موضوع سره سیاسي چلند څومره مایوسي رامنځ ته کړې. خو دا سیاسي مشرانو ته د بې وفایي په توګه ښکاریده او په وړاندې یې ممکن داسې کار کړی وای چې دولتي نظام بې توله شوي وای. او که یې اجازه پیدا کړی وای او اوضاع یې خرابه تعبیر کړی وای، دا به هم زما دقوماندانانو او ځواکونو سره د بې وفا یې برابر وو . داسې وخت راغی چې یو شمېر دغو غلطو انېرنو او کېسو ته ځواب ورکړم او رښتیا ووایم.
یوه تشه افسانه داوه چې پوځ د سیاسي مشرانو له خبرتیا آوډاډ پرته عملیات وکړل. دغه ناوړه انېرنه ستره بدبختي ده. ځکه هیڅ شي پټ نه پاتې کیږي. اول په خپله خوښه هیڅ عملیات نه وو شوي ،او دکنترول پر کرښه په خالي سیمو کې د مورچو دجوړولو لپاره خوځښتونه دهېڅ ټرون سره په ټکر کې نه وو ، او د سیمه ییزو قوماندانانو تر ښې څارنې لاندې وو. دکنترول پر کرښه ددفاعي مورچوپه جوړولود قول اردو ګانو په کچه او د پوځ د قومندې په مرکز کې سلا شوې وه. پوځ د جنوری په ۲۹ په ( سکاردو ) او د فبروری په ۵ � ۱۹۹۹ کې په ( کیل ) کې لومړي وزیر ته د حالاتو په اړه معلومات ورکړل. په دغو معلوماتو کې نوازشریف ته زمونږ ددفاعي مانور په اړه هم معلومات شامل وو . وروپسې بل ځل د مارچ په ۱۲ لومړي وزیر ته د ( ای اس ای (یا د پاکستان د اسخبارتو په اداره کې د ټولو پروګرامونو په اړه معلومات ورکول شو .
په دغو څرګندونو کې د کرښې او کشمېر دوضیعت پوره جاج وړاندې شو .بله تشه افسانه داده چې ویل یې پوځي حالات په سیمه کې له خطرې

ډک وو او لومړي وزير په بېړې سره واشنګټن ته ولاړ چې له دې (( دامه )) پوځ را وباسي. دا بې خبرتيا ښکرور دروغ دي. هندي ځواکونو د خپلو ۲ مياشتنيو عملياتو په ترڅ کې ونشو کولای ( د اب پخشان ( په سيمه کې زموږ دفاعي کرښو ته نژدې شي. هنديانو يوازې څو امنيتي پوستې له ۵ څخه په دريو سيمو کې ونيولې. ماپخپله د جولای په ۲ -۱۹۹۹ کې د کابينې دفاعي کميټې ته مفصل معلومات ورکړل. ما د دښمن ټولې احتمالي فرضيې د هوا ، سمندر او ځمکې له لارې په پام کې نيولې وې. او دې پايلې ته رسېدلی وم. چې:

-هنديان په داسې موقېعت کې وو چې له هوا ، ځمکې او سيند نه برابر بريد تر سره کړي.

-د استراتېژيک برلاسی له کبله په دغه تېار جنګ کې پاکستان په ښه ځای کې وو.ځکه چې دهند ډېر ځواکونه په هند کې ګير وو او ددوی د ځواکونو په منځ کې يې ګډوډې رامنځ ته کړې وه.

-سره دزېات قوته هندي ځواکونو ونشو کولای چې ازادي غوښتونکي جنېالي له نېول شويو سيمو بېرته په شا کړي.

د توضيحاتو په ترڅ کې څو ځلې لومړي وزير وپوښتل چې ايا پاکستاني ځواکونه اوربند او په شاتګ ومني ؟

هر ځل به زما ځواب په پوځي ښې هېله مندی ولاړ وو. او سياسي تصميمونه مو هغوی ته پرېښي وو. هغه غوښت زما په اوږو ټوپک کېږدي او ډزې وکړي. خو زه پر داسې حال کې نه ووم چې د اکار ومنم . دهغه دکابينې وزير راجه ظفرالحق چې د ښاغلي شريف کلک ملاتړی وو هم له اوربند او په شاتګ سره مخالف وو.

د وخت د کورنېو چارو وزير چوهدري شجاعت حسين چې امرېکا ته يې د شريف په سفرکې ستر سياسي رول درلود ووېل هغه څه مو چې ترسره کړي ښه دي. کارګيل زموږ ګډه هڅه او مسولېت دي. دا حقېقت د نواز شريف په مغزو ښه ونه لېد ، او په بې خبره توګه يې مقاومت کاوو او ويل به يې چې وروسته به يې تر سره کړو .هغه څه چې هېڅکله يې بيا وخت رانغلو . غونډه له کومې پايلې پرته پای ته ورسېده. تصميم ونيول شو چې د جولای په ۵ �۱۹۹۹ بله ناسته ولرو . تر څو په دې اړه وروستي پريکړه وکړو . داونۍ په پای کې له خپلې ټولې کورنۍ سره د (( موريې )) غونډيو ته د تفريح لپاره ولاړو.

د جولای په دريمه د شنبې دشپې په ۹ بجو لومړي وزيرراته زنګ وواهه او راته يې ووېل چې واشنګټن ته تلونکی دی هېڅ باور مې ونشو. او په هوايي ډګر کې يې د لېدو غوښتنه وکړه. تقرېبا نيمه شپه ور ورسېد م بيا يې رانه وپوښتل چې ايا اوربند او په شاتګ ومنو ؟او زه ما ځواب هم همغه وو . پوځي حالات زموږ په ګټه دي او سياسي پريکړه ستاسو په لاس کې ده.هغه ولاړ او اوربند يې وکړ. او تر اوسه راته ګونګه ده چې ولې دومره بېړنی وو.دريمه تشه افسانه داده چې پوځي مشرانو معلومات نه درلودل او حتی لوړ پوځي مشران زموږ له مانور نه بې خبره وو .

ټول پوځي کارپوهان پوهېږي چې په يوه سيمه کې ددفاع لپاره نېول شوي تصمېم سم وو . د راولپنډۍ د قول اردو ټول قوماندان او د پوځ دقومندې په مرکزکې اړوند افسران د عملياتو له بهير نه خبروو. ټول قوماندانان دهند له ځواب نه سمدلاسه وروسته خبر شول.

څلورمه تشه افسانه داده چې موږ د هستوي جړې په پوله ولاړ وو. زموږ دقرار دادي ځواکونو يو کم شمېر سېمې ته نه لېږدول شوي. خو سره له هغه هم د کرښې دماتېدو خطر کم وو. په ډاډ سره وېلای شم چې په ۱۹۹۹ کې چې زموږ هستوي وړتيا لا نه وه فعاله. يوازې د ا ازمونکي بم چوول په دې معنی نه وو چې موږ په هستوي وسلو سمبال ځواک لرو او ترې ګټه اخيستلای شو .

پنځمه تشه افسانه داده چې وايې د پاکستان پوځ ته درانه تلفات واوښتل .

د کارګيل جنګ له هند سره د پخوانيو جړو په پرتله اوږد او سخت وو .هند سېمې ته له لېرې سيمو نه زېات پياده ځواکونه او د توپچي تجهيزات راوستي وو . غرونو پر دفاع کونکو رحم وکړ. په خپله هنديانو دا ومنله چې ۲۰۰ تنه يې ووژل شو. او ۱۵۰۰ تنه نوريې ټپيان شول. خو زموږ معلومات وايي چې ددې دوه برابره تلفات هند ته واوښتل. د هنديا نو تابوتونه حتي کم شوي وو . هغوی دومره نه فرض کړې. په سيمه کې زموږ کم نفره او کم ټوپکه ځواک په زړورتيا سره جړه وګټله. او دهند تلفات زموږ د زړورتيا ننبه ده.

د کارګيل جړه د يوه تاکتيکي مانور څخه په محدودوخواوو کې پيل خو ستراتيژيکي اغيزې يې پريښوې. د پاکستان د ځانړو قوماندانانو په ښو پلانونو سره دهند پلان شوي يرغل خاورې شو. هند يوڅه وړاندې راغی. خو په ځواکونو کې يې ګډوډې راغله. په ځانړي توګه په کارګېل او په لوېه کې په ټول کشمېر کې د هند پوځي تېر وتنې ددې لامل شوې چې هند له پولې خپل هوايي او ځمکني ځواکونه په متوازن ډول لېږې کړي. دغه کار دهند دتيا رجنګ احتمال ليري کړ.

د کارګيل جنګ په لوړو سېمو کې د ټولو عملياتو په فکر کې بدلون راوست . او دهند ټول خيالات غلط تابت شول.

په ډاډ سره وېلای شم هر هغه څه چې تر اوسه د کشمېر دمسلې د حل لپاره شوي د کارګېل دجنګ سره نېغې اړېکې لري

.

د الوتکې د ترور کولو ننداره.

پاکستان ته په الوتکه کې:

پوځي منشي ند یم تاج په ارامه لهجه راته وویل: ښاغلیه تاسو پیلوټ خپلې خونې ته غواړي. په چرتونو کې غرق وم خو د ندیم په بېړه خبرو کولو ټکان راکړ.ما وویل سمه ده. لکه چې پیلوټ زه د الوتکې د ناستې دننداري لپاره خپلې خونې ته غوښتی یم. خو وروسته پوه شوم چې د تقدیر له ازموینې سره مخامخ شوی یم.
د سریلانکا له پلازمېنې کولمبو نه په یوه سوداګریزې الوتنې کې چې ۲۴۰۰ متره ارتفاع مو درلوده د کراچۍ هوایي ډګر ته راتلو. د ((کمربندونه مو وتړئ، او سګرېټ مه څښوئ)) علامې روښانه شوې وې. د ښار رڼا څراغونه مې له پاسه لیدل.په کولمبو کې سختو طوفانونو او بارانونو د هوایي ډګر څغاست لیکه وینځلې وه. او زموږ الوتنه دوروسته کېدو سره مخا مخ وه.چې زموږ الوتنه ۴۵ دقېقې وروسته هم شوه. په هوایي ډګر کې د مسافرولخوا په پلورنځیو کې د جامو اخیستلو الوتنه نوره هم وځنډوله. خو وروسته معلومه شوه چې دا وروسته والی راتلونکي ته په کتو سره شوی وو.
زه هم نه پوهېدم چې دا الوتنه به دومره پېښې رامنځ ته کړي.او نه پوهېدم چې په کراچۍ کې دکوزیدو پر وخت به داسې پېښه وشي ، چې نه یوازې زما ، بلکې دد ې هېواد راتلونکی ته به بدلون ورکړي.
د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په ۱۹ د مازدېګر له شپږو بجو ۴۵ دقیقې تېرې وې. الوتنه په (پي کې ۸۰۵ (ایربس الوتکې کې وه. په ۱۹۸ سپرلیو کې ډېر د ښونځیو زدکونکي وو. چې په لسو دقېقو کې پورته کېدو ته برابر شو.
د الوتکې تر پورته کېدو او د ډوډۍ تر خوړو وروسته یو شمېر ماشومان زما خوا ته راغلل. او زما د لاسلیک غوښتنه یې وکړه او څو عکسونه یې راسره واخیستل. تل دماشومانو د لېدلو څخه خوند اخلم.ځکه چې نو ې نظریې لري او هرڅه ته په نوې انداز سره ګوري.لږ وروسته د الوتکې څراغونه بند شول.او کراري شوه. صهبا زما په خواکې پنجرې ته نژدې ناسته وه.د الوتکې د پنجرې پرده یې پورته کړه. زه په خپلو فکرونو کې غرق وم. د الوتکې په کابین کې وضعه عادي او ارامه وه.
پوځي منشي مې دا ځل په لږ څه ډېر اصرار سره وویل ښاغلیه پیلوټ تاسو خپلې خونې ته غوښتي یاست. یقینا کوم غېر عادي کار پېښ شوی. منشي مې د الوتکې مخې خواته ګوښه کړم او راته یې وویل چې پیلوټ ورته ویلي ، زموږ د سپرلی الوتکې ته د پاکستان په هوایي ډګرونو کې د کوزېدو اجازه نشته. او د پاکستان له هوانه د ژر وتلو امر ورته شوی . په الوتکه کې یوازې د یوه ساعت او لسو دقېقو تیل پاته وو.

هېڅ باور مې نه کېده چې داسې څه واورم.د الوتکې میلمه پال ته مې وو یل چې ژر د پیلوټ خونه بنده او پردې یې کش کړي او چاته اجازه ورنکړي چې دې خونې ته را دننه شي. ځکه چې مسافر له پېښې خبر نشي او ونه ډار شي. پوځي منشي او ځانړي یاور مې راته وویل د کراچۍ د قول اردو له مشر سره یې په دریو بیلا بیلو ګرځنده یا مبایل ټیلیفونونو داړیکو د نیولو هڅه کړي، چې د وضیعت پوښتنه ځنې وکړي ، خو نه دي بریالي شوي. هغوی همدارنګه د پاکستان د هوای چلند د ځمکنی مخابرې له لارې د اړیکو دنیولو هڅه کړې وه ، خو بریالی شوی نه وو.
۱۵ دقېقې تیل مصرف شوي وو .کله چې د پیلوټ خونې ته وردننه شوم د الوتکې له کپتان نه مې دوضېعت وپوښتنه وکړه. ماته یې وویل دهوایي ټرافیک دکنترول ورته د الوتکې دنه کېناستلو لامل نه دی ویل شوي. خو په ټینګار سره یې ورته ویلي چې د پاکستان له هوانه دې ووځي. هغه وویل (ښاغلی هره پریکړه چې شوې فکر کوم ستاسو په اړه ده.) پیلوټ ته د پاکستان د غېر نظامي حکومتونو او پوځیانو ترمنځ دتاوتریخوالي تاریخ په یاد وو.
د کپتان خبرو پر ما اغېز وکړ. پوه شوم چې رښتیا وایي. خو ولې یوې سوداګریزې الوتکې ته په پاکستاني هوایي ډګرونو کې د ناستې اجازه نه ورکوي ؟ فقط دومره مې احساس کړه چې لومړي وزیر نواز شریف زما په وړاندې کوم ګام اوچت کړې دي. هر څوک چې ددې پېښې تر شا وو د ډېرو بې ګناه کسانو ژوند یې په خطر کې اچاو.
پیلوټ چې په غږ کې یې مایوسي ښکاریده راته وویل، د یوه ساعت تیل لرو . کمو تیلو ته په کتو سره مې ورته وویل یو ځل بیا د هوایي ټرافیک د کنترول له ادارې نه وپوښتې چې ولې موږ ته د ناستې اجازه نه نشته ؟
اړیکه یې ونیوله او له ۴ پنځو دقیقو وروسته چې موږ دکراچۍ په فضا کې وو راته راغی ،او راته یې وویل چې ورته وویل شو ۲۱ فوټه لوړ دې الوتنه وکړي او د پاکستان نه دې ووځي.او بل چېرته دې کوز شي.یو ځل بیا دغې ادارې دلامل ځواب ورنکړ. دا ورته مهمه نه وو چې موږ چېرته تلو. وړاندېز وشو چې پیلوټ دې له خپل شرکت( پي ای اې ) نه لارښونه وغواړي. سپکونکې وه د (پي ای اې) ادارې څه کولای شوای. د هوای ټرافیک کنټرول وړاندېز کړی وو ،چې د هند ممبئي ، دعمان مسقط ،دمتحده عرب اماراتو ابو ظبی او یا د ایران په بندر عباس کې ښکته شو. پیلوټ ته یې ویلي وو چې د پاکستان ټول هوایي ډګرونه دوی کوزېدو ته نه پرېږدي.

هرڅه له فساده ډک ښکاریدل. کمو تیلو ته په پام سره له هند پرته بل انتخاب نه معلومېده. په دې کار سره یې خپل سخت دښمن ته په لاس ورکولو. هغه دښمن ته چې درې سختې جګړې مو ورسره کړي دي. هیڅ باور مو نه کاوو چې پاکستاني چارواکي د ې د خپل ملي هوایي شرکت الوتکې ته چې ددغه هېواد دپوځ مشر پکې سپور دی دا ډول امر وکړي .د هوایي ټرافیک اداري د لوړپوړو چارواکو له امر پرته ددې ډول خاینانه لارښوونې جرات نه درلوده . ما خپل پوځ پیژانده او دداسې یاغیتوب فکر مې یې نه کاوه.که هرڅه شوي وای خو هند ته یې د خپل پوځ دمشر د تسلیمولو کار نه کاو. نوفکرمې وکړ چې په دې کار کې دغېر پوځي حکومتي کسانو لاس دی.له لومړي وزیر پرته هېڅوک داسې قوي امر نشي ورکولای. د پوځ د مشر ګوښه کول یوه موضوع ده. اود الوتکې تښتول او هند ته د پوځ دمشر تسلیمول دا بله شیطاني خبره وه.خو نواز شریف په دې نه پوهېده چې داکودتا به یې هند ته ستره برېا ورپه برخه کړي. څو مره شرمونکې ده چې د یوه ملک لومړي وزیر دخپل هېواد دپوځ مشر دښمن ته په لاس ورکړي. پاکستانیان دا ستر خیانت بولي.

اوس پوه شوم چې د نواز شریف په دسټا کې ګیر یم. له پیلوټه مې وپوښتل {چېرته تللای شو ؟} ویې ویل د هند حیدراباد او یا عمان ته. خو ټینګارېې وکړ چې ژر پریکړه وکړم.

ځکه چې تیل کم دي. په عصباني ډول مې وویل که مړوشم نو هند ته به لاړشی. د پیلوټ په خونه کې تریخوالی زیا تېده. خو ما ځان ارام نېولی وو .د پوځي خدمت پر وخت مې د یوه کوماندو په تمرینونو کې زدکړې وو چې په بحراني حالاتو کې څه ډول پر ویرې بریالی شم. دمرګ په اړه مې نظر دادی چې که وخت پوره وي سرې نه پاته کیږي ) . که په بیړنیو حالاتو کې سم فکر ونشي وضعه خرابیږي.

ومې وېل: غواړم پوه شم چې ولې موږ ته دناستې اجازه نشته ؟ دا یوه سوداګریزه الوتنه ده. ولې نه پریښول کیږي ؟

پیلوټ مې پوښتنه د کنټرول خونې ته ولېږدوله څلور پنځه کړونکې دقیقې نورې هم تېرې شوې. راته یې وویل چې اجازه نه ورکوی او نه پوهیږو ولې.

زموږ د پیلوټ پوښتنه د هوایي کنټرول له اداري د هوایي چلند عمومي مشرته لېږدول کېده. وروسته به دغه چارواکي زموږ پیغام خپل ریس ته رساوو .هغه به د لومړي وزیر پوځي منشي ته په اسلام اباد کې ټیلیفون کاو، بیا به منشي لومړي وزیر ته خبره کوله ، او دهغه ځواب به یې غوښت. پیغام به له پیلوټ نه تر لومړي وزیره پورې ۲ کسانو ته لېږدول کېده. که ما وشمېرې ۷ نفره کیږي.

د نواز شریف یخ ځواب ته په کتو سره داسې ښکارېده چې د هرځواب پر سر له څو کسانو سره بحث او سلا مشوره کوي.ډېره خطرناکه لوبه وه. دغې ځورونکې لړې ارزښتمن تیل او وخت مصرفاوو . او ل ځل وو چې په ځمکه کې ناست کس په هوا کې الوتکه ترور کوي ، هغه هم کوم عادي کس نه ، بلکې لومړی وزیر چې دخپلو هېوادوالو د ځانونود ساتنې قسم یې یاد کړی دی.

د پوښتنې د انتظار په هېله الوتکه ۲۴۰۰ متره لوړه شوه. کله چې پورته کېده په غوږونو کې مې داخبره تاویده راتاوېده چې ((د پاکستان په هېڅ ځای کې ناسته نشی کولای، باید ژر له پاکستانه ووځی )) باور مې نه کاو. غوښتل یې ټول زما لپاره ووژني.

په همدې حال کې د الوتکې کپتان نور خبرونه راته راوړل.الوتکې په ۲۲۰۰ متره ارتفاع سره دومره تیل مصرف کړي چې بهرته د تلو لپاره کافي تیل نشته. تا و تریخوالی نور هم زیات شو.

یوازینی لاره داوه چې په هرځای کې وي الوتکه کوزه کړو. دوروستی خبرې په توګه مې پیلوټ ته وویل د هوایي ټرافیک کنټرول ته ووایه چې بهرته د تلو تیل نشته . ښېرته مې ژر له لږ فکر وروسته ورته وویل نه له دې لعنتي معاملې نه تېر شه. د کراچی په هوایي ډګر کوز شه. په الوتکه کې تر ۲۰۰ کسانو زیات سپاره دي که غواړې که ونه غواړې په کراچې کې کوزیږو. د هوایي ټرافیک کنټرول هېڅ ونه ښورېده. کنټرول کونکی چې په غږ کې یې له لړزېدا پرته څه نه وو ، زموږ پیلوټ ته یې وویل چې په پاکستان کې هېڅ هوایي ډګر څراغونه نه لري او دکراچی هوای ډګریې بند کړی دی.

پیلوټ راته وویل په کراچې کې نا سته نه کېږي.

ځکه چې ټکر کوو . په دغه خونه کې وضیعت ویرونکی وو .خو ما خپل عزم له لاسه ورنکړ.داسې کارمې نه کاو چې پیلوټ یا یې مرستېالان د الوتکې کنټرول له لاسه ورکړي. دغو ټولو کسانو د دکړکیچ په ټول وخت کې ښه مسلکي چلند وکړ.

پیلوټ ته مې ووېل دکنټرول اداري ته ووایه چې نشو کولای له پاکستا نه ووځو . ځکه چې کافي تیل نه لرو. او پریږدی چې په کراچی کې راکوز شو.

لږ وروسته او مخکې له هغه چې زموږ بخت وتړل شي ویې ویل ،کولای شو د کراچی په ۱۲۰ کیلومتری کې د نوابشا په نیمه ښاري هوایي ډګر کې ښکته شو

.ومې پوښتل { تیل لری چې هلته ورسېږو ؟}

پیلوټ وویل همدومره به پاتې وي ښاغلی.

ـډېر ښه ،ورځه نوابشاه ته.

د ماښام اوه نیمي بجې وې او نوابشا ته وخوځېدو . نیمه لاره مو وهلې وه او د پیلوټ خونې ته د ورننوتو څخه مې ۴۵ دقیقې تیرې وې ، چې د الوتکې راډیو ټق اوټوق پیل کړ. نابېره غږ، زموږ پیلوټ ته وویل چې کراچی ته راوګرځي او هلته کوزشي. زموږ پیلوټ ډاډه نه وو چې په پاتې تېلو به بېرته کراچۍ ته ورسیږو که نه؟ خپل تیل یې د حساب په ماشین معلومول ، او اندېښنه یې درلوده چې حساب سم وکړي. هېڅوک دنظر ددغه بدلون په اړه ډاډه نه وو.

چا داسې امر وکړ چې موږدې په کراچۍ کې کوز شو؟

په دې ورستی وخت کې دا زړه سوی له کومه شو ؟

خطر په ځمکه کې وو �خو په کوم ځای کې ؟
په همدې وخت کې په فکرونو کې غرقوم او پیلوټ تېل حسابول. تورن جنرال مالک افتخار علي خان په کراچۍ کې د یوې پوځي فرقې قوماندان له الوتکې سره اړیکه ونیوله او پیلوټ ته یې وویل ریس صاحب ته ووایه چې بېرته راوګرځي. په کراچۍ کې کښېني. هرڅه اوس سم دي.لاهم بد ګومانه وم او په خپله مې له افتخار سره خبرې وکړې. دامې باید بقېني کړې وایې چې په خپله افتخار دي که بل څوک. او همدارنګه مې غوښتل پوه شم چې هغه یې له ما سره خبرو ته مجبوره کړی او که په خپله خوښه خبرې کوي ،لومړۍ ځل وو چې د الوتکې د راډیو له لارې کې له یوه کس سره مې خبرې وکړې.
ومې پوښتل د قول اردو مشر چېرته دی ؟
-ښاغلی د قول اردو قوماندان د مهمو کسانو د انتظار په خونه کې دی. او زه د هوایي ټرافیک دکنټرول په دفتر کې یم.
-مساله څه ده؟
-ښاغلی باور لرم چې نه پوهېږی، مسله داده چې تقریبا دوه ساعته مخکې ستاسو ګوښه کېدل اعلام شول او ډګر جنرال ضیاالدین بټ د پوځ مشر وټاکل شو. هڅه کېده چې ستاسو الوتکه ورکه کړي چې دلته کښېنه ني. خو اوس واک د پوځ په لاس کې دی. او د هوایي ډګر واک هم له موږ سره دی ، بېرته راوګرځی نور معلومات به وروسته درکړم.
غوښتل مې چې موضوع نوره هم یقیني کړم.
ومې پوښتل: زما د سپیو نومونه اخیستلای شي ؟
پوهېدم که افتخار وي او بې له زوره دا کار کوي نو وبه وایي. هغه بې له شکه وویل(( ډاټ آو باډي ) ) ښاغلی . او د تاوتریخوالي سره سره مې دهغه په خبرو کې موسکا حس کړه. ومې وېل مننه افتخار . محمود او عزیز ته ووایه چې هېڅوک له هېواده بهر نشي. محمود احمد د راولپنډۍ د لسمې قول اردو قوماندانا او ، محمد عزیزخان د دمرکزي قول اردو قوماندان او دواړه ډګر جنرالان وو.
پیلوټ ته ورغلم او دتېلو پوښتنه مې وکړه کولای شو کراچۍ ته بېرته ورسېږو
-هغه ووېل د لارې په منځ کې یو ، دومره کیدای شي چې یوازې کراچۍ ته ورسېږو .خو ښاغلي باید ژر تصمیم ونیسی که په لاره کې کوم خنډ وي کیدای شي د پیښې ښکار شو -.ما وویل نوراځی بېرته کراچۍ ته وګرځو. اوس نو هرڅه سم وو . بېرته خپلې څوکۍ ته ورغلم او صهبا مې د اندېښنې په حالت کې ارامه ولېده. هغې وروسته راته وویل چې د پیلوټ څېره الوتې وه. ځانګړي یاور راته د سګریټ وړاندېز وکړ او ما ترې واخېست. صهبا پوه شوه چې کومه ستونزه پېدا شوې. ځکه د هغه فلم خلاف چې وروسته د یوې تلویزوني چینل لخوا په ټوله نړۍ کې خپور شوا و زه یې ښکارولم چې سګریټ مې په شونډه او تفانچه مې په لاس کې ده. زه معمولا سګریټ نه څښنوم او پوهېدم چې ناست ځای د سګریټ نه دی. نو دهمدې لپاره مې د مخامخ خوا ته بلې څوکۍ له ناستې ښځې وپوښتل چې له دې کار نه خوبه نه په تنګه کیږي. وروسته معلومه شوه چې هغه په کراچي کې د صرف او نحوې دیو ښوونځي مد یره وه. خو ډېره مهربانه او حوصله منده ښځه وه. د الوتکې میلمه پال راته د چایو پیاله راکړه. چې یو غوړپ مې کړه. هغه کار چې معمولا یې نه کوم
اوس صهبا پوهېده چې پیښ شوی کار ډېر جدي دی. مخ یې را واړاوو او رانه ویې پوښتل څه شوي ؟
-ما وویل الوتکې ته د یې د ناستې اجازه ورنکړه، او د الوتکې تیل هم خلاصیدل. داټول ددې لپاره چې زه یې له دندې ګوښه او ضیا الدېن یې د پوځ مشر ټاکلی. البته چې نواز شریف نه غوښتل زه یې په خواکې دده د غېر قانوني کړنو ځواب ورکړم. صهبا ته مې وویل نور زیات نه پو هیږم. خو اوس کښېنو ، صهبا ویریدلې وه دهغه غېر عادي غږ سا کښل او یوڅه چیغې مې واورېدې. هغې وروسته راته وویل کله یې چې ولیدل په الوتکه کې یې خواته ناست نه وم او الوتکې غېر عادي کله کښته کله پورته الوتنه کولهړ فکر یې کړی وو الوتکه به سقوط وکړي. موږ کراچۍ ته را ورسېدو .یوازې د ۷ دقیقو نور تیل پاتې وو . د قول اردو قوماندان ډګر جنرال عثماني د فرقې مشر افتخار او نور باید بیا هم زما لپاره شکمن وای. ځکه کله چې زموږ الوتکه د هوایي ډګر په پخوانی ځغاست لیکې راښکته شوه امنیتي مسول مې چې له ما سره وو د پټو ډزو له ویرې یې زه د دروازې خواته نه پرېښوم. هغوی وړاندې شول امنیتي دیوال یې جوړ کړ. خو کله مې چې د قول اردو قوماندان د الوتکې د دروازې خواته ولېد ډاډه شوم. هغه لومړی کس وو چې الوتکې ته را ننوت. د امنیتي کوزېدو له کبله یې مبارکي راکړه. وروسته سرتېري راغلل او او رانه تاو وشل ډېر افتخار مې وکړ.
کله مې چې پښه په ځمکه ولېده لاهم د پیښې په ټولو جزیېاتو نه وم خبر. د ارامی احساس مې وکړ. کله مې چې صهبا او ټولو مسافر ژوندي ولیدل ددغې وېرونکې پېښې په ترخ کې راته دعمر خیام دغه رباعي را یاده شوه.
-خو ځونکې ګوتې نه لېکي یوازې د لیکلو پر وخت خوځېږي
-نه باید خپل عقل او دیانت وپلوری او نیمه کرښه پرې پاکه کړې
او ستاټولې اوښکې به دهغه نیمه کلیمه ونه وینځلی شي- .
کله چې په قېر سړک کې راته ولاړ موټرخواته روان وم په حېرانی سره مې فکر وکړ چې خدایه په څه شي راکوز شولو .

## ۱۳ څپرکي

توطیه

د لومړي وزیر له خوا زما د ګوښه کېدو او له هغه سمدلاسه وروسته په لوړو پوځي پوړیو کې د بدلونونو په اړه هیڅ پښېیمانه نه یم.هغه کودتا وکړه. دا له قانون څخه ناوړه استفاده وه. د پوځ مشر چې د اساسي قانون له مخې ټاکل شوی وو دومره په اسانۍ او بې له کومه دلیله او د هغه د خبریدو پرته نشي لرې کیدای.
نوازشریف داسې فرض کړې وه چې دا به یې د لومړي وزیر دفتر ته د واک د لیږدولو وروستی ګام وي. د موضوع د پوهاوي له پاره ویلای شم ګنې تیت او پرک ننبې وې چې تري ثبت شوي. د ضیاالدین میرمنې د یوه بل افسر له میرمنې څخه د پوځ د مشر د میرمنې د سلوک په اړه پوښتلي وو. ویل کیده چې ضیاالدین زما پرځای وټاکل شي.
کولمبو ته مې د سفر په ترسره کولو سره د ارامۍ احساس کاوو ،ځکه چې له لومړي وزیر سره تر میاشتو ،میاشتو کړکیچونو وروسته د کارګیل په پای کې دواړه د جنګ په پای ته رسیدو موافق شو او یا لږ تر لږه ما داسې فکر کاوو چې ما هغه ته قناعت ورکړی . ددې پرځای چې یو او بل نندارې ته وړاندې کړو ښه ده چې د خلکو په وړاندې یو والی وښیو. ځکه دا به سمه نه وي چې پوځ او مشر یې د کارګیل په جنګ کې پړ وپیژندل شي. په همدې حال کې لومړي وزیر له مسوولیت نه ځان بچ کاوو.
لومړي وزیر ته زه د اعتبار وړ سړی نه وم. ځکه چې لومړي وزیر غوښتل په کارګیل کې د رامنځته شوې پېښې مسوولیت له ځانه لیري کړي. نوازشریف نه یوازې ساده شوی وو بلکې خپله موقف یې ضعیفه کړې وه . او مخالفینو به یې ویلي په داسې حال کې باید نوازشریف د لومړي وزیر په څوکی پاتې نشي. فکر کوم مونږ یوې موافقې ته ورسیدو. چې خپلو همکاریو ته دوام ورکړو.
بل لامل چې مونږ ولې پخوا په داسې کار لاس نه وو پورې کړی ،داوو چې په وروستیو کې ولس مشر د قول اردو ګانو د مشرانو د کمېټې مسوولیت هم د پوځ پرمشری سربیره راکړ. او دا یوه ارتقاع وه. که صادقانه ووایم له دغې ټاکنې وروسته مې فکر نه کاو چې لومړی وزیر به زما د نشتوالي نه ګټه واخلي. زما او د پوځ پر وړاندې به کودتا وکړي.
داچې ولې نوازشریف په کودتا لاس پورې کړ لاهم معما پاتې ده. تر هغه پوره ځواب نشم ورکولی چې په قضیه کې داخل کسان پدې اړه ریښتیني خبرې ونکړي. دا چې پوځ په څه غبرګون سره هڅه وکړه چې له خپل حیثیت نه دفاع وکړي ،روښانه خبره ده. ټولو په ګډې هڅې سره ګډه موخه چې د نوازشریف د کودتا خنثي کول وو ترلاسه کړه. پوځ لا پخوا د جنرال جهانګیر کرامت د جبري استعفا له کبله په زړه کې عقده یا غوټه درلوده او بل سپکاوی یې نشو منلی.
ما پخوا لومړي وزیر ته څو غیر مستقیم پیغامونه لیږلي وو (( زه جهانګیر کرامت نه یم )) ښاغلي کرامت په ارامۍ سره ګوښۀ کیدل ومنل او ما نه غوښتل چې لومړی وزیر فکر وکړي بیا په دومره اسانۍ سره اساسي قانون ما تولی شي. لکه چې وروسته ستړې محکمې روښانه کړه چې زما ګوښه کول غیر قانوني او د اساسي قانون خلاف کار وو.
لومړي وزیر له دغو ګواښونو نه وو ویریدلی. هغه په مناسب وخت کې برید ته په هیله وو. له راټولو شویو شواهدو دې پایلې ته رسیدلی یم ، سره لدې چې لومړي وزیر زما او د پوځ د مهمو قوماندانانو د اېسته کولو تصمیم درلود ،هغه او ډله یې په دې اند ښنه کې وه چې قضیې ته داسې رنګ ورکړي چې دا کار ناڅاپي او جبري وو. او د هغوی په نظر مناسب وخت هغه وو چې زه هیڅ پوځ ته لاس رسی ونه لرم او د هغه قومانده مې په لاس کې نه وي. څه داچې زه لس زره فوټه لوړ په بهرنی هوا کې وم. دا د دوی له پاره ښه وخت وو.
نوازشریف ته یو شمیر ناوړه ګټه اخېستونکو زما په اړه غلط معلومات ورکړي وو . څو ځلې یې هغه ته ویلي وو چې د پوځ مشر د هغه د لیري کېدو پلان لري. ډېر ښۀ فکر کېده چې زما د ټولو اړیکو په پریکولو سره هغوی کولی شوای په اسانی سره کودتا وکړي .خو هغه سوال چې تر اوسه بې ځوابه پاتې دی دادی چې: ولي دوی دغه کار دومره خام او سرسري ترسره کړ؟ د الوتکې کیناستو ته د اجازې نه ورکول، او د سقوط خواته د هغه کشول او حتي په هند کې یې ناستې ته مجبورول د هغه ننبې دي.
باور لرم کیدای شي دا خبره په کولمبو او بیا په مالي کې د الوتکې په ځنډ بدو پورې تړلې وي. که مې الوتکه په خپله وخت رارسیدلی وای پوځ بۀ د غبرګون ښوولو او د کراچی د هوایي ډګر د نیولو له پاره کافي وخت نه درلودی ، او زما د نیولو مخه به یې نه وای نیولې. کله چې نوازشریف پوه شو زمونږ الوتکه په هوا کې وه او پوځ د متقابل برید وخت پیدا کړ سخت په قهر شو.
د لومړي وزیر د فکر د لوستلو له پاره د څو اونیو پخوانیو پېښو ته وګرځو. د ۱۹۹۹ د ډسامبر په دریمه اونۍ کې د نوازشریف خسر مړ شو او د خښولو له پاره یې لاهور ته ولاړ. کله چې هغه غوښتل په هوایي ډګر کې موټر ته وخیژي لوی څارنوال هغه یوې خواته کړ او په ګرمه هوا کې سره ولاړ وو. لوی څارنوال ورته وویل چې پوځ غواړي تاسو بې واکه کړي. لومړي وزیر ته یې ددې منبع نه وه ښودلې. یوازې د پوره ثبوت د درلودلو یې ورته ویلي وو. روښانه ده چې نوازشریف د لوی څارنوال ادعا جدي نیولې وه.

په واقعیت کې لوی څارنوال د لومړي وزیر د تشویق له پاره دومره اسباب برابر کړي وو چې کله لومړي وزیر کورته ورسید نو خپل ځانګړي منشي سید مهدي ته یې پټ ویلي وو چې بیرته لوی څارنوال ته ډاډ ورکړي چې لومړی وزیر به د هوایي ډګر خبره هیچا ته ونکړي او غواړي دد ې خبر منبع وپیژني.
لوی څارنوال مهدي ته ویلي وو چې لومړي وزیر ته ډاډ ورکړي چې اطلاعات یوې باورې منبع د پوځ له منځ څخه ورکړي. دې ځواب د لومړي وزیر ویره نوره هم زیاته کړه.
زمونږ د و دودونو په اساس د مازیګر ناوخته لاهور ته ولاړم چې لومړي وزیر ته د ډاډینې مراتب وړاندې کړم. کولی یې شو له دې وخت نه ګټه پورته کړي او د لوی څارنوال خبره له ما سره شریکه کړي. خو هغه دا کار ونکړ. پوځ د واک د اخېستو هیڅ پلان نه درلود.
 څو ورځې وروسته د نوازشریف کشر ورور او د پنجاب مشر ،شهباز شریف په راولپنډۍ کې را ته راغی چې د خپل ورور د اندېښنو په اړه چې د کارګیل د جنګ پر وخت یې په ډله ییزو رسنیو کې خبر راغلی وو را سره خبرې وکړي. هغه ته مې وویل خپل ورور ته دوه خبرې وکړه: اول د پوځ له مشری به د خپلې دورې تر پای ته رسیدو دمخه ګوښه کېدو ته حاضر نشم. دوهم د کویټې د قول اردو د قوماندان ډګر جنرال طارق عزیز د ګوښه کېدو سفارش مې وکړ. هغه بې نظمه وو او د ځان په اړه مې د هغه له خوا د توطیې ګمان درلود. ستونزه دا وه چې طارق او پرویز د نوازشریف د یوه وزیر د میرمنې د ورو اخشي (( خسربره )) وو ، او ددغې اړیکې په واسطه هغه هڅه کوله د پوځ د مهمو قوماندانانو په لیکه کې له وخت وړاندې بدلونونه راولي. چې د ځان د راتلونکو ترفیعاتو له پاره لار هواره کړي. شهباز وویل: یوه ورځ وخت راکړه ؟
په سبا یې د سمندري ځواکونو د مشراډ مېرال بخاري له پاره د نوازشریف په ملمستیا کې وم ،په پوره با ور سره نوازشریف ګوښه کړم او راته وېې ویل چې د پوځ پر مشری سربیره غواړم د قول اردوګانو د قوماندانانو د کمېټې مشر دې وټاکم. خوشحاله یې؟
ما وویل هو.
خو لومړي وزیر ته مې وویل چې طارق پرویز باید لرې شي او ورته مې ویل چې د پوځي سرغړاوي په خاطر د هغه د ګوښه کېدو لیک تیاروم.نوازشریف داسې وښووله چې هغه نه پیژني ،خو زه پوهیدم چې ننداره اجرا کوي. خو بیا یې هم ومنله چې طارق پرویز لیرې کړې. وروسته مې بیا د طارق پرویز د ګوښه کېدو لیک لومړي وزیر ته ولیږه چې سمدلاسه یې تائید کړ.
لږ وروسته لومړي وزیر له ما او میرمنې مې وغوښتل چې د ۱۹۹۹ کال په اګست کې د کعبې شریفې د حج په مراسمو کې د هغه او د میرمنې ملګرتیا یې وکړو. راته ویې ویل سهار وختې به د لاهور له هوایي ډګر نه ولاړ شو. مننه مې ترې وکړه. او ومې ویل د ژر رارسېدونکي سفر له کبله به یوه ورځ دمخه لاهور ته ورشو. ځواب یې راکړ چې داسې ده نو د ماښام ډوډۍ د لاهور په رایونډ کې د هغه په نوې ودانۍ کې د هغه له کورنی سره وخورم.
اوس چې پخوا ته ګورم پدې پوه شوم چې دا ټول کارونه پلان شوي و. هغه پوهېده چې زه به د کعبې شریفې د زیارت کولو چانس رد نکړم او د سهار وختي الوتنه له لاهوره پدې مانا وه چې یوه شپه د مخه ورشم او کله یې چې د شپې ډوډۍ ته دعوت کړم ، ما نشوای ردولای. باید ووایم چې دا پلان اثر اچوونکی وو. ځکه هغه څه چې د اکتوبر په ۱۲ نوازشریف وکړل د یوه کمین په څیر وو.
د ماښام ډوډۍ د نوازشریف د پلار په مشری چې اباجي او پلارجان به ورته ویل کېده تیره شوه. شهباز هم له مونږ سره په دسترخوان کې وو. د ماښام له پیله تر اخره. ا د خبرو جلب دباجي په لاس کې وو .هغه د خپل ژوند او تجربو خبرې کولې، مشرانو ته احترام کول د اسیایانو د ستاینې وړ صفت دی. خودغه کس عادي زامن نه درلودل. یو لومړی وزیر او بل اعلي وزیر. خو د اباجي شخصیت داسې واک خوښونکی وو چې نواز او شهباز لکه ماشومانو غوندې هڅه کوله چې د پلار له خوا تائید شي. دواړه ورونه په ډېري عاجزۍ د میز تر شا ناست وو . او یوازې هغه وخت بهٔ په خبرو راتلل چې د پلار له یاده تللي نومونه به یې وریادول. یوازینۍ موخه دا وه چې هغه خوشاله کړي. دواړه ډېر تابع معلومیدل. هیڅ سوال نه وو پاتې چې د کور رښتینی تصمیم نیونکی اباجي وو.
له ډوډۍ وروسته اباجي ما ته مخ راواړاوه او د مشر په توګه یې اعلام وکړ چې (( ته مې هم ځوی یې )) او دا دوه زامن به مې جرائت ونکړي چې ستا پر ضد خبرې وکړي. که یې داسې وکړل ما ته به مسوول وي. ډېر زړ تنګی شوي وم.خو د زاړه سړي رفتار همداسې وو . نوازشریف په خپله پخوانی څیره کې ښکاریده. وروسته چې معلومه شوه له اباجي سره هغه ماښام یوه معما وه. سپین ږیري سړي وړاندې پرېکړه کړې وه چې زامن یې له بلې یا غلطې دروازې راشي او ناوړه چلند راسره وکړي. ځینو ته یې ویلي وو چې یو په یو یې زما سترګې نه وې خوښې کړې.
د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په ۹ نېټه کله چې په کولمبو کې وم د یوې انګلیسي ژبې ورځپاڼې یو خبر مې ولید چې لیکلي یې وو: د کویټې د قول اردو مشر طارق پرویز د پوځ د مشر له اجازې پرته د لومړي وزیر سره د لید نې له کبله له دندې ګوښۀ شو. معلومه ده چې کیسه بل ډول وه. هغه داسې چې یو شمیر کسانو غوښتل لومړي وزیر ته داسې وښیي. زه به د هغه پر ضد توطیه وکړم .هغه یې لیونی کړی وو.
تر ننه د طارق پرویز په اړه بدګمانه پاتې شوم. کیدای شي هغه به غوښتل ما له مېنځه لرې کړي. چې تصمیم برعکس شو او لومړی وزیر لرې شو. پلان ونېول شو چې زما له شومې الوتنې فقط څو ورځې مخکې هغه لیرې کړي.خو هغه راغی او رانه ویې غوښتل چې دغه تصمیم د اکتوبر تر ۱۳ وځنډوم. چې هغه ته وخت ورکول شي د خدای پاماني مراسم چې مونږ ورته په پوځ کې د (( وتلو ملمستیا )) وایو ترسره کړي.هغه همدارنګه راته وویل چې د ګوښۀ کولو په اړه یې زما له خوا هیڅ منفي فکر نه لرې او زیاته یې کړه چې تاسو د پوځ مشر یاست ،پرېکړه ستاسو سره ده او زه به د یوه سرتیري په توګه ترې هرکلی وکړم.
ایا دا کار یې ددې له پاره وکړ چې وخت پیدا کړي او زما پرضد توطیه وکړي.د خور میره یې د کابینې وزیر او د لومړي وزیر نږدې ملګری وو. طارق پرویز

هم ځانته غټه رتبه ورکړې وه او متقاعد شوی وو .چې کولای یې شوی زما پرځای پښه کیږدي. هغه حتي د یوې اردو ژبې ورځپاڼې په وروستۍ پاڼې کې د یوه وړوکي خبر په خپرولو سره په پیڼدۍ کې لوبه افشا کړي. چې له هغه نه نقل قول شوی وو . په څو ورځو کې بهٔ چې کله یې د پوځ یونیفورم لرې کړ د پرویز مشرف او د کارګیل په چارو کې د هغه د رول په اړه هرڅه په ډاګه کړي. دا داسې څرګندونې وې چې پوځې محکمې ته پرې کشیدای شو.

د اکتوبر په ۹ د طارق پرویز د په زوره ګوښه کیدلو خبر نوازشریف سخت نارامه کړی وو او زما له ویاند نه یې غوښتي وو چې زما له خوا ددې خبرې دروغ پاڼه خپره کړي. زما ویاند ورته ویلي وو چې د مشرف له تا ئید پرته دا کار نشي کیدای او زه په کو لمبو کې وم. دغه چلند لومړی وزیر ډیر په قهر کړی وو. ځکه هغه فکر کاوه د هغه غوښتنه باید مهمه او محترمه وبلل شي. څه داچې په پاکستان کې وم که نه وم.

هغه داکار ځا نته سپکاوی بللی وو او ویلي یې وو چې هېواد ته په راتلو سره مې له ماسره پدې اړه خبرې وکړي. ویاند مې یو ازې معمولي کار ترسره کړ. لومړي وزیر زما په نشتوالي کې د دفاع له وزارت نه غوښتي وو چې ددې موضوع په اړه توضیحات نشر کړي ،چې په بل ډول یې ترسره هم کړل.

د همغې ورځې د ماسپښین نه وروسته نوازشریف باید لاهور ته تللی وای. له الوتنې وړاندې یې د طارق پرویز د خور خاوند چې د شریف د کابینې وزیر وو ، د یوه بهرني سفر نه راځغلیدلي وو او د شریف لیدو ته یې ځان راورسا وو ، چې یوه دوسیه ورکړي. کله چې له خونې راووت دغه وزیر د لومړي وزیر منشي سید مهدي خواته په ګوته اشاره وکړه . کله چې هغه په څرخکه کې سپرېده مهدي ته له کتو پرته لومړی وزیر وپوښتل چې ډګر جنرال ضیاالدین څه وخت دنده پریږدي ؟ مهدي ځواب ورکړ دقیق وخت یې ندی ورمعلوم ، خو فکر کوي د راتلونکي اپریل په میاشت کې به وي. وروسته نوازشریف دوسیه مهدي ته ورکړه او ترې ویې غوښتل چې د دفاع وزارت ته یې وسپاري .مهدي وویل کولی شي دوسیه ولولي. لومړي وزیر وویل پوهیږي او یوه ورځ به یې ولولې هغه هم یو انسان دی. وروسته سید مهدي وویل چې په دوسیه کې یو غوښتنلیک وو چې د طارق پرویز د لومړي وزیر سره د لیدو غوښتنه پکې شوې وه.

دا عجیبه غوښتنه وه ځکه که د قول اردوګانو ډګرجنرالان هم وي د خدای پامانی له پاره لومړي وزیر سره نشي لیدلی، په ځواب کې سید مهدي هم لومړي وزیر ته یوه دوسیه ورکړه .کله چې لومړي وزیر وپوښتل چې دا څه شی دی ؟

مهدي ځواب ورکړ چې شپه یې وښه تیره کړې او دغه څه یې ده ته لیکلي او له نواز نه ویې غوښتل چې دالوتنې پروخت یې ولولي .مهدي ادعا کوي چې په دغه یاد داشت کې یې لیکلي و چې د لومړي وزیر فکر یې لوستی او هغه ته یې ګواښ کړی وو چې ډیر احتیاط باید وکړي او په خرابو نصیحتونو تیر نه وځي.

هغه همدارنګه وړاندیز کړی وو چې د هر جدي تصمیم له اخېستو وړاندې لومړی وزیر باید له ماسره زیاتې خبرې وکړي او ښه مې وپیژني. مونږ کورنی اړیکې او لیدنې درلودې خو نوازشریف سختې بدګمانی داسې لیونی کړی و چې هیڅ نصیحتونه یې نه منل.

نوازشریف سختې بدګمانی داسې کړی و ،چې یوه ورځ لاهور ته له رسیدو وروسته له خپل یوه ځوی او څو نږدې ملګرو سره، احتمالا د خبرو له پاره د ځای د پیدا کولو له پاره یې ابو ظبی ته الوتنه وکړه.

د اکتوبر ۱۰ وه ډګرجنرال ضیاالدین بټ په ملکي جامو کې د لومړي وزیر ملګرتیا کوله. له مسلکي پلوه ضیاالدین انجنیر وو او په خپل وخت کې نه یوازې ډګر جنرال بلکې د پاکستان د اسختبآراتي اداري ( ای ایس ای ) مشر هم وو.هغه لومړي وزیر ته نږدې کس وو او نوازشریف تیار وو چې د مشری تاج د هغه پر سر کیږدي. ابو ظبی ته په الوتنه کې د نوازشریف یو بل ملګری د پاکستان د ملي شورا غړی او د پاکستان د ملي ټلویزیون مشر هم وو .چې د ښاغلي شریف د وینا متن یې هم لیکلی وو. سره لدې چې زما د لیرې کېدو تصمیم وړاندې نیول شوی وو. داسې ښکارېده چې ددغې توطیې ښه جزئیات د ابوظبی په الوتنه کې ترسره شول.

په همغه ورځ د متحده عرب اماراتو له ولس مشر اود ابوظبی له مشر شیخ زاید بن سلطان سره تر لېدو او د اماراتو له شهزاده سره د غرمې له تیرولو وروسته بیرته اسلام اباد ته راوګرځېدل.

د اکتوبر د ۱۲ په سهار نوازشریف د ملتان دشجاع اباد ښارګوټي ته ولاړ. ملتان د پنجاب په سویل کې لوی ښار دی. د مسجدونو او تصوف له کبله ډیر مشهور دی. نوازشریف ملتان ته په تلو سره کیدای شي هڅه کړې وي چې وښیي هرڅه عادي دي او دی عادي کار کوي. ترڅو داسې احساسات رامنځته کړي چې زما سملاسي. ګوښه کول یوازې اطلاعاتي انګیزه درلوده. چې ما غوښتل د هغه پر ضد کودتا رهبري کړم.

البته د شجاع اباد سفر یوه ننداره وه. هغه خپل یو ځوی او د وینا د متن لیکونکی له ځان سر بیولي و. ځوی یې یو شمیر ټکي د وینا د متن لیکوکی ته ورکړي وو او ترې غوښتي یې و ،چې په الوتکه کې یې خاکه ولیکي. پداسې حال کې چې دوی د شجاع اباد خواته وخوځیدل ، کله چې لیکونکي دغو ټکو ته وکتل دې پایلې ته ورسید چې کیدای شي جنرال مشرف ګوښه شي. د لومړي وزیر ځوی هغه ته ویلي وو چې یوازې همدا ولیکي او هیچاته څخه نه وایي. هغوی په دې تمه وو چې هغه وخت ما لیري کړي چې پوځ ته لاس بری ونلرم. خو د الوتنې په ځنډ سره هرڅه بدل شول.

هغوی له ناچاری دې کار ته لاس اچولی وو. ظاهرا چې هغوی کوم تصمیم نیولی وو . داوو چې زما د سپرلی الوتکه باید د پاکستان په خاوره کې راکوزه نشي. هغوی فکر کړی وو چې پوځ به د مشر دنشتوالي پروخت د هرډول خیانت په وړاندې ارام کیني.

په شجاع اباد کې په یوې غونډې کې نوازشریف ناست و چې ټلیفون ورته راغی. نه پوهیږم چابه دغه اړیکه نېولې وي او نوازشریف ته به یې څه ویلي وي خو د ټلیفون په قطع کېدو سره لومړي وزیر وارخطا ، خپل سامان یې ټول او د ملتان د هوایي ډګر په لور وخوځید ،چې بیرته اسلام اآد ته ولاړ شي.. ماته دا ټوله

یوه ننداره ښکاریده بل هیڅ نه وو. پدې وضعیت سره هغه وروسته دا دعوا کولی شوه چې هغه ټلیفون ، هغه د مشرف د کودتا په فکر کې واچاو ، هغه غوښتل چې د دفاع وزیر او خاص پوځي منشي سید مهدي یې په هوایي ډګر کې د ماز یګر په ۳ بجو ورسره وګوري. پوره په هغه وخت کې چې د ( چک لاله ) په هوایي ډګر کې راکوزه شي. هغه هڅه کوله خپل واک متمرکز کړي. خو د واک د لاسه تللو فکر یې نه کاو. کله چې له ملتان څخه د اسلام اباد په لور راوخوځید په واقعیت کې پر سیاسي انتحاري موټر کې سپور شو.

په همغه ورځ د دفاع وزیر ګنګښ وو. هغه په همغه سهار اندوسکوپي عملیات کړي وو او دبې هوښې یا عمومي انستیزي څخه نه وو وتلی چې ټلیفون یې زنګ وواهه. ښځې یې وویل چې هغه استراحت دی او نشي کولی را پاڅي.

د دفاع د وزیر په وینا چې دغه اړیکه د غرمې په ۱۱ بجو یعنې د جوړ شوي پلان له اړیکې ډیر دمخه چې له نوازشریف سره په شجاع اباد کې نېول شوو. د څو ځلې ردېدو نه وروسته ټلیفون کوونکي د دفاع وزیر میرمنې ته وویل چې لومړي وزیر غواړي ژر ترژره یې خاوند په هوایي ډګر کې ووینې وروسته دې ښځې ټلیفون خپل خاوند ته وروړ. د دفاع وزیر حیران شوی وو. وبې ویل څه شی دومره مهم دي چې دی یې له بستر څخه راپورته کېدو ته مجبور کړ. خو هوایي ډګر ته یې ځان ورساوو.

کله چې نوازشریف د ماسپښین په ۳ بجو د اسلام ابا د هوایي ډګر ته ورسید د دفاع له وزیر سره یې وغوښتل چې په موټر کې ورسر سپور شي چې د لومړي وزیر کورته ورسره ولاړ شي. د ټرافیکي ګڼې ګوڼې سره سره په موټر کې شل دقیقې لاره. هغه څه چې په فکر کې وو په لاره کې یې دفاع وزیر ته وویل او ترې ویې وغوښتل چې د نوازشریف د ګوښه کېدو بیانیه دې صادره کړي او خبر دې ورکړي چې ډګر جنرال ضیاالدین بټ د هغه پرځای ټاکل شوی .

د دفاع وزیر په پرله پسې ډول دا پوښتنه کوله چې ولې دا کار وکړي؟ هغه چې پدې وروستیو کې د ډګر جنرالی په رتبه له پوځ څخه په کور کیناستلی وو او پخوایي د قول اردوګانو دمشر په توګه دنده ترسره کړې وه پوځ یې ښه پیژانده.

هغه لومړي وزیر ته وصیت کړی وو که د دوهم ځل له پاره په دغه غیر قانوني ډول د پوځ مشر ګوښه شي نو د پوځ روحیې ته بهٔ زیان ورسوي. خو لومړي وزیر پرخپل خره سپور وو او خپله یې منلې وه کله چې د لومړي وزیر کورته نږدې شول د دفاع وزیر نوازشریف ته وویل دا ډیره جدي مسله ده نشي کولی دا سې کومه اعلامیه صادره کړي. مګر که یې په رسمي ډول لیکلی فرمان ترلاسه کړ نو بیا سمه ده.

نواز شریف خپل ورانه ته ځپیږه ورکړه او په قهر سره یې وویل(تاسو ډارن یاست) وروسته مهدي له لومړی وزیر سره وکتل �نواز شریف په خند نې ډول وویل چې ددفاع وزیر بې تابه دي. وروسته یې له دفاع وزیر نه وغوښتل چې په یوه بله خونه کې انتظاروباسئ.

کله چې له ملتان څخه الوتنه وشوه دلومړی وزیر ځوی اسلام اباد ته دراتګ پروخت دوینا متن لیکونکي له لیکني منع کړ چې له کیسې نور څوک خبر نشي.خو کله چې د لومړي وزیر کورته ورسیدل- دنواز شریف ځوي د متن لیکونکي بلې کوټې ته بوتلو او ترې ویې غوښتل چې پاتې متن ولیکئ. ژر دپاکستان دتلویزیون مشرراغی چې له هغه سره مرسته وکړي، خو مخکې له دې چې کارپیل شي دتلویزیون مشرته وویل شو چې ژر په اسلام آباد کې دټلویزیون دفترته ولاړ شي. کله چې یوازې شو لیکوال دنواز شریف ځوی ته وویل چې داسې نشي کولای څه ولیکي .ښه داده چې بل چاته یې ورکړي.چې متن ورته ولیکي.

لومړي وزیر دخپل دفتر په لور ولاړ. پوائې منشي سید مهدي هم ورسره وو. کله چې هلته ورسیدل پوځي منشي له ساکټ څخه دټیلیفلون لین وویست ،ترڅو ډاډه شي چې څوک د دوی غږ نه اوري.

وروسته لومړی وزیر پوځي منشي ته وویل، دجنرال جهانګیر دګوښه کیدو فرمان راوباسي تاریخ دی بدل کړي زما نوم دې دجهانګیر پرځای او دضیاالدین نوم دی زما پرځای ولیکي او ددفاع وزیر ته دې یوسي دهغه لاسلیک دې واخلي.

داسې ښکاری چې تیارقالب یې درلود چې هروخت یې زړه وغواړي دپوځ مشر لرې کړي.

لومړي وزیر وپوښتل دبیاني ورکولو ته اړتیا نه شته ؟ پوځي منشي وویل،باید ملت ته دا کار توجیه کړی او دلومړي وزیر دطبعې خلاف خبره یې وکړه.خونواز شریف په قهرسره مهدی ته وویل چې ولاړشي. دګوښه کولو فرمان جوړ د دفاع وزیرلاسلیک دی واخلي او رادي وړي چې. لومړی وزیر ته یې پخپله دلاسلیک له پاره وروړي. چې کوربې لړلړی وو. پوائې څه چې ولسمشر په دغه لیک کې ورته متوجه شوي وو د (seen ) کلیمه وه. نواز شریف په اساسي قانون کې دبدلونونو له لارې دولسمشردفترته تشریفاتي بڼه ورکړې وه. چې په څو ځانګړو ځایونو کې ددغې اداري تصدیق ته اړتیا وه.

دلومړی وزیر په کورکې دټلویزیون کمرې دده راتګ ته سترګې په لاره وې. نواز شریف دوه ستوري دپوځي منشي له اوږې نه وشکول چې برید جنرال وو او د ډګرجنرال ضیاالدین په اوږه یې وتومبل چې دستر جنرالی رتبه او دپوځ د( مشر ) دنده یې ورکړه.

لومړي وزیر دومره بیچاره او بې کسه وو چې پخپلو لاسونو یې ستوري دجنرال ضیا په اوږو وتومبل ،ترڅو وښیي چې پای ته رسیدلی قباله دټلویزیون له لارې وښول شي.

په همدې حال کې یې پوځي منشي جنرال ضیاالدین ته وویل،ښاغلي تاسو سترجنرالي ته ترفیع وکړه ولې زه ډګروالی ته راټیټ شوم.

ددفاع وزیر یوائې خپلو فکرونو ته پریښول شوي وو. ډیر پریشانه وو. هغه پوهیده چې نواز شریف په خطرناکې بیړۍ سپور دې او هغه مهال یې پریشاني دوه برابره شوه چې په داسې خونه کې اچول شوی وو چې دسګریټ دڅښلو اجازه نه وه او لاهم د انستیزي یابې بیهوشی له اغیزو ځوریده.سره له دې چې

ورته ویل شوي وو له خونی بهر نشي هغه د داسي ځاي په لټه کې وو چې سگریټ پکې وڅښوي.لومړي دپوځي منشي دمرستیال خوني ته ولاړ.بیا دپوځي منشي خوني ته ورغي- په لاره کي یې یوه ډله کسان ولیدل چې ضیاالدین او مهدي هم پکې وو او د دوي په لور را روان وو- متوجه شو چې دضیاالدین په یونیفورم کې دسترجنرالي ستوري لگید لي او دپوځ مشر شوي.ټول دپوځي منشي په خونه کې راټول شول. په اردو ژبه دټلویزیون له لاري داسي خبردمازدیگر په ۵ بجو خپور شو چې جنرال مشرف له دندي گوښه شو او جنرال ضیاالدین دهغه ځاي ناستي شو.

ضیاالدین رامخي ته شو اوپه خونه کې یې ټولو کسانو له هغي ډلې نه ددفاع وزیر ته لاس ورکړ او دهغوي مبارکی یې ومنلې. خو ددفاع وزیر پوهیده چې هغه هیڅ اعلامیه نده خپره کړي او دغه ابلاغیه قانوني جنبه نلري.دا خبر دمرمۍ په څیر خپور شو ،دټیلفونونو لیکې ډکې او مصروفي شوې. دنوازشریف پلویانو پدي کار سره ویاړکاوو ، چې دپوځ بل مشریې هم لرې کړ -خو ځینو چې ډیر واقعیت گر وو دمسالي سره بې په احتیاط چلند کاوه.

هغوي ډاډه وو چې پوځ به داخل هم خپل سپکا وی تحمل کړي.هغوی نه پوهیدل چې اوضاع بهٔ څومره خرابه شي. دخبر له خپریدو وروسته سید مهدې زما دگوښه کیدو لیک ددفاع وزیر ته ورکړ او خپل دفتر ته په راولپنډۍ کې دتلو لاربښونه بې وکړه او داعلامیي دخپرولو یې ورته وویل.چې هم زما گوښه کول او دضیا گمارل قانوني شي.

ددفاع وزیر وویل په داسي حال کې چې دموټرو په لور روان وو ورور یې چې دنوازشریف دکابیني وزیر وو دنوازشریف دورور شهباز شریف سره یوځاي په وار خطا ډول دهغه خوا ته راځغلیدل.(هغوي وویل ) څه شوی تاسو څه کار کړي دې؟

)دا ډیرمصیبت کار دی ) ددفاع وزیر هغوي ته وویل چې هغه په دي کارکې نه دي شریک . که دا ریښتیا وي بیانو په رښتیا هغوي دشریف له توطبې بې خبره وو او یا به د(حسن چپ ) په کوڅه کي ځان غلطوي او یاهم کیدا ی شي ددفاع وزیر غوښتل خپل ورور وژغوري- دتعجب ځاي نه دي نن کم کسان پیدا کولاي شو چې دنواز شریف دتوطیې نه خبرتیا ومني او یا په یوه ډول له دی توطبې سره اړه ولري.

دیرش دقیقي وروسته ددفاع وزارت ته ورسید.کله یې چې موټر په پینډۍ کې د(فلاشمن هوټل ) ته ورسید .ددفاع وزیر ته دشهباز شریف زنگ راغي چې ویل یې څو سرتیرو دلومړي وزیر دروازه بنده کړي ده. شهباز پوښتنه کړي وه (داکوم پوځ دي ) ددفاع وزیر سمدلاسه پوي شو.هغه ډول چې ویریږی ،پوځ غبرگون ښولي وو.هغه ځواب ورکړي وو چې دلته یو پوځ دي هغه د(پاکستان پوځ .(

## دکودتا ضد

دکودتا ضد - ددې له پاره چې بله کلمه نشو ورته ویلي. دمازدیگر په پنځو بجو چې دټلویزیون له لارې زما دګوښه کیدو خبرخپور شو . دري نیم ساعته اوږد نشو. دشپې په اته او دیرشو دقیقو کې چې کله ډګر جنرال محمود احمد دراولپنډۍ دقول اردو مشر دلومړي وزیر کورته وردننه شو او نوازشریف یې ونیوو دکودتا ضد چارې پای ته ورسیدې.
فقط دمازدیگر له ۵ وروسته پوځ ټکان وخوړ او د راولپنډې ښارته چې دمرکزي قول اردو مرکز پکې دي ،اسلام آباد ،کراچۍ ،لاهور بیا وروسته نوا شباه هغه سیمه چې زمونږ دالوتکې دکینولو لارښونه یې ورکړې وه ور دننه شول.
د اسلام آباد عملیات له تاوتریخوالې ډک وو ،خو کراچۍ هم له ننداریې ډک وو .دکودتا ضد افسران او سرتیري له یوځل زیات دکودتا کونکې له وسله والو سره سترګه په سترګه شول �فقط دخدای فضل وو چې دوینو دتوئیدو مخه ونیول شوه.
دپوځ دقومندی په مرکز کې دمازدیگر په ۵ بجو دفترونه وتړل شول او دپوځ مشران یا کورونو ته تللي وو او یا مازدیګرۍ تفریح ته وتلي وو- ډګرجنرال محمد عزیزخان ،لوي درستیز او ډګرجنرال محمود احمد دپوځ دعمومي قومندانۍ ته ۵ کیلو متر اخوا د(چک لاله) په پوځي لیلې کې دټینس لوبه کوله � دوه نور افسران ډګرمن شاهد علي او ډګرمن جاوید سلطان چې دراولپینډۍ دقول اردو په لوا پوري تړلی وو په همدې ځاې کې بې لوبه کوله.
دخبر له خپریدو سره سم هغوی لوبه پریښوده او دټینس میدان ته یې منډې کړې چې داخبر جنرال محمود او جنرال عزیز ته ورسوی ،خودوي هم داخبراوریدلي وو او دعمومي قومندانۍ په لوري روان شول.
دپوځ دعمومي عملیاتو قومندان تورن جنرال شاهد عزیز تازه خپل کورته رسیدلي وو په تخت ناست وو او دخپلو بوټونو مزي یې خلاصول کله چې خبر هغه ته ورسید ،دبوټونو بندونه یې بیرته وتړل او بیرته دپوځ دعمومي قومندانۍ ته یې رامنډې کړې. دبیرته راتګ په وخت کي یې خپلې میرمنې ته ویلي وو نه پوهیږې کله به راشي اوکه به رانشی. هغه له وړاندې پوهیده چې څه باید وکړی. کله یې چې موټر له کوره بهر شو دګاونډې میرمن یې ولیدله چې خواږه یا شیریني ویشي- دهغه ګاونډی ډګر جنرال ضیاالدین وو.دضیاالدین میرمنې دخپل خاوند غیرقانوني ترفیع او دپوځ مشري ته درسیدو دجشن تیاری نیوو.عزیزخان ،محمود او شاهد عزیز هیڅ شک نه درلود چې دنواز شریف کودتا بی پایلی تیره کړی. نوره بس وه هغوی دکودتا مشری وکړه.
ما له شاهد علی او جاوید سلطان سره هروخت لوبه کوله.محمد عزیزخان مي خپله ګمارلی وو او دراولپینډۍ دقول اردو قومندان محمود احمد دهغه غنډ قومندان وو کله چې زه په کال ۱۹۸۸-۱۹۸۷ پوری دتوپچی دلوا قومندان وم. شاهد عزیز دپوځ دعملیاتو عمومی قومندان می له دوستانو څخه وو.(جنرال صلاح الدین ساتهی) دلومړي لمبر لوا قومندان می دلوا یو جګړن وو. هغه مهال چې برید جنرال وم. هغه افسران چې دکودتا پرضد وو په ټولو ښارونو کې زماله لخوا ګمارل شوي وو.یوازی دپاکستان داستخباراتی ادرای (آي.اس.آي) مشرډګر جنرال ضیاالدین دنواز شریف له پلویانو څخه وو ،خو ضیا دهیڅ سرتیری مشرنه وو- ټول پوځ دلومړي وزیر په وړاندې راپورته شوی وو.
دپوځی عملیاتو عمومي قومندان �جنرال شاهد عزیز داسی افسردی چې دهغه په امر پوځ په خوځښت راځي.دهغه امر دپوځ دمشر امربلل کیږي.
نودهمدی له پاره دکودتا ضد کار دهغه لخوا اداره کیده. لومړی تصمیم دا وو چې په راولپینډۍ کې لومړۍ نمبر لوا ته امر وشي چې په کار لاس پورې کړي.
دهغو دوه افسرانو چې له ماسره یې لوبه کوله دکار یوه برخه داشوه چې دولسمشر او لومړی وزیر دکورونو امنیت وساتی.ډګرمن شاهد علی دلومړی وزیر دکور دامنیت دساتلو مسوول ،او ډګر جنرال جاوید سلطان دولسمشر دکوردامنیت دساتلو مسول شو.ډګر جنرال محمود احمد د راولپینډۍ دلومړی لمبر لوا له لاری دواړو ته امروکړ چې دواړه کورونه بند کړي او هیچا ته اجازه ورنکړي چې کورته دننه او یابهرشي.
همدارنګه یې هغوی ته امر وکړ چې دراډیو ټلویزیون د اداری امنیت هم وساتي او همدارنګه دپوځ دقومندی عمومي مرکز او زما رسمی کار ځای ته دضیاالدین دتلو مخه ونیسئ.سپین سرې مور او پلارمې هم له ماسره دپوځ په کورکې ژوند کاوو او ضیاالدین ته هیڅ موانع نه وو چې هلته ولاړ شی. هغوی ته دغیرضروری تشویش منځ ته کول هم نه وو.
وروسته شاهد عزیز په کراچۍ ،لاهور ،پیښورکې د دریو قول اردوګانو له قومندانیو سره اړیکی ونیولې او له هغوی نه یې وغوښتل اوضاع ترڅیړنی لاندې ونیسئ. دکویټی په پوځي مرکز کې له طارق پرویز سره داړیکی دنیولو هیڅ دلیل نه وو ،ځکه هغه په بل ارګان پوری تړلی وه. ولی شاهد عزیز دهغه له مرستیال سره اړیکه ټینګه کړه چې ویل یې ،هرڅه سم دي.
لاهور دپلازمینی په ۴۳۰ کیلومترۍ کې دڅلورمې قول اردو کوردي. لاهور با اهمیته اوحساس ښاردی.دا دپنجاب ایالت مرکز او دهند پولې ته نیږدې دی. ډګرجنرال خالد مقبول دپنجاب دقول اردو مشر دلاهور د ۲۴ کیلومترۍ په) کوجرانواله ) کې اوسیده. دهغه په نشتوالی کې دلاهور په قول اردو کې مشرافسر تورنجنرال طارق مجید وو.هغه دمطالعي په خونه کې وو چې میرمنې یې ورته غږ کړی وو راکوز شی او زما دګوښه کیدو خبر په ټلویزیون ووینې.

په داسې حال کې چې وچ شوی وو -د پوځ عمومي قومندانۍ ته يې زنګ وهلی وو او دلاربنوونې غوښتونکی شوی وو. شاهد هغه ته ويلي وو چې د پنجاب والي ونيسئ او دلومړي وزير د دوميشت غالو- دټلويزيون او راډيو د دستګاه او هوايي ډګر واک واخلئ.هغه همدارنګه طارق ته ويلي وو چې ښارته ټول تګ راتګ دې وڅاري.
طارق خپل يوه حنرال ته چې دلوا د داخلي امنيت قومندان وو زنګ وهلي وو او داسې امرونه يې صادر کړي وو.دمازديګر د پنځه نيمو په شا او خوا کې ډګرمن شاهد علي او جاويد سلطان د اسلام آباد نيمايي لارې ته رسيدلی وو.
دهغوي دنده دلومړي وزير يوشمير وزيرانو او دهغوی دملګرو نيول وو.کله چې د(اساسي قانون) سړک يا واټ ته ورسيدل دلومړي وزير کور او دټلويزيون اداري ته لوی سړک يې په وسلو سمبالو پوليسو ډک وليد.لکه چې دلاريون کونکو په تمه وو- هغوي دزغره والو ګاډو او دسرتيرو له دريو سرخلاصو موټرو سره مخامخ شول چې دسرتيرو سرونه پاس ترې راوتي وو.پرسړک امنيتي خنډونه او سيمان غزول شوی وو ،چې دناپيژانده موټرو د ننوتنو مخه ونيسئ.دې ډارونکې ننداری معمولا هرچاته دبيا فکر کولو جرات ورکاو.هغه ښه کار چې نواز شريف کړی وو دا وو چې ځواکونه يې راغوښتي وو ،ځکه چې هغه پخپله يې نشو کولای دپوځ ډلګيو ته امر ورکړي چې د ده څنګ ته ودرېږي،خو ددغه حالت په منځ کې جاويد سلطان او شا هد علي راغلل ،پوليس يوخوا شول او هڅه يې ونکړه چې دهغوی له ماموريت څخه مخنيوی وکړي -پوليس پوهيدل چې که دپوځ له سرتيرو سره زور وکړي نو وروسته دنور سرتيرو په راتګ سره به دوی هيڅ نه وي او يا کيدای شي دنواز شريف له اداري نه ستړي شوی وي.
کله چې علی او سلطان راولپينډۍ پريښود ،شاهد دلومړي وزير دساتونکو مشرجګړن ته زنګ وواهه او ورته يې ويلی وو چې کور بند کړی ،خو ددغه جګړن ميرمنې ويلي وو چې هغه بهر ته وتلی دي او ګرځي. خو له نيکمرغه هغه دلومړي وزير په چمنونو کې ګرځيده او ژر راپيدا شو.ژرېې کوربند کړ او دپوځ ساتونکو ته يې دپيښې په اړه معلومات ورکړل چې څه به کيږي. هغه همدارنګه هغوی ته ويلي وو چې له مشر سره يې غيرعادلانه چلند شوی او هغوی ته يې دترسره کيدونکو عملياتو په اړه معلومات ورکړي چې فکريږي کاوه دمشرلخوا يې رهبري کيږي.
همدارنګه دولسمشر دساتلو جګړن ته دجاويد سلطان لخوا امر وشوچې دولسمشر کور وتړي او بيا دې ورته نيږدې دټلويزيون اداري ته و رشي او دهغه واک دی واخلي، دولسمشرکور وتړل شو.
دمازديګر5:40 وې چې دکراچۍ دقول اردو قومندان ډګرجنرال مظفرعثماني ته دډګرجنرال عزيز لخوا امر شو چې دهوايي ټرافيک دکنټرول د اداري واک دی واخلي او دهوايي ډګر دامنيت له مشرنويد ناصر سره دی خپل عمليات هم غږی کړي،خو ماته تل پاتی پښيمانی او دخواشينۍ ځای دا دی چې طارق قانع هوايي ډګر ته ولاړ او دملکي هوايي چلند دمشر په دفتر کې کيناست.هغه ،هغه څوک وو چې ماورسره ډيره مرسته کړې وه چې پرمختګ وکړي.خو داسې وخت راغی چې هغه بايد ځان معلوم کړی وای او حساب پرې کيده - هغه پرڅوکۍ ناست وو چې وګوری کومه خوا بريالۍ کيږي چې بيا وړونکی خوا ته ورشي.
تر5:40 پورې ځواکونه په لاهورکې په خوځښت راغلل �دوی په څلورو ډلو ويشل شوی وو. يوه ډله دپنجاب دوالي دکور خواته ولاړل چې والي ذوالفقارعلي خوسا ونيسئ -دوهمه ډله دټلويزيون د اداری خواته ولاړل ،دريمه ډله دلومړي وزير دکورنۍ هستوګنځی خوا ته ولاړه.والي دکار په دفترکی وو او د نيږدې دوه سوه کسانو يوی ناستې ته يې دوينا تياری بې نيوو.کله چې دوه سرتيری دوالي دخونې خواته ورنيږدې شول دوالي خاص ساتونکي دهغوی مانع شو ،خوژر دغه ساتونکی له مخې يو خواته شو.دقطعي قومندان ودوالي دفتر ته ور ددننه او ترې وېې غوښتل چې له هغه سره دلوا دقومندانۍ خوا ته ولاړ شي .والي قومندان په ياغيتوب تورن کړ او دخطرناک راتلونکي په اړه يې خبرداري ورکړ.
تردې وخته په پينډۍ،کراچۍ او لاهور کې دنواز شريف دکودتا دخنثي کولو له پاره ټول ګامونه اخيستل شوی وو. شاهد علي او جاويد سلطان هم اسلام آباد ته رسيدلی وو. په لاهور کې تورن جنرال طارق مجيد دپنجاب دوالي دنيولو ،دلومړي وزير د دوو هستوګنځيو دنيولو ،دراډيو ټلويزيون او همدارنګه ښارته دټولو تلونکو او راتلونکو لارو دبندولو امرونه صادر کړی وو ،خو په کراچۍ کې چې واټن زيات دی ځواکونه په حرکت کې وو .دولسمشري ددفتر په بندولو دجاويد سلطان کسان دراډيو ټلويزيون خوا ته تللي وو چې نيږدې ۲ کيلومتره لرې وو او هغه يې هم ونيوو. دماښام د ۷ بجو خبرونه چې په انګليسی ژبه وو زما دګوښه کيدو له خبر پرته خپاره شول چې بايد اول خبروای. دلومړي وزير په کورکې چې نواز شريف له خپلو ملګرو سره ناست وو دخطرزنګونه وکړنګيدل. چې دوی ټول ددې خبر په هيله وو.
دلومړي وزير پوځي منشي چې يوبريد جنرال وو خپل يونيفورم بې وکښه او وتوانيده چې دلومړي وزير له کوره بهرشي. دټلويزيون په لوربې منډه کړه او بيايې خپل لباس واغوست او دامنيت مشرجګړن ته يې وويل چې هغه ته اجازه ورکړي له څو ثانيو تا ويلو ما ويلو وروسته جګړن په ځوان احساس سره پوه شو چې دمقاومت لپاره هيڅ دليل نشته. ځکه چې نور ځواکونه به راورسيږي چې بيرته به د تلوېزون کنترول واخلي . پوځي منشي، جګړن او ساتونکي بې وسلې کړل او هغوی يې په يوه اتاق کې قلف کړل. کله چې دخبرونو خپريدل پای ته ورسيدل.ښځينه وياندې ته يو کاغذ ورکول شو- هغې په عصبانۍ ډول وويل چې جنرال پرويزمشرف دپوځ له مشرۍ ګوښه شوی او پرځای يې ډګرجنرال ضياالدين په شپږو ستورو سره دجنرالۍ رتبې ته ترفيع وکړه،خو ملت چې له کورونو يې دټلويزيون خبرونه کتل پوی شول چې څه ګرېږ شته.پوځي منشي په بريالۍ توګه دلومړي وزير کورته راوګرځيد.
په پيل کې دلومړي وزير خبری بولټن د ډار او وارخطای سره مل وو ،ځکه چې په څه کم يوه ساعت کې زما دسپرلۍ الوتکه کراچۍ ته رارسيده او پوځ بيرته

خپل مشر پیدا کاوه. په هغه وخت کې د کودتا د خنثی کولو ټولې هڅې منظمې کیدې. مګر له دغه کبله نوازشریف ما ته اجازه نه راکوله چې په کراچۍ کې کوز شم. هغه د سند په چارو کې خپل سلاکار غوث علي شاه ته چې په کراچۍ کې وو ، زنګ و هلي وو چې د پولیسو دیوې سترې قطعې سره سمدلاسه هوایي ډګر ته لاړ شي چې دا ډاډه کړي زما د سپرلۍ الوتکه په ځمکه کښېې نه ني ، او که دالوتکې کښېنا ستل د مخنیوي وړ نه وي هغه باید په یوې لرې سیمې کې وساتي او د تېلو په ور اچولو یې بېرته له پاکستانه ولېږي .
کراچۍ د پاکستان په سویل کې پروت ستر سوداګریز اقتصادي ښار دي چې دوولس میلونه او سېدونکي لري او د پاکستان د سترو بندرونو څخه بلل کیږي
.
غوث علي شا د ایالت حقیقي اعلي وزیر وو او هغه د ټاکل شوي اعلي وزیر په ځاي ناست وو . دا د نواز شریف د غیر دیموکراتیکو کړنو څخه یوه نمونه وه .
هغه ده پولیسو دیوې ځواکمنې قوې او یو شمېر وزیرانو او ایالتي چارواکو سره د هوایي ډګر خوا ته راغلل. وروسته یې د لومړي وزیر له لار ښونې سره سم د کراچې د ملکي هوایي چلند د ادارې له رئیس سره اړیکې ونیولې چې په هر قیمت وې د پرویز مشرف د سپرلۍ الوتکه باید د پاکستان په هېڅ یوه سیمه کې راښکته نه شي او بل ځاي ته یې په تلو اړباسي ، پنځه دقیقې وروسته لومړي وزیر د غه لار ښوونې د پاکستان د هوایي کرښې مشر ته هم تکرار کړې او ورته یې وویل چې خپل پیلوټ ته وو ایي له پاکستان څخه ووځي . د هوایي کرښې مشر دا فرمان واورېد ، خو بې پرې والی یې غوره کړ. په داسې حال کې چې هغوي خبرې کولې زموږ الوتکې په کراچې کې د هوایي ترافیک له کنټرول سره لومړۍ اړیکه ټینګه کړه او هغوي ته یې معلومات ورکړل چې کېداى شي الوتکه د مازدیګر په شپږو بجو او پنځه څلوېښت دقیقو باندې ناسته وکړي. د مازدیګر په شپږو بجو او لسو دقیقو د کراچۍ د قول اردو قومندان ډګرجنرال عثماني ،تورن جنرال مالک افتخار علي خان ته چې د هوایي ټرافیک له ادارې له ماسره په الوتکه کې خبرې کولې ، امر وکړ چې د چټک غبرګون یوه ډله هوایي ډګر ته ولېږي ترڅو دالوتکې د ناستې له پاره زمینه برابره کړي .
لومړي وزیر په ډېرې بې قرارۍ سره د هوایي چلند عمومي رئیس ته زنګ وهلي وو او ورته یې ویلي وو چې زما د سپرلۍ الوته اوبوظبي او یا د مسقط په لور ولېږي ، نه دوبۍ ته. د هوایي ترافیک د کنټرول عمومي مشر بې رخ کړ چې دالوتنې پر مختګ په اړه ترینه و پوښتي او د هوایي ډګر د بندېدو دلړۍ موضوع یې تر څېړنې لاندې ونیوه. چې زما دالوتکې ناستې ته دا جازې نه ورکول تر هغه چې په خپله ده نه وي غوښتې قطعي کړي. څو دقیقي وروسته جنرال افتخار د هوایي کنټرول له ادارې سره اړیکه ونیوله او مخالف د ستور یې صادر کړ. هوایي کنټرولوونکي باید زمونږ الوتکه بلې خوا ته ونه لېږي او په کراچۍ کې ورته د ناستې اجازه ورکړي- افتخار ته په ځواب کې وویل شو چې د هوایي چلند له عمومي اداری سره په تماس کې شي.افتخار مشکوک شو او فوراً یې بابربټ خپل برید جنرال ته امر وکړ چې ژر هوایي ډګر ته ولاړ شي او د هوایي ټرافیک د کنټرول د اداری واک په لاس کې واخلي.طارق فاتح ته هم وویل شو چې سمدلاسه هوای ډګر ته ولاړ شي او که اړتیا وه نو له زوره دې کار واخلي چې د ( pk-805) الوتنه ډاډه ناسته وکړي. خو لکه څرنګه مې چې وویل طارق فاتح هیڅ کار ونکړ او سیل یې کاوو.
لکه څرنګه چې د ټلویزیون په اداره کې یوه مامور جګړن وړاندوینه کړې وه ډیروخت تیرنشو چې دیوه سرګروپ په مشری یو قوی قطعه د پنجاب د څلورم غنډ له سرتیرو سره د ټلویزیون په اداره کې د مقاومت مخه ونیوله ، او د ټلویزیون خپرونی پرې شوې او توره پردي خوره شوه ،خو ژر شپین ګل د ټلویزیون په پردو راغي او ورپسي پوځي موسیقي وغږیده.اوس نو ټول خلک پوه شول چې د کودتا ضد چاري روانی دی او ډیرژر به د نوازشریف دوهم ځلي واک پاي ته ورسیږي.
د دفاع وزیر چې دوزارت په مقرکې یې ټلویزیون ته کتل هم همدا فکر کاو.
نه پوهیږم نواز شریف او ملګرو به یې هغه مهال څه فکر کړي وي چې د تلویزیون پردې یې توری او بیا پري شپین ګل راښکاره شو ،خو ترکومه چې زه هغه پیژنم احتمالا یو څه به خپه شوی وي. جشنونه پیل شول. د ټلویزیون د دفتر شاته د خلکو ستره ډله راټوله شوه ،دا خلک ،بډایان،فقیران،مدیران، کارګر،ښځي او..... و. ټول له رژیم نه ستړی شوی وو. دوي په بی صبری سره د هغه دله منځه تلو په هیله وو. د پاکستان ډیر سفیران او دیپلوماتان د ټلویزیون د دفتر خوا ته راغلل او له خپلو موټرونو راکوز او د خوښو خلکو له ډلې سره ملګری شول.هیڅوک د تاو تریخوالی د پیښیدو په اړه اندیښمن نه وو.ډیرژر د غه ډله په سترې ډلې بدله شوه چې بیایې ټرافیک له کنټروله ووتل، خلکو د نواز شریف پرضد شعارونه پیل کړل. شریني او شربت یې وویشل،خو دالوتکی سپرلۍ زما په ګډون له دغه کاره خبرنه وو . مونږ دالوتکی د قیمتي تیلو د پای ته رسیدو او ناستی انتظار ویسته.
څو شیبې وروسته د ټلویزیون په پرده د شنه ګل په لیدلو د پوځي استخباراتو یو ځوان جګړن د دفاع وزیر ته ورغی او هغه یې د پوځ د پوځي عملیاتو اداری ته وغوښت.کله چې د دفاع وزیر هلته ورسید ،د کودتا ضد درې مشران یې منتظر وو.هغه یو ځل متوجه شو - د غو مشرانو ورته وویل چې لده او ورورسره یې چې د نوازشریف د کابینې وزیران وو.هیڅ ستونزه نلری ،خو ترینه ویې غوښتل چې لدوی سره پاتې شي.د غو مشرانو همدارنګه وویل چې پوهیږم د ماښام ډوډي یې نده خوړلی. دوی ورته خوندور خواړه تیار کړی. اوس نو زما د ګوښه کولو په اړه د دفاع وزارت ته هیڅ لاره نه وه پاتې. ترکله چې د دفاع وزارت د پوځ د مشرد ګوښه کیدو لیک لاسلیک نکړی- د پوځ مشر نشی لری کیدای. حتی د ټلویزیون د خبرله خپریدو سره ،سره هم. زه لاهم په رسمی او قانوني ډول د پوځ مشروم .سترې محکمی وروسته زما پرضد دیوې دوسیې پروخت وویل(جنرال پرویزمشرف،چې د پوځ مشراو لوی درستیز دی،قانوني واک لري او دهغه ګوښه کیدل غیرقانوني کاروو.

کله چې نواز شریف غوښتل زمونږ الوتکه ( هند ) ته ولیږي آیا پدې کارسره یې خیانت نه کاوه.؟ درا ډیو ټلویزیون تربیانیولو وروسته ډګرمن جاوید سلطان دولسمشر دکورخواته ځی او ډګرمن شاهد علی دلومړي وزیر دکور په لورخوځیږي. پردی خوشحاله یم چې شاهد علی نه پوهیده چې نوازشریف زما دسپرلۍ له الوتکی سره څه ډول چلند کړي وو او که پوه شوی واي کیدا ی شی ورانی شوی واي. دشاهد علی دنده دا وه چې لومړی وزیر اودهغه ځانګړي یاران ونیسي او توقیف یې کړی.
په لاره کې شاهد ته دډګرجنرال سلیم زنګ راغی. چې تازه دنوازشریف لخوا دپنډۍ دقول اردو دقومندان په توګه د ډګرجنرال محمود پرځای ټاکل شوی وو. هغه وارخطا وو.ځکه سره لدی چې هغه پوځی جامی درلودی خوساتونکو هغه دلومړی وزیردکور د دروازی شاته درولی وو او دننوتو اجازه یې نه وه ورکړې. هغه دغوکسانو ته دخطرناکه راتلونکی اخطارونه ورکړی وو ، خوګټه یې ونکړه. شاهد علی مودبانه ، خو په جدی توګه هغه ته وویل چې دلومړی وزیر کورته په ورننوتو دی ټینګار نه کوی او ترکومه چې ساتونکی پوهیږي ډګر جنرال محمود احمد لاهم دپنډۍ دقول اردو قومندان دي او که زوروکړی هغوی یې دبندی کولو امرهم لري.لاله وړاندی جګړن دلومړي وزیردکور دروازه تړلې وه ، خو شاهد علی خپل یوشمیرسرتیری هلته پریښودل چې دکوردبهرنی اصلی دروازی ساتنه وکړی او لږوروسته له خپلو پنځو سرتیرو سره دلومړي وزیراصلی ودانۍ ته ور دننه شو. په ودانۍ کې یوه بله دروازه هم شته چې لس یولیس سرتیرې پکې موظف وو.شاهد علی په هغوی غږوکړچې خپلې وسلې پرځمکه کیږدي. ټولو امرومانه هغوی له پوځ سره دمقابلې توان نه لیده. که هریوه سرغړونه کړې واې کیدا ی شي وینې تویې شوې واي. هغوي یوڅو پوځي سرتیری له ټوپک سره داصلی دروازې په لور بوتلل او دنورو بی وسلې شویو پولیسو خواته ودرول شول.
په همدې وخت کې چې لومړی لمبرلوا دلومړي وزیر کورته وردننه شو او پولیس یې بې وسلی کړل زمونږ پیلوټ په مخابره کې وویل چې د(۴۵ ) دقیقو تیل لری او که په کراچۍ کې اجازه نه وي یوازی ( نوابشاه ) ته تللای شي. نوازشریف دموضوع په پوهیدو سره پوه شو چې لوبه یې بایلودی او لومړی لمبرلوا دده رسمی هستوګنځي ته وړاندې ورننوتې او څو دقیقې وروسته به پخپله هم ونیول شی او حکومت به یې راچپه شي.لومړي وزیر لاهم ویل چې زمونږ الوتکه دی له هند پرته بل چیرته کښېته شي.
دمازدیګرد(6:30 ) په شاو خوا کې دکراچۍ هوایی ډګر وتړل شو ، څراغونه یې مړه او تیاره کړی اوټول موټر دسړک پرغاړه درول شوې وو. ټولې کورنی الوتني نورو هوایی ډګرونو ته واړول شوې او نړیوالۍ الوتنې په بهر کې ځنډیدلې وې.
نوی ریښتینی خوځښت پیل شو.نیږدي وو چې دواړه غاړی تاوتریخوالی پیل کړی.شاهد علی له دو دریو سرتیرو سره دلومړی وزیراصلی ځای ته ورسیده او هلته د(۱۷ ) تنو په لیدلو حیران شو.هلته نیږدې تور رنګه موټر چې څلورستوری پلیټ یې درلود ولاړ وو ، چې معلومیده دیوه څلورستوریز جنرال موټردي.داسی ښکاریده چې ضیا الدین دلومړي وزیر کورته ررسیدو وړاندې خپل ځان ته دپوځ د یوه مشر ټول اړونده شیان برابر کړي وو . جنرال ضیاالدین دپوځ په جامو کې دیو جګړن او دوو پوځیانو سره چې دځانګړې ګارد څخه وو ، په تالار کې ولاړ وو . همدارنګه دپولیسو دځانګړې قطعي ځواکونه حاضر وو . همدارنګه دپاکستان دامنیت اوستخباراتو دعمومي مشر ساتونکی ګارد هم وو. په همدې توګه ډګر جنرال اکرم چې زما مهم جنرال وو ، خو نوازشریف په دې وروستیو کې د ډګر جنرال عزیز خان په ځاي دپوځ دقول اردو ګانو دمشر په توګه ټاکلی وو هم حاضر وو . اکرم هم ورته لباس اغوستی وو .
دمازدیګر په اوو بجو اویولسو دقیقو کې ( هوایي ډګر ) ته دتلو داجازې نه پوره یوه دقیقه وروسته جنرال بابر بټ په اشتباه کې دهوایي ترافیک پخواني برج ته ورسېد. چې دکراچۍ دهوایي ډګر دزاړه ترمینل په ودانۍ کې دي. کله چې پوه شو څو تنه کنټرولونکي یې له ځانه سره کړل چې د هوایي کنټرول اصلي برج ته یې بوزي ، کله چې اصلي برج ته راورسېدل دهوایي چلند داداري عمومي مشر خبر شو چې جنرال بابر بټ او ځواکونه یې اصلي برج ته ورسېدل او کنټرولونکو ته وایي چې الوتکه په کراچۍ کې کښېنوي. ددې خبرې په اورېدو سره عمومي رئیس ویلي وو ، که ممکنه وي ( اول نفر ) یانې زه له الوتنې بهر ( ګرانده ) شم.کنټرولوونکو ځواب ورکړ هغه څه چې دوي پو هیږي دادي چې په کراچۍ کې د دالوتکې دناستې اجازه ورکول شي. هغه وخت دهوایي چلند عمومي مشر په کراچۍ کې دناستې اجازه ورکړه او دهوایي ډګر څغاست لیکه پاکه او څراغونه یې روښانه شول .
څو دقیقې وروسته تورن جنرال افتخار دهوایي ترافیک دکنټرول برج ته ورسېد �پاتې یې تاریخ دي - دلومړي وزیر په ودانۍ کې له یوڅه کشمکشس وروسته ډګرمن شاهد علي او یو شمېر سرتیري دکور ځانګړې سیمې ته ورننوتل دناستې په خونه کې یې نواز شریف و لید چې له ضیاالدین ، اکرم او دنوازشریف له زوي حسین سره چې داوبوظبۍ او ملتان په سفر کې ورسره وو . سید مهدي او دحساب دارۍ دخطرناکې اداري منشې سیف الرحمن چې دنواز شریف مخالفان یې سخت ځورول ورسره ناست وو . شاهد په دهلیز کې یو کس ولید چې دهوایي چلند دعمومي مشر له پیغام سره دنواز شریف په لورې روان دي او ورته وایي چې دالوتکې تیل په خلاصیدو دي او نه شي کولاي دپاکستان نه یې بهر وباسو او که دناستې اجازه ورنه کول شي ممکن دپیښې ښکارشي . وروسته معلومه شوه چې دا دریم ورته پیغام وو چې هیڅ پام ورته نه وو شوی .
شاهد علي خونې ته ور دننه شو او ټول یې ونیول. نوازشریف په سوځېدلي ډول پوښتنه وکړه ، ایا پوځي قانون پلی شوی ؟ شاهد وویل چې هغه نه پوهیږي ، سیف الرحمن په ژړا پیل وکړ� نوازشریف وارخطا معلومېده .
شهباز شریف چې دنواز شریف کشر ورور و رک وو . شاهد علي ته یې وویل چې هغه حمام کې دي. هغه له شهباز څخه وغوښتل چې را ووځي . شهباز وویل

وايې وريدل ، ځو يو څه وخت رابهر نه شو . دهمدې له پاره شاهد علي دروازه په زوره خلاصه کړه او شهباز دکموډ خوا ته ولاړ وو او دنواز شريف دوينا هغه ليک يي په اوبو کې ورکاوه چې دکودتا تر پاي وروسته يي بايد لوستی واي .

شهباز له حمامه را وايستل شو هغه تر ننه وايي چې دکودتا له پروګرامه خبر نه و خو دنواز شريف د وينا دمتن ليکونکی ټينګار کوي چې نواز دشهباز له سلا پرته هيڅ مهم کار نه کاوه . اوس يوازې خدای پوهيږي . دماښام تر اوو بجو او پنځه څلوېښت دقيقو پورې په ټول هېواد کې دنواز شريف کودتا ناکامه شوه . زما دسپرلۍ الوتکه دماښام په اوو بجو او اته څلوېښت دقيقو کراچۍ ته ورسېده . دماښام په اتو بجو او دېرشو دقيقو ډګر جنرال محمود احمد دراولپنډۍ دقول اردو قومندان دلومړي وزير کور ته ورسېد او له نيول شويو سره يي يو ساعت خبرې وشوې چې وروسته دپوځ بيلا بيلو زندانونو ته يوړل شول .

کله چې د کراچی د قول اردو قوماندانی ته ولاړو ، ټول يو ډول ګنکس وو . پرېکړه مو وکړه چې هيڅ کار په بيړې سره نه کوو لومړی تر ټولو مهمه داوه چې ملت ته ډاډ ورکړو خو بې له کومې ژمنې ، د وينا د متن په ليکلو مې پيل وکړ کله چې مکمل شو د ټولو تائيد يې ترلاسه کړ .د هوايي ضد توپچي اداري د يوه کوماندو جاکټ مې وغوست ،ځکه چې ملکې جامې مې اغوستې وې کله چې د سهار په ۲:۳۰ له خونې او ځای راووتم او خپل ملت ته مې وينا کوله ميز مې پرتوګ پټ کړی وو کله مې چې وينا پای ته ورسيده يو ځل بيا مې دا فکر ته راغله(( چې په کوم ځای کې راکوز شوی يم .((

# ۱۵ څپرکی

## د ترهګرۍ د کالبد يا بدن پيژندل

ولي نواز شريف دا کار ترسره کړ ؟ ولي يې سياسي ترهګري ترسره کړه؟ ددغو سوالونو ځواب کيداي شي د تل له پاره معما وي.
ما ډيره هڅه وکړه چې د پوځ همکار مشر و اوسم. تل به مې له نوازشريف څخه پوښتل چې پوځ څرنګه کولی شي له لړ زيدلي حکومت سره يې مرسته وکړي ؟ هغه له ما غوښتي وو چې (( د اوبو او برېښنا د پراختيا ))د ماتيدونکې اداري په ستر شرکت کې ورسره مرسته وکړم چې د له منځه تلو څخه وژغورل شي. ما دغه سخت ماموريت ومانه ،پوځ د ۳۲ زره ځواکونو په ګمارلو سره دغه شرکت را ژوندی کړ.
نوازشريف همدارنګه له ما غوښتي وو چې د قضايي قوې څخه ملاتړ وکړم. ما پوره تياری وښود. د ترهګرۍ ضد ځو پوځي محکمې مو جوړې کړې او د ترهګرو دغه ډلې مو محدودې کړې.له دغو مرستو سره سره له همغې لومړۍ ورځې زمونږ ترمنځ اختلافات وو. ما فکر وکړ چې اختلافات جزي دي ، خو نوازشريف ټول جدي نيولي وو. د پوځ مشرۍ ته له رسيدو څو ورځې وروسته هغه د پوځ د ۲ تورنجنرالانو پرضد خبرې وکړې. چې د هغوی په وفا داری يې شک درلود. له مايي وغوښتل چې هغوی ګوښه کړم. دا ډيره غټه غوښتنه وه . ما ځواب ورکړ چې دا کار نشم کولی. مګر دا چې د هغوی پرضد د رسمي تورونو پاڼه راکړل شي. بيا به له هغوی نه پوښتنې ګروېږنې پيل کړم چې هغوی ته د احتمالي خلاف کاريو چانس ورکړل شي. تر يوې مياشتې زيات يې په مستقيم او غير مستقيم ډول دمنځګړو په واسطه پر دغه غوښتنه فشار راوړ . په پای کې ما بې له پردې دغه امر ونه مانه. ورته و مې ويل چې نشم کولی دوه تورنجنرالان د اوازو او ګمانونو پر اساس په ظلم سره ليرې کړم.بل اختلاف زمونږ ترمنځ څو مياشتې وړاندې هغه وخت پورته شو چې د (( فرايډې ټايمز )) اونيزې مشر د لومړي وزير په امر بندي شو. اول يې ماته وويل چې ددغې دوسيې مسوليت واخلم او د اونيزې مشر د (( ای اس ای )) د لاهور په يوه زندان کې وساتم ،قصدا مې دا کار وکړ .ځکه چې د پوليسو له تاوتريخوالي او ظلمه ليرې وي. په ځانګړي توګه مې د ( ای اس ای (ته امر وکړ چې دغه خبريال په امن کې له ظلمه ليرې وساتي .
کېسه دلته پای ته ونه رسيده ، سبا لومړي وزير له ما ترډې درنه او سخته غوښتنه وکړه چې خبريال پوځي محکمې ته وسپارم،ټکان مې وخوړ. په پيل کې نږدې وو ،وخاندم او فکر مې وکړ چې حتمي ټوکې کوي خو لومړي وزير خپله کورنی دنده ترسره کړې وه. هغه وويل د خيانت په اړه د پوځي محکمې ترسره کول قانوني کار دی.دا ټکان ورکوونکی وړانديز وو چې لومړي وزير زما مغذونو ته راکړ. بيا مې له پرې پرته غوښتنه رد کړه او ددې کار ملي او نړيوال زيانونه مې توضيح کړل. زما منکر کيدل د اونيزې د مشر د خوشې کېدو لامل شو.
زما له خوا دغه ډول مخامختيا لومړی وزير په دغه پوست زما په ګومارلو پښيمانه کړی وو. هغه فکر کړی وو چې زه مهاجر هلک يم او د هغه غوښتنو ته به تسليم شم. داسې چې خپل ځان او څوکی په امن کې وساتم، او د هغه د لوبې وسيله بهٔ شم. بل څه نه و ،فقط همدا فکر کيدای شي، خو په پوځ کې دا لنډ نظر نشته. ځکه چې مونږ ټول پاکستانيان يو او نوازشريف هم په دې نه وو پوه شوی چې دغو ټولو هرڅه خوشې کړي او پاکستان ته راغلي نو دې ته وطن پرستي وايي.پاکستان د هند مسلمانانو ته پو پنډغالی شو ، چې د هغوی د هندوانو له سياسي او اقتصادي مشرۍ او ټولنيز تبعيض نه خلاص شي. زما کورنی يو له هغو کورنيو څخه وه چې په نوي هيواد کې يې پناه واخېسته. مونږ ددغه هېواد نيکمرغي او پايښت ته ژمن يو. مونږ هيڅ هغه شی ته تسليم نه شوو چې پاکستان ته زيان رسوي.د کارګيل کېسې زما او د لومړي وزير ترمنځ لوی درز رامنځته کړی وو ،مونږ دواړو غوښتل چې له سياسي او اقتصادي نظره کشمير د نړيوالو په پرده جلا ووينو.د کارګيل ابتکار دې موخې ته ورسيد ، خو بهرني فساد اود نوازشريف خارجي سياست ديته اړ کړ چې له ازادو شويو سيمو څخه په شاشي او هغه تسليم شو. هغه ددې پرځای چې د ملي يووالي له لارې ځواک ترلاسه کړي ،پوځ يې پړ وباله او کوښښ يې وکړ چې ځان پاک وښيي.داسې فکر يې وکړ چې د کارګيل د عملياتو له جزئياتو منکربدل به ورته ګټه ورسوي، په ورځپاڼه کې راغلې ټولې مقالې په دقت برابرې شوې وې. له هغې جملې په يوې امريکايي ورځپاڼې کې يوې تبليغاتي پاڼې چې د پوځ او حکومت بدنامی او تفرقې ته يې لمن وهله. د کارګيل د مسلې په اړه لومړي وزير منځنۍ لاره غوره کړه چې له ما او پوځ سره په ټکر کې راغی.زما او د شريف ترمنځ پر دغو څو مورده روښانه اختلافاتو سربيره ما څو ځلې جرآت کړی وو چې هغه ته نصيحت وکړم چې څه ډول کولی شي حکومت تقويه کړي. دغه نصيحتونه د هغو مخ په زياتېدونکو اعتراضونه يو ډول ځواب وو چې د خلکو او روڼ اندو له خوا راباندې شوي وو چې بايد غبرګون وښيم .ځينو خو حتي دومره جرات وکړ چې ماته وواييي د هېواد واک واخلم. يا به يې پوښتنه کوله چې ولې د هېواد اداره د ملت د ژغورنې له پاره نه اخلم؟ زه سره لدې چې د هغوی له اوازونو سره موافق وم او پوهېدم چې حکومت په غلط لوري روان دی ،هيڅ بهانه او قانوني قالب د مسايلو د مطرح کولو او د هغه د سمونو له پاره په لاس کې نه وو. په ځانګړي توګه کله چې نوازشريف د قدرت ټولې ستنې له هغې جملې نه د جمهوري رياست قانوني واک هم د پاکستان د ملي شورا د له منځه وړلو دحق په ترلاسه کولو سره د ځان کړی وو.
په داسې وخت کې ولس مشر هم نشو کولی لومړی وزير او کابينه يې ګوښه کړي .نو له همدې کبله د نوازشريف پرواک هيڅ څار نه کېده او په رښتيا چې د کودتا له پاره بې هيڅ قصد نه درلود. زما په فکر ښه لاره داوه چې په همدې سياسي پروسې سره مو اجازه ورکړې وای چې خپله لاره مخ پر وړاندې ووهي.
په پاکستان کې دا معمول خبره ده چې خلک او يا روڼ اندي د پوځ له مشر سره وګوري او يا ترې وغواړي چې ملت وژغوري. په ټولو بحرانونو کې ټول خلک د پاکستان پوځ، دملت ساتونکی بولي. کله چې حکومتونه خراب شوي، کله چې د لومړي وزير او د ولس مشر ترمنځ کړکيچ رامنځته شوی ، د ((۱۹۹۰ ))

لسيزې په اوږدو کې ټولې لارې د پوځ د قوماندانۍ خواته خلاصې شوې او د پوځ له مشر نه غوښتل شوي چې په لومړي وزير فشار راوړي چې ښه کار ترسره کړي ، د فساد څخه لاس واخلي او خيانت ونکړي. د پوځ مشر هم د ولس مشر او لومړي وزير د ټولو شخړو منځګړيتوب کړی دی.

د ۱۹۹۹ په اکتوبر کې پاکستان په چټکۍ سره د سياسي او اقتصادي چپه کېدو په لور روان وو. په دغو خرابو شرايطو کې زما د کارونو د ښه ترسره کولو په لړ کې د لومړي وزير سره د همکارۍ په لټه کې وم. د خواشينۍ ځای دی چې هغه زما د ښو مقصدونو په اړه بې باوره شو. سره لدې چې شريف يو ښاری هلک وو. خو فکري جوړښت يې ډېر د فيوډالانو په څير وو. هغه په دغو اختلافاتو بل ډول اشتباه کړې وه. زما له وفادارۍ څخه د هغه ناپوهي ، هغه زما له خوا د کودتا د کولو په غلط فکر کې غرق کړی وو. داچې ولې نوازشريف دا کار وکړ ؟ ددې اساسي نظريې شته.

اول احتمال:_ کيدای شي نوازشريف غوښتل ما د يوه کال له پاره د پوځ د مشر په توګه وساتي. په داسې حال کې چې د پوځ د رياست دوره درې کلنه وه او د يوه کال په تيرېدو سره ماته د لوی درستيز د دندې په راکولو سره ماچپ کړي.

او يوه بل جنرال (( ضياالدين ) ) ته ارتقا ورکول شوه چې د ( ۲۰۰۲ ) کال په ملي ټاکنو کې مثبت رول ولوبوي .

دويم احتمال:_ لکه چې مخکې مې وويل احتمالا نوازشريف هيله درلوده له هند سره زما د مور او پلار په رامهاجر کېدو سره زه د هغه زيات مهم لوبغاړی او سم. خو کله چې په خپله تير وتنه پوه شو زماد له منځه وړلو په فکر کې شو. هغه احتمالا فکر کړی وو چې زما پرضد ګام بۀ يې پر پوځ واک زيات کړي. او د هند يانو او امريکايانو د خوښې له پاره به يې هم يوڅه کړي وي.

دريم احتمال:_ زما تر مشرۍ لاندې کودتا څخه ويريده او لکه د ضياالدين غونډې ملګرو يې د نوازشريف په مغزونو کې دا بدګماني وراچوله چې کيدای شي زه کودتاه وکړم .دې کار ډېر اندېښمن کړی وو .د همدې له پاره يې غوښتل ما تر خپل ګرت لاندې راولي.

که يې لامل همدا وي و نوازشريف سياسي ترهګری ترسره کړه. په دې اړه مې ډېر فکر کړی دی او دې پايلې ته رسيدلی يم که يو لامل نوازشريف دې کار ته اړ ايستی وي نو هغه به داوي چې لومړی وزير غوښتل په راتلونکو ټاکنو کې يو فرمانبرداره پوځي مشر ولري.

د ملي شورا ولسي جرګې تردې مخکې په اساسي قانون کې ۱۵ ځل بدلون هم راوستی وو. چې (( شرعي قانون ) ) نوميده دغه قانون د نوازشريف واک لکه د منځنيو پيړيو د بادشاهانو غونډې قدرتمند کاو. پاکستان د دريو اساسي قانونونو په نتيجه کې يو اسلامي جمهوري هېواد وو. خو هڅه مو کړې ده چې دحکومتي او مذهبي چارواکو ترمنځ مو توپيروي. په اساسي قانون کې دنويو بدلونونو (( د شرعي قانون ) ) د پلي کولو ټول واک د لومړي وزير سره وو. ددغه قانون تصويبېدل يوازې د مشرانو جرګې ته پاتې وو. نوازشريف د ۲۰۰۲ کال د مشرانو جرګې د ټاکنو په هيله وو چې ۲ پر ۳ برخې څوکۍ پکې ترلاسه کړي چې دا ډول تشريفات په اسانۍ ترسره کړي.

د پاکستان په مشرانو جرګه کې د ۴ واړو ايالتونو مساوي استازي شته. له هغه ځايه چې د نوازشريف ګوند په ايالتي شوراګانو کې زياتې څوکۍ درلودې دټاکنو پايلې يې له وړاندې روښانه وې ددغه کار په ترسره کېدو سره د مشرانو جرګې په اساسي قانون کې بدلونونه تائيدول.

نوازشريف وړاندې په اساسي قانون کې د بدلون له پاره د خپل ګوند د پارلماني غړو په منځ کې عقيدوي اختلافونه حل کړي وو. د ولسمشر له خوا د ملي شورا د منحل کولو واک يې هم غصب کړی و ، يوازې هغه څه ته چې دغه غير پوځي ديکتاتور اړتيا درلوده داوه چې (( اميرالمومينين ((شي.

ډګرجنرال ضياالدين احتمالا چې همغه کس وو چې دده په فکر کې ګرځيده چې دا کار به هم پرې وکړي. چې نوازشريف خپل څنګ ته دراوو. او که داسې فکر وکړو چې دغه وفادار کشميری ضياالدين کيدای شي زما پرځای ښه ځای ناستی وي. ضياالدين د کارګيل د کيسې نه په ګټې اخېستو سربيره لومړی وزير ډېر ويرولی وو او ديته يې ورساوو چې زه به هغه له خپلې څوکۍ ليرې کړم. د استخباراتو د مشر په توګه د هغه خبرې ډېر وزن درلود.

د نوازشريف کودتا ته د پوځ تريخ غبرګون نه يوازې د پوځ بل سپکاوي ته يوځواب وو ، بلکې د پاکستان خړ سياسي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت ته په کتو سره دا يوه اړتيا وه. مونږ د يوه ماتې خوړلي دولت، ناکامه او حتي ترهګر هېواد د پيژندلو څنډو ته نږدې شوي وو .اقتصادي پرمختګ مخ کښته روان وو مرکزي بآنک ته دلسو ورځو د وارداتي اسعارو په پاتې کيدو سره ماتې خوړلې وه. وروسته له هغه چې ((۱۱ ) ) مليارده سپارل شوي بانکي حسابونه ،حساب ته رانغلل ،نوازشريف مجبور شو په خارجي اسعارو خصوصي حسابونه منجمد کړي.۲۰ مليارده ډالره د پراختيا په ډګر کې په تيرو يوولسو کلونو کې پانګه ونه شوې وه. خود يوه ۳۷۰ کيلومټري سړک له جوړېدو پرته يې پايله صفر وه ،فرقه يې ډاراچونه په زياتېدو وه. سنيان او شيعه ګان په پرله پسې توګه وژل کېدل، پوليس بيخي بې روحې شوي وو ، بې قانوني واکمنه او قانوني محکمې له مجرمينو خالي وې.

ملت هم روحيه له لاسه ورکړې وه او دهېواد د راتلونکې په اړه يې د ناهيلی نښې ښکارولې، خلکو د پاکستاني والی وياړ او احترام له لاسه ورکړی وو ،هغوی د بدلون هيله کوله.

نوازشريف په اساسي قانون کې په ۱۵ ځل بدلون غوښتل ټول واک غصب کړي ،چې په مذهبي واکونو ،دنيوي دکتاتور ))امير المومنين ) ) شي.

د وفادارۍ روحيه د پوځ په ټولو ادارو کې ټينګه شوه په ټيټه کچه قوماندانان ته وفاداري او احترام شته او دهغه امر بايد بې له کومې پوښتنې ومنل شي. د لوړو قوماندانانو په منځ کې د ملت د ساتنې يا اصلي ګډې موخې په اړه د وفادارۍ قوي حس شته.

زه خوښ يم چې پوځ د حقيقت په وخت کې پاکستان ته د وفادارۍ په لوړ حس او د خلکو هيلو ته په کتو سره هغوی ګام پورته کړ.

زه پر خپل پوځ او د پاکستانيانو په پرله پسې ملاتړ چې پرمايي باور وکړ چې دا ملت د امن ساحل او نيکمرغی خواته رهبري کړم ،وياړ لرم .

## ۱۲ څپرکی

د ملت بیا رغاونه

د پاکستان پیل:

کله داسې شوي چې د اوبو دحوض بیخ ته غورځیلي یاست ؟ خلک وایي د لامبو وهلو ښه لاره همداده. ځکه که لامبو ونه وهي غرقېږي. د ۱۹۹۹ داکتوبر په ۱۳ سهار کله چې په پېښه‌ی کې پوځي کورته ولاړم داسې احساس مو کاوچې زه لاندې استول شوی وم او دغرقېد هیڅ قصد مې هم نه درلود اوله همدې کبله مې وروستی هڅې کولې.

فورا مې څو موضوعګانې طرحه کړې او ل داچې نباید په هېواد کې پوځي قانو ن پلی شي. خو دانظریه په همغه شپه رد شوه. په پاکستان کې تېرو تجربو ښولې وه چې د پوځي قانون د پلي کیدو له کبله نه یواځې پوځي بنستونه وران شوي ، بلکي دغېر نظامي بنستونو ته یې دروند زیان اړولی. ځکه پو ځ په دې وخت کې په ملکي کارونو کې ورک کیږي. نو د همد ي لپاره مې تصمیم ونیوه چې پوځي قانون نه وضع کوو ، که اړتیا وه له پوځه به کار واخلو ،خو نه داچې د ملکي کارونو واک ورکړو. خوپوځ به د ملکي مدېرانو په خواکې دکارونو د ښه والي لپاره څارنه کوي.

خپل نژدې ملري جنرال محمد عزیز او ډګر جنرال محمود احمد مې را وغوښتل. او خپل نظر مې ورسره شریک کړ. هغوی فکر کاو زه به د پوځي قانون د پلي کیدو پلوی یم ،له همدې کبله حیران شول ، خپل دلایل مې ورته ووېل او زما په موخه پوه شول.

موږ به د اساسي قانون له مخې دولتي چارې پر مخ بوزو. خو د اساسي قانون ویجاړې شویې برخې جوړولو ته اړتیا لري. او یو انتقالي حکومت به رامنځ ته کړو .په پاکستان کې د ولسمشری اداره وه ، خو له واکه لویدلې اداره وه. موږ یوه موقت ولسمشر ته اړتیا درلوده. د پاکستان د اساسي قانون پر اساس لومړی وزیر د اجرییي قوي او دولت مشر دي . دهیواد وتلې قانون پوه صیف الدین پیرزاده یوه ښه لاره وړاندې کړه: د څو مادو له معلقېدو پرته نور قانون دې پلي وساتل شي او زه دې د دولت او اجرایي قوې واک واخلم.

دا نظریه مې د قول اردوګانو د قومندانانو ناستې ته وړاندې کړه. هغوی هم د پوځي قانو ن د پلي کېدو هیله درلوده او زما دنظریې په اړه دهغوی د قناعت لاسته راوړل غټ او سخت کار وو. اول هغوی جلا جلا نظر ورکړ. ټولو وویل حالاتو ته په کتو سره د نواز شریف د حکومت له راپر زولو پرته بله لاره نشته. د ټولو له خبرو وروسته ما وویل، باېد پوځي قانون پلي نکړو هغوی زما د نظریې ملاتړ وکړ. زما دحکومت دوره کېدای شي د پاکستان په تاریخ کې اول ځل وې چې د پوځي قانون له پلي کیدو پرته پوځ دهېواد واک اخلې. خو داسې ډېر مسایل وو چې په پاکستان کې به د اول ځل لپاره پیښېدل.داسې معکوسې پیښې لکه ( ذولفقار علي بوټو ) چې غېر پوځي سړی وو د پوځي قانون د پلي کېدو واک یې په لاس کې وو.

د پوځ دمشری او دهېواد د واک له منلو وروسته مې تصمیم ونیو چې ژرترژره باید ملت ته وینا وکړم او هغوی له حالاتو خبر او خپله تلاره ورته روښانه کړم. دابیانیه د اکتوبر په ۱۷ برابره شوه.

زموږ ګډه موخه داوه چې ډاډه شو چې دا به وروستی ځل وي چې پوځ دهیواد دواک اخیستو ته مجبورېږي.موږ باید داسې پلان جوړ کړو چې له مخې یې پوځ د هیواد دواک اخیستلو ته ونه رسېږي.

په همدې وخت کې مې د خپلې کابینې دغړو ا ود ډلې دنور ملرو غورا وی پیل کړ.په دې برخه کې مې ښه شهرت او بریالی تېر کار په پام کې ونیو. دپوځ له وتلو افسرانو مې یوه کمیټه جوړه کړه چې زما دډلې لپاره کسان غوره کړي. ورته مې ووېل چې له ټولو سره مرکې وکړي او دهرې څوکی لپاره د درېو تنو نوم لړ راته جوړ کړي. او وروستي پړا و ته له رسېدلو کسانو سره مې په خپله مرکې وکړې او دهغوي په اړه مې تصمیم ونیو.

ترټولو مهمه څوکۍ دمالیې وزارت وو ، ځکه چې زموږ اقتصادي وضیعت اندېښمن بلل کېده. له یوه وړوکي نوم لړ مې شوکت عزېز غوره کړ.چې یو نړیوال بانکدار او د ښه شهرت خاوند کس وو.

یو لامل چې دی مې وټاکه داهم وه چې هغه دټولنې د متوسطې طبقې وو لکه ما . پخوا مې شوکت نه وو لیدلی او نه مې پیژانده.په خپله مې زنګ ورته ووا هه او خبرې مې ورسره وکړې . ورته مې ووېل پاکستان تاسو ته اړتیا لري.ایا تیار یاست کار موخوشي کړي او خپل هېواد ته چوپړ وکړی ؟ هغه وویل ماته ویاړ رابښی ) بې پردې مې ورته ووېل هغومره معاش نشو درکولای چې تاسو یې اخلی ،ویې ویل مهمه نه ده.نو اسلام اباد ته مې را وغوښت او مرکه مې ورسره وکړه.

ټول په دې باور وو چې هغه ښه کار پوه دی او دمالیې د وزارت لپاره وړ کس دی.دا هغه تصمیم دی چې نېولو یې یوه لحظه هم نه یم پیښمانه کړی.هغه په نیویارک کې ښه معاش او ښه کور خوشي کړ او د پاکستان چوپړ ته راغی. شوکت زما دنوروا اقتصادي ملرو سره په ګډه فوق العاده کار وکړ او دپاکستان اقتصاد یې د له منځه تلو له ګواښه وژغوره .وروسته شوکت عزېز دخپل ښه کار له کبله لومړی وزیر شو.

د دولتي بانک د مشری لپاره مې هم ښه مشر ډاکټر عشرت حسین پیدا کړ.هغه له نړیوال بانک راغلي وو او په دې پوسټ د پاکستان ترټلو ښه مشر شو.زموږ هېواد بختور وو چې د سوداګری دوزارت لپاره یې ( رزاق داود ) غوندې کس وموند . هغه زموږ سوداګریز ډګر په سیمه ییزه کچه پراخ کړ.طارق اکرم د (( ریکټ او کولمان )) سیمه یز مشر مې د صادراتو د ادارې دمشر په توګه غوره کړ. دغه کسان د سوداګری د وزیر کاري ډله وه .ددوی تر ادارې

لاندي زمونږ صادرات له ۹ میلیارده ډالرو ۱۰ میلیارده ډالرو ته لوړ شو.او لاهم لوړیږي.
کابینه مې متوازنه وه. د رهبری ټیم نارینه او ښځینه غړي مې د څلورو ایالتونو وو چې دکاري وړتیا له مخې غوره شوي وو . د ولسواکی په بلاوهلې لسیزه کې کابینه د مصلحتونو له مخې غوره کیده. وړتیا او پوهې ارزښت نه درلود.
په همدې حال کې زما کابینه وړوکې وه. او ل یې لس غړي درلودل له پخوا سره یې ډیر تفاوت وو د کابینې لومړې ناسته به هیڅکله له یاده ونباسم ځکه ډیر وزیران مې یوځل هغه هم دمرکې پر وخت لیدلي وو. له دوه متقاعد ډگر جنرالانو پرته چې دواړه تر ما لوړ وو نور مې بو هم نه پیژانده.د وزیرانو لومړي غونډه مې په دې وړاندیز پیل کړه چې هر یو دې خپل ځان معرفي کړي. ما په پیل کې دخپل پخواني کار په اړه خبرې وکړې ، بیا وار شوکت عزیز ته ورغی چې ښی خواته مې ناست وو. هغه په لوړه کچه انګلیسي ځان معرفي کړ. وروسته رزاق داود په روانه انګلیسي خبرې وکړې. دو دربو نورو هم په انګلیسي ژبه ځانونه معرفي کړل. کله مې چې د وزیرانو صف ته وکتل سترگې مې د ښونې په وزیرې زبیدې جلال ولیدې چې د بلو چستان وه. په دغه ایالت کې د ښځو ښونې ته کم پام شوی. ناڅاپه مې فکر ته راغلل کیدای شي میرمن جلال په انګلیسي ځان ارامه حس نه کړي ورته مې وویل مونږ پاکستانیا ن یو په خپله ملي ژبه غږیدای شو. خو هغې پوره ځان په انګلیسي معرفي کړ.

په پیل کې د راکول شوي مسولیت په اړه خام وم او ځانړي اندیښنه مې د اقتصاد او مالیې په برخه کې نا پوهي وهٔ. تصمیم مې ونیو په دې برخه کې له شرمه پرته پوښتنه وکړم.ژر پوه شوم چې دا یو هم د راکټ پوهیدل نه دي.ټول پوه او لوستي پاکستانیان دهیواد په ستونزو پوهیدل.ډیر وخت نه وو تیر چې د اقتصاد ناروغې مې وپیژنده او د رغولو په لټه کې یې شوم.

د پاکستان اقتصاد خراب شوی وو او د ماتیدو په درشل کې وو.د فساد لمن خوره شوې وه. ټولې دولتي او خصوصي ادارې د ترخو فساد کونکو ښکارشوې وې.چې دا ټول ناوړه کسان او مدیران دولت ټاکلي وو . فساد په ټولو پوړیو کې خپور وو. لاس ته راغلې تجربې مې ښوله چې لس په سلو کې خلک بیخي پاک دي ، نور لس په سلو کې بیخي شي ککړ چې نه پاکیږي او پاتې اتیا وخت او باد ته گوري چې په کوم لوري لیږي. په ۱۹۹۰ لسیزه کې باد په غلط لوري چلیده .
په پاکستان کې د پراخ فساد په لیکلو به کتابونه ډک شي. خو دکاغذ د بچت والي لپاره به د څو نمونو راوړل بس وي.یو رپوټ چې ما د سند دوالي په کور کې پیداکړد ( ار بي او ډي ) په نوم د مردارو اوبو د وتلود نل لیکي د سیستم په اړه وو. ددغه پروگرام ترسره کونکو ددغې پروژې قیمت له ۱۱۲ میلیارده روپیو نه ۷۵ میلیارده روپیو ته راټیټ کړی وو . خو زما فکر داوو چې دغه پیسې هم ددې پروژې لپاره ډیرې دي. د پوځ څو انجنیران مې ددې پروژې او نل لیکي د ارزولو لپاره وگمارل.هغوی په سخته گرمۍ کې له۲ میاشتې سروې وروسته وویل چې دا پروژه په ۱۲ میلیارده روپیو تر سره کیږي. له یو څه تعدیل وروسته د دې پروژې لښت په ۱۸ میلیارده روپیو وانه وښت. او په همدغو پیسو او س دا پروژه تر کار لاندې ده.ددغو ۲ ارزونو ترمنځ ټولې پیسي اختلاس کیدې. ستر مالي شرم چې پاکستانۍ ملت یې عاجز کړ. په بانکونو کې د خلکو او خصوصي شرکتونو ۱۱ میلیارده ډالر وو. چې د پاکستان ددولتي بانک په اعتبار ساتل کیدل. دا پیسې د بیلانس دکسر او دپورونو دورکړې لپاره وې په لوړه کچه ترې په ناوړه توگه مصرف شوې. زه داکار د بانکي تاریخ ستره غلا بولم. دولت په بهرنیو اسعارو ټول بانکي حسابونه وتړل.چې له دې لارې د بانکونو د ماتې مخه ونیسي. او په دې کار سره ټول کورني او بهرني خصو صي شرکتونه او خلک په دولت بې باروره شول او له پاکستان نه پانګې ولاړې.
همدارنګه د ۲۰۰۱ کال په نیمایي کې د (( مارالا راوي )) دکانال د بیا رغا ونې وړاندیز راته وشو چې په ۱۴ میلیارده روپیو جوړیده. د پوځ د انجینرانو مشر راته وویل دې پروژې ته بیخې اړتیا نشته ، دا د دولتي خزانې د غلا بله لاره وه ، دغه کانال له هغه ۲ کاله وروسته هم کار کوي.
زه په دې باور یم چې د حکومت په لوړو پوړو سیاستوالو ، بیروکرتانو او د بانکونو د خاوندانو په منځ کې دومره ستر اختلاس کیده.ځکه بانکونو سیاستوالو ته دملي کونې په نوم لاره هواره کړې وه.پر اختلاس سربیره پخواني دولتونه له بې کفایتۍ او واسطه بازۍ ډک وو .له لوړو پوړیو څخه هیڅ ستراتیژیکه لارښونه نه وه شوي. ما په هیڅ وزارت او دولتي ادارو کې روڼ پلان ونه لید ، پاکستان هغې بیړۍ ته ورته وه چې په لوی سمندر کې په نامعلوم لوري بې له کوم لارښوده روانه وي .
ددغه حالت لوی قربانیان د پاکستان بیچاره خلک وو ، چې د ټاکنو په را رسیدو سره به په دروغجنو وعدو تغذیه کیدل.او تل مایوسه شوي وو.ټولې ټولنیزې شاخې لکه روغتیا ، ښونه اوروزنه او عمومي عواید په شر مېدلې توگه ټیټ وو او نور هم خرابیدل.د ۱۹۸۸ او ۱۹۹۹ ترمنځ چې خلکو په مطلق بې وزلي کې ژوند کاو او ورځني عاید یې له یوه ډالره کم وو په ټکان ورکونکې ډول په سلو کې له ۱۸ � ۳۴ ته بې وزلي لوړه شوې وه له استثنا پرته د عامه خدماتو دولتي ادارې د چاپلوسو کسانو په لاس کې وې.ډیر کار کونکې د سیا سي تړونونو پر اساس گمارل شوي وو. هره ورځ به عمو مي عوا اید ټیټیدل او اداري په دولتي سب سایډۍ ولاړې وې.د عامه خدماتو په دولتي ادارو کې ویني تویولو د سل میلیارده روپیو درملنې ته په کال کې اړتیا درلوده ، چې دمالیې ورکونکو راټولې شوي ټولې پیسې یې تر ستونې تیرولې.
بحراني مسله چې زمونږ ولسواکي یې ماته کړه د سیاسي رهبرې پر عوایدوا و لښتونو څارل نه وو .
پر لومړي وزیر یوازیني څار ولسمشر کاو چې ملي شورا منحل او لومړی وزیر گوښه کړي.

دا دامنیت یوه دربځه وه .خو ومې لېدل چې نواز شرېف په شورا کې د اکثریت په درلودلو دا هیله هم له منځه یوړه او ناورین یې تر شا راوړ . مهمه داچې دغه ځارنې د ولسمشر او لومړي وزیر تر منځ کړ کیچ رامنځ ته کړی وو .
دغه حالت ددې لامل شو چې پاکستانیان له خوبه راپاڅي پاکستانیانو هره ورځ په دولت خپل باور د لاسه ورکاو. په ځانګړي توګه ځوانان ډېر خفه وو. ما ددغې بېړۍ واک په لاس کې واخیست. ددولت دغه کښتی باید رغول شوې وای یو څه بدلون ورکول شوې واي او وړ نوې کارکونکي ورته وګمارل شي تر څو یې ښه وځغلوي .زه ژمن وم چې پاکستان په چټکی سره مخ پورته وخوځوم.

..............................................................................................................

د ۱۹۹۹ داکتوبر په ۱۷ مې ښا خلکو ته وینا وکړه چې په دې ډول وه:
ما په سختو شرایطو کې د هېواد مشرې ترلاسه کړې .چې ددې شرایطو زېږونکی زه نه وم. د باور وړ نه ده او واقعاد خواشینی ځای دی چې دحکومت پخوانی رهبری هڅه کوله د یوې دسېسې په ترڅ کې دهېواد ټېکاو وروستي بنسټ د وسله والو ځواکونو په لوړو پوړیو کې د بدلونونو په راوړلو له منځه یوسي .چا به باور کړی وو چې د هېواد دوسله والو ځواکونودمشر دنشتوالي په صورت کې هغه ګوښه ، الوتکې ته یې دناستې اجازه ورنکړي ، مجبوره یې کړي چې په هند کې کښیني او یا هم سقوط وکړي.
۵۲ کاله وړاندې مو په سختو هڅو د پاکستان په نوم هېواد جوړ کړ، خو نن ورځ له دغه تا ودې مینې څه احوال نشته. په تېاره کې ولاړ یو او نا هیلي چار پیره کړي یو. او دامید کوم څراغ نه ښکاري. دا ملت په پرلپسې توګه د نابودی خواته تللي .په ځانګړې توګه په وروستیو کلونو کې یې زور اخیستی.
نن مو دهېواد اقتصاد دماتې خواته روان دی، زموږ باور کم شوی ، دولتي بنسټونه وران شوي او ایالتي توپیرونو او جداوالي په نظام کې درزونه رامنځ ته کړي.
په ټوله کې موږ د نورو ملتونو په منځ کې خپل عزت، وقار، احترام او حیثیت له لاسه ورکړی.اېا دا دېمو کراسي ده ؟ چې لومړي وزیر یې فکر کاو ؟ ایا نوي زریزې ته د ورننوتو لاره همداوۀ.
۷ مسالې مې خپل هدف وټاکه. چې یو شمېر یې زیات وخت ته اړتیا لرله چې تر سره شي.
۱� د ملي روحیي پیا وړي کول او د باور رامنځ ته کول
۲ -د فدرالي نظام پیاوړتیا ، دایالتونو ترمنځ د تفرقې ورکول او دملي یو والي رامنځ ته کول
۳ -د اقتصاد بیا ژوند ي کول او د پانګه والو د باور جوړول
۴ -د نظم او قانون د پلي کولو د ضمانت کول او قضایي حکمونو ته د سرعت ورکول
۵ -له دولتي ادارو د سیا ست ورکول
۶ -د ټولنې لاندې پوړیو ته دواک ورکول
۷ -په ټولو ادارو کې د پاکې حسا ب ورکونې ژمنتېا

همدارنګه مې ژمنه وکړه چې دملي پانګې د ساتلو دنده به جدي تر سره کړم. له دغو ۷ موخو ۳ ته مې لومړیتوب ورکړ.
۱� د اقتصاد ژوندې کول.اود بېوزلي کمول
۲� ښه حکومت داري ، چې روغتېا ، ښونه او روزنه او ټولې ټولنېزې برخې پکې شاملې دي.
۳� په پاکستان کې دتل پاتې دیمو کراسي د پاتې کېدو لپاره د سیاسي بنسټونو جوړول.

دغو ډګرونو ته مې زیاته توجه کړې.
دهمد ې لپاره مې د حساب ورکونې ملي اداره ( ان اې بي ) جوړه کړه .چې د هغو بډایه کسانو باندې خدایي ویره خپره کړم چې هېواد یې لوټ کړی. د حساب ورکونې ځانګړی فرمان مو صادر او دغې ادارې ته مو دپوره واک دورکړې امر وکړ.
د پوځ یو جنرال مې غوښتل ددې ادارې د مشرپه توګه وټاکم. داسې کس چې صادق ، هوښیار او د پوره تدبېر خاوند وي چې له اغېز پرته د زورواکانو او بډایانو په مخالفه غاړه کې حرکت وکړي . دغه صفات مې په ډګر جنرال محمد امجد کې وموندل. او زما هېله یې پوره کړه. په لنډ وخت کې یې خپل او داداري باور پیدا کړ. وروسته ډګر جنرالان خالد مقبول ، منېر حفیظ او شا هد عزیزددغه سازمان په رهبری کې همغو مره اغېزمن راغلل. د حساب ورکونې داداري اغېز زیات وو. د بېت المال او ملي پانګې په میلیاردونه ډالره د لوټمارو څخه وژغورل شول. او د چور لېونېان ( کلپتو کراتان ) تر پلټنې لاندې راغلل.
پوهېږم چې فاسدو مشرانو ته دجزا ورکول ټول نړېوال خوښوی خو محکمې ته دداسې مفسدو سیاستوالو او مشرانو راکشول اسانه کار نه دی.خو موږ وتوانېدو له څو چاروا کو پوښتنې وکړو. نا مکملې معاملې مو اجرا کړې او د بانکونو پاتې پورونه مو ورکړل. سره له دې چې باوري وو د حساب ورکونې د

اداري په شته والي بډې او اختلاس د چارواکو او سيا ستوالو په منځ کې خپرېدو ته نه پرېږدي.
ما همدارنګه يو څېړنېزې اداري ته اړتيا درلوده چې په دولتي ادارو کې د پلټنې پر وخت د سمونو وړاندېز وکړي.ددغې اداري نوم مې دملي ښا رغاونې اداره( ان ار بي ) کېښوده. ددغې اداري دمشرۍ لپاره هوښيار، څېړونکي کس ته اړتيا وه فکر مې وکړ متقاعد ډګر جنرال ( تنوير حسين نقوي ) به داکار په ښه توګه تر سره کړي. خو هغه تر هيلې زيات اغېزمن کار په دې برخه کې وکړ. اوله دنده مې دا ورکړه چې سيمه ييز حکومتي نظام جوړ کړي. چې د سيا سي نظام ټول واک سيمو ته وويشو. هغه د(( سيمه ييز حکومتي نظام )) ټلاره جوړه او د ولسوالېو په کچه د ښې اداري لپاره يې کړنلاره وړاندې کړه. چې وروسته بې پراخه او پلې کړه. نړيوال بانک دغه ټلاره په پاکستان کې د کرار خاموشه انقلاب په توګه وپيژانده. همدارنګه جنرال نقوي د پاکستان د پولېسود ۱۸۶۱ کال دقانون پر ځای په ۲۰۰۲ کې نوی قانون جوړ کړ.دغه قانون د پولېسو قوانېن له سيمو سره هم غبرګ کړل. چې د پاکستان ملت يې له کارونو مننه کوي.
هغه ټکی چې په دغه دوره کې زه پرې پوه نشوم داو چې زما لخوا دهېواد دواک داخيستو په اړه د سترې محکمې حکم وو چې وروسته به زما د۷ موخو د پلې کولو لپاره سخت محدوديتونه رامنځ ته کړي. د ۲۰۰۰ کال د می په ۱۲ سترې محکمې د نواز شريف ګوښه کېدل او د پوځ لخوا د هېواد دواک ترلاسه کول په حقه وبلل. چې زه يې په غير قانوني توګه ګوښه کړی وم.پر ما يې دوه محدوديته ولول.چې ډېر لوبې يا يلې يې درلودې.
لومړی سترې محکمې له ما وغوښتل چې درې کاله وروسته عمومي ټاکنې وکړم. خو زه پوهېدم چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره دا وخت کم دی ، خو سره له هغه مې هم فکر کاو درې کاله کافي وخت دی . ولې نه پوهېدم چې پا کستان يوازې اصلاحاتو ته اړتيا نه درلوده. بلکې ددغه هېواد ټول بنسټونه بايد نوي شي. زه نه پوهېدم چې وخت دومره ژر تېرېږي. کله کله پيښمانه شم چې ولې مې له سترې محکمې نه زيات وخت لکه ۵ کاله ونه غوښت.
او بله داچې دمرکز او ايالتونو ترمنځ د مالي سرچېنو د تقسيم واک زما نه وو .
د عامه خدماتو او دحکومتي بنسټونو د نوي کولو څېړنه مې پيل کړه.خو ونه توانېدم دغه ټلاره پای ته ورسوم .
د سپټامبر د ۱۱ او ترې وروسته پيښو زما دموخو عملي کول له يو څه پځوالي سره مخامخ کړ. ځکه چې دنورو دولتي ادارو د رغاونې وړاندې د پاکستان امنيت مهم شو .
د سترې محکمې ۲ محدوديت داوو چې ما په اساسي قانون کې د اساسي بدلونونو د راوړو اجازه نه درلوده.په اساسي قانون کې د قضا به قوې د استقلال ، فدراليزم او دهېواد پارلماني سيستم چې بابد د اسلامي قوانينو پر اساس وي بايد بدل نشي. دا په دې معنی وو چې په يوه ناروغه د يمو کراسي کې د سمونو عملي کول له څو مره خنډونو سره مخامخ دی.
خو له يوې هر اړخېزې څېړنې وروسته پوه شوم چې په پاکستان کې تل پاتې د يمو کراسي په همدې چوکاټ کې هم پاتېدای شي. د هېواد سيمه ييز حکومتي نظام چې د هرې ديموکراسي بنسټ وي په اساسي قانون کې راغلی. خو ځان غوښتونکو سياستوالو هيڅکله د ټولنې لاندې کسانو ته واک نه وو ورکړی.

تېر وخت ته په کتو سره مې دا باور دی چې د اساسي قانون له منځه نه وړل او د پوځي قانون نه پلي کول سمه پرېکړه وه ما په ۱۸۶۴ کې دامريکې د وخت د ولسمشر ( ابراهام لېنکن ) له هغه ليک نه الهام اخيستې چې وېلې وو ::
))د اساسي قانون د ساتلو په قسم، د دولت اوملت د ساتنې دنده چې په اساسي قانون کې راغلې ، د ټولو اړينو وسيلو پر واسطه يې زما پر اوږو کېښودو ه.
ايا ممکنه وه چې ملت له لاسه ورکړو او تر اوسه اساسي قانون وساتو ؟د قانون له مخې بايد ځان او غړې وساتل شي ، سره له هغه په څو څو واري غړي پرې کېږي چې بدن وژغوري. خو هيڅکله د غړې د ساتلو لپاره بدن نه ورکول کيږي. ما احساس وکړ هغه مواد چې غېر قانوني وو ، د اساسي قانو ن او دملت د ساتنې له مخې قانوني کيدای شي. که دا سم وي او که ناسم ،ما داسې فکر وکړ او اوس ورته عزم کوم((

زه د لينکن له دې نظريې سره موافق يم. دا ليکنه مې په ۱۹۹۰ کې ولوسته او الهام يې راوبانښه.
هغه مهال نه پوهېدم چې يوه ورځ به په دغو جملو ډډه ووهم. په هغه ستونزه کې چې ګير شوی وم فکر مې وکړ ملت داسې وساتم چې اساسي قانون همدارنګه د اجرا وړ وي.ما په خپله طريقه معما حل کړه. دواړه هم مې بدن او هم مې غړی وساتل. خو که مې يو انتخاب درلودی نو طبيعتا د بدن وزن به درونند شوي وو.
که ملت ژوندی وي ورسره جوخت به اساسي قانون هم پاتې وي. او که اساسي قانون په ځانګړې توګه معيوب قانون له منځه ولاړ شي ملت به پاتې وي او هروخت نوی قانون جوړولای او يا د قانون عېبونه لېرې کولای شي.نو دهمدې لپاره زموږ وروستی دنده د ملت ساتل دي ممکن تريخ انتخاب وي خو روښانه دی. پاکستان تل لومړی ځای لري موږ ښه حالت ته ورسېدو چې هم مو ځان يا بدن او هم مو غړي وژغورل يعنې ( هم ملت او هم قانون .(

## ۱۷ خپرکی

دديمو کراسي لپاره هڅې:

زه باور لرم چې هيڅ هېواد له ولسواکۍ پرته پر مخ نشي کولای. خو ديموکراسي بايد د هر هېواد د شرايطو سره برابره پلي شي. چې په دې ډول به په رښتيا واک خلکو ته ورسيږي او داسې دولت به رامنځ ته کړي چې د خلکو اړتيا وو ته ځواب ووايي. زيات نظامونه شته چې ديموکراتيک بايد وبلل شي. يو خاص دولت په بل پورې تړل هيڅ ګټه نه لري. دا حقيقت په پاکستان او نورو هېوادونو کې ثابت شوی.دا ډول پيوند د بل هېواد د کورني ميکانيزم لخوا رديږي. لکه پردی چې وي. په خواشينی سره چې ريښتينې دېمو کراسی د پاکستان له پيدا ايښت په ۱۹۴۷ د اګست له ۱۴ تر اوسه په دغه هېواد کې موږ نه ده لېدلې. زموږ د ډېرو ستونزو مور همداده. د (ډيمو) له يو نانی کلېمې سره ټول اشنا دي چې د خلکو په معنی ده. خو د) کراتين) ياکراسی کليمه ته چې دحکومت کولو په معنی ده څوک پام نه کوي. چې د خلکو لخوا دحکومت کول چې ددېمو کراسی اساس جوړوي هېره شوې. خو هغه څه چې موږ قصدا په پاکستان کې رامنځ ته کړل داو چې د څو هو ښيارو په لاس دحکومت جوړول و چې هيڅکله دېموکراتان نه وو. چې معمولا زورواکي (اتوکرات) ، پلوتکرات يا اشرافي او کليپتو کرات يا دملي پانې غله وو. چې ټول په فيوډالي سنتي نظريو د دېمو کراسي تر چتر لاندې د خلکو په نوم راد بره شول.

دغه کسان له سترو فېوډالانو ، قومي جنسالارانو او ډول ډول سيا ستوالو څخه جوړ وو. چې په دغه هېواد کې يې د حکومت واګې په لاس کې وې. زموږ وګړي له بنسټه په ايالتونو ، ټبرونو ، قومونو طبقو باندې ويشل شوی.
په عمو مي ډول د خلکو رايي هم په قومي ، قبېلوي او کورنيو اړيکو ورکول کيږي. په همدې بنسټ ټاکنې د ډلو او قبېلو او د قومونو د مشرانو د ايېتلاف له کبله کېږي ، چې له دې کبله ناتوانه حکومت رامنځ ته کيږي. سره له دې چې دا حالت ديوه دروغجنې د يمو کراسی تصوېر ورکوي ، ځکه انتخابات ترسره کيږي خو دا ټاکنې د دېمو کراسی يوه وسيله ده ، نه د کار پای.

........................

د غې نا کاره دېمو کراسی موږ ته غم له ځانه سره درلود. په ځانړې توګه په ۱۹۷۱ کې د ختيځ پاکستان جلا والي، چې تل د خلکو په ذهنونو کې راګرځي. هغه خفګان مو چې په تير ۲ لسېزو کې تېر کړ يوه زدکونکي تجربه ده. خو ټول په دې باور دي چې له ريښتينې ديمو کراسی پرته د پاکستان د ټيکاو لپاره بله لاره نشته. اوس نو زموږ بحث دا نه دی چې اېا دېمو کراسي ولرو که نه؟ بلکې بحث دادی چې په څه ډول دغه ديمو کراسي پاکستانيا نو ته ګټوره کړو اوداسې نظام جوړ کړو چې خلک يې هېله لري؟
نو اړتيا د ه چې د ډيمو کراسی لپاره بېلا بيلې لارې وړاندې کړم. په ولسواک نظام کې بايد خلک د يوه حکومت د ټاکلو او بېرته د ټاکنو له لارې د هغه د لېرې کولو حق ولري. ډله ييزې رسنۍ بايد په قانوني چو کاټ کې ازادي وي.زه يو سوسياليسټ نه يم. خو په دې باور يم چې د اندازه کولو ښه وسيله بشري حالت دی. باور مې دادی که کوم حکومت بشري وضع په دوامداره توګه ښه نشوه کړای. هغه حکومت په درد نه خوري. يو نظام هغه مهال خلکو ته ارزښت پيدا کوي چې کار ورته وکړي. مهمه نه ده چې دا کوم نظام دی او له کومې لارې راغلی؟
انتخابات بايد داسې حکومت رامنځ ته کړي چې د خلکو هيلو ته پام ولري ، او ددغو هيلو د پوره کولو لپاره هڅې وکړي. له دې پرته هېڅ بل شي ته دېموکراسي نه شو ويلای. موږ په پاکستان کې ګڼې ټاکنې درلودې ، چې يوازې د څو وتلو ځيرو لپاره دواک وسيله شوې. چې لومړی موخه يې د ټول هېواد په ښه دځان ملاتړ او تقويه کول او د خلکو په هيلو سترګې پټول وو.
همدا رنګه فکر کوم د دوامداره پراختيا لپاره اقتصادي پر مخ حتمي خبره ده.خو که دا اقتصا دي وده د عادي او بې وزلو خلکو په ژوند کې بدلون را نه وړي هيڅ ګټه نه لري. که ښه دولتداري نه وي دا کار نشي کېدای. که د ټولنې بې وزلي او فقېر خلک د اقتصادي ودې مزه ونه څکي ګټه نه لري. که هدف د خلکو ګټې نه وي او بې وزلو خلکو ته ددولت ګټه ونه رسېږي خلک په دولت بې باوره کيږي او حتي دولت را چپه کولای شي.

د پاکستان تېر تاريخ ته په کتو سره وينو چې د ريښتينې د يمو کراسی په ټېنګولو کې پاتې راغلي يو. د خپلواکی نه ۱۳ مياشتې وروسته د ملت د پلار محمد علي جناح مړينه يو جدي په شاتې وو. د قايد اعظم په مړينې نوی زيږيدلی پاکستان خپل سياسي او فزيکي باور له لاسه ورکړ. ۹ کاله تير شول چې موږ په ۱۹۵۲ کې اساسي قانون جوړ کړ. چې همدا اساسي قانون هم دېمو کراتيک نه وو. د ختيځ پاکستان له لوی والي سره سره ددې قانون پر اساس وګړو ته په کتو سره مو دواړه د توازن د اصل تر نوم لاندې برابر وشمېرل شول. دهمد ې اصل پر اساس دلو يديځ پاکستان لړه کېو او د ختيځ ډېره کېو ته په ملي شورا کې برابرې څوکی ورکول شوې. بيا د توازن اصل ته په کتو سره د لو يديځ پاکستان څلور ايالتونه پنجاب ، سند ، بلو چستان او سرحد سره پېينه شول. چې د لو يديځ پاکستان د ايالتونو په توګه راشي. دلو يديځ پاکستان د دريو وړو ايالتونه خلک له دغه ناوړه تصميم سخت ځوريدل ځکه دوی پو هېدل چې دې تصميم نه يوازې د هغوی فرهنګ ولړزاوو بلکې د هغوی حق يې له منځه يوړ.
دهمدې لپاره د ختيځ پاکستان سياستوالو چې پټې ګټې او موخې يې درلودې له دغه ناوړه موافقې سره رضايت ونښود .د بنګال خلکو داسې فکر کاوو چې

تېروتي دي ، ځکه چې د هغوی رایې ته چا ارزښت نه وو ورکړی.

داسې فرض شوې وه چې په ۱۹۵۹ کال کې به د اساسي قانون پر بنسټ ملي ټاکنې وشي . خو د ۱۹۵۸ د اکتوبر په ۸ نیټه د وخت ولسمشر جنرال سکندر مېرزا چې یو متقاعد پوځي او ملکي چارواکی وو د پوځ دوخت د مشر ایوب خان سره یې په ګډه پارلمان منحل کړ. حکومت چې مشروعیت یې نه درلود لغوه ، او اساسي قانون یې له منځه یوړ ،چې پوځي قانون یې هم اعلام کړ . ددغه قانون د پلي کولو مشر یې ایوب خان وټاکه. خو سره له دې دغو۲ شریکانو د واک د ویشلو پر سر موافقه ونکړه او ۲۱ ورځې وروسته د اکتوبر په ۲۸ -۱۹۵۸ کې چې کله میرزا په یوه سفر لندن ته ولاړ ، بیا هېڅکله راو نه ګرځید. تر هغه وروسته جنرال ایوب خان ولسمشر شو.

په ۱۹۶۲ کې جنرال ایوب د دوهم اساسي قانون په وړاندې کولو سره پوځي قانو ن لغو کړ. خو په خواشیني سره چې ددغه قانون عناصر هم د دیمو کراسی ضد وو. چې په سر کې یې د توازن اصل او د لویدیځ پاکستان د ایالتونو یو کول وو.

د ایوب خان د ولسمشری په دوره کې د پاکستان دبې ساري اقتصادي ودې سره سره دخلکو ټولنې له دغې پر مختیا نه ګټه وانه خیسته. په بدل کې پاڼه د ځو نویو صنعتیارانو لاس ته ورغله چې د(( شلو کورنیو )) په نوم یادیده. وروسته دغه ډله۲۲ کورنیو ته لوړه شوه.په همدې حال کې حیله ګر بوټو د اوضاع دمثبت تحلیل په ورکولو ایوب خان همدې خوا ته هڅاوو. په داسې حال کې چې حقیقت داسې نه وو.

د ۱۹۶۸ تر ۱۹۶۹ کلونو پورې عمومي نا خوښي خپل وروستي کچې ته ورسېده. د دغو ناخوښیو اصلي انېزه دختیځ او لویدیځ پاکستان اقتصادي نا انډولي ، ۲۲ کورنیو ته د پانګې متمر کز کیدل او په ختیځ پاکستان کې د محرومیت سخت حس وو. له دغو ټولو شکایتونو سیاسي مخالفینو ګټه پورته کړه. ایوب خان ددغو ټولوفشارونو تحمل نه درلود او تصمیم یې ونیوچې د ۱۹۶۹ په مارچ کې استعفا وکړي.

خو دګوښه کېدو پر وخت ایوب خان د اساسي قانون څخه د پیروی پر ځای چې بايد واک یې د ملي شورا مشر ته سپارلی وایې، قدرت یې د پوځ مشر جنرال یحي خان ته ورکړ. چې هغه اساسي قانون له منځه یوړ او بیا یې نظامي قانون وضع کړ. خو جنرال یحي خان تر فشار لاندې راغی چې د ایوب خان دمخالفینو دوه غوښتنې ومني چې یو یې دتوازن د اصل له منځه وړل او بل د لویدیځ پاکستان د یو والي ماتول و. یحي خان دا کارونه وکړل او لویدیځ پاکستان بیا ۴ ایالته شو .او پر دې اساس موږ بېرته د ۱۹۲۵ د اساسي قانون نه مخکې ورځو ته ور وګرځېدو.

جنرال یحي خان د ۱۹۷۰ په د سامبر کې عادلانه ټاکنې وکړې خو تردې وخته زیات مسایل را پیښ شوي وو . چې د ختیځ او لویدیځ پاکستان برخې په سمتونو وویشي او هره برخه خپلې رایې د سیمه ییزو تمایلاتو پر اساس بکسونو ته واچوي.د ختیځ پاکستان خلکو په یوه لاس خپل قومي ګوند عوامي لیګ ته رایې ورکړې. لکه چې وړاندې مې وویل دغه ګوند انتخابات وګټل او په ملي شورا کې یې اکثریت څوکۍ وګټلې. چې له ایتلاف پرته یې حکومت جوړولای شو.

د بهرنیو چارو پخوانی وزیر او د ایوب خان د باور وړ شاګرد ذولفقار علي بوټو چې تل به یې د ځوی خطاب ورته کاو د خپل پیر لاره یې ونیوله او خپل ګوند یې د(( پاکستان د خلکو ګوند )) په نوم جوړ کړ.

دغه ګوند د لویدیځ پاکستان د ۲ ګڼ میشتو ایا لتونو رایې تر لاسه کړې او په دوهم مقام کې یې د ملي شورا ډېرې څو کۍ خپلې کړې.خو داکثریت رایو په ترلاسه کولو کې پاتې راغی. دغه نوي ټاکل شوې شورا هم د اساسي قانون دجوړیدو مسوله شوه. خو داځل باید هغه په ۹۰ ورځو کې تدوین کړي. د عوامي لیک لخوا په پارلمان کې د اکثریت درلودل په دې معنی وو چې هغوی کولای شوای داسې اساسي قانون جوړ کړي چې تر مخه یې ختیځ پاکستان ته خپلواکي ورکړي او خپلې پخوانی هیلې ته ورسیږي. خو د ختیځ پاکستان ځیرکو واکدارانو ته دا خبره هیڅ دمنلو وړ نه وه. بوټو د لویدیځ پاکستان ملي شورا ته نوي ټاکل شوي غړي تهدید کړل، که د ختیځ پاکستان پلازمېنې ډاکې ته چې د ملي شورا ناسته هلته کېده ورځي نو د یوې خوا ټکټ دې واخلي .ځکه که هغوی بېرته راشي نو بوټو به یې پښې ور ماتې کړي. په دغه ټوله دوره کې دعوامي لیږ د ګوند مشر شیخ مجیب الرحمن د لویدیځ پاکستان دخلکو د لیدلو هیڅ هڅه ونکړه. او د بوټو د مانور د ډب کولو لپاره یې هم کوم کار ونکړ .

یحي خان چې ډېر نا هیلی او ستړی وو د ملي شورا ناسته چې ټاکل شوې وه د ۱۹۷۱ په مارچ کې جوړه شي وځنډوله. او د شیخ رحمن په ګډون یې د هغه د حزب د رهبری غړي د خیانت په تور بند یان کړل.

د ختیځ پاکستان زره ماتي خلکو چې د هند لخوا یې ملاتړ کېده وسله وال پاڅو ن وکړ. هغه څه چې په پیل کې یو سیاسي خوځښت وو ډېر ژر په وسله وال کړکیچ بدل شو .

ویلو ته به یې اړتیا نه وي که ووایم هند دغه بحران ته په لمن وهلو سره ډېره ګټه وکړه. هند له بنیالیانو سره مرسته وکړه چې دنیمه پوځي جنیالیونه پوځ جوړ کړي. چې (( موکتي باهني ))نو مېده. همدارنګه دغه هېواد د عوامي لیږ ډېرو مشرانو او فراریانو ته پنا ه ورکړه .

زه چې په دغه وخت کې د پاکستان د ځانګړو ځواکونو په قطعه کې د یوې قطعې قوماندان او جګړن وم دغه حالات مې په ډېر خواشیني سره څارل. ددغه بحران په لړ کې هند د شوروي اتحاد سره د سولې او ملرتیا یو تړون لاسلیک کړ. هند دکډوالو له درکه اقتصادي بار بهانه کړ چې په ختیځ او لویدیځو برخو کې یې په پاکستان بريد وکړ.په داسې حال کې چې د لویدیځ او ختیځ پاکستان تر منځ اړیکې خړې پړې شوې وې او خلکو هم ښه چلند نه درلود ، پوځ مقاومت ونشو کولای. په دې وخت کې دهند دملري شوروي برعکس دامریکا متحده ایالات د پاکستان په خوا کې ودرېد .خو هیڅ اساسي مرسته یې له موږ سره ونه

کړه. یحي ، بوټو لومړی وزیر او د بهرنیو چارو وزیر وټاکه.او داوربند د ټینګولو لپاره یې د ملرو ملتونو د امنیت شورا ته دخبرو لپاره واستاو.
خو بوټو د پولېنډ وړاندېز شوې پریکړه لېک چې د ختیځ پاکستان د بېل والي مخه یې نیوله رد کړه.داسې ښکاري چې بوټو داسې فرض کړې وه د ختیځ پاکستان په شته والي به هیڅکله واک ته ونه رسیږي. په ختیځ پاکستان کې پوځ تسلیم شو. او ۹۰ زره نظامیان او غېر نظامیان د جنګي اسیرانو په نوم بندیان شول او ختیځ پاکستان زموږ له قلمرو نه د بنګلدیش په نوم جلاشو. دا همغه ورځ وه چې ما وژړل
هغه ډول چې بوټو ویل اوس موږد بوه ((نوې پاکستان)) سره مخامخ وو. چې ددغه هېواد له لوید ېځو برخو جوړ و. پاکستان چې د نړی ستر اسلامي او د نړی پنځم لوی هېواد وو، په غمجن ډول وړوکی شو. بوټو د ولسمشر په توګه ټول واک قبضه کړ.په داسې حال کې چې پاکستان اساسي قانون نه درلود. تردې بده، ده د اساسي قانون له نشتوالي ګټه واخیسته او ځان یې د پوځي قانون اجراییوي مشر وټاکه. بوټو چې په باطن کې یو ظالم وو د نظامي قانون د پلي کیدو له مشرۍ نه یې ګټه پورته کړه. د ټول پاکستان د ملي شورا پاتې غړي چې یو اقلیت وو موظف کړل شول چې د پاکستان لپاره نوی اساسي قانون تدوین کړي. مو ږ نه یوازې ۱۹۴۷ کال ته بېرته وګرځېدو بلکې یو ټوټه شوی هېواد وو .
په ۱۹۷۳ کال کې پاتي ملي شورا په یوه اساسي قانون موافقه وکړه. ددغه قانون ګټه داوه چې په مطلق اکثریت ومنل شو. خو له بده مرغه چې بوټو د اسلامي سوسیالیزم د چو کاټ په وړاندې کولو او خلکو ته د ددوی د لومړنیو اړتیا و لکه خواړه ، سرپناه، او بې وزلو ته د جامو د برابرولو په خبرو ډېر شهرت ترلاسه کړ. خو ډېر ژر د قبایلو او ځمکې لرونکو فیو ډالانو سره په یوه ایېتلاف کې شامل شو .
ټول هغه کسان چې ده ورته دماتې ورکولو او بې واکه کولو خبرې کولې. ددې په وړاندې یې هغه اسانه موخه غوره کړه. چې سوداګر او کارکونکي وو. بوټو په پراخه کچه د صنایعو ، بانکونو او مالي مرکزونو د ملي کولو حرکت پیل کړ .
دغه ګام په پاکستان کې د نوي زېږېدلي صنعت جوړولو بنسټ مات کړ، چې اقتصادي ماشیین ته کلک ګذار و. چې د قبایلي فیوډالانو د واک په وړاندې یې ښارې او عصري ځواک رامنځ ته کړی وای. ملي شوې صنایع حزبي ملرو او بروکراتانو ته ورکول شوې. چې ډېر ژر یې د اداري فساد غالی خپره کړه.

بوټو ظاهرا دېموکرات و ،خو ظالمانه یا( اوتوکرات) چلند یې کاو. د بوټو پر مهال مطبوعات داسې وتړکول شو چې نه یې وړاندې او روسته ساری درلود . ډېر خبریالان د ولسمشر د عقیدې سره د اختلاف په تور ونیول شو او ورځپاڼې او مجلې پکې بندې شوې. سیاسي مخالفان په جعلي تورونو نیول کېدل. ځینې یې د ( دولای ) په بدنامي پوځي زندان کې بندیان شول او ځینې نور په مرموز ډول ووژل شول.
په ۱۹۷۷ کې چې کله د عمومي ټاکنو وخت را ورسېد ، ۹ قوي مخالفو ګوندونو اییتلاف وکړ او د بوټو د پاکستان د پیپلز ګوند پر وړاندې یې یوه قوې جبهه جوړه کړه.
ویل کیږي چې بوټو د رایو په بکسونو کې لاس وواهه. او هغه حتی بې له کوم سیاله ټاکنو ته وړاندې شو. مخالفین یې ونیول او دلومړي وزیر لپاره یې د رایو ورکولو ته پرې نښول.
خلکو ډېر زغم کړی و ، اوپه پای کې یې پاڅون وکړ، چې له تاوتریخوالي سره مل و .
ډېر کسان په واټونو کې ووژل شول او په زرګونو نور ونیول شول. بوټو د خپلو مخالفینو سره ایتلاف وکړ، چې کومې موافقې ته ورسېږي او حالات ښه شي. خو هغوی کومې پایلې ته ونه رسېدل او د ۱۹۷۷ د جولای په ۵ شپه پوځ دچارو واګې په لاس کې واخیستې او نظامي قانون یې اعلام ، اساسي قانون یې لغوه او بوټو یې له خپلو ملرو سره بندي کړ .
جنرال ضیالحق چې د پوځ مشر و بې له کوم خنډه د پوځي قانون اجراییوي مشر شو. چې وروسته بیا ولسمشرشو .دوه کاله وروسته د یوې جنجالي محکمې په ترځ کې بوټود قتل په تور په داروځړول شو .
ضیا ۱۱ کاله حکومت وکړ.له هغه ځایه چې د اسلامي قانون یا شریعت نشتوالي خلک خفه کړي و ،جنرال ضیا دغه کار د خپلو چارو د عملي کولو لپاره ښه لاره وبلله.او دا هغه څه وو چې ضیا ته طبیعي هم وو. په همد ې وخت کې د شوروي لخوا دافغانستان اشغال هم له جنرال ضیا سره ډېره مرسته وکړه.
د شوروي په وړاندې د مجاهدینو مقاومت چې ډېر مشهور دی په معاصر تاریخ کې یو بدلون دی. د امریکا متحدایالاتو د مجاهدینو دوسله والېدو او تمویل د زمینې د برابرولو په برخه کې مرستې وکړې. ډېرو اروپایي او اسلامي هېوادونو په ځانګړې توګه سعودي عربستان د افغان مجاهدینو سره مرستې وکړې . دافغان مجاهدینو سره مرسته د پاکستان په ګټه هم وه ،ځکه چې د شوروي اتحاد پوله پاکستان ته رسېدلې وه ، او غټ ګواښ داو که شوروي په افغانستان کې ځای پر ځای شي ژر به په پاکستان هم برغل وکړي. چې دخپلو سمندري ځواکونو لپاره ګرمو اوبو ته ځان ورسوي .
پاکستان د لومړی کرښې په هېواد واوښت. موږ له افغانانو ، امریکایانو ، اروپایانو او سعودیانو سره په ګډه وجنګېدو او بریالي هم شو. خو په درونډ قیمت راته تمامه شوه. کلاشینکوفونه ، هاوانونه ، بمونه ، ستینګر توغندي او نورې پیچلې وسلې د پاکستان بازارونو ته را ورسېدې. ډېر ژر پاکستان په وژونکو وسلو ډک شو.چې تر اوسه د کسانو په لاس کې دي. تردې بده دا چې د نیشه یي توکو فرهنګ ډېر ژر په سیمه کې رېښې پیدا کړې. چې په دې کې هېروین هم شامل وو.
تندلاري ملایان ، دهغو غونډې او ویناوې د پاکستان ، امریکا ، سعودي عربستان او په دغه دوره کې د نورو ملاتړو هېوادونو له رسمي ملاتړ برخمنې

شوې. او هغوی په دینې تعلیم د شورویانو په وړاندې د جنیالیو په روزنه او تولید بوخت شول. نو دهمدې لپاره چې کله ولسمشر ضیالحق دهېواد د اسلامي کولو پلان اعلام کړ ،هیچا شکایت ونکړ. هغه اسلامي قانون وضع کړ. او اسلامي محکمې یې جوړې کړې چې له عادي قضایي سیستم سره سم حرکت وکړي.
په ۱۹۸۵ کې ولسمشر ضیا اساسي قانون او ټاکنې برابرې کړې چې خلکو پکې په یوازې توګه ګډون کولای شو ، نه د سیاسي ډلو په توګه. هغه معامله چې ضیا له سیاستوالو سره لاسلیک کړه داوه چې نوې ملي شورا د ې د اساسي قانون ۱۸ ماده چې ولسمشر ته د شورا د منحلید واک ورکوي تا ییډ کړي. په واقیعت کې د قانون دغه برخه ګټوره شوه ، ځکه چې د لومړي وزیر پر کارونو یې څارنې ته لاره پرانیستله او د پوځي کودتا مخه پرې نیول کېده.خو تر هغه چې نوازشریف دا ماده لغوه کړه.
د ۱۹۸۸ د مئ په وروستیو کې ضیا د اساسي قانون د ۱۸ مادې له مخې ملي شورا منحل او حکومت یې ګوښه کړ. خو سره له دې هغه څه چې اساسي قانون غوښتل ضیا باېد په ۹۰ ورځو کې دټاکنو دترسره کېدو لپاره موقت حکومت جوړ کړي ونشول. په دې وخت کې جنرال ضیا ډېر ګوښې او ناهیلی شوی وو. د ۱۹۸۸ د اګست په ۱۷ د ضیا د سپرلی الوتکه په بهاولپور کې د ټانکونو د پوځي رژې په دستورې کې له ګډون وروسته د بېرته راتګ پر مهال په مرموز ډول د پیښې ښکار شوه او د ضیا د واکمنې دوره پای ته ورسېده.
د سنا مشر او متقاعد بروکرات چې د ضیا دمالېې وزیر وو د دولت سرپرست شو .او دهمغه کال په نوامبر کې یې ټاکنې تر سره کړې. د بېنظر بوټو د خلکو ګوند د ملي شورا زیاتې څوکی و ګټلې. خو اکثریت یې تر لاسه نکړ. او بینظیر بوټو ایتلافي حکومت جوړ کړ چې له همغه وخته په پاکستان کې ۱۱ کاله درواغجنه دیموکراسي وچلېده. دا د سیاست بازی نه ډګه لسېزه وه. د بینظیر بوټو حکومت په ۱۹۹۰ کې له منځه یو وړل شو .سمدلاسه وروسته په ټاکنو کې نواز شریف لومړی وزیر شو.دهغه د ریاست لومړی دوره د دوهمې هغې په پرتله ډېره بده نه وه.خو د ملرتیا ، غلا او ضعېفه اداري له کبله ولسمشر اسحاق خان دهغه حکومت په ۱۹۹۳ کال کې لغوه کړ. د پاکستان سترې محکمې دهغه حکومت را ژوند ی کړ، خو هغه له ولسمشر سره جوړ نشو. دواړو د پوځ له مشر جنرال وحید کاکړ نه د منځګړیتوب غوښتنه وکړه. چې پایله یې د دواړو په ګوښه کولو تمامه شوه. نویو ټاکنو ددوهم ځل لپاره بینظیر بوټو لومړی وزیره کړه. بیا یې ایېتلافي حکومت جوړ کړ. دهغې واکمنې له همغه ټکې بېرته پیل شوه چې ودربدلې وه. په ۱۹۹۷ کې ولسمشر چې دهغه له ګوند څخه وو د بوټو حکومت یې له منځه یوړ. په ۹ کلونو کې څلورم ځل ټاکنو په یوڅه بدلونونو سره بیا نواز شریف لومړی وزیر کړ. دا ځل هغه د ملي شورا دوه په دریو کې څوکۍ درلودې او د اساسي قانون هره ماده یې بدلولای شوای. هغه له دغه اکثریت نه په ګټې اخېستو خپل مخالفین غلي کړل. د پوځ مشر یې ګوښه کړ. په رسنیو یې برید وکړ او ډېر خبریالان یې بندیان کړل. نواز شریف خپلو ګوندي وژونکو ته لارښونه وکړه چې په سترې محکمې برید وکړي.
په دې منځ کې د ۱۹۹۸ د مئ په ۱۱ او ۱۳ هند (۵ ( اتومي بمونه وچول. په لومړي ځل هند د ۱۹۷۴ په مې کې یوه هسته یې چاودنه کړې وه، او د هند په لویه وچه کې یې د هستوي وسلو له لښتنه ډګه سیاله په لاره اچولې وه.پا کستان هم د ۱۹۹۸ د مئ په ۲۸ د هستوي بم په ازموینه ځواب ورکړ. پر پاکستان اقتصادي او نظامي بندېزونه ولېدل. چې زموږ ضعېفه اقتصاد یې نور هم شاته واچاو. نوازشریف له دې وېرې چې خلک په بانکونو کې خپل ساتلي بهرني اسعار ونه باسي. ټول هغه حسابونه یې چې په بهرنیو اسعارو وو وتړل. دغه کار د پاکستان پر اقتصاد منفي اغېز وکړ. هومره اغېز چې د ذوالفقار علي بوټو د ملي کولو پروګرام په ۱۹۷۰ لسېزه کې درلود .
نواز شریف د هستوي ازموینو له پلوه د ملت د ویاړ پخاطر له پارلمان وغوښتل چې په اساسي قانون کې د ۱۵ ځل بدلونونه ومني ، چې د اسلامي حکومت د راوړلو په بهانه ده ته د دکتاتوري واک ورکړي. یوازېنۍ لاره چې پاتې وه د سنا لخوا دهغې تصوېب و. چې ټاکل شوې وه د ۲۰۰۰ کال په لومړیو کې هغه له مشرانو جرګې تېر شي. موږ د طالبا نې کیدو خواته روان و. شریف د ولسمشر دا واک هم له منځه یوړ چې حکومت او پارلمان یې لغوه کولای شو.د ولسمشر له بې واکه کولو وروسته نواز شریف هڅه وکړه قضا په قوه داجرا یې قوي تر واک لاندې کړي. او د سترې محکمې مشر سجاد علي شا لېرې کړي. هغه دومره وړاندې ولاړ چې سیاسي سرتېرو یعنې له پارلمانه خپلو غړو ته یې پر سترې محکمې د برید امر وکړ. قاضیان مجبوره شول په خپلو خونو کې پټ شي. چې ونه وهل شي. دغه ټول عملیات د سترې محکمې د پټو کمرو په واسطه ثبت شوي و. کله چې د ولسمشر ، لومړي وزیر او د قاضي القضات ترمنځ کړکیچ رامنځ ته شو نو د پوځ له مشر جهانګیر کرامت نه یې د منځګړیتو ب غوښتنه وکړه. کله چې خبره ډېره خرابه شوه. کرامت پریکړه وکړه د لومړي وزیر په خواکې ودرېږي. ددغې پریکړې له مخې ولسمشر استعفا وکړه او نوی ولسمشر راغی. چې د لومړي وزیر لاس پوځي و، جهانګیر د پوځ همغه مشر و چې بیا نواز د حقیقت ویلو په تور ګوښه کېدو ته مجبوره کړ. د پوځ پخوانې مشر د صادقانه کار ، سالمې اداري او لومړي وزیر ته د رسمي مشورو او نصیحت په خاطر د ملي امنیت د شورا د جوړولو وړاندېز کړی و.
د ولسمشر او لومړي وزېر ترمنځ هر ځل کړکېچ ته د پوځ دمشر کشول قانوني کار نه و. د جنرال کرامت له استعفا وروسته زه د پوځ مشر شوم وروسته د کارګېل پیښه وشوه . هغه مهال په ۱۹۹۹ د جولای په ۴ په واشنګټن کې د شریف تسلیمي ، وروسته زما او د پوځ د قرباني هڅې ، او د الوتکې ترور کول او هند ته د زما د سپرلی دالوتکې سپارل و .

## ۱۸ څپرکی

سم لوري ته د نظام لاربښونه:

د پاکستان جنجالي سياسي تاريخ ته په کتو سره چې د (( پوځي قانون )) او (( دروغجني ديمو کراسی )) تر منځ په بدلون کې وه . رېښتېنې دېمو کراسی ته رسېدل ستونزمن او يوه واحد لورې ته يې حرکت ورکول لازم و. د پاکستان اصلي سياسي گوندونه د کورني قانون په څېر و .
زموږ سياسي گوندونه ډېر کم په دننه کې د يېمو کرات و. او دهمدې لپاره يې د گوند په دننه کې هېڅکله د روښانه ټاکنو د ترسره کېدو زحمت نه دی گاللی .د گوند مشر په خپله گوند دی. د گوند مشر که څوک غواړي په يوه دنده وگماري بايد تل فرمان برداره وي. دغه چاپلوس کسان تل لوړو پوړيو او هغو مشرانو ته گوري چې دوی ته يې دنده ورکړې .
او د ټولنې لاندي پوړيو او گوندي کارگروته هېڅ پام نه کوي.
د پاکستان په ټيټو خانو کې د ديمو کراسی نشتوالی احساسيږي. او د پاکستان په ولسمشر ، لومړي وزير او د پوځ په مشر هيڅکله څارنه نه ده شوې.
دوی د تل پاتې دېمو کراسی په لاره کې اصلي خنډونه دي. اړتيا ده چې دا ټولې ستونزې حل شي.

کله چې واک ته ورسېدم يوه شوم چې ټولو خلکو ته بايد ازادي ورکول شي. د ښځو ازادي او دحقوقو په اړه نور مسايل به د دغه کتاب په ۷ برخه کې تر بحث لاندې راشي. خو د داسې نظام په چوکاټ کې چې رېښتېنې د يمو کراسي نشي پلي کوی هيڅ ډول نور بدلونونه به تحول رانه ولي. رېښتېنې د ېمو کراسي لکه چې وړاندې مې تشريح کړه دولتونو ته د دوامداره بشري وضعې د ښه کولو زمېنه برابروي .
پخوانيو لومړيو وزيرانو بې نظير بوټو او نواز شريف دوه ځلې ازموينه ورکړه او ما تې يې خوړلې. او د دريم ځل لپاره بايد چانس پيدا نکړي. هغوی ملت غلط لوري ته رهبري کړ. دوی هيڅکله خپلو گوندونو ته د ټاکنو اجازه نه ده ورکړې چې د گوند په دننه کې ټاکنې وکړي. په واقيعت کې بېنظير بوټو د گوند تل پاتې مشره شوې. لکه د افريقا د پخوانيو دکتاتورانو په څېر. د هغو دواړو پر وړاندې قضايي دوسيې پرانيستل شوي. يوازينی کار چې ما کولای شو داو ډاډه کړم چې تورونو ته شا نشي . بې نظير بوټو د شريف په وخت کې بهر وتې او له قانونه تښتېدلې وه .
وروسته نواز شريف او کورنی يې حاضر شو زما له حکومت سره تړون لاسليک کړي، چې له مخې يې په خپله په سعودي عربستان کې پناه واخلي. هغه تړون چې اوس هغه په بې شرمی سره ځني منکر دی. دواړو له هېواده په لېرې والي د قانون له پلي کېدو پرهېز کړی. خو کله کله دواړه ټينار کوي چې په گډه به بېرته پاکستان ته ستانه شي ،چې د گوندونو د غړو روحيه ژوندی او سياسي اړيکې ورسره ولري.
هغوی د ۲ قوي گوندونو مشران وو ، د پاکستان دخلکو گوند او د پاکستان مسلم لېگ گوند . دغه دواړو گوندونه ديمو کراتېک نه و. او يوازې خبرې به يې اورېدې، نور چا نشو کولای د گوند دمشری لپاره ځان ونوموي. پوهېدم چې د سياسی بنسټونو په بدلولو بايد ۲ نړېوالو انديښنو ته ځواب ورکړم. اول بايد دېمو کراسي وساتل شي. او هرکله چې ټاکنې کېږي بايد عادلانه او روښانه وي.
د همدې لپاره انتخاباتو ته تر تلو وړاندې يوه بل سياسي گوند ته اړو. بېنظير بوټو او نوازشريف د نوې نظريې له درلودو پرته کولای شو له لري ننداره رهبري کړي.
نواز شريف زما د سپرلی د الوتکې د تښتولو له کبله مجرم پيژندل شوی و. او په عمري بند محکوم شو. هغه د گوښې والي او زندان تحمل ونشو کولای ،له همدې کبله هغه د پخوانيو اړيکو پر بنسټ د عربستان له پادشا شهزاده عبدالله څخه استفاده وکړه ، هغه له ما وغوښتل چې نواز شرېف ته اجازه ورکړي چې هلته ژوند وکړي. دغه غوښتنه مې نشوه ردولای. ځکه دا د پاکستان د نژدې ملري چې تل بې ماته د ورور خطاب کړی او ما هم مشر ورور باله غوښتنه وه .ما هم فکر وکړ چې له سياسي کبله بهر ته د شريف د ټولې کورنی لېږل په گټه دي. ځکه چې د يوه لوړ پوړي چارواکې د محکمه کولو د دوامداره منفي اغېزو مخه نيول کېده .دا خبره مې ومنله او کار ترسره شو. ((زه نوازشريف په مشروط ډول عفوه کوم هغه او دکورنی څو معين غړي يې د لسو کلونو لپاره سعودي عربستان ته ولاړل چې ومې ويل له سيا سته به لري پاته کيږي. هغوی همدا رنه خپل ځينې ملکېتونه بايد دخپلې ناوړه کړنې په نوم ورکړي((.
دا تړون د شريف دکورنی د ټولو مشرانو سره لکه نواز شريف ، دهغه ورور شهباز شريف او دهغوی له پلار سره لاسليک شو. په پيل کې شهباز نه لاسليک کاو. او حاضر نشو له پاکستانه بهرشي خو موږ دا کار نشو کولای. نواز شريف او پلار يې د نواز د مجازات کولو لپاره شهباز لاسليک کولو ته اړ ويست. ټول د جدې په لور ولاړل. اوس چې گورم دا پريکړه سمه او د پاکستان په گټه ده .د غه گام يوه نوي گوند ته د جوړېدو لاره برابره کړه .
د ۲۰۰۷ کال په لومړيو کې نواز شريف زما د يوه نژدې ملري له لارې لندن ته د تلو اجازه وغوښته چې د سخت ناروغ ځوی سره وي . ماېې ځوی ته دروغتيا هيله وکړه او خپل موافقت مې اعلام کړ. خو کله چې نواز شرېف لندن ته ورسېد هغه ژمنه يې رد کړه چې د سيا ست نه به لېرې وي. هغه خپله بې شخصيتي وښوله . او د درواغجنو تبلېغاتو لړی يې پيل کړه. تبعيد او گوښه والی دخپل ځان د کارونو دلېدلو لپاره يو فرصت دی.خو نواز شريف له خپل تبعېده څه زده نکړل. او ونه توانېده له فکري او سيا سي پلوه وده وکړي.

ما یوه سیاسي ګوند ته اړتیا لرله چې زما دموخو ملاتړ وکړي او دیوه نوي ګوند د جوړېدو په تکل کې وم .

تصمیم مې ونیو ،او په دغه تصمیم کې مې د پوځي احساساتو ډېر رول درلود . چې د ( پاکستان مسلم لې پي ام ال ) د قاېد اعظم جناح ګوند بیا را ژوندی کړم چې د مبارزو له کبله یې موږ خپلواک او نوی هېواد را په برخه شو. د ۲۰۰۲ کال د انتخاباتو په لړ کې راته زما پخواني باوري ملري طارق عزیز وویل چې د قاېد اعظم په ورزیاتېدو به د پاکستان دمسلم لیک ګوند سرتاسري شي . د کېو اېلیسي توری مو د( پي ام ال ) شاته ورزیات کړ. چودري شجاعت حسین او د تره زوی چودري پرویز الهي په پنجاب کې د ګجرات منځ لاري سیا ستوال دمسلم لیک نوازشریف په ګوند مشهور و.د طارق عزیز نظریه داوه چې هغوی وهڅو د مسلم لیک ان ګوند د مسلم لې قاېد اعظم سره یوځای کړي. چودري او دتره زامن یې د تورونو قربانیان شوي و ، خو هغوی ښه خلک و. ما له دغه وړاندیز سره موافقه وکړه. وروسته طارق عزیز هغوی ماته را معرفي کړل. ماله هغوی نه وغوښتل د مسلم لیک د ګوند د ادغامېدو مشري دې وکړي.

هغوی په ډېر باور سره دا کار وکړ. هغوی د (پي ام ال ) ګوند ته نوی قوت وبانښه. اود (کېو ) د توري په ورزیاتېد و سره هغه مو د مسلم لې قاېد اعظم په نوم ونوماو.د( پي ام ال) ډېر غړي د چودري شجاعت حسین په مشري د( پي ام ال کېو ) سره یو ځای شول او پاتې نورو د( پي ام ال ان) یعنې د پاکستان مسلم لیک نوازشریف ګوند په نوم ونوماوو. خو پوهېږم چې ډېر خلک زما سره د ملاتړ لپاره له ما سره یو ځای شول. او همدارنګه باېد له طارق عزیز نه د کسانو په جلبولو کې مننه وکړم. هغه هم ماته او هم زما موخو ته پوره وفاداري وښوله .

د( پي ام ال کېو ) ګوند د ۲۰۰۲ کال د اګست په ۲۰ په رسمي توګه په دې هېله په کار پیل وکړ چې د همغه کال ټاکنې وګټي

موږ ټول راټول شو چې د پاکستان د مسلم لیګ نوی ګوند د سپټامبر د ۱۱ په لړ کې جوړ کړو . هغه پیښنه چې ترې وروسته د ترهری په وړاندې کلک ودرېدم. او خلک پوه شول چې پاکستان په رښتیا د پر مختګ په لور مخه کړه . شهرت مې وروستی کچې ته رسېدلی و. د( پي ام ال) د ګوند د هېلې سره سم منظم شو.

ددغه ګوند سیا ستوالو ماته د خپل مشر په توګه کتل . خو ما نه غوښتل سیا سي لوبو ته ور ددننه شم. زما نظریه داوه چې په ګوند ي جنجالو د پاسه وم او په ګوندونو کې دا خل نشم. خو سره له دې باېد د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر دټاکنو لپاره له خپل شهرت نه د نوي ګوند لپاره ګټه واخلم. ما پریکړه وکړه چې دولسمشری لپاره یوه ټول پوښتنه تر سره کړم. پو هېدم چې رایي به زما په ګټه زیاتې وي. او وروسته بیا دغه لېدونکي اعتبار مې د (پي ام ال کیو ) له ګوند ه د ملاتړ په کولو سره اعلام کړم. ډېرو ملرو مې له دې چارې سره مخالفت وښود . خوما ونه منله ، او د ټول پوښتنې په لور مې غړ وکړ. ټول پوښتنه یا ریفرانډم د ۲۰۰۲ کال د اپریل په ۳۰ وشو. له خلکو پوښتل شوی سوال داو:

)د سیمه ییز حکومتي سیستم د ساتلو ، دديمو کراسی د رامنځ ته کولو ، ، د سمونو د دوام ، فرقه یېزاخ اوډب او افراطیت ته پای ورکول او همدارنګه د قاېد اعظم د هېلو پوره کول ، ایا غواړی چې ولسمشر پرویز مشرف د نورو ۵ کلونو لپاره د پاکستان د ولسمشر په توګه وټاکی ؟(

ټول پوښتنه ښه تر سره شوه. پراخ ګډون پکې شوی و. او پایله په قوت سره زما په ګټه وه. سره له دې چې یو شمېر سرغړونې وشوې. پیدا مو کړه چې په یو شمېر سیمو کې اداري چارواکو له اندازې ډېر هېله من او بروکراتانو خلکو ته اجازه ورکوله چې له یوه ځل زیاتې رایې ورکړي او حتی شخصا یې د رایو بکسونه په پاڼو ډک کړي و.مخالفانو په ټول پوښتنه کې د تقلب د ثابتولو لپاره ډېرې هڅې وکړې او نژدې وچې یو مصیبت پیښ شي. اوس چې تېر وخت ته ګورم وایم که اپوزیسیون یا سیال مخلف ګوندونه د انتخاباتو په بهېر څارنه ونکړي ټول پوښتنه خرابېږي. مخالفان به د تقلب چیغې وهي او نشي کېدای د ټاکنو روڼ والی ثابت شي. دغه ټول پوښتنه هم له ورته ادعاو سره مخا مخ شوه.

په پای کې باېد په ملي کچه پاک ثابت شم. د خبري رسنیو له لارې د خلکو له ملاتړه مننه کوم.خو ومې منله چې ځینې سرغړونې شوي ،چې زه هم ترې ناخوښه یم. ددغو ټولو سرغړونو او ناسمو کړنو پړه مې ومنله او خپله پیښماني مې خلکو ته په ډاګه کړه. رښتیا که هرڅومره ترخه وي خلکو ته د ښنلو چانس ورکوي. ولي که دروغ وویل شي لکه څرنګه چې زموږ سیا ستوالو د عادت له مخې تر سره کول نو خلک بیا د جزا غوښتنه کوي.

د ۲۰۰۲ کال په اکتوبر کې د ټآکنو له را رسېدو مخکې مې ځان سیا سي مسلو ته ورګډ کړ. ډېر ژر پوه شوم چې په ځینو برخو کې سیا سي اصلاحات مهمه اړتیا ده. لومړي بدلونونه مې چې وړاندې کړل له ۲۱ څخه ۱۸ ته د رایي ورکونکود سن را ټیټول و. نوکه ځوان نارینه په اتلس کلنی کې واده یا د موټر چلونې جواز اخلي نو ولي رایي نشي ورکولی. نو دځوانانو د تقویه کولو پریکړه مې وکړه .

تل مې باور داو چې په نړی کې ښځې د نارینه سالاری په ویروس اخته دي. په خاصه توګه په مخ پر ودې هېوادونو کې له ځانګړي تبعېض سره مخ دي . ددغې ستونزې د له منځه وړلو لپاره باېد له ریښې سیا سي لید لوری قوی شي . موږ په دې نظر و چې ښځې د جنسي تبعېضونو او ټولنېزو نا برابریو سره دمبارزې لپاره ښې وکېلانې کېدای شي. په ملي شورا کې مو د ښځو لپاره۲۰ ځانګړې څو کی بیلې کړې چې جنسي توازن برابر شي. دغه کار د ازادې سیالی له لارې شورا ته دهغوی دتلو مخه نه نیوله. د ۲۰۰۲ کال په اکتوبر کې د ټاکنو په کولو سره ملي شوراته۷۲ تنه ښځو لاره ومونده. چې ۱۲ ښځې د ازادې سیالی له لارې شوراته تللې وې. دا په پاکستان کې د ښځو د ملاتړ مهم ګام و.

په ۱۹۹۷ کې چې د پوځ په مټ کومه سرشمېرنه شوې وه د پاکستان د وګړو شمېره یې ۱۴۰ مېلیون ښود ، په ملي او ولایتي شوراګانو کې د څو کیو شمیر دپخوانیو سر شمېرنو پر اساس ټاکل شوي وې. خو اوس زموږ نفوس زیات شوی و. ټاکنېزې حوزې به له خلکو ډکېدې. بنا په ملي شورا کې مو د څوکیو شمېره له ۲۱۷ څخه ۳۴۲ ته لوړه کړه. چې ۲۷۲ څو کیو ته سیالي ازاده او ۲۰ څو کی ښځو ته ځانګړې شوې وې. او لس څوکی غیر مسلمانانو ته د هغوی د نفوس

له مخې بېلې شوې وې. دولا يتي شورا گانو لپاره هم همدا معيار و.
د پاکستان د اقليتونو لپاره جلاا انتخاباتي سيستم وو ،.چې غېر مسلمانو به د خپلو څوکبو لپاره خپلو کسانو ته رايي ورکولې. دغه کار دوی ته د گوښه والي احساس ورکاو ، ځکه چې هيڅ مسلمان دهغوی رايې ته اړتيا نه درلوده . خو دې کار دهغوی اهميت کم کړی و. مو ږ گډ ټاکنيز سيستم رامنځ ته کړ چې هر چا هر چاته رايې ور کولای شوه. خو ورسره مو غېر مسلمانو ته اجازه ورکړه چې خپلې لس څو کی دې هم ورسره وي. په دغه بدلون نورو نوماندو ددوی رايو ته مجبوره شول او ددغو لږکيو اړتيا وته دځواب ورکولو جوگه شول. اوس دغه لږه کي د اصلي سياسي ژوند بهېر ته ور دننه شوي.
د مشرانو دجرگې او ولايتي شوراگانو دکاندېدانو لپاه مو د پوهنتون د فراغت سند حتمي کړ، چې له بوې خوا تحصيل کړی سناتوران او استازي ولرو او له بل پلوه غېر مطلوب سيا ستوال له صحنې بهر او پارلمان نويو ځوانو روڼ اندو ته وزگار کړو.
همدا رنګه مو داسې قانون جوړ کړ چې هېڅوک دوه ځلې سر په سر لومړي وزير او ولسمشر کېدای نشي. که يې دوره پای ته رسولې وي او که نيمه پاتې وي.
ډېرو فکر وکړ چې دا قانون بې د نواز شريف او بې نظيرې لپاره جوړ کړ ، داهم سمه ده. خو په لويه کې نوی قانون ددې لپاره تصويب شو چې نوي کسان د لوړو څوکيو لپاره وهڅوي او همدا رنګه پر يو شمېر ميراثي کسانو د څارنې زمينه برابره کړي.
د هېواد د دريو اصلي لوبغاړو د کار څارنه زما د موخو په سر کې وه .زه په دې باور وم که داکار ونشي تل پاتې د بمو کراسۍ نشي راتلای. پخوا به د ولسمشر او لومړي وزير تر منځ په غېر قانوني ډول د پوځ مشر نصيحتونه کول ، او لومړي وزير به دا سپارښتنې مهمې نه بللې ،چې د لومړي وزير دې کار به ولسمشر او د پوځ مشر خفه کړل. دغه کار په يوه ډول دولسمشر لخوا د ملي شورا په له منځه وړلو او بيا ددغه واک په نشتوالي کې پوځي قانون رامنځ ته کېده.
تردې وړاندې ولسمشر کولای شو بې له کوم پخواني فکر او انېزې دخپلو شخصي هوسونو او غوښتنو پر اساس په لو مړي وزير بربېد کاو. د اساسي قانون د b ۲-۵۲ مادې پر اساس کله چې ولسمشر د ملي شورا د له منځه وړلو واک درلود لږ تر لږه يو ځل داسې وشو �تل به بې له کوم لامله په هېواد کې د دېمو کراسۍ د گډ وډېدو سبب کېده. د يوه نا معقول ولسمشر کار بايد وڅارل شي.
وروستی او مهمه څارنه بايد د پوځ د مشر لخوا شوې وه . د پاکستان په سياسي چاپيريال کې اپوزيسيون تل په منصفانه او غير منصفانه توگه د حکومت کمزوري غوښته ، اسانه خو ناقانونه او نا دموکراټيکه لاره دا وه چې د پوځ مشر د لومړي وزير په وړاندی تحريک کړي. شرايط هغه مهال سختيږي چې لومړی وزيرد اداري ستونزو سره مخامخ شو او خلک چې د هيواد د خوښی لپاره انديښمن دي د پوځ مشر ته راځي او د هيواد د ژغورلو غوښتنه کوي.
د ۱۹۹۲ کال نه چې د پوځي عملياتو رياست ته ورسيدم، تراوسه پورې ددې شاهد يم چې د پوځ هر مشر ته داسې شرايط ورپيښ شوي دي.
۱۹۹۸ د اکتوبر نه د ۱۹۹۹ تراکتوبره پورې چې زه د نواز شريف په حکومت کې د پوځ مشر وم ډېرو ښځو او نارينه و راته پيغور راکوو چې ولی د نواز شريف په وړاندی څه نه کوم ؟
هغوی پوښتنه کوله ولی د هيواد مشري نه اخلی ؟
ايا غواړی چې پاکستان وران شي ؟
دا ډ ول شرايطو د ۱۹۹۰ کلونو نه د پوځ مشران له سرگردانی سره مخامخ کړي دي. د هغه پوځ مشر چې بې له فکره عمل کوي او د لومړي وزير په چلند کې بدلون نه شي راوستلای واک بې په لاس کې نيولي دی.
که چيرې غواړو تل پاتې دموکراسي را شي نو په راتلونکي کې بايد دغه حالت تکرار نه شي.پوځي قانون د يو سياسي درد درملنه هيڅ کله نه شي کولې.
نو له خطا ساتلې يوه څار گره اداره په کار ده. په دې بر خه کې مې دملي امنيت يا ( ان اس سي) دجوړېدو وړاندېز وکړ ، داسې اداره چې د ولسمشر تر نېغې لارښوونې لاندې به کار کوي. خو هيڅ اجرايې واک به نه لري. يوازې يو مشورتي جوړښت به وي پوره لکه پارلمان غوندې. وروسته ددغې ادارې غړې هم وټاکل شول. چې لومړی وزير ، څلور اعلی وزيران ، په ملي شورا کې دمخالفينو يا اپوزيسيون مشر ، دملي شورا او مشرانو جرگې مشران او څلور لوړ پوړي پوځي چارواکي، لوی درستيز ، دسمندري او هواي ځواکونو مشران يې غړي و. د غړو شمېر ۱۳ ته رسېده ،چې يو يې مشر اونور ۱۲ يې غړي و. يو هېرېم د پوځ مشر بايد هله ورگډ شي چې خبره له سيا سته بهر وي. خو داړتيا له مخې څلور جنرال پکې شامل شو.
د ملي امنيت د شورا په جوړېدو چې په ۳ مياشتو کې به يو ځل غونډه کوي زه با وري شوم، چې په پاکستان کې د دريواړو اصلي لوبغاړو دڅارنې اداره مې جوړه کړه. له همدې کبله لومړی وزير بايد خدمت وکړي که نه د اپوزيسيون د مشر او د دريو پوځي مشرانو فشار به پرې راشي. ښه داده چې ولسمشر د ملي امنيت د شورا پرته بې له کوم پخواني فکره کوم کار ونکړي. نو د پوځ مشر به هيڅکله واک په لاس کې وانخلي.
ځکه يوه اداره شته چې دده او خلکو اندېښنو ته غوږ شي. او هغه لومړي وزير ته وړاندې کړي او بيا اساسي قانون او قانوني بهېر ته د لارې وهلو اجازه ورکړي.

زه خبر يم چې ځينو مخالفو سيا ستوالو د ملي امنيت له شورا او په ځانېږې توگه د پوځيانو د ورگډېدو مخالفت درلود. همدا رنګه د لويديځوالو په اند ښښنو هم خبر يم چې سيا ست ته د نظاميانو د ورگډېدو په اړه يې لري.

خو سره له دې باور لرم چې د ولسمشر د کارونو په څارلو سربېره د ملي شورا د منحلېدو او د تل پاتې د ېمو کراسی د ټپنيدو او د نظامي قانون د پلي کيدو دمخنیوي په برخه ېوه دربځه ده .
دا حالت د پاکستان د حالاتو سره سرلوي. او ترهغه به پاتې وي چې زموږ د خلکو سیا ست پوخ شي . او وکولای شي په پارلمان کې څارونکې سیاسي اداري جوړې کړی شي.
په خواشینی سره چې د اپوزېسیون مشر مولانا فضل الرحمن چې د( پي ام ال کېو ) په مټ چې د ملي امنیت په غونډو کې به ګډون کوي باوري شو ، او د ملاتړ هوډ یې هم وکړ خو په ناستو کې د ګډون له تصمیم څخه شاته ولاړ . هغه چې د ۲ مذهبي ډلو د ایېتلاف مشردی دا غونډې یې تحریم کړې دي.
هغوی یا د ملي امنیت د شورا په اغېزمنتوب نه دي خبر او یا هڅه کوي په اسانۍ سره د سیا سي اصلاحاتو لړی سبوتاژ کړي ، چې وکولای شي خپلو پخوانېو خرابو کړنو او ورځو ته ور وګرځي.
په هر مخ پرودې هېوا د کې چې سیا سي او حکومتي اداري یې پوره نه وي پخي شوې تل د ټلارو د تشکېل او اجرا کولو ترمنځ ستر واټن وي. پا کستان په سنتي ډول یو مرکزي، فدرال او ستر ایالتي حکومتونه درلودل.خو سیمه ییزې چارې یا قانونمندې نه وې او یا د ایالتي حکومتونو لخوا تر سره کېدې.
ویل یې (( ټول سیا ستونه سیمه یز دي ) ) خو که موخه داوي چې خلک په اغېز منه توګه په سیا سي بهېر کې ونډه واخلي د ېمو کراسي بابېد د ټولنې لاندې سطحې ته وغزول شي. دا هغه څه دي چې نشتوالی یې په پاکستان کې حس کیږي.
په واقېعت کې رېښتېنې دیموکراسي بابېد د ټولنې له لاندې پوړیو نه پورته پوړیو ته پراخه شي او نبابېد دا هېله ولرو چې کولای شو له پاسه دیمو کراسي په لاندې خلکو باندې تحمېل شي.
د ېمو کراسی لپاره د هرم شکل ښځې سم دی. که نه د ېمو کراسي سقوط کوي. سیمه ییزحکومتي سیستم چې له سیاسي ، اداري او مالي پلوه قوي شوی وي د دیمو کراسي په زړه کې ځای لري. ځکه سیمه ییز حکومتونه د خپلو خلکو په اړتیا ښه پوهېږي. دا په خلکو ښه اغېز کوي .
لکه چې وړاندې ووېل شو موږ په ۲۰۰۰ کال کې د سېمه ېېزو حکومتونو د پیاوړتیا په فرمان سره په یوه خاموشه انقلاب لاس پورې کړ. دغه فرمان د استعماري دورې نښې له منځه یوړې ،چې د پولیسو یو مشر او د کمیسیون مرستیال به د حاکمانو په څېر ولسوالی اداره کولې. د یوه قلم په خو ځولو دواړه چارواکي د یوه انتخابي ښاروال یا ناظم تر فرمان لاندې شول . اړشوم د ډېرو فشارونو او د بېروکراسیو د سیسو په وړاندې ودرېږم ، چې هڅه یې کوله دغه سیستم په نطفه کې مړ کړي. خو موږ خپلې لارې ته دوام ورکړ او په عملي کولو کې یې بریالي شو . که وروسته دا سیستم بربا لي وخیژي باور لرم چې په تاریخ کې به د یوه ابتکار په توګه ثبت شي.
لومړی پړاو سیمه ییزې ټاکنې په ۵ پړاونو کې د ۲۰۰۰ کال د دسامبر له ۳۰ د ۲۰۰۱ کال د جولای تر ۵ پورې وشوې. هر سیمه ییز حکومت درې ردې لري . په ټیټه پوړی کې د ټولنو شورا ، د علاقه داری او ولسوالیو شورا . ولسوالي د ناظم له لوري چې د ښاروال معادل وه اداره کېده.
د هرې ټولنې شورا تر ټولو وړوکې اداري جوړښت چې د ۱۵ تر ۲۰ زره وګړوا ستازیتوب کوي ) ۱۳ غړي لري چې ۴ یې بابېد ښځې وي . همدا رنګه به دهرې اتحادیې په شورا کې یوه څوکې غیر مسلمان ته ورکړ شوه.۴ څوکی نورې کارګرو او کلیوالو ته ځانګړې شوې ،چې دغه نا بینایان سیا ست ته ور داخل کړو.ولسوالي خپله بودجه له مرکزي دولت او ایالتونو تر لاسه کوي. خو خپل عابدات هم ټولولی شي. زه فکر کوم دا خلکو ته د رېښتېنې واک دورکولو لړی ده.
د ولسوالیو لومړي حکومتونه د ۲۰۰۱ کال د اګست په ۱۴ رسما رامنځ ته شول.ماټولو ناظمانو ته وېنا وکړه . او د خپلو سیمو او خلکو د پر مختګ انېزه مې ورکړه. په خواشینی سره د ملي او ولایتي شورا غړو سېمه ېېز حکومتونه د ځان لپاره تهدېد وباله. هغوی نه پوهېدل چې اصلي دنده یې د قانون جوړول دي . زه باور لرم چې په پاکستان کې د د ېمو کراسي په پخېدو به دا درک هم رامنځ ته شي .کله چې د سیمه یز حکومت سیستم رېښې نېسي او خلک د هو ښېاری ، صدا قت او وړتېا پر اساس رایې ورکړي ، فاسد او نا اغېز من خلک رد کړي ،هغه مهال موږ بې له وېنې تویېدو ېوه انقلاب ته رسېږو .
د ولسوالیو جوړو شویو حکومتونو د ۲۰۰۱ کال په لومړی ۴ کلنه دوره کې ښه اغېزمن کار وکړ. دهغوی اغېزمنتوب د ناظمانو په وړتېا پورې اړه درلوده. په هغو سیمو کې چې ناظمانو ښه وړتېا ښولې وه د پام وړ پر مختګونه شول. خود نا پوهو کسانو کارونه پڅ پاتې شول. د سیمه ییزو حکومتونو د دوهمې دورې ټاکنې په ۲۰۰۵ کال کې وشوې. ټاکنېز تبلېغات په ډېر خرپ او درب سره وشول، چې ښه کسان وټاکل شول. رایې ورکونکو په سېمه ېېزه کچه ښه ګډون وکړ. بابېد په ۲۰۰۷ کال کې ملي او ایالتي ټاکنو ته په هېله شو .
)شوراګانې ۵ کلنه دوره لري ) وبه ګورو چې دغه سیاسي بلوغ ایالتي او ملي کچې ته لوړه شوې.
ډېر خوښ شوم ،چې په ډېرو سیمو کې فاسد خلک د سیمه ییزو حکومتونو او شوراګانو کې رد شول. یوه بله ښه نښه په بلو چستان او سرحد ایالت کې د سترو مذهبي ډلو ردول دي په دغه سیمه کې چې ایتلافي حکومت حاکم دی. په ۲۰۰۲ کال کې د ۷۲ په سلو کې ملاتړ ، په ۲۰۰۵ کال کې ۲۴ په سلو کې ته راټیټه شوه . ددغه ټیټوالي یو لامل د هغوی په ناتوانی پورې اړه لري. ما هم د ملایانو څخه د ملاتړ د خطر په اړه خلکو ته د معلوماتو دورکړې هڅې کړې.
تېر وخت ته په کتو له ګټو تورونو سره سره چې ښه کارونه نه دي شوي، وینو چې د سیمه ییز حکومت تجربه بریالی ده. زه تل نېمې ډکې پیالې ته ګورم ، خو روښانه ده چې نیمه نوره پیاله خالي ده. خو د وخت په تېرېدو به پاتې نېمه هم ډکه شي .

ستري محکمې ر اته ۳ کاله وخت راکړ چې پاکستان ته ټيکاو راوړم ، ټاکنې وکړم او يوه ټآکل شوي حکومت ته واک وسپارم. تر ۲۰۰۲ پورې مو وکولای شو نوي سيمه ييز حکومتونه ، نوي سيا سي گوند جوړ کړم ، او اقتصاد هم تر يوې کچې ښه کړم.د سپټا مبر د ۱۱ را پيدا شوي ټکان کم شو . په ويا ړ سره با يد ووايم چې په تېرو ۳ کلونو کې مو د پاکستان د ټول تاريخ په پرتله ښه اغېز منه کابينه درلوده.ټيم مې په په استثنايي ډول ښه کار وکړ .

زه مې د کابينې ټولو وزيرانو او د عامه خدماتو د ادارو ټولو رېسانو ته چې د وطندوستی په مينه يې ښه کار کړی ، ما او هېواد ته يې پوره وفاداري ښولي سلام کوم.

ډېرو راته دا سپارښتنه وکړه چې ټاکنې ونه کړم او له ستري محکمې نور وخت وغواړم هغوی فکر کاو چې د سمونو روان بهير زيات وخت ته اړتيا لري چې ټينګ پلي شي. خو زه په خپله خبره ولاړ وم. نه يوازې ما له خلکو سره د ټاکنو د ترسره کېدو ژمنه کړې وه ، بلکې د انتخاباتو کول د ستري محکمې هېله وه. او ما هم ټينګ باور درلود چې د ېمو کراسی ژر ترژره پلې کړم.

د( ال اف )او يا د قانوني نظم د چوکاټ پر بنسټ ټاکنو زموږ ټولو سياسي او انتخاباتي سمونو ته قانونيت ورکړ. وړاندې ولاړو ، له تورونو د لېدو سره سره بيا هم ټاکنې په ډېر روښانه او عادلانه فضا کې وشوې .

د( پي ام ال کېو ) گوند د ملي شورا ډېرې څو کی ترلاسه کړې. خو مطلق اکثريت يې ونه گاټه. يوازې د پنجاب په ايالتي شورا کې دغه گوند مطلق اکثريت ترلاسه کړ. هلته په اسانی سره سيمه ېيز حکومت جوړ شو. په سند کې د بېنظير بوټو نوي گوند )pppp ډېرې څوکی ترلاسه کړې. خو په ښه توگه له مطلق اکثريته پاتې شو. دهمدې لپاره هلته ايټلافي حکومت جوړ شو. په بلو چستان کې هم د پي ام ال کېو گوند ډېرې څو کی وگټلې ، خو دومره نه چې په يوازې ځان ايالتي حکومت جوړ کړي. په سرحد ايالت کې مذهبي ډلو متحده مجلس عمل (MQM) مطلق اکثريت څوکی وگټلې او ايالتي حکومت يې جوړ کړ .

خو په ملي کچه د( پي ام ال کېو ) د ايټلاف لپاره دوه انتخابه درلودل اول متحده مجلس عمل او د بينظير بوټو نوی گوند . که د متحده مجلس عمل سره چې په ملي شورا کې څلورمه لويه ډله وه ايټلاف شوی وای نو بيا هم په پارلمان کې قوي اکثر يت نه جوړېده . دپاکستان د خلکو گوند ډلې دلبرالو تشکېلاتو د درلودو ادعا کوله. که دغه دعوه سمه وای نو دغه ښه انتخاب و. او دهغوی لپاره هم ښه چانس و ، چې خپل ليبرال والی ثابت کړي . او که د ۱۹۷۰ لسېزې په څېر کورني تشکېلات يې لرل. خو د پي ام ال کېو لخوا له دوی سره ټولې هڅې ناکامه شوې ، او يوازېنی لامل يې دا وچې بېنظيرې ته دا خبره دمنلو وړ نه وه ځکه هغه خپل حزب ته د کورني ملکېت په سترگه گوري. د سپتامبر د ۱۱ د بربېدونو نه وروسته د مجلس عمل سره ايټلاف به ډېرې نړيوالې منفي نتېجې درلودې ،خو سره له دې په دې برخه کې وروستی هڅې وشوې. متحده مجلس عمل دداسې کس لپاره د لومړي وزير څوکی وغوښته چې له ملي او نړيواله اړخه د منلو وړ نه و ، هغه حتی په خپله راته راغی او داغوښتنه يې وکړه. او د امريکا او لوېديځ سره يې د ښو اړيکو او د القاعدې او افراطيانو سره يې د قاطع مبارزې د کولو ژمنه وکړه. موږ له يوه سخت وضيعت سره مخا مخ شو .

په دې وخت کې د پاکستان دخلکو د گوند يو شمېر يې باکه غړود بينظيرې دځان غوښتنې له سيا ست سره مخالفت وکړ او خپل پريکون يې ثابت کړ. هغوی په پارلمان کې يو بلاک جوړ کړ. چې وطنپرستان ونومول شو. تر هغه وروسته يې د پاکستان دخلکو دپخواني گوند نوم چې درې توري وو (PPP )په ځان کيښود چې په پارلمان کې د پاکستان دخلکو دنوي گوند چې د پي څلور تورې وو جلاشي. دغه نوې ډلې دMQM او د پاکستان مسلم لې ق گوند سره يې په ضعېفه اکثريت حکومت جوړ کړ.دغه حالت سېمه ييزي چنې وهلو ته لاره هواره کړه PML_Q . له MQM سره په گډه د سند حکومت جوړولو ته ملا وتړله. په پای کې دغه کار په کراچی کې چې دMQMد پلو يانو مرکزدی يوه سوله ييزه دوره راوسته .

په همدې حال کې ځينو کسانو په کوردننه او بهر کې د ټاکنو اعتبار له سوال سره مخامخ کړ ، ځينو په ما او اسخباراتي ادارو تور ولاو چې د مجلس عمل څخه مو ملاتړ وکړ.ځکه چې دغه گوند له هېلې زياتې څوکی ترلاسه کړې. دغه تورونه غلط او بې بنسټه دي. که ما غوښتلای ټاکنې بې رنګه کړم نو د مجلس عمل څخه ملاتړ ته اړتيا نه وه.

دغه تورونه بې اساسه دي. خو په پاکستان کې د توطيي تېوري اوږد تاريخ لري.

په داسې حال کې چې خبرې روانې وې اړتيا وه چې په اساسي قانون کې د يوې مادې په اضا فه کولو سره (( د قانوني نظم چوکاټ )) ته قانونېت ورکړو. موږ غوښتل هم اساسي قانون او هم نوې د ېموکراسي په اخېستل شويو گامونو وساتو . ددغې لايحې تصوېب په پارلمان کې دوه پر درې اکثريت ته اړتيا درلوده. دغه کار د پي پي پي او يا دمجلس عمل ملاتړ ته اړتيا درلوده. مجلس عمل ډېر تابع ځکه و چې غوښتل يې شوراگانې په کار پيل وکړي. چې هغوی ژر د واک مزه وڅکي.گڼې ناستې د مسلم لېگ ق او ام ام اې ترمنځ وشوې. لوی درستيز ډگر جنرال حمېد جاوېد هم په دغو ناستو کې گډون درلود ، خبرې سختې وې. پو ه شو چې مجلس عمل له استقامت او صراحت پرته نور ټول صفتونه لري. ددغه گوند غړي بې لارې تلو ته ډېر لېواله و. او تل به يې حالت ته بدلون ورکاو. حساسي مسلې داوې:

د ۵ نورو کلونو لپاره د ولسمشر په توگه زما پاتې کېدل ،

په پوځي برخه کې زما شتون يا نشتوالی ،

د ملي امنيت د شورا جوړېدل او د پارلمان د منحلېدو لپاره ولسمشر ته واک ورکول .

ما د چودري شجاعت حسين او د لوي درستيز په مشرۍ د پي ام ال کيو په ګوند پوره اعتبار درلود چې له يو لړ سختو خبرو وروسته يې له متحده مجلس عمل سره يوه ګډه ستراتېژي جوړه کړه. موږ موافقه وکړه چې په اساسي قانون کې د ۱۷ بدلون لاېحه د ملي امنيت د شورا په ويستلو او د جلا لاېحې په توګه چې مجلس عمل به له هغه ملا تړ کوي د پاکستان ملي شورا ته وړاندې کوو. ما هم د ښه نيت د ښودلو په توګه په ژبه ژمنه وکړه، چې له پوځه به ګوښه کېږم او د ۲۰۰۴ کال د دسامبر تر ۳۱ به د پوځ جامې اخوا کوم. په دې اساس په اساسي قانون کې ولسم څل بدلون په اکثريت سره ومنل شو. هغه ډول چې پرېکړه شوې وه ، سمدلاسه بايد د ملي امنيت د شورا لاېحه هم تصويب شي. سره له دې چې لايحه ومنل شوه ،ځکه چې اکثريت ته يې اړتيا درلوده چې زموږ ګوند درلود . خو ملايانو په ښکاره توګه له دغې لايحې سره مخالفت وښود . اوس زموږ اصلاحات مشروع او د اساسي قانون سره سم شول. او ما د اساسي قانون له مخې کولای شو تر ۲۰۰۷ کاله پورې دواړه د پوځ او هېواد مشري ولرم.

.............................................................................................................................................................

کله چې اعلام شوه د ۲۰۰۴ کال د دسامبر په ۳۱ به د پوځ خولۍ لرې کوم جدي وم. خو ورو ، وروحالات په ډاګه شو. شکونه او فکرونه مې په ذهن کې زيات شول.په کورنۍ جبهه کې نه يوازې مجلس عمل په پرلپسې توګه له خپلو ژمنو په شا کېده ،بلکې مولانا صاحبانو ناوړه دربځ غوره کړ. په شمالي او سويلي وزيرستان کې د ترهرى سره جڼ زور اخيست او پوځ هم په دې جبهو کې بوخت او په ستړونو کې ولوېدل. پر دغو ټولو سربېره په عام ډول پاکستان او په ځانړې توګه عبدالقدېر خان د هستوي وسلو د خپراوي له کبله چې بايد احتياطي چلند ورسره شوی وای د ټولې نړۍ پام يې ځانته را واړاو. په داسې حال کې چې په ملي سطحه له دغه ډول حالاتو سره مخامخ وو .په عراق کې جړه پيل شوه .
او له پاکستانه د پوځيانو د لېږلو غوښتنه وشوه. دغه کار هم ځيرکتيا ته اړتيا درلوده . بلخوا په ۲۰۰۲ کال کې د هند او پاکستان ترمنځ د پولو پر سره د اړيکو له خرابوالي وروسته چې کله لومړي وزير اتل بهاري واجپاي موافقه وکړه د ۲۰۰۴ کال په جنوری کې به پاکستان ته سفر کوي. د اړيکو سوړ والی کم شو او دغه لړۍ هم بايد په ماهرانه ډول پرمخ وړل شوې وای.
پاکستان چې له دغو ټولو شرايطو سره مخامخ شوی وو . بيلا بيلو خواو ته کشول کېده. چې د حکومت د رهبرۍ قوي يو والي ته يې اړتيا درلوده. که چاغوښتې وايي که نه شرايطو د مشرۍ او قومندې واسکټ را واغوست. په همدې حالاتو کې ما فکر کاو چې د پوځي يونيفورم کنبل به مې دريځ يو څه کمزوری ښکاره کړي. دغو دواړو شيا نو ته اړتيا لېدل کېده. نو د همدې لپاره مې د خپل شخصيت خلاف تصميم ونيو چې د پوځ مشري خوشې نه کړم .
د ۲۰۰۲ کال په ټاکنو کې د (پي ام ال کيو )ګوند مېر ظفرالله خان جمالي د پارلماني ګوند د مشر په توګه وټاکه. د ايتلافيانو اضافه رايو ښاغلی جمالي د لومړي وزير په توګه غوره کړ. د لومړي ځل لپاره پاکستان د لوی ايالت بلو چستان څخه لومړی وزير درلود. هغه ډېر با شخصيته کس دی او زه ورته احترام لرم او زما ښه دوست دی.
کله مې چې د پاکستان مشري په غاړه واخېسته. هم د پوځ مشر وم او هم د قول اردوګانو د قومندانانو د ګډې کميټې مشر. د واک په اخيستو د هېواد د اجرايي شورا مشرې هم راکول شوه. د ۲۰۰۱ کال د جون په ۲۰ د پاکستان د ولسمشر په توګه مې په کار پيل کړ. له دې کبله مې ۴ خولۍ درلودې. په ۲ لاملونو ولسمشر شوم: اول تشريفاتي مسايل و، ځکه چې د ټولو هېوادونو له مشرانو سره مې منظمې اړيکې درلودې. او دوهم دليل دا و چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر له ټاکنو وروسته مې بايد د اجرايي شورا مشري پرا ېښې وای �چې د انتخابي لومړي وزير په راتلو سره دغه پوسټ له منځه تلو . د ۲۰۰۱ کال په اکتوبر کې مې وړاندې له وړاندې دکمېټې له رياسته ځان ګوښه او جنرال عزېز ته مې دادنده وسپارله. له هغه وروسته راته دوه خولۍ پاتې وې ، ولسمشر او د پوځ مشر.

د ۲۰۰۲ کال د نوامبر په ۱۲ ټولو انتخابي ټولنو سنا ، ملي شورا ، اوڅلور و ايالتي شوراګانو ماته د پاکستان دولسمشر په توګه د باور رايي راکړه. سره له دې چې ما ديموکراتېکه او قانوني لاره نېولې وه چې پر دغو دوو څوکېو پاتې شم. خو د پوځ دمشر په توګه زما دکار دوام د پاکستان مخالفانو ته بهانه ورکړه. چې زما دمو خو په اړه له شکه ډک چلند ولري او زموږ د ډيموکراسۍ اعتبار ترپوښتنې لاندې راولي. خو زه خپل وجدان او دهيواد اړتيا و ته غوږ نيسم. زه هرڅه چې د خپل هېواد په ګټه ووينم تر سره کوم يې. نه د کوم بهرني سازمان او خبري رسنيو د تصديق ليک د ترلاسه کولو لپاره.زه هر هغه کار کوم چې پوه شم ملت مې پرې خوښيږي.
معمولا په ملي شورا کې د اکثريت ګوند مشر لومړی وزير کيږي. خو تصميم ونيول شو چې دغه دوه اداري سره جلا کړي.چې چودري شجاعت حسين د (پي ام ال کيو ) د ګوند د بنسټونو د ټينګولو مهمې دندې ته دوام ورکړي. له بل پلوه شجاعت نه غوښتل لومړی وزير شي . چې لامل يې دهغه ناروغي وه .
جمالي ژر ترژره خپله کابينه جوړه او حکومت په کار پيل وکړ. لويه کابينه وه. ځکه ټولو ايتلافي شريکانو ته بايد ځای ورکول شوې وای. دا په پارلماني نظامونو کې د ايتلافي حکومت د جوړېدو يو ستر عيب دی. دجمالي کابينې تر ۲۰۰۴ کاله پورې په ښه ممکنه توګه کار وکړ.
په دغه دوره کې دجمالي او دګوند دمشر شجاعت ترمنځ ډېر اختلافات پيدا شول. ا ختلافونه دومره زيات شول چې ګوند فکر کاو لومړی وزير او دګوند

مشر د یوه او بل پر ضد کار کوي. ډېرې هڅې مې وکړې چې دغه کړکیچ ختم کړم خو نتیجه یې ورنکړه.
همدارنګه ما فکر وکړ چې جمالي دخپلې ادارې له غوښتنو سره همغږی نه دی. خلکو د هغه د ځای ناستي په اړه فکر کول پیل کړل. او یو هېډل چې کېدای شي ژر استعفا وکړي. ملت یو ځل بیا له نا معلوم حالت سره مخامخ شو. چې تازه اقتصادي ودې ته په کتو سره سخته وه. زېات ګوښوسي و چې کېدای شي ملي شورا منحل کړم. خو ما داسې قصد نه درلود. خو واقیعتونو د داسې فکرونو مخه ونشوه نیولای. تردې بده ، ګوند تصمیم ونشو نیوای چې د یوه ځای ناستې په اړه موافقې ته سره ورسیږي. کله چې کړکیچ لوړشو مجبوره شوم مداخله مې وکړه. ما فکر کاو دمالېې وزیر شوکت عزېز به د لومړي وزیر د دندې لپاره غوره کس وي. خو ستونزه داوه چې عزېز د مشرانو د جرګې غړی و او لومړی وزیر باېد د ولسي جرګې غړی وای. نو تصمیم ونیول شو چې جمالي دې استعفا وکړي او د ګوند مشر چودري شجاعت حسین د ې د خو میاشتو لپاره لومړی وزیر شي. او شوکت عزېز دې په ملي شورا کې ورته د ۲ خالي شویو څو کېو لپاره انتخابات وکړي. هېڅ دغه ډول خبره مې شوکت ته نه وه کړې هغه په ډېرې سادګی سره له دې کار سره مخامخ شو. هغه ورځ چې جمالي استعفا ورکړه شوکت په پیښه‌ی کې د مخدره توکو یوې ډېرې ته اور اچاو ، اسلام اباد ته د راتې پر وخت زما ریس ارکان ورته تېلېفون وکړ او د کوم علت د یادولو پرته یې ورته وویل ژر ترژره چودري حسین ته ځان ورسوه . دخبرو په پای کې زما ریس ارکان ورته وویل (( ښه بخت درته غواړم )) شوکت یو څه وارخطا شوی و. کله چې هلته ورسېد چودري چپ و ، ځکه ما ورته ویلي و چې د جمالي د استعفا د رسمي اعلانه پورې هیڅ شي افشا نکړي. شوکت عزېز هله خبر شو چې لومړي وزیر جمالي استعفا ورکړه.
ما همدارنګه له جمالي غوښتنه وکړه چې د استعفا پر وخت ملت ته وو اییي چې شوکت عزېز به دده پرځای لومړی وزیر وي. خو د نامعلومو لاملونو له کبله هغه داکار ونکړ. له همدې کبله مې ژر شجاعت ته فون وکړ او ورته ومې وېل چې ژر ترژره یو خبري کنفرانس جوړ او ملت ته ټول پروګرام اعلام کړي. دا هغه مهال و چې شوکت پوه شو د هیواد دوهمې جنجالي څوکۍ لپاره په پام کې ده. هغه څه چې پر ده د مرګوني برید غږ یې له ځانه سره کورته یوړ.
په همغه ماښام مې د یوه ملري په کور کې میلمه وم او شوکت هم را بلل شوی و. دا میلمستیا له وړاندې پلان شوې وه. او هغه مهال هیڅوک نه پوهېدل چې په دغه ورځ به شوکت عزېز لومړی وزیر شي.
خو کله چې خواړه تېار شول ، یوې ښځې وپوښتل شوکت ته انتظار نه باسو ؟ یقینا چې هغه نه وه خبره. خپله خندا مې اداره نشوه کړای ومې ویل ( شوکت وروسته راځي ) چې وروسته بیا راغی. کله چې را ورسېد ودرېدم او هغه ته مې غېږ ورکړه. او له ټولو میلمنو مې وغوښتل چې (( راځی خپل نوي لومړي وزیر ته یو ځای لاسونه وپړکوو. (
د جمالي په اړه باېد وواېم چې هغه ماته ډېر وفادار و. او د واک د لېږدولو پر وخت دهغه رول د ستاینې وړ دی. زه هغه خپل ښه دوست ګنم ، د قدرت له انتقال وروسته مو یوه کورنۍ نا سته د هغه په کور کې درلوده. چې پا کستان ته دهغه دخدمتونو په اړه مې ترې مننه وکړه.
زموږ ګوندي نظام لاهم د ودې په حال کې دی . د پاکستان د مسلم لیګ ګوند ډېرې برخې د بیلا بیلو لاملونو له کبله په بېلو وختونو کې انشعاب کړی دی. یو شمېر نور واړه ګوندونه هم و. زما پخوانی هېله داوه چې هم نظره سیاسي ګوندونه سره یو کړو او یوه قوي سیاسي تنظیم ترې جوړ کړم ، چې نور واړه ګوندونه دې هم وي. په دې برخه کې مې هڅې پیل کړې چې د ډېرو ګوندونو له مشرانو سره نژدې ملری شوم. د مثبت ځواب له ترلاسه کولو خوښ شوم. ددغو هڅو په لړ کې مې له ټولو رهبرانو غوښتنه داوه چې د مسلم لیګ په ګټه دخپلو کوچنېو ګوندونو نه تېر شي ، چې هغوی د خپلې مهربانۍ له مخې مثبت ځواب راکړ.
څوک به د ګوند مشر شي؟ کله چې د ټولو ګوندونو مشرانو وویل هر څوک چې تا غوره کړمنی یې ، ډېر ویاړ مې وکړ. د ګڼو ارزونو او دګټې او تاوانونو له څېړنې وروسته مې د چودري حسین په ګټه تصمیم ونیو. بې له استثنا ګډونوالو موافقه وکړه.
لکه چې ومې وېل زموږ نظام اوږده لاره پر وړاندې درلوده چې ریښتېنې دېمو کراسی ته ورسیږو. ریښتنې دېموکراسي هله راځي چې ګوندونو په خپل منځ کې دېموکراسي ټینګه کړي. لکه څرنګه چې د ګوندونو فدرال او دایالتي شورا غړي یې د ګوند دکارګرانو په لاس ټاکل کیږي. په مقابل کې دې هغوی خپل ګوندي غړي په بېلا بېیلو ادارو کې وګماري .

## ۱۹ څپرکی

داقتصادي پر مخټ پيل
په ۱۹۹۹ کال کې مې اوله موخه د پاکستان د ناروغ اقتصاد ژوندي کول و. وړاندې مې واضح کړه چې څرنګه زما ټيم اقتصادي ستونزې و پيژندلې. په دې برخه کې به يو شمېر ځانګړو خرابيو ته ښه ژوره کتنه وکړو چې روښانه شي له څه ډول حالت سره مخامخ و او څه ډول ګامونه مو واخېستل .
سوداګرېز بانکونه اونور بنستونه له واسطه بازی او ملرو ډک شوي و. دعامه ځانګې شرکتونه په پراخه کچه دناوړه مدېريت سره مخا مخ شوي و. زموږ د اقتصاد غټه برخه لکه: د اوبو او انرژۍ د پراختيا اداره ، د کراچۍ د برېښنا د وېشلو شرکت ، د پاکستان داوسپنې د پټلبو لارې ، د پاکستان نړېوال هوايې شرکت ، د پنبې د صادراتو شرکت او د پاکستان د وريجو د صادراتو شرکتونه ټول د بيکاره واسطه بازو کسانو په لاس کې و.
په ۱۹۹۰ لسېزې کې ستر او پرلپسې مالي کسر ، دجاري حسابونو او پورونو خرابوالی ، د اقتصادې نه پرمختيا اصلي منابع وې. د صادراتو او مالياتو عوايد له منځه تللي و. پاکستان ته د بهرنيو اسعارو راتګ کم شوی و. ډېرو کسانو پاکستان يو ماتې خوړونکی هېواد باله. اقتصادي پر مخټ کم شوی و. د پانګه ونې کچه مخ کته روانه وه. او بهرنی پور ورځ په ورځ زياتېده . چې له ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۹ پورې ۲۰ ميلياردە ډالره پور ۳۹ ميلياردە ډالرو ته لوړ شوی و .
پاکستان د پور دورکړې تر فشار لاندې راغلی و، چې زموږ فزيکې او انساني بنستونه ستړي شوي و. بې وزلې له ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۹ پورې له ۱۸ په سلو کې څخه ۳۴ فيصدو تقريبا دوه برابرو ته لوړه شوې وه .
زه چې د سياست او اقتصاد په ډګر کې نوی مدېر وم ما خپلې څو مياشتې د مالي ، سوداګرېزو او بانکي ډګر له تکنو کراتانو څخه د يوه ټيم په جوړولو ولول. چې پوه شم په ۱۹۹۰ ميلادي لسيزه کې واقعا څه پيښ شوي دي. چې ومو لېدل يو بحران و . يوازې صورت پکې پاتې و، چې کولای مو شو اقتصادي ستراتيژي جوړه کړو . ددغې ستراتيژي جوړښت مود ۱۹۹۹ د دسامبر په ۱۵ ملت ته وړاندې کړه .
خو تردې ۲ مياشتې وروسته مې ددغې ستراتيژې ټولو اړخونو ته نظر وا چاو . غوښتل مې ووېنو د اقتصادي خو ځښت ټلوري سم تعريف شوي که نه ؟ چې ټول خلک پرې پوه شي. په ځانګړې توګه هغه خلک چې په خصوصي برخه کې کار کوي چې د پانګه ونې په اړه خپل تصميم ونيسي او په سوداګرېز ډګر کې مصروف شي. د خپلو سلاکارانو په همکاری پوه شوم ، چې د بيړنيو ګامونو او په اقتصادي ډګر کې د سختو ګامونو له اخېستو پر هېز وکړو . دهغو کسانو مې هيڅ پروا ونه کړه چې نصيحت به يې راته کاوه .( داکار او تصميمونه سياسي زيان او زما شهرت ته زيان رسوي (.
دملي ګټو لپاره مې ستر او اغېزمن ګامونه واخيستل: برابرې شوې ستراتيژي څلور موخې درلودې.
۱ ---ستر اقتصادي ټيکاو ته رسېدل.
۲ ---د اقتصاد درغېدو لپاره داساسي اصلاحاتو عملي کول.
۳ ---د اقتصادي اداري د ظرفيت لوړول.
۴ ---د بې وزلی يا فقر کمول.

پر دغو ۴ موخو وڅرخېدو . ځکه چې ستر اقتصادي ټيکاو بې له اساسي اصلاحاتو لنډ عمر لري.
اساسي اصلاحات هله کامېابېدی شي ، چې داقتصادي اداري کيفيت او ظرفيت لوړ شي. او زموږ دټولو موخو وروستی هڅه د بې وزلی ټيټوالی و. زه پوه شوم چې ددغو ۴ موخو تر منځ اړيکه قوي وه او بايد چې ټول يو ځای تر سره شي. دغه ډول چلند موږ په يوې دوه لارې کې ودرولو. ددغې ستراتيژي موخه په څو کلونو کې د لېدو وړ نه وي. ډېر وخلکو د بوې لسيزې په دوران کې سختی ګاللي وي. بېړنی او ژر پايلې بې غوښتې. دهغوی حوصله پای ته رسېدلې وه . سره له دې مې هوډ وکړ چې دهېواد داقتصادي ناروغی لپاره اوږد مهالي او تل پاتې ټلاره جوړه کړم. حتا که لنډ مهالي نا خوښي هم له ځانه سره ولري .
په اولو څو کلونو کې بخت له موږ سره نه وو ملری او اقتصاد مو د پښوالي او ټکان سره مخامخ شو . ناڅاپي وچکالی درې کاله دوام وکړ. چې زموږ کلېوال کرنېز سيستم او اقتصاد بې وڅاټه. نړېوال اقتصادي بحران زموږ د صادراتو لپاره غوښتنې کمې کړې. خو سربېره پردې هند خپل ځواکونه زموږ د پولو خوا ته را وليږل او موږ يې ورته غبرګون ته مجبوره کړو . چې زموږ پر اقتصاد بې زيات فشار راوړ . خو له دې سره سره مو د غوره شوې لارې په لور کلک ګامونه کېښودل او خپله ټلاره مو پلې کړه.
له کورنيو او بهرنيو کار پوهانو مو وغوښتل چې په بحراني برخو کې موږ ته سلا مشورې راکړې. د نړېوال بانک يوه پخواني چارواکي د يوه ځواک د مشرۍ دنده په غاړه واخېسته چې د مالياتي نظام د اصلاح په اړه وړاند يزونه وکړي. دغه وظيفوي ځواک دمالياتي بنستونو د رغاونې لپاره لارې چارې وړاندې کړې. چې تر مخه يې د اقتصاد دقانوني کېدو ، دمالي توکو پراختيا او دماليه ورکونکو دمجبوره کولو چې دماليې د ورکړې په اړه وړاند يزونه وشول ، او دماليې د راټولولو لپاره هم نوې لاره وړاندې شوه .
يو ه بل اقتصادي کارپوه چې په نړېوال بانک کې يې کارې تجربه درلوده . د پور دچارو دکمېټې مسوليت واخېست چې دبهرنيوپورونو د تنظيم لپاره ستراتيژي برابره کړې. يو متقاعد دولتي لوړ پوړي چارواکي دکرنيزو مالياتو په اړه رپوټ ورکړ.

د اقتصادي سلا مشورو یو بورډ د هېواد له وتلو سوداګرو د مالي وزارت د لوړ پوړو چارواکو او د پاکستان د دولتي بانک د مشر څخه تشکیل شو. چې دهېواد د اقتصاد پر وړاندې بې د پرتو خنډونو او دخصوصي کولو په اړه وړاند بزونه وکړي . د پاکستان د دولتي بانک مشر د بانکداری او مالي چارو په برخه کې د اصلاحاتو مشري په غاړه واخېسته، چې نه یوازې د بانکداری نظام بې اغېزمن کړ. بلکې په لومړي ځل بې کم عاید لرونکو ډلو او دټولنې منځنیو خلکو ته د بانکې اعتبار لاس رسی برابرکړ. د سود بېه چې په ۱۹۹۰ لسېزه کې ۲۰ په سلو کې وه. په ژور ډول شاوخوا **۵** په سلو کې کمه شوه چې د سوداګری د ترسره کولو نرخ بې هم راټیټ کړ. داګام د مصرفي ، کرنېزو وړو او متوسطو مالي شرکتونو د تقوي سره یو ځای د هېواد لپاره د اقتصاد لپاره مهمه وه . صنعتي ظرفېت چې تقریبا په ټولو برخو کې وچ ولاړ او وېده و. په ساده شرایطو او داعتبار په ترلاسه کولو را ژوندی شو.چې د صنعتي ماشین الاتو او دخامو موادو د تعرفو قېمت راټیټ شي �د بهرنیو اسعارو د بدلون چارې بازار ته پرېښول شوې ، ځکه چې تردې وړاندې روپیه هره ورځ بې ارزښته کېده. خو اوس وتوانېده صادرونکو ، واردونکو او پانګه والو ته یو ثابت نرخ ورکړو.

یوه بله سخته پرېکړه مو چې په ۲۰۰۰ کال کې وکړه د پیسو د نړېوال صندوق IMF نه د مرستو د ترلاسه کولو لپاره مراجعه وه. زه ښه پوهېدم چې ددغې اداري پروګرامونو د پاکستان خلک ځورولي وو ، خو موږ غوښتل له دغه سازمان نه ګټه واخلو ،چې خپلو ستراتیژیکو موخو ته ورسېږو . په خواشیني سره ستونزه داوه چې پاکستاني واکمنو په تېر وخت کې د پیسو نړیوال صندوق سره داسې تړونونه لاسلیک کړي چې ددواړو ترمنځ دکومې پروژې دپلې کولو پرته بې د IMF څخه پیسې اخېستې وي. پاکستان د لومړي قست یا پړاو پور اخېستونکی هېواد پېژندل کېده.. هغه داسې چې که به هرهېواد له دغې اداري نه یو قست یا پړاو پېسې د تړون په کولو سره پور کړې نو د نورو پړاونو پیسې به د پروژې په پلې کولو ورکول کېدې ، خو پاکستاني چارواکو په ځان د بې باوري له کبله پروژې نه عملې کولې او همغه لومړی قست پیسې به بې په پور یووړې .

خو زما حکومت د پیسو د نړېوال صندوق د پروژې په اجرا کې له وعدې وړاندې بریالی شو . وروسته مو د دغه صندوق له بودجې سره خدای په اماني وکړه. ځکه چې موږ د اصلاحاتو لپاره خپل پروګرام درلود . د پاکستان لومړیتوبونو ته مو انعکاس ورکړی و. ما خپله اجرائېوي ستراتېژي برابره کړې وه او وروسته بیا دهمکاری د راجذ بولو لپاره مو د پیسو نړېوال صندوق ته مراجعه وکړه . اود دوی مرستې به مو د خپلې ښې ستراتېژی په مټ را کاږلې.

هغه ستره ګټه چې زموږ هېواد د پیسو د نړېوال صندوق د یوه پروګرام له اجرا کولو ترلاسه کړه داوه چې زموږ د خارجي پور ټول اسهام د پاریس په کلوپ کې په ښو شرایطو سره له سره ونېول شو . ( پاریس کلپ د پر مختللو هېوادونو ، شمالي امریکا او جاپان څخه جوړ دی. ) ) چې اړو هېوادونو ته د ډله ییز تړون پر اساس پور ورکوي . لاسته راغلي تړون په **۳۸** کلونو کې د پور د بیا ورکړې یوه دوره وه. په حقیقت کې دا کار زموږ د پورونو د **۳۰** په سلو کې د کموالي په معنا و . وروستیو یادابښتونو هم د پور دجبرې ورکړې په ډګر کې کموالی را وست. ما ته د اهیځ په زړه پورې نه وه چې تقریبا د خپلو عوایدو **۶۲** په سلو کې بېرته د پور په اجرا کې ورکړو. خپلو اقتصادي مدېرانو ته مې ووېل دا شرایط د منلو وړ نه دي او باېد چې بدل بې کړو. مثلا د پور بېرته ورکړه باید له **۶۲** تر **۲۵** پورې را کمه کړو. خو برعکس باېد خصوصي پانګه ونه درې برابره زیاته شي. د پاکستان خلک د اوبو منابعو ، سړکونو ، لویو لارو. بندرونو ، ترمېنلونو ، برېښنا ، ګاز ، ښوونځیو ، روغتیاېي مرکزونو او پاکو اوبو ته اړتیا لري. مخ پر ودې ښاري مرکزونه مو لکه کراچۍ او لاهور پراخې بهسازی او لویونې ته اړتیا درلوده. که مو د پور د ورکړې اندازه نه وای کمه کړې نو دا هېڅ کار مونشو کولی .

دهېواد داقتصادي مدېرانو د زیار له برکته مو دهېواد ټول ستر پورونه ورکړل. او د پاتې پورونو ورکړه مو ډاډ منه کړه. نوي په زړه پورې پورونه مو ترلاسه کړل. هغه بهرني اسعار چې بهرنیو مالي ټولنو او بانکونو ته مو ورکول ور مو کړل. دغو ټولو هڅو عمومي پانګه ونې ته زمېنه برابره کړه. په همدې حال کې زموږ باور په دې وروستیو کلونو کې زیات شو . کېدای شي پاکستان لومړنی مخ پر وده هېواد وي چې د پیسو د نړیوال صندوق د پروګرامونو خلاص شوی او په ازاد ډول نړیوال بازار ته ور دننه شوی. هغه څه چې ما د پاکستان او نورو هېوادونو لپاره د پیسو د نړېوال صندوق سره د اړېکو له لارې زده کړل دا دي چې دخپلې بې کفاېتی او نا لاېقی مسولېت د پیسو پر نړېوال صندوق وروانه چوو .

که غواړی چې څه کار وکړی او ورته ښه کلکه ستراتېژي لری د پیسو د نړېوال صندوق او له نورو نړېوالو مالي ټولنو ګټه کولی شی. خو کله چې موږ په خپلو موخو کې ربښتېني نه یو ، سمه نه ده چې نور پړه وبولو . د اقتصادي مدیریت په ډګر کې زموږ اصلي هڅې داوې چې د لوبې مېدان هوار کړو. او د تېښتې هغه لاره چې دځو معتبرو کسانو لپاره جوړه شوې وه بنده کړو. زموږ د قانون بازی سیستم چې په ۱۹۹۰ لسیزه کي بې په تصمیم نیونه باندې غلبه کړې وه په یو لاسي ، شفاف او ملي نظام بدل شو .

د حساب ورکونې بنستېونه قوي شول او فاسد کسان له اړېکو او موقف پرته په جزا ورسېدل. چې له کبله بې په لوړو پوړیو کې فساد کم شو. زه دا دعوه نه کوم چې مو ږ وتوانېدو په منځنی او لاندې پوړیو کې هم فساد له منځه یو سو ، خو ښه پیل مو درلود .په لومړیو ۲ او دریو کلونو کې چې د ستر اقتصادي ټیکاو په ټلارې مو کار کاو زموږ سیا ستونه له زیاتو نېوکو سره مخامخ شو . خو ما تل په خپلو څرګندونو کې تېنګار کاو و چې هله پر مخټ کولی شو چې ستر اقتصادي ټیکاو رامنځ ته شي. له اقتصادي ټیکاو وروسته لکه چې هیله بې کېده پر مخټ وشو.

انتقاد کونکو خپل چلند بدل کړ. په دې وخت کې به بې د زړه براس په دې وېسته چې بېکاري او بې وزلي نه ده کمه شوې. او اوس چې دا دواړه هم په کمېدو ده ، ددوی چېغه داده چې د عوایدو واټن زیات دی. په ربښتیا چې په ځېنو برخو کې ډېر پر مخټ منفي اغېزې لري. له هغې ډلې نه تورم او دعوایدو مو قته نا انډولي.

خو د سبا ست په ښو وسپلو سره په دغو ستونزو لاس بری حتمي دی . دمعلوماتو د راکولو په یوې لومړنۍ ناستې کې راته وویل شو چې زموږ د اقتصاد ټوله پرېشاني د بودجې د لوړ کسر شته والی دی. زما سملاسي سوال داو چې نو زموږ د عوایدو اصلي منبع څه ده ؟او په کومو برخو کې مصرفیږي ؟ځواب داو چې مصرف زموږ پر سر دی . د پورونو د ورکړې تر څنګ دغه لښتونه په دفاعي او دولتي چارو او دعامه خدمتونو څانګو ته د سب سایډی په ورکړه کې کېږي. ، چې په کال کې دوه میلیارده ډالره تر ستوني تیروي . او زموږ عوایدد مالیو له لارې تر لاسه کیږي.

موخه مې روښانه شوه. باید لښت راکم کړو . بودجه مې کمه کړه ، دفاعي بودجه مې په خپل حال پرېښوده. او پوه کسان مې ددولتي اقتصادي تشکیلاتو د رهبری لپاره وټاکل. ددفاعي بودجې منجمدول سخت تصمیم و .موږ دغه کار وکړ، سره له دې چې هند خپله دفاعي بودجه څو برابره زیاته کړه. او بله داچې له هند سره دجرې وېره هم په۲۰۰۲ کال کې ډېره وه. ځکه هند دلسو میاشتو لپاره په پوله کې خپل ځواکونه راټول کړي و.

د لوړ پوړو اقتصادي مدیرانو د غوره کولو لپاره به مې دغه بو سوال مطرح کاو ( ایا کولی شی دغه ټولنه د زیان له پولې د ګټې کچې ته ورسوی ؟) که به ځواب هو او قاطع و دغه کس به ګمارل کېده. باید ووایم چې دغو زیاتو کسانو زما هیله پوره کړه ، هغوی خپلې اداري ګټورې او پرمخ بوتلې.

د فولادو کارخانه چې د پیل څخه د میلیاردونو روپی زیان یې را وړی و په میلیاردونو ډالرو ګټه یې وکړه. د پاکستان د بېړیو ملي شرکت چې په میلیاردونو روپی یې زیان کاو راژوندی شو ، او داسې ځای ته ورسید چې دوه ټانکره تیل یې له خپلو عوایدو واخیستل .

همدارنګه داوسپنې د پټلیو اداره ، د اوبو او برېښنا د پراختیا اداره ، د پاکستان ملي تلویزیون او ډیرې نورې دولتي ورې اداري پیا وړې شوې. د لښتونو د کمولو له تصمیم وروسته مې بله اندېښنه د عوایدو کموالی و. راته یې وویل دډېرو مالیو ټولول دهغه دترسره کولو څخه ډېر اسانه دی. پاکستانیانو په هیڅ ډول د مالیاتو د ورکړې په هکله څه ندي ویلي ، له ډېرو کلونو راهیسې په پاکستان کې له یو شمیر معدودو شیانو مالیه اخیستل کېده. او هر کال په دغو شیانو دمالیې د زیاتیدو پیتیی اچول کېده. ما د مالیو د زیاتیدو په اړه تصمیم ونیو او ورسره سم مې پر نورو شیانو د مالیو د لولو ګام اوچت کړ. دغه ګام زموږ اقتصاد هم قانوني کړ ، دمالیو دراټولولو دمرکزي اداري او پوځ څخه مې یو شمیر کسان را وغوښتل ، هغوی له ټولو شرکتونو څخه لېدنه وکړه. او له هغوی نه یې وغوښتل چې ژر دمالیو فورمې ډکې کړي. دغه پریکړه د سوداګرو او هتیوالو له کلک غبرګون سره مخامخ شوه. دوی سړکونو ته را ووتل او ددغه قانون مخالفت یې وکړ . هغوی حتا خپل توکي په زېرمو کې پټ او له دوکانونو یې وویستل. چې دمالیو دټولونکو سترګې پرې ونه لیږي. دنظم او قانون حاکمیت په ډېرو سیمو کې ګډ وډ شو ، چې د سوداګرو او دقانون د پلي کونکو ترمنځ یې خرابه فضا رامنځ ته کړه .

زه تر فشار لاندې وم، چې له دغه تصمیم نه په شا شم ،خو قبوله مې نکړه. ځکه په دې باور وم چې پر ډېرو توکو د مالیو له لولو پرته مالي کسر پای ته نه رسیږي. او نشو کولای د پرمختیایي کارونو لپاره کافي پیسي پیدا کړو . د سوداګرو د میاشتو میاشتو فشارونه او لاریونونه مې وزغمل. یو شمیر لویو ښارونو ته مې سفرونه وکړل ، د سوداګرو او صنعت کارانو سره دلیدنې پر مهال مې له دوی نه وغوښتل ددغه پریکړې وروستي اړخ ته دې وګوري. په پا یله کې مې هغوی راضي کړل. چې ددوی یو لړ وړاند یزونو مې هم ومنل. چې د نوي نظام له پیا وړتیا سره یې اړه درلوده.

دا پریکړه بریالۍ وه خو پوره ادعا هم نشم کولی چې ټول قرارداد یان مې د مالیو په ورکړې مجبوره کړي دي.د بودجې کسر په۱۹۹۰ لسیزه کې له ۸ څخه ۱۲ ته لوړ شوی و ،چې تر څلور فیصده پورې راکم شو.

په۲۰۰۰ کې مو عواید له۳۰۲ میلیارد روپیو څخه۷۰۰ میلیارده روپیو ته په کال۲۰۰۷ کې لوړ شو ،چې ۱۳۰ په سلو کې لوړوالی ښیي. د ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۹ پورې په۱۱ کاله دوره کې په ملي عوایدو کې۵۰ په سلو کې زیاتوالی راغلی و ، یعنې له۲۰۰ میلیارده روپیو څخه۳۰۲ میلیارده روپیو ته ورسیده. دا کوم عادي کار نه وهغه څه چې زما د ویاړ لامل شوی و داو چې د عوایدو دکچې لوړوالی د مالیاتود لوړوالي سبب نه وشوی. بلکې د ډېرو توکو مالیه مو کمه کړې وه. دغه ښه والی موږ ته کافي پیسې په لاس راکړې چې دعامه خدماتو د پراختیا ډېرې پروژې تمویل کړو. د۱۹۸۸ تر ۱۹۹۹ پورې د ۹۰ تر ۱۱۰ میلیارده روپې د عامه خدماتو پروژو ته ورکول کېدې ، خو په کال۲۰۰۷ کې ۳۰۰ میلیارده روپی دغو پروژو ته ځانګړې شوې چې درې برابره زیاتوالی ښیي .

په ۱۹۹۹ کال کې مو د ۵ میلیارده ډالرو ټکان ورکونکی کسرد بهرنیو پورو نو د ورکړې له درکه درلود . دغه وضیعت هر کال موږ له نورو نړیوالو مالي ټولنو پور کولو ته اړ کړو. دا مساله هغه مهال جدي شوه چې موږ غوښتل لنډ مهالي سوداګریز پورونه یې له سوده تر لاسه کړو . ځکه یې له دغو پورونو موږ نشو کولای د پراختیا لړی ته دوام ورکړو.. خو هیڅ د ښو شرایطو درلودونکی هیڅ سازمان حاضر نشو موږ ته پور راکړي.

موږ فکر کاو ۸ میلیارده ډالر به د صادراتو له عوایدو څخه تر لاسه کړو چې موږ د هیواد په تاریخ کې له ۹ میلیارده ډالرو څخه نه دي پورته شوي ) په بهر کې د میشتو پاکستانیانو لخوا د پیسو لیږل چې نژدې یو میلیارده ډالرو ته رسیده او بهرنۍ مستقیم پانګه ونه چې ۳۰۰ میلیونه ډالره وه. زموږ لښت د لس میلیارد ډالرو پولې ته رسیده. او په کال کې ۵ میلیارده ډالره دپور ورکولو او وارداتو پرې ور اضافه کېده. نو دحیرانتیا ځای نه دي چې هر کال د ۵ تر ۶ میلیارد ډالرو پورې د بودجې د کسر سره په دایمي ډول مخامخ نشو .

ددغې ګډوډۍ د له منځه وړلو لپاره مې پراخ او جدي حرکت پیل کړ. د وارداتو د کچې راکمول زموږ په ګټه نه و. ځکه چې دغه پیسې په صنعتي اړتیا و مصرفیدې چې نرخ یې زمو په واک کې نه و. او غوښتنه هم ورته په زیاتیدو وه. او همدارنګه د چای ، غوړیو او خوراکي توکو په واردولو مصرفیدې چې د بې وزله خلکو اړتیا وه چې قیمت یې نسبتا په زیاتیدو و. یوازینۍ پیسې همدا د د پور د سود له منځه وړل و چې موږ پرې وتوانیدو .

د سپټامبر د ۱۱ پیښه په حیرانونکي ډول زموږ ژغورنې ته را ورسیدۀ. د ترهګرۍ پر ضد نړیوال ایتلاف ته د پاکستان په ورننوتلو د پاریس د کلپ د غړو

هېوادونو مرسته را وپاروله. په لویه کې ټول حالت زموږ د کلني پور د کمېدو لامل شوه چې له ۵ میلیارد ډالرو ۲ میلیارد ډالرو ته را ورسېده .
دغو ټولو بدلونونوله موږ سره مرسته وکړه چې د اقتصادي پر مختېا پړاو ته ورسیږو.

خو پو هېدم چې دمالیو دورکړې نوې عایداتي منابع وهڅوو. د هرې عایداتي منبع سره جلا چلند وکړ. او دهغه د زیاتېدو ټلاره مو جوړه کړه. صادرات یوازې هغه وخت زیاتېدای شي چې سم بازار ورته پیدا شي. زموږ صادرات په کرنه ولاړ دي . دا شی د سوداګری په ډګر کې هېڅ ارزښت نه لري. وروسته پوه شوم چې کرنیز محصولات له ۲ تر ۸ په سلو کې د ټولې نړی سوداګري جوړوي. ۷۱ په سلو کې د نړی د سوداګري درانه صنایع ، تکنولوژي ، انجینري او پر مختللي وسایل جوړوي. نو معلومه وه چې باید د صنایعو پر صادراتو مو فشار راوړی وای. خپله تعرفه مو کښته پورته کړه. چې د سوداګری د اسانتیا و څخه تمرکز د کورنیو صنا یعو تشویق ته ورسو .

پو هېدم چې دا اوږ دمهاله لړی ده. خو ویاړم چې دا کار مو ډېر ګټور و. په ۲۰۰۴ کال کې زموږ صنعتي وده ۲، ۱۸ په سلو کې وه. او په کال ۲۰۰۵ کې ۲، ۱۴ په سلو کې وه. په لنډ وخت کې زموږ د توکو او بازارونو د نوي کیدو اړتیا حس شوه .

د صادراتو د پر مختېا اداره مو دهغه د فعاله ریس طارق اکرم په مشری په جدیت سره قوي کړه. ډېرو وتلو وزیرانو یو په بل پسې د صادراتو او صنعت د ودې لپاره کار وکړ، چې زموږ صادراتو ته یې وده ورکړه . په ۲۰۰۶ کال کې موږ خپلې مو خې ته چې د ۱۸ میلیارده ډالرو ترلاسه کول و ورسېدو .چې په تېرو ۵ کلونو کې ۱۲۵ په سلو کې زیاتوالی ښیي. مستقیمه بهرنۍ پانګه ونه تقریبا وچه شوې وه. په ۱۹۹۹ کې بهرنی پانګه ۳۰۰ میلیون ډالره وه ، په ۲۰۰۱ کې مې چې کله د چین له لومړي وزیر (( ژونړ جي ) ) سره د پاکستان د پورونو او پانګه ونې ستونزه شریکه کړه . هغه ډېر ګټور تصویر راکړ. هغه وویل پانګه وال د کونترې په شان دي. کله چې حکومت په ضعیفه تصمیمونو سره هغوی وویروي ، ټول یو ځای الوزوي. خو کله چې دولت دهغوی د جذب لپاره خپل سیا ستو نه تقویه کوي یو یو بېرته راځي. هغه ماته لارښونه وکړه چې استقامت ولرم او هغوی به را وګرځي. وروسته هغه په دې پوه شو چې پاکستان د پور او پانګه ونې له دوه لارې څخه کړیږي ،د پور په اړه هغه وویل چې نور پور مه اخلی. دپانګه ونې په برخه کې یې وویل که غواړی بهرنۍ پانګه ونه را جذ ب کړی د بهرنیو اسعارو ټیکاو ته مو پام وکړی ( .

زه په خپله د بهرنۍ پانګه ونې او صادراتو د پراختیا د مبارزې مخکښ شوم ، لومړی مو قوانین اصلاح کړل ، بیا مو خصوصي کونې ته پام وکړ. داسې قوانین مو جوړ کړل چې ټولو پانګه والو ته په ټولو اقتصادي برخو کې یو ډول مساوي میدان پرانیزي. چې په اسانۍ او روښانه توګه پرې وپوهیږو . داسې قانون او قاعده مو وړاندې کړه چې د پانګه ونې لپاره ښه صمیمانه چاپیریال جوړ کړي. له دغو بدلونونو سره مې د نړی هر ګوټ ته دخپلو سفرونو په لړ کې د سوداګرو له ټولنو سره وکتل چې په پاکستان کې یې ګډو کارونو ، سوداګریزو چارو او پانګه ونې ته را وبولم. ښې لاسته راوړنې مو درلودې. په ۲۰۰۵ کال کې د بهرنۍ پانګه ونې کچه له ۵،۱ میلیاردو ډالرو واوښته چې د ۱۹۹۹ کال څخه ۵ برابره زیاتوالی ښیي. یو فعال او وړ ځوان مې د پانګه اچونې وزیر وټاکه. او ما په خپله په پیل کې د پانګه والو او دولتي چارواکو د غونډې مشرې په غاړه درلوده چې بېرو کراتیک خنډونه له منځه یوسو. د ډېمو کراسی په لسېزه کې مو چې هغه څو هو ټلونه درلودل هغه هم خالي و. خو اوس پکې ځای نه وي .

دې کار د هو ټلداری په ډګر کې د نړیوال پانګه وال وهڅول په پاکستان کې څلور او پنځه ستوریز هوټلونه جوړ کړي. په ټولو ډګرونو کې ورته اقتصادي پر مختیونه وشول او پانګه ونې زور واخیست. باید په ۲۰۰۶ کال کې بهرنی پانګه ونه ۳ میلیارد ډالرو ته ورسیږي یعنې د ۱۹۹۹ کال لس برابره. دریمه اقتصادي برخه چې لارښونې ته یې اړتیا درلوده د بهرمیشتو پاکستانیانو د پیسو را لیږدول و. کله مې چې خپلې کړنې د نورو هېوادونو سره پر تله کړې چې زیاتو وګړو یې په بهر کې کارکاو پوه شوم چې زموږ هېواد ته رالیږدېدونکي پیسو عواید ډېر کمې دي. اصلي لامل یې داو چې د غیر رسمي او غیر قانوني حوالې سیستم ډېر اغیز درلود. د غیر رسمي لارې حواله به په یوه ورځ کې د پاکستان لیرې کلي ته رسېده. خو زموږ د بانکونو له لارې حواله به ۷ ورځې نیولې او کله خو به تردې هم ستونزمنه شوه. دې کار نور هم ټکان راکړ او داصلاحاتو لړی مو بانکونو ته وغزوله چې بهر میشتي پاکستانیان ډاډه کړو ، ژر ترژره د هغوی خدمت وکړو او پیسې یې ورته ولیږدو. د پست اداره مو چې خلکو ته ښه ژر رسېده د بانکونو د ادارې سره یو ځای کړه . چې کار ښه شي. پر دغو ګامونو سربېره د سپټامبر ۱۱ زموږ د بانکونو له لارې د پیسو د لیږدولو سره غټه مرسته وکړه. نړیوالې ټولنې د غیر قانوني پیسو د د لیږلو پیچونه ورټینګ کړل او دغیر قانوني لارو د حوالو لیږدونکي یې تر څارنې لاندې ونیول

په پایله کې بانکي چارې چټکي او قوي شوې. په خپله مې دهم د بهرنیو سفرونو پر وخت له پاکستاني کارګرو وغوښتل چې د بانکونو له لارې پیسې ولیږدوي. دغه قشر د پاکستان پر ملي بانک باور وکړ او دخپلو پیسو د لیږد لپاره یې همدا لاره غوره کړه. شاید له رواني کبله د روپیې د دوامداره ټیکاو مهم عامل درسمي او غیر رسمي بدلونونو تر منځ واټن بیخي راټیټول و. نور یې هېڅ ارزښت نه درلود چې څوک پیسې له غیر قانوني لارو ولیږدوي. اوس له بهره پاکستان ته د بانکونو له لارې د پیسو را لیږدول له ۴ میلیارده ډالرو اوړي چې د ۱۹۹۹ کال څو برابره زیاتوالی ښیي .

دمالي کسر د کموالي په ډګر کې بریا او د جاري حسابونو د کسر بدلون په ګټې باندې زموږ اقتصاد د ېر ښه پر مخ تلو ، د اقتصادي وضیعت ښې متبتې وې . تاریخ د رهبرانو په اړه د هغوی د کړنو له مخې پریکړه کوي. زما د کارونو د پایلو په اړه له هغه څه چې په ۱۹۹۹ کې په میرات را پاتې و تر ۲۰۰۵ کاله پورې هر څوک قضاوت کولای شي. په ۱۹۹۹ کې موږ د ماتې خوړلو په څنډو کې و . دناکام دولت کلیمه د هر چا په خوله کې تا وېده ، چې اوس یوه تېره خاطره ده او زموږ اقتصاد د پر مختګ په حال کې دی .

زموږ خالص کورني تولیدات له ۲۵ مېلیارد ډالرو څخه ۱۲۵ مېلیارد ډالرو ته ورسېدل چې د ۵ کلونو په ترڅ کې دوه برابره شول. اوس نړیوال مالي سازمانونه په ډېر بدلون او احترام سره زموږ خواته راګوري. په خالصو کورنیو تولیداتو کې ډېر والی له ۳٫۱ په سلو کې څخه ۸،۴ په سلو کې ته په ۲۰۰۵ کال کې لوړ شو. د تېلو د منفي اغېزو او زلزلې د دوامداره بیا رغاونې سره سره به موږ په ۲۰۰۶ کال کې ۷ په سلو کې پر مختګ ولرو. زموږ ټول بهرنی پور له ۳۹ میلیارده ډالرو څخه ۳۲ میلیارده ډالرو ته راکم شو. د خلکو کلنی عاید له ۴۲۰ ډالرو څخه ۸۰۰ ډالرو ته رسېدلی چې اوس پاکستان د منځنیو عوایدو لرونکو هېوادونو په کتار کې د ټیټې کچې د عوایدو د ډلې له هېوادونو څخه د راوتلو په حال کې دی.

په ۲۰۰۶ کال کې صادرات له ۱۷ مېلیارد دالرو څخه اوړي، په داسې حال کې چې په ۱۹۹۹ کې یوازې ۷،۸ میلیارده ډالره و. واردات هم په حیرانونکي ډول زیات شویدي. د وارداتو پیسې لاهم د صادراتو له عوایدو څخه زیاتې دي. خو خوشاله یم چې ووایم دغه ډېر والی په وارداتو کې ښه او مثبت و، ځکه زموږ د تېلو له اړتیا پرته چې دوه برابره زیات شوي ـ د وارداتو د مصارفو غټه برخه مو مهمو اهمیت لرونکو شیانو مصرفیږي. لکه د نویو کارځایونو لپاره د ماشینونو راوړل او دشته وساېلو د نوي کولو او عصري کولو او د ځینو اساسي بنسټونو د جوړولو باندې دا پیسې لیدلې.

باور لرم چې دغه لنډ مهاله مالي کسر به د اوږد مهاله ګټې لپاره وي. ځکه ډېرې نوې کارخانې به داسې توکي تولید کړي چې صادر شي او یا د وارداتي شیانو ځای ونیسي. دا ډول پانګونې ډېرو خلکو ته کارونه پیدا کوي. پوهېږم چې یو شمېر کسان به په کم مهارت او متوسط مدېریت سره په سختۍ کارونه پیدا کړي. موږ همدا رنګه د تېلو او د او ګازو او هایدرو الکتریک د تولېد لپاره د ۵ سترو بندونو په جوړولو بنې دورې لرو چې زموږ د وارداتي تیلو کچه به راکمه کړي. داچې موږ غواړو د برېښنا د تولېد په ماشینونو یوه اندازه وارداتي ګاز په کورني طبیعي ګاز بدل کړي دا به هم ستر بدلون له ځانه سره ولري. او کله چې له ایران، قطر یا ترکمنستان نه احتمالا د ګازو نل لیکه د پاکستان له لارې چین او یا هند ته تېره شي. د دغې نل لیکې د تېرېدو پیسې به هم ترلاسه کړو پردې سربېره موږ نه یوازې د دغې نل لیکې له تېلو او ګازو څخه په هغو سیمو کې ګټه اخېستلای شو چې دغه نل لیکه ترېنه تېرېږي، بلکې د خپلو تېلو او ګازو د زیاتېدو په صورت کې د همدې نل لیکې له لارې هغه هم بهر ته صادرولی شو.

د عایداتو راټولول هم له ۵،۱ مېلیارد ډالرو څخه ۱۱،۷ میلیارد ډالرو ته لوړشوي. دغه ۱۳۰ په سلو کې زیاتوالی یوازې د مالیو د ډېر والي له کبله نه دي بلکې د مالیې په شمېر او درجه کې د کموالي، د مالي د ساحې د پراخېدو، د مالیو د سېستم د روڼوالي، او د اقتصاد د قانوني کیدو او داسې نورې ټولې له کبله دی چې د فساد کچه یې راکمه شوې ده. دا ټول د عوایدو د بې سارې زیاتېدلو لاملونه دي. زموږ د ټولو بهرنیو عوایدو کچه ۳۴۷ په سلو کې وه چې له بهرنیو پیسو څخه ترلاسه کېده. دا شمېره اوس په سلو کې ۱۳۷ په سلو کې راکمه شوې. موږ د هغو هېوادونو څخه چې په کال ۱۹۹۹ کې پوروړی او بې وزلی هېواد شمېرل کېده ډېر واټن لرو، هغه ورځ به ډېره خواشینونکې وه که موږ په اتومي وسلو سمبال خو یو سخت بې وزلی او پوروړی هېواد وای.

له بهرنه را لېږدونکې پیسې له یو مېلیارد ډالرو څخه ۳ میلیارد دالرو ته لوړې شوې.

د دغو بهرنیو پیسو ترلاسه کول پاکستانۍ) روپیۍ (له سولېدلو وژغورله. په یوه ډالر د ۶۰ کلدارو د بدلولو نرخ مې تر خپلې څارنې لاندې په تېرو ۴ کلونو کې ثابت وساته. د لومړي ځل لپاره پاکستان د نړیوالې پانګه وني بازارونو ته ور دننه شوی. لومړی مو د پور د غوښتلو پاڼې په اروپا او اسیا کې ورکړې، وروسته مو د اسلامي پورونو د غوښتنې پاڼې په منځني ختیځ او خلیج کې ووېشلې، ورسره جوخت مو په امریکا او اروپا کې د ډالري پورونو لپاره پاڼې وړاندې کړې. د ټول د نړۍ د معتبرو خصوصي پانګه والو د هرکلي سره مخامخ شو ۀ. زموږ د ډالري پورونو پاڼو په سلونو میلیونه ډالره د اوږد مهال له لس تر ۳۰ کلونو لپاره پاکستان ته راجذب کړل.

دا چې خصوصي معامله کونکي د اوږدې مودې لپاره یوازې د ۲ په سلو کې د امریکا د حکومت له سود نه لوړ حاضر دي پاکستان ته پور ورکړي. د نړیوالو مالي ټولنو په وړاندې بې د پاکستان د مخ پر ودې اقتصاد اعتبار ښیي.

د ۱۹۹۹ کال په پرتله زموږ د اعتبار کچه یا درجه د MOODY او ستنډرډ او پور د معیارونو پر اساس فوق العاده زیات شوي او هغه موډي معیار B+ ښیي د استانډرډ او پور، زموږ د اعتبار درجه BB ښیي د زموږ د ناڅاپي اقتصادي ودې یو اغېز د نرخونو پورته تلل و. د تنخوا اخیستونکو او نورو عوایدو قوي یا زیات شول. چې د لوړې خرېداری او عرضې او تقاضا لامل شو. دا کار د تورم د پورته تللو لامل هم شو چې د لس په سلو کې پولې ته ورسېده. خو اوس بېرته ۷ په سلو کې راټیټ شو ی. په نړیوالو بازارونو کې د تېلو د بیو لوړ تیا هم پکې خپل اغېز درلود. چې دا کار ماته د یوې اندېښنې سبب شو. ځکه چې د کار په پای کې د خلکو د لو د حکومت په اړه د نرخونو د لوړ تیا له اړخه نظر ورکوي، نه د یوې اقتصادي ګټې پر اساس. په دې اړه پوهېږم او د تورم په څارنه کې یم. د اقتصاد د راژوندي کیدو لپاره به هېڅ هڅه ګټوره نه وي بې له دې چې د خلکو د ژوند کچه د سترو اقتصادي ګټو په چوکاټ کې ښه شي. د خلکو د ژوند د ښه والي ښه لاره داده. چې د ښو کارونو د پیدا کولو له لارې د خلکو عوایډ لوړ شي. د خپل ځان لپاره د کار موندنې لاره پرانېستل شي، په بشري ډګر کې پانګه واچول شي او د روغتیا او ښوونې روزنې په ډګرونو کې په مصارفو فشار واچول شي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره د قوي اقتصادي ودې موازي والی مهم دی. بې وزلي ته پای ورکول جبري کار دی نه اختیاري. د بې وزلی کمول دا په ګوته کول غواړي چې چېرته ده. او بیا تصمیم ونیول شي چې لومړی کومې سیمې ته رسېدنه وشي. پاکستان یو کرنیز هېواد دی، چې تر ۲۵ په سلو کې زیات خلک یې ه کلیو او باندو کې ژوند کوي. د دغو خلکو غټه برخه د کرنې چارې تر سره کوي. او د بې وزلی سره لاس او ګرېوان دي. د ښار مېشتو او سېدونکو ۳۵ په سلو کې فقر په ۲ برخو ویشل کیږي: بې کاره تحصیل کړي، او بې کاره نا لوستي، چې دواړه برخې خلک مرستو او تنظیم ته اړتیا لري. نو باید چې اصلي هڅې په کرنیز ډګر کې د کلیو پراختیا ته

وشي. د پاکستان کرنې ته اصلي شرط د اوبو شته والی یا نشتوالی دی. دهمدې مسلې په اړه زما حکومت د ۳۰۰ میلیارد کلدارو په ارزښت د اوبو اړوندې پروژې پیل کړې چې هیله کیږي دبرې به یې تر راتلونکو ۲ کلونو پورې بشپړې شي.

په دغو پروژو کې د اوبو څو کانالونه او بندونه شامل دي،چې د خښتو څخه جوړ شوي تر څو د درز څخه بچ وي او د اوبو رسولو سیستم یې ښه وي. دد غو پروژو په اجرا کولو سره به تر ۲،۸۸ میلیون جریبه پورې ځمکه تر کښت لاندې شي. او د کرنیزې ودې سره به غټه مرسته وشي. چې له مخې به یې د بزګرو عواید لوړ شي، کلیو الو او سیدونکو ته به کارونه زیات شي او د بې وزلی کچه به یې ټیټه شي .خو په دغه کار سره بسیا نشو کولی، باید د اوبو ساتنه وکړو او ښه ګټه اخیستنه یې تضمین کړو .دا کار د ځمکې د هوارولو د پراخ پروګرام له لارې کولی شو چې د (لایزر) په واسطه یې تر سره کړو، چې د ځمکې د اندازې په سنجولو د اوبو له ضایع کیدو او د اوبو د ساتنې لپاره د کمې او به ونې دهڅونې له لارې دا کار کولی شو. د روانو او بو ذخیره کول به چې یو ملیارد ډالره پانه غواړي د اوبو د ساتلو سره مرسته وکړي. مو ږ همدارنه د بزګرو د ځمکو قوي کولو ته پام کړی چې دهر جریب ځمکې حاصلات لوړ کړو ، چې په ترڅ کې یې د بزګرو د عوایدو کچه لوړه شي. بانکونو او زراعتي پورونو ته د بزګرو د لاس بري لپاره مو کرنیز پورونه ۵ برابره لوړ کړل. د پور داسانه ورکړې لپاره مو درې کلن اعتباري سیتم جوړ کړ. دغه کمک بزګران د سود خوړونکو دلالانو له چنه خلاص کړل، چې پخوا مجبوره ود هغوی د پورونو دورکړې لپاره په ځانړي وخت کې خپله غله دانه په ارزانه بیه وپلوري. دغو ټولو ګامونو په پراخه کچه کرنیز تولیدات او چت کړل. په بې ساري ډول مو د پنبې او غنمو حاصلات زیات شول. خو د ټولنې غریبو خلکو ته شوی کار زما لپاره کافي نه دی. پاکستان په نړی کې د شیدو د تولید ۵ هیواد دی. خو ټول لبنیات نه تولیدوو. همدارنه د نړی یو شمیر ښې میوې او تر کاري لرو. خو صادرولو ته یې ارزښت نه ورکوو. دېر سنجول شوی تصمیم مو ونیو چې په کلیوالو سیمو کې کرنیزو صنایعو ته وده ورکړو. ددې کار لپاره مې (( سپین انقلاب )) په لاره واچاو. چې تر مخه مو د شیدو دراټولولو او یخولو یو ځانړی سیستم جوړ کړ. دې کار د لبنیاتو عصري صنعت رامنځ ته کړ چې د ( مستو، پنیرو، کوچو او وچو شیدو ) تولید کیده ،دغه لبنیات به د بهرنیو مصرفونکو لپاره و. همدارنه د خوړو او میوو صنائع هڅوو چې صادراتو ته ارزښت ورکړي، او د کلیوالو خلکو لپاره کارونه زیات کړي. زه د کلیوالو سیمو د پراختیا له ګامونو خوښ یم. خو د بې کاره تحصیل کړو ځوانانو مسله مې تل ځوروي. په ځانړې توګه د ښاري ځوانانو مسله. زموږ د اقتصادي ودې ۷ ډګره اطلاعاتي ټکنولوژي او مخابراتي صنائع دي. ځکه په ښارونو کې یې د کار موندلو لپاره ستر وړتیا درلوده. په تیرو څلورنیمو کلونو کې دغه ډګرونه د هیلې زیاته وده وکړه. او دبهرنیو پانو د جذب د میدان په توګه یادیږي. چې ټول یې زموږ د پراختیایې هڅو او اصلاحاتو له برکته دی.

په ۱۹۹۹ کې یوازې د پاکستان ۳۹ ښارونه په انټر نیټ وصل و. خو په ۲۰۰۲ کال کې دغه ښارونه او ښارګوټي ۲ زرو ته ورسیدل. په ۱۹۹۹ کې د نوري فایبر اړیکې په ۴۰ ښارونو پورې محدودې وې، خو نن ۱۰۰۰ ښارونه ترې ګټه اخلي. په تانیه کې د دوه میا بایټه مخابرې بیه له ۸۷ زرو ډالرو ۱۴۰۰ ډالرو ته را ټیټه شوه. د پاکستان د مخابراتو شرکت د بریالیتوب ستر داستان لري. یوازې له ۲۰۰۳ کاله پورې د ( تیلي ډینس سیټي ) شرکت چې زیات ټیلیفوني ګډونوال لري له ۲،۹ په سلو ۱۲ په سلو کې اندازې ته لوړ شو ی دی. د مبایل تیلیفون ګډونوال له ۲۰۰ زرو څخه ۳۰ میلیون ته اوچت شوي. او مبایل ټیلیفون لیرې پرتو سیمو ته ځغلي. مخابراتي او معلوماتي ټکنولوژي یا انټر نیټ نه یوازې ډېر لیرې کسان په نړی کې بلکې د پاکستان په هرکونج کې سره ونښلول. دغه دوه ډګره د پاکستان په اقتصادي او ټولنیزه برخه کې مهم رول لوبوي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی په برخه کې فوق العاده وده په مستقیم او غیر مستقیم دول تحصیل کړو ځوانانو ته د کار زمینې برابرې کړي. دا د ودې په برخه کې یو ه چټکه مخ ته تلونکې برخه ده. او داسې ښکاري چې په راتلونکو کلونو کې به نوهم چټک پر مخ ولاړ شي.

او په پای کې ددولت لخوا د بې وزلی د کمولو او دکار موندنې هغه هم د ښارونو د نا لوستو لپاره باید ووایم ما فکر وکړ چې صنعت او د ودانولو چارې په ګډه سره کولای شي ډیر کارونه پیدا کړي. د ودانولو د چارو کا ر د نا لوستو بیکارو لپاره سخت خو مناسب کار دی. ددغه صنعت د هڅولو لپاره مې ځانړي ګامونه واخیستل ږ زموږ ټلارو او کار کړنو ښه ګټه درلوده. نن سبا دغه صنعت د ودې په حال کې دی او دکار ګرو لپاره غوښتنه بیخي زیاته ده. او دکار ګرو عواید به لوړ شي. دا دکارګرو او د ساختماني چارو د کار کونکو دجذب لپاره ښه بازار دی.

سره له دې چې د هیواد د سترو اقتصادي برخو د تقوې او د سترو بنسټیزو اصلاحاتو لړی روانه وه. زما دولت هیڅکله د ټولنې داړو کسانو سره د مرستې ژمنه نه وه هیره کړې. په پرلپسې توګه مو هڅې وکړې چې د بې وزلو ډلو اړتیا و ته د ذکات په څیر د عامه پروګرامونو له لارې ځواب وواېو.

مخ پر ودې اقتصاد ته لاس رسي موږ ته دا چانس په لاس راکړ هغه پراختیا چې هر کال د ۱۰۰ میلیارده روپیو په مټ کیده یوازې د ۲ کلونو په ترڅ کې ۳۰۰ میلیارده روپیو ته لوړ کړو. دغو منابعو د کار موندنې، د ښونې او روزنې او روغتیایې اسانتیا و د تقوې او همدارنه د هیواد د فزیکي بنسټونو سره مرسته وکړه.

او په پایله کې د پاکستان په تاریخ کې په لومړي ځل بې وزلي او بیکاری مخ پر کښته روانه شوه.

## ۲۰ څپرکی

### هغه ورځ چې نړۍ ته یې بدلون ورکړ

د 2001 لمړی کال د سپټامبر 11 پداسې حال کې چې لمرپه آسمان کې ځلیده لږ ترلږه په پاکستان کې د پیښو یوه ډکه ورځ وه. ددغې ورځې په مازدیګرپه کراچۍ کې وم او د پاکستان د بنسټ ایښودونکي قاید اعظم محمـــــد علي جناح دزیارت په ښکلي باغ کې مې د کاربهیرکوت. زه پدغه ښارکې داوسیدا له کبله خوښ وم. خونه پوهیدم چې د نړۍ په بل اړخ کې د الوتکې په مټ یوه ستره پیښه رامنځته کیږي چې زما او د پاکستان دژوند تګلوری به بدلوي. نه پوهیدم چې ډیرژر به د یوه بل جنګ لومړۍ کرښې ته وردننه شم .هغه هم د سیوري سره جګړه.

تردې نږدې دوه کاله وړاندې زمونږ د الوتکې د توطیې په پیل کې زما پوځي سکرټرپه غوږ کې راته پس پس کړی وو ، چې پیلوټ تاسوخپلې خونې ته غواړي. اوس یو ځل بیا زماخواته راغی اوپه غوږ کې یې راته پس پس وکړ : په نیویارک کې د نړیوالې سوداګرۍ د یوه برج سره یوه الوتکه جنګیدلې.

د نړیوال تجارتي مرکز سره له 1993 کال را وروسته چې ترهګرویې دالوځولو هڅه کړې وه ښه اشناشوی وم. په هغه چاودنه کې ودانۍ ته د پام وړ زیان ورسید ، او 6 تنه پکې ووژل شول .په 1995 کې ددغه ترهګربرید یو طراح (( رمزي یوسف )) پاکستان ته راتښتیدلی وو. چې زمونږ د امنیتي ځواکونولخوا ونیول شو .

په پیل کې مې د 11 سپټامبرپیښه دومره جدي ونه بلله. فکرمې وکړچې کیدای شي کومه وړوکې خصوصي الوتکه به ورسره لګیدلې وي. دباغ دکار د بهیرڅارلوته مې دوام ورکړ. خوپه مغزوکې مې په څوڅو وارې داسې راتاوشو چې داکومه فوق العاده ستره عجیبه اوغریبه پیښه نه وي ، اویابه پیلوټ نالایقه وو چې له دومره سترې ودانۍ سره یې الوتکه جنګولې. یابه الوتکه له کنټروله وتلې وي بله چاره به نه وه.

کله چې کورته راوګرځیدم نیغ د کراچۍ دقول اردو په جلسه کې کښیناستم ، په غونډه کې سخت بوخت وو ، چې نظامي سکرټرمې د تلویزیون په عیارولولاس پورې کړ.

پداسې حال کې چې یوڅه حیران شوي وو پوښتنه مووکړه (( څه بیړنۍ خبره شوې )) ؟ هغه وویل ښاغلی لطفاً ووینۍ چې په تلویزیون کې څه تیریږي ؟ CNNمو پیدا کړ. هغه څه مې چې په تلویزیون کې ولیدل باورمې نه کاوه. د دود ستره غوپه د نړیوال سوداګریزمرکز له دواړوبرجونوڅخه پورته کیدلې ، سخت وحشت وه. یوه وړوکې خصوصي الوتکه داپیښه نشي کولای. بلکې له مسافرو بار دوو بوینګ الوتکوداپیښه رامنځته کړې وه. الوتکه تښتول شوې وه اوقصداً لدغو ودانیوسره جنګیدلې وې. دیته پیښه نشوویلای. دادترهګروبې شرمه کاروه. خبرشوچې دوه نورې الوتکې هم تښتول شوي چې یوه یې دامریکاددفاع له وزارت پنتاګون سره جنګول شوې.اویوه بله په پنسلوانیاکې په کرنیزوځمکوکې لویدلې. کارپوهانوپه یوه وخت کې وویلې بله یوه د سپینې ماڼۍ په لورتللې دا د یوه جنګ اعلان وو.

لاهم تلویزیون ته ناست وو چې وموليدل یوبرج کیناست اوڅو دقیقې ورسته دوهم برج هم وران شو. باورنه کیده دالوتکې دتیلود سوزیدوله کبله دود سیمه نیولې وه اود نړۍ دلویو ودانیوخاورو اونورو ورانوشویو شیانوداسې صحنه رامنځته کړې وه لکه چې کوم اتومي بم چاودیدلی وي.

دبریدونو زورمعلومیده .دنړۍ ترټولوځواکمن هیواد پخپل کور کې پخپلو تښتول شویو الوتکوتربرید لاندې راغلي وو .له الوتکې دمرمۍ په څیرکاراخیستل شوې وو . دایوه لویه غمیزه وه ، چې د نړۍ د سترځواک احساسات یې راوپارول. امریکاډاډمنه وه چې لکه ټپي خرس غوندې تریخ غبرګون به وښیي . اوکه ددې برید پړه القاعده وبلل شي نودازخمي خرس به نیغ په نیغه د پاکستان په لور رامنډه کړي.

القاعده زمونږ په ګاونډي افغانستان کې د نړۍ دډیرومنفوروکسانویعنې طالبانوترملاتړلاندې وو . نه یوازې دابلکې مونږ په نړۍ کې یوازینی هیواد وو چې له طالبانو اودهغوی له مشرملامحمـــد عمرسره موډیپلوماتیکې اړیکې لرلې . مونږ د سپټامبر 11 دیوه نامعلوم راتلونکي په فکرکې واچولو. خوفکرمووکړچې نړۍ به نورهیڅکله یوډول نه وي.

په کراچۍ کې دوالي دفترته ولاړم دبهرنیوچاروو‌زارت سپارښتنه وکړه چې د سپټامبرد 11 نیټې دناورین په اړه بیانیه ورکړم. ژرمې یوڅه ولیکل اود ملي تلویزیون له لارې مې وویل چې مونږ دغه عمل غندو اوزیاته مې کړه چې له ترهګرۍ سره به په مختلفوډولونو مبارزه وکړو . پداسې غمجنوحالاتوکې دامریکا په خواکې ولاړیو اودتوان ترکچې به لدغه هیواد سره مرسته وکړو.

سباسهارمې دوالي په دفترکې یوه مهمه ناسته رهبري کوله.پوځي یاورمې وویل (( دامریکادبهرنیوچارو وزیرکولن پاول ټیلیفون کړی . ورته مې وویل چې وروسته به زه پخپله درته زنګ ووهم. خویاورمې ټینګاروکړچې له غونډې بهرشم اوټیلیفون ته ځواب ورکړم. پاول ډیرساده اوروښانه وویل (( له مونږ سره یاست اوکه زمونږ پروړاندې یاست )) دایوتریخ ګواښ یاالتیماټوم وو. د یو شمیرراپوټونو دخپریدوبرخلاف دغه خبرې جزیاتوته ونه رسیدې. هغه ته مې وویل پاکستان د ترهګرۍ له اړخه ډیرځوریدلی ، نوبناءً مونږ به د ترهګرۍ پروړاندې دامریکاپه خواکې ودریږو . اوپه ګډه به د ترهګرۍ سره وجنګیږو .پدغه ټیلیفوني اړیکې کې نورهیڅ خبرې ونشولې. وخت مې درلود چې ژور فکروکړم چې تردغې پیښې وروسته به څه راپیښ شي.

کله چې سبا اسلام آباد ته راغلم د (( آی. اس. آی )) عمومي مشر چې داوخت په واشنګټن کې وو د ټیلیفون په کرښه یې دامریکادبهرنیوچارو له مرستیال

وزیرریچارد آرمیتاژ سره دخپلې غونډې په اړه معلومات راکړل د آی. اس. آی دمشرپروینا آرمیتاژ دکولین پاول دخبرو په دوام په غیر دیپلوماتیکو اظهاراتو سره وویل ( پاکستان نه یوازې داچې باید پریکړه وکړي چې له امریکا او که له تروریستانو سره دی بلکې که دترهرو خوا مو خپله کړه بیانود داسې بمباریو په تمه اوسي چې دډېرو زمانې ته به ستانه شي .(
دغه بې شرمه ګواښ ټکان ورکونکې خورونبانه وو. چې متحده ایالاتو تصمیم نیولی چې جدي ځواب ورکړي.
ماد پاکستان په وړاندې دواړه غوره کیدونکې خواوې په منصفانه تحلیل اودپوځې اصولو پراساس کینبودې اودهغه مثبتې اومنفي خواوې مې وتللې .
دورځپاڼود مقالودلیکلو اوفیلمونودجوړولو لپاره رحم اوعاطفه ډېرښه شی دی. خوداساسې تصمیمونولپاره پرې نشودریدلای. یورهبرد تصمیم اوپریکړې دکولوپروخت باید دخپل هیواد اود میلیونونو وګړو د راتلونکې په اړه پوره معلومات ولري. پداسې حالاتوکې یومشربیخي یوازې کیږي. شاید دغه مشرزیاتو سپارښتنو اومشوروته غوږ شي. خوپه پای کې هغه باید پخپله یوازې پریکړه وکړي اوهغه مهال دشرایطو په سختۍ پوهیږي.

هغه پریکړه چې مادترهګرۍ په وړاندې وکړه دخپل هیواد دملي ګټو اوخپلوخلکو دنیکمرغۍ پربنسټ وه . زمالپاره تل پاکستان دخپلو کارونو په لومړیتوبونوکې دی. هځه مې وکړه له پریکړې مخکې دشرایطوتحلیل ولرم. په یوه فرضي جګړه کې مې امریکاته دخپل دښمن فکروکړ. که دامریکاله متحده ایالاتوسره مومرسته نه وای کړې، نودهغوی له قهرجن غبرګون سره به مخامخ شوي وای. نوسوال داوو که دهغوی دایتلاف ملګري نشو، اپا له هغوی سره مقابله کولی شو. اودبرید لپاره به یې تاب راوړو. البته چې ځواب منفي وو . په درې دلیلونومولہ امریکاسره دمخامخ کیدو توان نه درلود:
اول: دامریکادپوځې قوت په پرتله زمونږ دنظامي ځواک کمزورتیا ، پدغه اجتماعي برید کې زمونږ ځواکونه بیخي له مینځه تلل.
دویم: زمونږاقتصاد کمزوری وو . پاکستان تیل نلري اوددې وړتیایې هم نه درلوده چې دامریکادبرید په صورت کې خپل اقتصاد همدا ډول ټینګ وساتي .
دریم : ترټولوبد دلیل زمونږ ټولنیزه کمزوري وه. مونږ دمنسجمو اویوالي دشرایطو نه لرلو له کبله چې ټول ملت موسره یوفعاله جبهه کړې ځوړیدلو. اوله هیڅ پلوه له امریکاسره دمخامختیاتوان نه لرو. دجنګ په ترڅ کې موهمدارنګه خپلې ملي ګټې په پام کې وې. په پیل کې هند هڅه کړې وه چې امریکاته دخپلو پوځې اډو په ورکړې ځان مخکې کړي. که مونږ له امریکاسره نه وای دریدلي نو امریکادهندوړاندیزته هرکلی کاوه. نوهغه مهال به څه رامنځته شوي وه ، هغه مهال به هند دکشمیردمسلې په اړه طلایي چانس ترلاسه کړی وای.
کېدای شي هندوانو هلته یو لړ محدود عملیات کړي وای. د امریکا او ملرو ملتونو د سازمان په مرسته به یې پولوته مشروعیت ورکړی وای. او اوسنی وضعې ته به یې دائیمي شکل ورکړی وای. امریکا هم دهند ددغې طرحې پرته بله لاره نه درلوده .
دویم - : زموږ د ستراتیژیکو سیمو امنیت له ګواښ سره مخامخ کېده . موږ نه غوښتل د هستوي وسلو په برخه کې دهند په وړاندې د خپل پوځې ځواک توازن له لاسه ورکړو. او یا خپلې دغه لاسته راوړنې ورانېدو ته وسپارو . داچې دامریکا متحده ایالات هیڅکله دهغو اسلامي هیوادو سره چې اتومي وسلې لري جوړه نه ده. نو ر به پټه نه وي او بې له شکه به امریکایان له دې فرصت نه ګټه واخلي او برید به وکړي. چې زموږ هسته بې وړتیا به بې له منځه وړې وای. چې هند به هم په دې کار کې د امریکا سره جوړه ګام پورته کړی وای.
دریمه مساله: - د پاکستان اقتصادي بنسټونه و . چې اپا د طالبانو لپاره د پاکستان ورانو ل ددغه هېواد منافع کېدای شي ؟
ایا طالبان په دې ارزېدل چې له کبله بې موږ ځان قرباني کړی وای؟
ددغه پوښتنې ځواب ( یو کلک نه دی. (
داسمه ده چې له افغانستانه د شوروي اتحاد له وتلو وروسته په بې رحمی سره متحدو ایالاتو افغانستان یوازې خوشي کړی و او پدې توګه مو د طالبانو د راپیدا کېدو سره مرسته وکړه. حتا هغه مهال امریکا په لېوتتوب کې د طالبانو تائېد کړی و .
زموږ هیله داوه چې طالبان به داسلام د رښتیني اصولو او مذهبي سربښندنو پر اساس افغانستان ته سوله او یو والی راولي ، خو هغوی بې ځایه مذهبي تعصب ته ورګډ شول. چې د تېاره فکره نیمه ملاېانو یا اخندانو لخوا تلقین کیده. داسې تعصب چې دعصري کېدو ، دانش ، اسلامي روحیې او دپاکستان د اکثریت خلکو مخالف و .
کله چې طالبان په افغانستان کې واک ته ورسېدل پاکستان پردغې ډلې خپل نفوذ له لاسه ورکړ. هغه سوله چې دوی افغانستان ته راوړه ، د هډېرې سولې او ارامۍ ته ورته وه. خو سره له هغه مو ږد ژبو ستراتیژیک دلیل پر اساس له هغو ملاتړ وکړ. که مو اړیکې ورسره خرابې کړې وای په لوېدیځه پوله کې به مو هم د ځان لپاره دښمن پیدا کړی و. او بیا به په افغانستان کې دواک سیا سي تشه راغلې وای ، چې له کبله به بې د شمالي ټلوالې او د پاکستان ضد عناصر واکمن شوي وای.
د شمالي ټلوالې سره د ایران ، هند او روسیې مرسته وه. خو د سپټامبر ۱۱ د ناورین په را رسېدو سره نور ددغې اندېښنې تر فشار لاندې نه و. بلکې نوې خطر ناکې اندېښنې پیدا شوې وې. په دې وخت کې مو له طالبانو واټن ونیو. په هرصورت طالبانو نور د پاتې کېدو چانس نه درلود. نو ولې موږ دداسې بدوي ریژیم لپاره خپلې ملي ګټې قرباني کړو. چې کېدای شي ژر مات شوي وای .
خو که په دغه جړه کې دامریکا په خواکې دربدلي وای د پاکستان لپاره به بې ډېرې ګټې درلودلای. په پیل کې به توانېدلي وچې له خپلې ټولنې تندلاري

توب لېږي کړو او بهرني ترهر له خپل چاپېرياله څخه وشړو .
پاکستان يوازې ددې کار توان نه درلود . د امريکا دمتحدو ايالتونو په مالي او تخنيکي مرستې کېداى شو چې تر هر وته ماتې ورکړو. موږ له کلونو راهيسې د طالبانو ، القاعدې او دهغويد ملرو د ترهرى قرباني شوي يو . د پاکستان پخوانيو حکومتونو له مذهبي ډلو سره شکمن چلند درلود چې تندلاري يې زموږ په هېواد کې زياتول. جنرال ضيا رسما دهغوى د سياسي ملاتړ په جبهه کې ودرېد ، او نواز شريف هم ورته چاره تر سره کړه .
دځان په اړه بايد ووايم چې زه تل يو عصري مسلمان يم او هيڅکله د بنسټ پالو د لېد لوري او تلارې سره جوړ نه يم. د ۲۰۰۱ کال په فبروري کې مې يو شمېر مذهبي تندلارې ډلې غير قانوني کړې او د هغوى پر ضد مې يو لړ گامونه پورته کړل ځکه دغو ډلو مذهبي افراطيت خپراو . خو د سپټامبر د ۱۱ پيښې له تندلارو سره دمخامخ کېدو قوى فرصت مساعد کړ .
دويم داچې د ترهرى سره دمبارزې په ډگر کې لومړى کربښې ته په ور دننه کېدو سره کېداى شي بهرنى پانه ونې وتښتې. خو معلومېده چې اقتصادي گټې يې درلودې. لکه پاکستان ته د پورونو بښنل او پر دغه هېواد د اقتصادي بنديزونو لېرې کول .
دريمه مسله داچې پاکستان د هستوي ازموينو وروسته گوښى شوى و .نو يو ځل بيا د سيمې اصلي لوبغاړى کيده .
په پاکستان کې کورنى غبرگون به څه ډول وي ؟ يقينا چې دامريکا په مشرى ايتلاف ته د پاکستان په ورگډېدو به هغوى زموږ مخالفت وکړي او سړکونو ته به لاريونونه را وباسي. په شمال لوېديځ ايالت سرحد کې چې له افغانستان سره گډه پوله لري د تند غبرگون هېله کېده .
سند په ځانړي توگه کراچي او بلو چستان به ددغه تصميم په اړه بې طرفه پاتې کېدل. خو د پاکستان زړه پنجاب به څرنګه وي ؟ايا هلته به هم خلک منفي غبرگون وښيي ؟ ما فکر کاو چې تر ډېره به په دغه ايالت کې غبرگون منفي نه وي. که مې کولاى شو چې پنجابيانو ته دا وپوهوم چې ولې مې د امريکې غاړه ونيوله هغوى به زما دليل درک کړي واى. په ځانړي توگه دا استدلال چې ولې اود کومې گټې لپاره يو زبر ځواک دخپل ځان په وړاندې ودروو ؟
پنجابيان ډېر ) پراگماتيک ) خلک دي.خو د کراچي خلک ډول ډول دي. ځکه په دغه ښار کې گڼ سودا گريز مرکزونه دي ، چې ځينې يې د سرحد د تند لارو په واک کې دي. په يقين سره په سړکونو کې د لاريونونو هيله کېده .
خو ما ويل د کراچي ډېر او سېدونکي به د اعتراض کونکو ملاتړ ونه کړي. دخلکو د فرهنې او ټولنيز فرهنې په اړه د ښه پوهېدو له کبله مې داسې فکر کاو چې زما په هېواد کې به د هيلو او چټ لاريونونه او غبرگونونه ښکاره نشي.
دا يو منصفانه تحليل و چې له احساساتو پرته مې د خپل هېواد دملي گټو لپاره ونيو. د ريچارډ ارميټاژ د غبر ډېپلو ماټيکې ژبې له کارولو سره سره يې زما په پرېکړې کوم اغېز ونه شينده. متحدو ايالتونو هم هغه څه کول چې دملي گټو سره يې برابر و. او موږ هم دخپلو ملي گټو پو بنسټ گامونه او چټول. خپله ساتنه او خپلې گټې ددغه تصميم په سر کې و . ويلو ته يې اړتيا نشته چې دارمېټاژ څرگندونو ډېر په قهر کړم.
دا دېوه سرتېري له زغمه پورته خبره وه. چې د چا گوت څنډنې او گواښ ته ځواب ورنکړي ، خو وروسته مې ولېدل چې ارميټاژ د پاکستان ښه دوست دى .
د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر په ۱۳ نېټه په پاکستان کې دامريکې سفير ( وينډي چمبرلين ) يو پاکټ راکړ چې دامرېکې لخوا پکې ۷ غوښتنې شوې وې. دغه غوښتنې دامريکې د بهرنيو چارو د وزارت لخوا زموږ د بهرنيو چارو وزارت ته د بريښنا ليک له لارې هم لېږل شوې وې چې په دې ډول دي.

�۱ په خپلو پولو کې دالقاعدې فعالېتونو ته پاى ورکړى ، د پاکستان له لارې د وسلو د سمندري ليږد لاره پرې کړى. او د بن لادن ټولو لوژيستيکي مرستو ته پاى ورکړي.
۲ --امريکايي الوتکو ته په خپله خاوره کې د ناستې او ځغاستې اجازه ورکړى، چې ټول اړوند پوځي او استخباراتي عمليات له دغه ځايه تر سره شي.
�۳ د اړتيا وړ سيمې لکه سمندري بندرونه ، هوايي ډگرونه او د پولو په اوږدو کې ستراتيژيکي سيمې دامريکا او ايتلاف د اطلاعاتي نظامي ځواکونو ته برابر کړى چې د ترهرو او دهغوى دملاتړو په وړاندې ترې ضروري عمليات تر سره کړي.
�۴ ژر ترژره دې د افغان کډوالو په اړه ټول اسناد ، مدارک او اطلاعات امريکا ته ورکول شي. چې د امرېکا او دملرو په وړاندې يې د پلان شويو ترهرو برېدونو مخه ونيول شي. او ځواب ورکول شي.
�۵ د سپټامبر د ۱۱ او نور ټول هغه ترهر بريدونه وغندى چې دامريکا او ددوى دملرو په وړاندې شوي او کيږي. ټولو هغو کورنيو څرگندونو ته پاى ورکړى چې د ترهرى په ملاتړ کيږي .
�۶ طالبانو ته د تيلو ، نفتو او نورو ټولو موادو مخه ونيسى. او افغانستان ته دې داوطلبه جنيالي نه پرېښول کيږي ، چې د طالبانو جنې وړتيا او يا دتر هرى د گواښ په لوړتيا کې ځينې گټه اخيستل کېږي
�۷ په افغانستان کې د القاعده شبکې او اسامه بن لادن د فعاليت او ورسره د طالبانو او افغانستان دملاتړ په اړه قوى شواهد او اسناد و په پيدا کولو سره بايد پاکستان له طالبانو سره سياسي اړيکې پرې کړي ، او د طالبانو ملاتړ ته به پاى ورکوي. همدا رنګه د القاعدې او اسامه په له منځه وړلو او دامريکې په راتلونکو ورته پروگرامونو کې به پاکستان له هغه هېواد سره مرسته کوي .

...........

يو شمېر دغه غوښتنې خندونکې وې. لکه دامريکا پر ضد د ترهرى په ملاتړ د کورنيو بېانونو بندول.
دا ډول غوښتنې د هغه قانون په تفسير پورې تړلې چې د ترهرى تبلېغ يا د وينا ملاتړ بلل کيږي. تر کومې بايد وړاندې ولاړ شو چې د بيان ازادي ماته نشي.
په افغانستان کې د القاعدې او اسامه د فعاليت پر وړاندې د قوي شواهدو پيدا کول او دافغانستان او طالبانو دملاتړ غوښتنې مو هم ضد او نقيض وموندې. ځکه که متحدو اېالتونو لاهم د شواهدو په پيدا کولو بوخت وي ځرنه کولاى شي دومره ډاډه وي چې ( اسامه بن لادن ) او په افغانستان کې د القاعدې شبکه د سپټامبر د ١١ دناورين عاملان دي.
همدارنه ما فکر وکړ داغوښتنه چې د طالبانو په مشرى دافغانستان سره زموږ د سياسي اړېکو هغه مهال پريکول چې که افغانستان او طالبان له القاعدې او اسامه سره خپل ملاتړ ته دوام ورکړي هم په واقېعت نه وو ولاړ. ځکه چې د طالبانو تر ماتې پورې نه يوازې دامريکا متحدو اېالاتو افغانستان ته د لاس رسي لپاره اړتيا درلوده بلکې داډول پريکړې د يوه هيواد په کورنيو چارو پورې تړلې موضوع ده. او نشو کولاى هغه په بل هېواد ومنو يا ديکتې کړو. خو د سوال ځاى نشته چې دغه ليک يا سند په ډېرې ببړې سره برابر شوى و. موږ د تروريستي فعالېتونو د پريکولو او بندولو سره په مختلفو ډولونو کې هېڅ ستونزه نه درلوده. وړاندې تردې چې امرېکا د ترهرى قرباني شي موږ دغه مبارزه پيل کړه.
خو موږ نشو کولاى دوېم او درېم نمبر غوښتنې ومنو. ځرنه کېداى شو دامريکا متحدو اېالتونو ته داسې د الوتنې او ناستې اجازه ورکړو چې زموږ ستراتېژيکي سېمې په خطر کې نه وي. ما وړاندېزوکړ چې د حسا سو سېمونه دې لېرې له بوې وړوکې کونج نه الوتنې وکړي. او همدارنه دامو هم نشو کولاى چې هغوى ته خپل هوايي ډگرونه ، سمندري بندرونه او پر پوله ستراتيژيکې نقطې ورکړو چې هغوى يې وکاروي. د سمندري بندرونو او دجنې الوتکو دهوايي ډگرونو دورکړې غوښتنه مو رد کړه.
موږ يوازې د بلوچستان د ( شمسي ) او د سند د( يعقوب اباد ) ددوو هوايي ډگرونو نه د گټې اخېستو اجازه ورکړه. چې خپلې لوژستېکي اړتياوې ترېنه پوره او خپلې الوتکې پکې ترمېم کړي. خو له دغو اډونه بايد بريدونه نه واى شوي. موږ دوى ته دهيڅ شي پوره اجازه ورنکړه. د پاتې غوښتنو لپاره لاره چاره پيدا کېږي. خو شحاله شوم چې د امرېکا متحده اېالاتو زموږ متقابل وړاندېز بې له کوم نظره ومانه. ما له هغه درواغجن سپکاوي ځخه چې وايي ما دامرېکا ټولې غوښتنې د کولن پاول د ټېلېفوني اړيکو پر مهال ومنلې ټکان وخوړ. پاول هېڅ شرط په ما نه وو اېښى. دغه غوښتنې د برېد په درېمه ورځ د متحدو اېالاتو د سفېر لخوا ماته راوړل شوې.
کله مې چې خپل تصميم ونيو ، دغه وړاندېز مې کابېنې ته وړاندې کړ. هغه ډول چې هېله يې کېده د ځينو وزېرانو لخوا دا اند ېښنې راپورته شوې چې ولې ورسره سلا مشوره نه ده شوې. په ورپسې ناسته کې د قول اردو د قومندانانو سره هم شکونه راپورته شول. په دواړو غونډو کې مې خپل تحلېل په جزئياتو سره وړاندې کړ. چې ولې او ځرنه مې دا ډول پريکړه وکړه. ټولو سوالونو ته مې چې ځواب ورکړ او ټول شکونه يې ليري شول. نو گډ نظر ته سره ورسېدو. د سپټامبر په ١٩ مې د ملي راډېو او تلويزيون له لارې دغه پريکړه خلکو ته اعلام کړه. هغه ډول مې چې فکر کاوغبرگونونه محدود او د کنټرول وړ و.
وروسته مې د ټولنې د بېلا بېلو قشرونو سره لېدنې پيل کړې. د سپټامبر له ١٨ ځخه د اکټوبر تر ٣ پورې مې د روڼ اندو ، د ورځپاڼو د مشرانو ، د پوهنتون د استادانو ، زدکونکو او دکارگرو د ټولنو له مشرانو سره وکتل.
د اکټوبر په ٨ مې د چېن له يوه پلاوي سره خبرې وکړې او په دغه تصمېم مې له هغوى سره بحث وکړ. وروسته بيا په هېواد کې د پوځ ټولو قطعو ته ولاړم او له سرتېرو سره مې خبرې وکړې. ټول په حقه اند ېښمن وچې که په افغانستان بمبار وشي ډېر بې گناه مسلمانان به ووژل شي. ما دغه وېره ددې خبرې په کولو سره چې لومړى به هڅه وکړم ملاعمر له افغانستانه د اسامه او دهغه دملرو ويستلو ته اړ کړم چې دغه اند ېښنې ارامه کړي ، چې هغه مهال به افغانستان د امرېکا له پوځي بريدونو خلاص شي. اوس نو ټوله کېسه پر ٢ کسانو ملاعمر او اسامه راڅرخي .

## ۲۱ خپرکی

اسامه او عمر

ملا عمر او اسامه بن لادن ممکن په ننۍ نړۍ کې ډارونکي نوموونه وي. دا دواړه د ټولو نړیوالو لپاره ترهر دي، خو د بنیادګرو لپاره قهرمانان دي. تقریبا د ټولو لپاره اسامه او ملا عمر معما ده. نړۍ د ملا عمر د ژوند او طبعیت په اړه هیڅ نه پوهیږي. هغه کس چې د طالبانو د رژیم مشري یې وکړه او زما په باور اوس هم د اورپکو طالبانو مشري ته دوام ورکوي. خو د اسامه په هکله تر پنځه کاله وړاندې پورې زیات معلومات موجود وو. پنځه کاله وړاندې اسامه د ډیرو نړیوالو له سترګو ورک شو. زه د خپل نظام د قوي اطلاعاتو او ارتباطاتو په برکت یو شمیر دغو پوښتنو ته ددغو دووکسانو په اړه ځواب ویلاې شم. ددغې لیکنې په لړ کې به په یو شمیر پټو ټکو رڼا واچوم.

یو مشهور متل دی چې وایي "د اوږد مهالې کړونې په بدل کې لنډ مهاله لاس ته راوړنه "بې پروایي ده. دا همغه تیروتنه ده چې د شوروي پر ضد د افغان جهاد ملاتړو له هغې ډلې څخه د امریکا متحده ایالاتونو ، عربستان او پاکستان ترسره کړه.

موږ د افغان مجاهدینو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړه ، هغوی مو په مذهبي غیرت سره په دیني مدرسو کې سمبال کړل. وسله وال مو کړل ، افغانستان ته مو د شورویانو سره د جهاد لپاره تغذیه او تمویل ولیږل. خو هیڅ فکر مو نه و کړی چې د جهاد په پای ته رسیدو سره څرنګه دغه کسان عادي ژوند ته وګرځوو. تر هر هیواد زیات دغه تیرو تنه د افغانستان او پاکستان لپاره ګرانه پریوته. د امریکې متحده ایالاتونو هم دی مسالې ته پام ونه کړ چې یو بډای او تحصیل کړی کس لکه اسامه بن لادن به له یوې ډلې سره چې موږ ټولو بې په جوړولو کې ورسره مرسته وکړه وروسته څه کوي. تر دی بده لادا چې د امریکې متحده ایالاتونو حتې له افغانستان سره د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته ددغه هیواد د بیاودانولو او پرمختیالپاره فکر ونکړ.

امریکا په ډیرې اسانۍ سره افغانستان خپل راتلونکي ته خوشې کړ. خو له دی ناخبره چې دغه سخت بې وزلی ، وهلی هېواد به تر غاښونو په وسلو د ډکو کسانو لپاره ښه پټ ځای یا اډه شي. چې په پرمختللو وسلو او د جنګ سالارانو په مټ به پارچه پارچه شي او کیدای شي د نړیوالو ترهرو لپاره ښه جنت شي. متحده ایالاتونو همدارنګه هیره کړه چې په افغانستان کې دغه ډول حالت به د پاکستان لپاره څه ولري. پاکستان ته مخدره توکو لاره پیدا کړه او پاکستان له ناقانونه وسلو څخه ډک شو.

له دې بده دا چې د ۱۹۸۵ کال د پوره یو اړخیز تړون لېک له کبله امرېکا پر پاکستان بند بزونه ولول چې زموږ هېواد ته یې د پوځي او اقتصادي مرستو مخه ډب کړه. او هر کال به دامرېکا دمتحدو اېالتونو ولسمشر اعلام کاوچې پاکستان بابډ په اتومي وسلو سمبال نشي.

خو فکر کوم زموږ ستره او بې ساري تېروتنه داوه دا مو هېره کړه چې کله دغه کسان سازماندهي کوو او په فوق العاده مذهبي او عقېدوي احساساتو يې سمبالوو چې زموږ موخې تعقیب کړي ، کېدای شي دغه کسان یوه ورځ دخپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره موږ نه ګټه واخلي.

موږ ته د ملاعمرد نژدې کېدو کېسه داسې وه چې هغه په افغانستان کې واک تر لاسه کړ ، او اسامه بن لا دن هم احتمالا ددې لپاره کېدای شي موږ ته نژدې شوی وي چې دامریکا �سعودي عربستان او پاکستان څخه د پیسو په ترلاسه کولو سره دالقاعدې ډله جوړه کړي. چې دوسلو او امکاناتو په ترلاسه کولو سره د خپلو نورو عملیاتو لپاره یوه اډه هم جوړه کړي. په داسې حالاتو کې معلومه نه ده چې ثوک استعمالیږي او ثوک یې استعمالوي.

موږ ، متحدو اېالتونو ، سعودي او ټولونورو هغو هېوادونو چې دافغانستان د جهاد سره یې مرسته کوله پخپله له بن لادنه ځانته یو ببو جوړ کړ.

طالبان تر شوروي وروسته کومه تازه پدیده نه وه. هغوی دهمغو روزونکو لخوا په همغو د یني مدرسو کې زدکړه کړې وې چې مجاهدېن یې تولېد کړي و. خو اوس یې یوازې نوم بدل شوی و. کله چې پاکستان د طالبانو په خواکې ودرېد ، ښې موخې یې تعقیبولې. اول داهېله وه چې طا لبان به جنسالاران ختم کړي او افغانستان ته به سوله راوړي ، او د پاکستان ضد شمالي ټلوالې ته به ماتې ورکړي. زموږ په دغو موخو کې هېڅ عېب نه وو. خو نه پوهېدو چې کله طالبان له موږ نه ګټه واخلي او واک ته ورسېږي خپل نفوذ به د لاسه ورکړو.

ملاعمر په ۱۹۵۹ کال کې د کندهار د نوده په کلي کې وزېږېد. هغه۴ ښځې او ۴ ماشومان لري. چې دوه یې زامن او دوه یې لوڼې دي. د۱۹۹۹ په اګست کې یې یوه لور په یوه بمي چاودنه کې ووژل شوه. د شوروي پر وړاندې دافغانستان د جهاد په لومړیو کې هغه د یوه عادي مجاهد په توګه پاکستان ته یو دوه اونیز سفر درلود. دجهاد پر وخت هغه په یوه او بل پسې د څو جهادي تنظیمونو غړیتوب درلود. ویل کیږي چې د یوې جړې پروخت د ملاعمر یوه سترګه ټپي شوه ، او پخپله یې د بې هوښۍ له درو پرته بې له ډاکټره په چاقو را وویستله ، او دواړه بانه یې سره وګنډل.

خو ځینې نوروایې د پیښور په یوه روغتون کې بسترو ، او دجراحي عملیاتو وروسته یې سترګه ترې وویستله. خو ډېر خلک په لومړې روا یت باور لري چې هغه په خپله ،خپله سترګه ویستلې ، او داډول دده داستان ته دوام ورکوي. د ۱۹۸۹ تر ۱۹۹۴ کال د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته ملاعمر د کندهار په لوېدیځ د ارغنداب په ولسوالی کې په یوه جومات کې ملا امام و. د۱۹۹۲ په اپریل کې چې کابل مجاهدینو ونیو ملا عمر په افغانستان کې دګډوډ ېو او په هر ګوټ کې د جنسالارانو د راپورته کېدو شاهد و چې خلک د وژنو ، جنسي تیریو او غلاو له کبله ارام نه و.

د ۱۹۹۴ په جون کې د طالبانو غورځنګ د میوند له ولسوالی څخه پیل شو او په دغو سیمو کې د بې قانونېو له برکته ددوی رېښې هر خوا وغزېدې. د طالبانو غورځنګ د یوه وړوکي ټکان په خوړلو پراخ شو. د کندهار ښار نه بهر د پولېسو د یوې امنېتي پوستې د کسانو مشر او ملرو یې دوه هلکان وتښتول او جنسي

تیری یې پرې وکړ، چې وروسته ووژل شو. طبعا خلک وقهرېدل او ترخه لاریونونه یې وکړل. ملاعمر او دورسره طالبانو هغه وړوکې ډله یې د تلاشی پر پوسته وروختل. تېرې کونکي یې بې وسلې کړل او یو شمېر یې ووژل. له همدې وروسته و چې طالبان د بې دفاع خلکو د ساتونکو په توګه وپېژندل شول.
طالبانو وروسته د بېلابېلو سېمو د پاکونې کار پیل او ډېر ژر یې نوم خپور شو. دافغانستان له بېلابېلو سېمو څخه یو شمېر کسان د یو شمېر معېنو مدرسو له هغې ډلې څخه د سرحد، بلو چستان او کراچۍ د مدرسو طالبان ورسره ملرې شول.
د۱۹۹۴کال په اکتوبر کې ملاعمر د طالبانو مشر یا امیر وټاکل شو. په۱۹۹۶کې لویه شورا را وبلل شوه چې د ټول افغانستان څخه۱۵۰۰ دېنې عالمانو پکې برخه واخیسته چې ملاعمر ته یې د امیرالمومنین لقب ورکړ. تردې وخته طالبانو دافغانستان۹۰ په سلو کې خاوره لاندې کړې وه. د افغانستان په سیاسي ډګر کې د طالبانو را څرګندېدل همغو ګډ وډیو او بې قانونیو ته یو خپل سری غبرګون وو چې د مجاهدېنو پخوانېو کومندانانو، جنسالاران او دغلو د ډلو مشرانو تر سره کول. سره له دې چې د طالبانو تحریک په افغانستان کې روان و، د بې نظیر بوټو په مشری د پاکستان حکومت هڅه وکړه د طالبانو د غورځنګ په لاره اچول، روزنه او رامنځ ته کول په دې هېله ځانته نسبت ورکړي چې د طالبانو چټک پوځي بریا به د پاکستان په ګټه شي. د بې نظیر بوټو د کورنیو چارو وزېرمتقاعد تورن جنرال نصیرالله بابر په اسانه طالبانو ته د ( ځامنو ) خطاب وکړ. ډېر وخت نه و تېر چې د هغه ځامن سرکښه شول. او بې نظیر بوټو هغوی د لاسه ورکړل. حقېقت دادی چې طالبانو په لومړیو کې نه له پاکستان څخه مرسته وغوښته او نه یې مرسته تر لاسه کړه.
فکر کوم دامریکا متحدو اېالاتو هم طالبان له همدې کبله رد نکړل. امرېکاېانو هېله درلوده چې طالبان به افغانستان ته سوله راوړي. د سعودي عربستان او دعرب متحده اماراتو حکومتونو طالبانو ته په ډېر احتیاط مرسته ورکړه. خو ددغو هیوادونو او سېدونکو د توکو او شیانو په ورکړې سره رسما له طالبانو ملاتړ وکړ. لوېدېځو قدرتونو په ځانړې توګه امرېکا دافغانستان خرابېدونکی وضعیت ته په کتو سره چې د سختو ډله ېیزو جنګونو او قومي اختلافونو په منځ کې یو دریم ځواک ته په دغه هېواد کې ځکه هرکلی وکړ چې وبه کولای شي تر یوه برېده د خلکو ژوند عادي حالت ته را وګرځوي. خو وروسته چې دغو قدرتونو احساس کړه د طالبانو په اړه یې تیروتنه کړې، ډېر ژر د طالبانو د ملاتړه لاس په سر شول.
خو دا کار زموږ لپاره ممکن نه و. ځکه طالبان د پښتنو له قوم څخه و چې د سرحد او بلو چستان سره ګډه پوله لري. دغه سېمه د پښتنو د اوسېدا ستر میشت غالی دی. موږ له طالبانو سره کلکې کورنی او نژادي اړیکې لرو. د طالبانو مخالفېن د تاجکانو، ازبېکانو او هزاره ګانو څخه جوړه شمالي ټلواله وه، چې د روسېې او ایران ملاتړ ورسره و. څه ډول ممکنه ده چې په پاکستان کې یو حکومت شمالي ټلوالې ته زړه ښه کړي. دا ډول تماېل پاکستان ته جدي کورنی امنیتې ستونزې پیدا کوي.
کله چې ملاعمر واک ته ورسېد څو ځلې مو پاکستان ته وغوښت خو سملاسي یې رد کړه. او لامل به یې هم دهېواد جنې حالات وښول. همدارنګه موږ وړاندېز وکړ چې هغه به د عمرې د حج لپاره مکې شرېفې ته ولېږو خو دا غوښتنه هم رد شوه. هغه په پرلپسې توګه زموږ د استخباراتي ادارې استازي لیدل. خو هیڅکله یې خپلو سېمه ېیزو کومندانانو ته اجازه ورنکړه چې له موږ سره اړیکې ټېنګې کړي. ویل به یې قومندانان یې تل په عملیاتو بوخت وي، پر همدې اساس له طالبانو سره زموږ اړیکې په زړه پورې نه وې. په حقیقت کې هغوی ډېر نا اړامه خلک و.
کله چې طالبانو د اسلام څخه په یوه عجېب تفسېر چې د ډېر مسلمانانو لپاره د منلو وړ نه و په افغانستان کې د بشري حقونو ضد کارونه تر سره کړل. او یو ستر دین یې بدنامه کړ. موږ له تماشې پرته بل هېڅ کار ونشو کولای. یو ځل د پاکستان د لېږل شوبې لوب ډلې لوبغاړې د لوبې پر مهال د لنډو پتلونونو د اغوستلو پر جرم ونېول شول او د جزا په توګه یې ورته د سر وېښتان وخرییل. طالبانو ښځو ته اجازه نه ورکوله چې له کوره بهر شي. حتی دوکان ته هم نشوې تلای. او له نجونو یې ښونځیو ته د تلو حق واخیست.
ددښمنانو د وژلو او زنا کونکو ته د سزا د ورکولو څرنګوالي طالبان مجبوره کړي و. یو ځل یې یو شمېر ایرانېان په کانتینر کې بندېان کړل، وږي تږي یې ساه بنده شوه، چې وروسته یې کانتینر له بهره د کلاشینکوف په ډزو هغوی ټول ووژل. د ۱۹۹۴ د اکتوبر په وروستۍ او نۍ کې دپاکستان رسمي اړیکه له ملاعمر سره د سپین بولدک په سېمه کې ټېنګه شوه. ددغې لېدنې موخه د پاکستان د بشري مرستو د یوه کاروان د امنیت د ټېنګولو غوښتنه وه. دغه لېدنه کتنه د ملاعمر د عملیاتو د قوماندې په خونه کې وشوه. چې هغه مهال یې د مجاهدینو د قومندانانو پر وړاندې رهبري کاوه تر سره شوه. ملاعمر لومړی په بې پروایي سره زموږ غوښتنه رد کړه، او لامل یې هم د سړک په اوږدو کې روانه جړه وبلله. خو په وروستیو شیبو کې یې په شک او تردېد سره ومنله. دغه کاروان وروسته غلا شوه خو طالبان یې عاملین نه و.
کله چې ۱۹۹۶کال په مئ کې اسامه جلال اباد ته را وګرځېد. د بېلابېلو هېوادونو عربان چې دافغانستان له جهاد وروسته تېتبېدلي او تیت شوي و له اسامه سره یو ځای کېدل او بېرته راګرځېدل یې پیل کړل. هغوی اسامه د جهاد له وختونو راهیسې پېژانده. ترهرود طالبانو د چټک پر مختې ملاتړ وکړ. ډېر ژر ازبېکان، چچنېان، بنګلدېشیان، د چېن ېغور مسلمانان، دهند اروپا، امریکا او حتی استرالیا نه یو شمیر مسلمانان افغانستان ته راغلل، چې له طالبانو سره ملاتړ او مرسته وکړي. په پاکستان کې د الرشید مرستندیه ټولنه دطالبانو د غورځنګ له اصلي ملاتړو څخه وه. چې له کراچۍ څخه یې هغوی ته لوژیستیکي او خېریه مرستې برابرولې.
د ۱۹۹۸د سپټامبر په ۱۹د) ای اس ای) عمومي مشر او د سعودي د اسخباراتو مشر او په واشنګټن کې د دغه هېواد اوسنی سفېر ( شهزاده ترکې الفیصل ) په کندهار کې له ملا عمر سره وکتل. دا خبرې اترې په کینیا او تانزانیا کې د امرېکا په سفارتونو کې د القاعدې لخوا د بمونو د چاودلو په درشل کې

وشوي. شهزاده فيصل ملا عمر ته د په دغو چاودنو کې د اسامه د لاس لرلو په اړه وويل. او د بن لادن د پروګرامونو په اړه يې له هغه سره خپل معلومات بدل رابدل کړل. له نيکمرغه په جده کې د امريکې په قونسلرۍ کې د چاودنې طرحه افشا شوه. هغه عمر ته يادونه کړې وه چې درې مياشتې وړاندې د ۱۹۹۸ په جون کې دده سره طالبانو کلکه ژمنه کړې وه چې اسامه به له افغانستانه وباسي او سعودي ته به يې سپاري، خو هغوی دا کار هيڅکله ونکړ. شهزاده همدارنګه له طالبانو سره د بن لادن ژمنه ملاعمر ته ياده کړه چې وېلې يې و، په افغانستان کې د او سېدا پر مهال به په هيڅ ډول ترهرو چارو کې لاس نه وهي. دغه ژمنه هغه وخت دروغ شوه چې په ۱۹۹۸ کې په خوست کې په يوه خبرې ناسته کې بن لادن رسما خلکو ته د ترهرو بربېدونو د ترسره کولو او د خلکو د هڅولو خبرې وکړې. اسامه همدارنګه د سعودي په شاهي کورنۍ کې د نا ارامیو مبتکر هم و. چې د ژمنو سره سره طالبانو هغه د سعودي عربستان چارواکو ته نه و تحويل کړي.
زموږ د استخباراتو د اداري مشرهم ملاعمر ته په ټينګه ويلي و چې پاکستان او سعودي د پخواني شوروي پر وړاندې دافغانستان د جهاد ملاتړ کړی و. هغه ملاعمر ته دا جدي توصيه کړې وه چې يا دې اسامه د عربستان چارواکو ته وسپاري او يا دې له افغانستانه وباسي. د (ای اس ای) مشر همدارنګه ملاعمر ته ويلي و د پاکستان په دننه کې د اسامه اړيکې ددغه هېواد د اندېښنې وړ دي. له بلې خوا له بن لادنه د طالبانو ليرې والي ددوی د په رسمېت پيژندولو کار هم اسانه کوي.
ملاعمر په دې خبر و چې له سعودي سره يې هېڅ ژمنه نه ده کړې ددواړو هېوادونو د استخباراتو مشران يې خفه کړل. هغه نېغ په نېغه شهزاده ته د رواغجن خطاب وکړ. وروسته عمر په قهر د خپلې اندېښنې څرګندونه وکړه چې حکومت يې تر زياته فشار لاندې دی، او هيڅ هېواد اسامه ته پنا ه نه ورکوي. همدارنګه ايران د طالبانو پر ضد شمالي ټلوالې ته مرستې ورکوي. او طالبان له ګواښ سره مخامخ دی. هغه همدارنګه سر وټکاو چې د سعودي عربستان حکومت پداسې حالت کې له هغوی سره مرسته نه کوي، او دهغه پر ځای د اسامه په نوم هغه تر فشار لاندې را ولي.
شهزاده فيصل تردې وخته ارام و خو نور يې چوپتيا پای ته ورسېده، هغه ملاعمر ته د تور ګوته ونيوله. په همدې حال کې شل طالبانو په خونه کې موجود و. دغه تورونه د ملاعمر په مغزو ښه ونه لېدل. ناڅاپه ملاعمر ج او روان شو. يو ساتونکی ورسره بهر شو. څو دقېقې وروسته بېرته راغی. له وېښتانو يې او به څڅېدې� کالې او لستوڼې يې لامده شوي و. شهزاده ته يې وويل (( زه هغې بلې خونې ته ولاړم او لږ يخې او به مې په سر وچولې چې ارام شم. که ميلمه مې نه وای ويرولی به مې وې ((.
ملاعمر د افغانستان او سعودي ددينې عالمانو د يوې شورا د جوړېدو وړاندېز وکړ چې د بن لادن د راتلونکې په اړه پريکړه وکړي. هغه د سعودي پر خامو تېلو د امريکا د حضور او ولکې په اړه کلکه نيوکه وکړه. چې د اسامه يو شکايت هم همدا و. او ويې ويل د نړی مسلمانان به ورسره يو موټی شي چې سعودي ازاد کړي. هغه وويل د سعودي پخواني نسل خپل هيواد ته ډېر احترام درلود او دغې پاکې خاورې ته يې د امريکايانو د ورتلو اجازه نه ورکوله. ملاعمر وويل چې له بن لادن نه يې ليکلې ژمنه اخېستې چې د افغانستان له خاورې د ترهرو اعمالو په ترسره کولو به د طالبانو باور ته زيان ونه رسوي. شهزاده ډېر په قهر شو او ملا عمر يې د سعودي خلکو، دينې عالمانو او شاهي کورنۍ ته په سپکاوي تورن کړ. هغه وويل نور به دغه بې عزتي ونه مني. او زياته يې کړه که طالبان د خپلو شومو موخو لپاره سعودي ته ورشي نو شهزاده به لومړی کس وي چې ورسره وبه جنګيږي. وروسته ج شو سلام يې وا چاو او ولاړ.
اوس د ملاعمر نوبت و چې يو څه ټکان وخوري. عمر په خونه کې له ځانه سره ليا و. ساتونکې شاو خوا ولاړ طالبان يې ورسره و. پوښتنه وشوه چې څه پيښ شوي؟
د (ای اس ای) مشر ځواب ورکړ لکه چې شهزاده نه غواړي خبرو ته دوام ورکړي، او هوايي ډګر ته ستون شوی دی.
خو ملاعمر لاهم نه پوهېده. دهغو څو ملرو څخه چې غوښتل يې له هغه سره مرسته وکړي او يا په رښتيا طالبان په افغانستان کې د اسامه له شره خلاص کړي هغه ورته دښمن ښکاره شي نو له داسې کس سره څه ډول خبرې کېدای شوای؟
په افغانستان کې موجودو حقايقو هغه ته داډول چانس برابر کړی و. خو موږ نشو کولای په اسانۍ سره له طالبانو رسمېت پېژندنه بېرته واخلو او په کابل کې خپل سفارت وتړو. او افغانستان هغوی ته خوشې کړو. سره له دې چې طالبانو موږ ته د اړيکو د پرې کولو ګڼ دلايل په لاس راکړي و.
يو ځل يې زموږ سفارت وسوځاو او زموږ سفير يې هم وډباوو چې په کټ کې يې پاکستان ته راوړ.

د طالبانو بل بد کار د بودا د تاريخي او لرغونو بتانو ورانول و چې د باميانو په سيمه کې له پيړيو پيړيو راهيسې ولاړ و. په پيل کې چې ملاعمر د بتانو د ورانولو ګواښ وکړ ټولې نړی پاکستان ته مخ واړاو چې ددغه ځوان نظر بدل کړي.
البته ټولې نړی بوډول تېروتنه کړې وه چې دوی يې په رسميت ونه پيژندل او په کابل کې يې سفارتونه خلاص نه کړل. خو ما بل ډول چلند درلود. د نړی له ډېرو مهمو مشرانو مې وغوښتل چې طالبان په رسمېت وپيژني چې پر هغوی ډله ييز فشار راوړو او ټلارې ته يې بدلون ورکړو. د امريکا دوخت له ولسمشر بېل کلنټن، د سعودي له باچا شاه عبدالله بن عبالعزيز او دعرب اماراتو د امير شيخ زاهد بن سلطان النهيان سره مې دغه وړانديز شريک کړ. عبدالله بن عبدلعزيز په ملا عمر ډېرې نيوکې وکړې او هغه يې درواغجن وباله. هغه وويل ( هيڅکله به له يوه درواغجن سره ملرۍ نشم او له دغه ډول کسانو کرکه لرم(

نو د بودا د مجسمو له ورانولو څخه د ملا عمر د راګرځولو مسولیت زما پر اوږو کېښول شو . کله مې چې پدغې مسلې د خبرو لپاره ملاعمر ته یو پلاوی ولیږه ، هغه بل ډول شوی و. عمر وویل خدای پاک له هغه غوښتي چې دغه بتان والوځوي ، ځکه چې د تېرو څو کلونو په ترځ کې خدای پاک باران را ولېږه چې د دغو بتانو په بیخ کې ستر ستر سوري جوړ کړي چې بمونه او ډینامېټې پکې ځای شي. نو دا د خدای پاک د امر نښې دي چې دا بتان باید وران شي.
ملاعمر موږ ته هیڅ پام ونه کړ او په غمجنه توګه یې بتان وران کړل.

بل ځل یې د اسلام دد ين څخه بې پروا تصویر وړاندې کړ. ملاعمر په حقیقت کې هغه د ين ته درنه ضربه ورکړه چې خپله یې پرې باور درلود. فکر کوم دا زموږ د ټولو دنده ده چې وواېو اسلام د داسې چال چلند سره هېڅ اړیکه نه لري. اسلام یو پرمختلونکی ، عصري او د شعور د ين دی. خو نړیوال دا فرصت نه لري چې زحمت وباسي او د معتبرو اسلامي منابعو د پیدا کولو لپاره پلټنه وکړي .هغوی د مسلمانانو د کار کړنو له مخې د اسلام په اړه پرېکړه کوي. په ځانګړې توګه د مسلمانانو له هغو کار کړنو څخه چې پر هغوی اغیز کوي ، نه د پوهو او روڼ اندو مسلمانانو له نظرونو او څرګندونو څخه . او دا هم ارزښت نه لري چې هغوی څومره رښتیا وایي.

د سپټامبر له ۱۱ وروسته پوره ډاډه وم چې په افغانستان دامریکا د قهر او غوصې د سړولو هوا زښی لاره به داوي چې اسامه او ملاتړي یې په یوه ډول له افغانستانه وویستل شي. په یقین سره چې زما غټه اندېښنه دد غه جنګ څخه په افغانستان د امریکا د پوځي برید دهغو مستقیمو او منفي اغېزو په اړه وه چې پر پاکستان لوېده. له د غه بحران څخه دافغانستان د وتلو لاره د اسامه سپارل او یا ویستل و. سره له دې چې پوهېدم ډېر کم وخت شته خو سملاسي مې د خبرو اترو ابتکار په لاس کې واخیست. متحده ایالات او نړی تازه پوه شوي وه چې له طالبانو سره ډیپلو ماټیکې اړیکې څومره ګټورې دي. په دې وخت کې دهغو نظرونو ملاتړ وشو چې ما وېلي وو له طالبانو سره د ې سیاسي اړیکي ټینګې شي. که په کابل کې یې یو شمېر سفارتونه پرانیستي واي او ټولو په ډله ییز ډول په ملا عمر فشار راوړی وای چې اسامه دې ور وسپاري کېدای شي دې کار نتیجه ورکړې وای .

د سپټامبر ۱۱ په ملا عمر او طالبانو هیڅ اغیز نه درلود . عمر وویل (( دا پیښه له مسلمانانو سره د بې عدالتی په وړاندې د خدای جزا وه )).خدای پاک له دوی سره و .

او اسامه هم مهم کس شوی و. له ملاعمر سره لېدل سخت کار و. په دې برخه کې له ملاعمر سره خبرې کول داسې و لکه چې څوک دده سر له دېوال سره ووهي . زموږ نړی لېد بېخي بل ډول و. پاکستان په داسې حال کې چې فکر یې کاو انسانان باید هغه واټ ته ورنشي چې د جنګ ، وژلو او ورانی لامل کېږي . خو ملاعمر فکر کاو چې دعدالت د را وستو لپاره جګړه او ورانی بې اهمیته جزئیات دي . لکه هغو ټولو خلکو غوندي چې د قیامت په ورځ په بیا ژوندي کیدو باور لري او دغه مو قت ژوند تېرېدونکی بولي ، مذهبي تندلاري لکه طالبان په دې باور دي چې دمرګ په وړاندې یې ځان کم ارزښت لري. او کله چې ددوی شیان او کسان شهیدان کیږي ، دهغوی لپاره جنت جوړ شوی. خو مساله داده چې په څه ډول د یوه سپیڅلې جګړې پر سر موافق شو .

زما په شان کسان په دې اصل باور لري چې د یوه رهبر او مشر لومړی دنده دخپل هېواد ، خلکو او دهغوی د مالونو ساتنه ده. د ملاعمر په څېر کسان باور لري چې دنړی مالونه ، توکي له هغې جملې نه ژوند د اصولو او دودونو وروسته دوهم ځای لري.یو له دغو دودونو څخه د مېلمه ساتنه ده. بن لادن او ملري یې د طالبانو او ملاعمر میلمانه و ، او ستونزه هم په همدې ځای کې وه . ما ډېره هڅه وکړه ملاعمر د بېته اړکړم چې دامریکا د ولسمشر لخوا د ۲۰۰۱ کال د اکټوبر د ۷ نېټې تر ټاکل شوي ضرب ا لعجل پورې اسامه ته اجازه ورکړي چې له افغانستانه ووځي.هغه ته مو وویل چې هېواد به یې وران شي. خو هغه درک نه کړه . هغه باور درلود چې امریکایې ځواکونه به ماتې خوري. په دې برخه کې لومړی اسامه بن لادن هغه تېر وېستی و ، خو یو شمېر ګمراه شویو اسلامي مفکرینو حتی په پاکستان کې هم داډول باور درلود .

د ۲۰۰۱ کال د اکټوبر په ۷ نېټه د امریکا متحدو ایالتونو پر افغانستان د بمونو باران جوړ کړ. ورسره جوخت د شمالي ټلوالې ځواکونو د ځمکې له لارې برېدونو ته زور ورکړ. له یوه منسجم لنډ مقاومت وروسته د طالبانو قومندانان کلیو او غرونو ته فراري شول. چې په چریکي جنګونو کې ځانګړې مهارت لري. د ۲۰۰۱ کال د دسامبر په لومړی او نی کې د ماتې په څکلو سره پر یوه هونډا موټر سایکل وتښتېد او پټ شو. یو ځل کله چې د جاپان لومړي وزیر ( کیوزومي ( دملاعمر د پټې دځای په اړه له ما وپوښتل؟ ما ورته وویل ملاعمر په یوه هونډا موټر سایکل تښتېدلی او په ټوکه کې مې ورته وویل چې دا به د هونډا لپاره ښه تبلیغ وي چې ملاعمر په هوندا سپور وښیي چې تښتي او څوک یې نشي ګیرولای. او لوبه ژېره او لوی کمیس یې د چلېدونکي باد له کبله څلورو خوا و ته خپره شوې ده. له همدې وروسته دملاعمر درک نشته. زه باور لرم چې په خپله اصلي سېمه کندهار کې به وي. په دوه دلیله په دومره ډاډ سره داخبره کوم .
اول: د ۱۹۹۴ کال راهیسې چې کله ملا عمر ډېر مشهور شو هیڅکله یې پاکستان ته سفر ونه کړ. نو اوس به څرنګه زموږ په هېواد کې دارامی احساس وکړي ؟دوم: نن سبا د طالبانو اصلي اډه دافغانستان په سویل کې ده .ډېرې کلیوالې سېمې او ډېر ښارونه لاهم د طالبانو تر نفوذ لاندې دي. د شپې ډېر حرکتونه د طالبانو تر کنټرول لاندې دي. ملاعمر او ملرو ته یې د ژوند ډاډه ځای هماغه خپلې سېمې دي چې ښه پکې بلد دی. او دخلکو لخوا هم ورته هرکلی کیږي. د افغان دولت لوړپوړو مشرانو ویلي چې کېدای شي ملاعمر په کویټه کې وي. دا یو خندونکې انګېرنه ده . او کېدای شي ګمراه کونکي وي. که ملاعمر په کویټه کې وای لکه د طالبانو د نورو مشرانو په څېر به وړاندې نیول شوی وای .

دا سمه ده چې دامریکا په مشری د ایتلاف او د شمالي ټلوالي دځواکونو لخوا د جنګونو او فشارونو په زیاتېدو سره به ډېر طالبان تښتېدلي وي. له پولې به را اوښتي د پاکستان په قبایلي او ښاري سېمو ته به یې لاره موندلې وي خو په دې منځ کې ملاعمر نه و. دې کار موږ ته لوبه ستونزه را ولاړه کړه . دا چې

ملاعمراوس هم ژوندی او ازاد دی او په هیڅ ډول طالبان نه دي ختم شوي. یو شمیر کسان فکر کوي چې دامریکا په وړاندې د ملا عمر د درېدو له کبله خپلو ملاتړو ته روحیه ورکړې. که له یوه افغانه وپوښتل شي چې کورنی ، خپلوان دې ښو خوا او ستا شخصي عزت او احترام بل خوا یو ترې غوره کړه نو ډاډه یم چې دغه افغان به دویم ترې غوره کړي. یو بل وتلی او مشهور فراري اسامه بن لادن دی ، سره له دې چې نړیوال دعمر په پرتله د اسامه په اړه زیات معلومات لري. خو په دې ارزي چې دهغه د تیرو کړنو په اړه یو څه ولیکم. د شوروي لخوا دافغانستان تر نیولو وروسته د امریکا او ملرو په مټ یې د نړی له گوټ گوټ نه ډلې ډلې مسلمانان پاکستان ته راغلل چې د شوروي اتحاد په وړاندې په جهاد کې له مجاهدینو سره یوځای شي .

په ۱۹۸۲ کال کې یوه فلسطیني اوسېدونکي ،ډاکټر عبدالله عزام له خپلې یوې ډلې روحانیونو سره په پیښور کې د ( مکتب الخدمت (په نوم یو سازمان جوړ کړ . اسامه د عزام مرستیال و. دغه سازمان مجاهدینو ته لوژستیکي او مالي مرستي برابرولې. ددغو مرستو غټه برخه د اسامه بن لادن لخوا ورکول کېده. چې د ښوې بډایې کورنی دی. خو ددوی دغه گام د یو شمېر عربانو شخصي ابتکار نه بلکې کوم ملاتړ یې درلود . د امریکا د استخباراتو د مرکزي اداري ( سي ای اې ) او د پاکستان استخباراتي اداري ( ای اس ای ) گام په گام له هغوی سره مرسته کوله. خو د ۱۹۸۰ لسیزې په مابین کې د اسامه او عزام تر منځ اړیکي خرابې شوې. اسامه نور نه غوښتل یوازې ددغې موخې تمو ېلونکی وي بلکې غواړي چې جرې ته ورودانېي او یو عملي مجاهد شي. ددې پر ځای چې د یوې افغان جهادي ډلې سره یو ځای شي. اسامه د څو سوه عربي جنیالیو یو ځواک جوړ کړ. دافغانستان د جهادیانو په منځ کې د غه ډله د ( عرب غنډ ) په نوم مشهوره شوه. اسامه پوه شو چې افغانان واقعي جنیالي دي. داسې جنیالي چې دماتې په احساس جړه خوشي کوي، خو بله ورځ بېرته سر له یوه بل سنړه را پورته کوي . د اسامه عرب جنیالي په قوي تعصب او انېیزې سمبال و . هغوی له لېرې ځایونو راغلي و چې د خدای په لاره کې وجنېږي ، او دشهادت ارمانجن و .

له بلې خوادافغانانو ډېره تلوسه داوه چې خپلو کلېو او کورونو ته ستانه شي او عادي ژوند ولري ، درمندونه واخلي ، ودونه وکړي او نور مراسم په گډه تر سره کړي. خو په دې سربېره گمان کوم اسامه بن لادن کوښښ کړی چې دمجاهدینو له مشرانو جلا د ځان لپاره شخصي هویت تر لاسه کړي.

په ۱۹۸۲ کې اسامه دافغانستان په ختیځ د پاکستان د پولې په ۱۲ کیلو متری کې د ځاځیو په سېمه کې د شورویانو د یوې قطعې خواته شخصي اډه جوړه کړه . هغه په ښوې ځانړې ننداري کې په دغې اډې د ( زمري دغار ) نوم کېښود . داسې گمان کوم دغه نوم به یې له خپل نومه اخېستی وي. ځکه اسامه هم د زمري معنا ورکوي.

د ۱۹۸۷ په پسرلي کې ېې په ځاځیو کې له شوروي ځواکونو سره سخته مخامخ پلې جړه وکړه . د ځاځیو جړې په نړېوالو خبري رسنیو کې پراخ انعکاس وکړ ، او ډیر و په مبالغه امیزډول هغه جړه ښه په ډاگه کړه . دا داسامه لپاره د اور د مزې لومړی ښکه وه . او باېد ېې هم ترې خوند اخیستی وي. مصري سرتیري ابو عبېده او ابو حفص په دغه مبارزه کې د اسامه په خواکې ښه وجنېدل. ډېر وخت نه و تیر چې بن لادن له یوه مصري ډاکټر سره ملری شو . ددغه ډاکټر نوم ( ایمن الظواهري ) و ،چې پیښور ته نژدې یې د مجاهدینو د ټپیانو درملنه کوله .

د لومړي ځل لپاره د ۱۹۸۸ په اپریل کې د عبدالله عزام لخوا دجهاد په نوم په ښوې مجلې کې د القاعده ( بنسټ ) نوم وکارول شو. د عزام نظریه داوه چې داسې سازمان جوړ کړي چې دمسلمانانو لپاره ټولنیز خدمتونه وکړي او د یوه بنسټ په توگه د مسلمانانو د بېدارولو لپاره کار وکړي. هېڅکله دهغه موخه په پوځي ډول د القاعدې جوړول نه و . په واقېعت کې دعزام لخوا د ( القاعده الصلباح ) یا د ( تل پاتې بنسټ( په نوم کارېدلی و. د ابوالعزام نړی لېد ېا نظریه داوه چې نېواکگر دې له اسلامي خاورو وویستل شي. خو اسامه غواړي د اسلامي هیوادونو حکومتونه چې دده په اند ) مرتد ) شوي را وپرزوي. چې داکار کېدای شي د مسلمانانو ترمنځ د تاوترېخوالي لامل شي . خو عزام له هغه سره هیڅ کار نه درلود. همدغې مسالې ددوی ترمنځ واټن رامنځ ته کړ . اسامه د عزام وړاند ېز شوی نوم خپل کړ .خو دالصلباح له کلېمې پرته یې القاعده جوړه کړه .یو کال وروسته د ۱۹۸۹ د نوامبر په ۲۴ عزام ووژل شو او داسې گمان کېږي چې بن لادن به په دغه وژنه کې لاس ولري .

دالقاعدې له جوړېدو ۹ کاله وروسته د ۱۹۹۸ په فبروری کې اسامه د( اسلامي نړی دجبهې ) په نوم یوه بله ډله جوړه کړه. چې موخه یې د اسراییلو لخوا دفلسطېن د نیواک پر وړاندې مبارزه وه . له بل پلوه القاعده څو ملیتي تندلارې ډله ده ،چې غړي یې د بېلابېلو هېوادونو او په خاصه توگه د مصر دي. دا یو نړیواله ډله ده . او دغه یې موخې دي:

۱� د موجوده اسلامي ډلو بنسټونه باېد ټینګ کړو او ددغو ډلو د له منځه تلو په وخت کې باېد نوي تشکیلات رامنځ ته کړو.

۲� دځواکونو گمارل.

۳� د مسلمانانو له ځمکو څخه د امرېکاېي ځواکونو ویستل.

۴� په منځني ختیځ کې دامریکا او اسراېېلو د ټلارو سره مبارزه.

۵� په ټوله نړی کې د مسلمانانو د ازادی غوښتونکو مبارزو ډلو څخه ملاتړ.

۶� د مسلمانانو د ټولو منابعو څخه د یوې واحدې موخې ( جهاد ) تر لاسه کول .

د القاعدې شبکه د یوې شورا څخه جوړه ده چې ۴ کمېټې لري.

۱-نظامي.
۲ -مطبوعاتي.
۳ -مالي او
۴ -مذهبي کميتې.
چې عملياتي ډلې يې د امريکا او کاناډا په ګډون د نړۍ تر ۴۰ زياتو هېوادونو کې فعاليت کوي .
ددغې ډلې عملياتي لومړيتوبونه په افغانستان ، عراق، سعودي ، پاکستان ، ترکيې ، جنوب ختيځې اسيا ، شمالي افريقا ، اروپا ، دامريکا متحده ايالات ، په برتانيې او کاناډا کې متمرکز شوي دي. ددغه سازمان عمليات د مرکز څخه په لېږې ډول تر سره کيږي. قوي تحصيل کړي بشري ځواک لري او ارامه ساتل شوي شبکه ده. چې د فرصت په ترلاسه کولو سره دعمل ډګر ته ور دانګي.
نن سبا چې القاعدې په پاکستان کې سختې ضربې وخوړې ويل کيږي چې نوې اډه او خپله روزنېزه سېمه يې د افريقا په منځنۍ ساحلي سېمو کې له ختيځ نه د لوېديځ په لور جوړ کړې.
د القاعدې د مهمو مشرانو په وژلو او نيول کيدو سره او س ددغې ډلې نوی شکل پيدا کړی دی . د لوړ پوړو مشرانو پرته ددغه سازمان په جوړښت کې د بدلون راوستل ددوی يو معمول کار ګرځېدلی.
موږ د اسامه د نيولو لپاره ټولې هڅې کړې خو هغه زموږ له لاسه وتلی. القاعده اوس د بريښنائي وسايلو پر ځای له پيغام رسونکو څخه ګټه اخلي. روښانه ده چې دا کار دافغانستان او پاکستان د پولې دغرنيو سېمو څخه د پيغامونو لېږل او ترلاسه کول ډېر پېچلی او حتی د بړش ورځې وخت نيسي ، موږ توانېدلي يو د القاعدې يو شمېر پيغام رسونکي ونيسو . د القاعدې د مشرانو او دهغو دنژدې ملګرو د پټې ځای تل پټ دی. چې له بل هر چا ډېر يې پاکستان اندېښمن کړی. زموږ هڅه داده چې ژر ترژره دغه پټ ځای پيدا کړو .
رمزي بن الشيبه چې وېل کيږي د سپټامبر د ۱۱ د ناورين د شلم نمبر الوتکې تښتونکی وچې بر يالی نشو او له تورې بورې هم ژوندی وتښتېد . په کراچی کې زموږ پر ځواکونو د ډزو په ترڅ کې د برما د ۲ او سېدونکو ( امين او ابوالبدر ) سره يو ځای ونيول شو. د پلټنو پر مهال امين ومنله چې د ۲۰۰۲ کال په جون کې يې د اسامه سره په يوه نامعلوم ځای کې خبرې اترې کړي.
د القاعده دريم نمبر غړی خالد شيخ محمد مو په پيښور کې ونېو . دی د سپټامبر د ۱۱ وروسته له اسامه سره له لېدلو او خبرو اترو منکر دی. خو وايي چې اسامه روغ او ژوندی دی. او له يوه اوبل سره يې اړيکي درلودې.
هغه وويل وروستی لېک ورته د يوه قاصد په لا س ور رسېدلی. هغه همدا رنګه وويل د اناګوندا د عملياتو وړاندې اسامه بن لادن د جلال الدين حقاني ، دمحمد رحيم او امين الحق په نوم د ۲ افغانانو او داحمد الکويتي په نوم ديوه بلوچ ايراني په مټ د تورې بورې له غره نه وزيرستان ته ورسول. د ۲۰۰۳ کال په مارچ کې خالد شيخ محمد فکر کاوچې اسامه به دافغانستان د کنړ په ولايت کې وي .
ابو الفرج الليبي ) چې د خالد شيخ ځای ناستی شو ، له هغه وروسته چې زموږ ځواکونو ونيو د ۲۰۰۵ کال په مئ کې يې وويل ، د يوه قاصد له لارې له اسامه سره په تماس کې و ، او د اسامه وروستی ليک ورته د دسامبر په وروستيو کې ور رسېدلی. موږ ددغو پيغام وړونکو د پيدا کولو په لټه کې يو .
کله چې د وزيرستان غرونو ته ولاړو او په پاکستان کې مو دالقاعدې د شبکې اړيکې وځپلې، پو شو چې دالقاعدې د پيغام رسونې ټيم ډېر منظم برابر شوی. ددغه سيستم په ۴ پوړيو کې په مختلفو اداري ، عملياتي او مطبوعاتي برخو کې مهم شيخان تر تيب شوي دي .
لومړي ۳ دوه اړخيزې اړيکې لري ، خو څلورم يې له مهم قومندان سره د ټيټو کسانو يو اړخيزې اړيکه ده .
د پيغام رسولو اداره يې ، اداري فعاليتونه د کورنيو لېږل او خو ځول او همدا رنګه د تمويلونکو سره د کورنيو د اړيکو ټينګول او د انتقالولو چارې پر مخ بيايي. چې يو شمېر افغانان او پاکستاني قاصد انو د القاعدې دغه برخه فعاله ساتلې. د عملياتي پيغام وړونکو شبکه � عملياتي فرمانونو د ليږد راليږد سره کار لري. په دغه برخه کې د پيغام رسونکو په ګمارلو کې له ډېر دقت نه کار اخيستل شوی. دالړی د ښه امنيت په ټينګولو هغه هم د يوه رمز يا شيفر په وسيله تر سره کيږي. نو په دې اساس ددغو پيغام رسونکو پيژندل په فوق العاده هوښيارو او دځېرکو کسانو په موجوديت پورې اړه لري .
دمطبوعاتي پيغامونو رسونکي د تبليغاتو او دخلکو د پارونې په برخه کې فعال دي. دغه پيغامونه د سي ډي ، بروشور ، فيلم او په نورو وسايلو برابرېږي او تر ډېره د الجزيرې عربي ژبې ټلويزيون ته ورکول کيږي .
د پيغام رسونکو څلورمه ډله يوازې د القاعدې د مهمو مشرانو په واک کې دي چې هڅه کوي په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې پيغامونه په ليکلې بڼه انتقال کړي ، لکه خالد شيخ محمد او ليبي ته لېږل شوي ليکونه ددې نمونه ده .
معمو لا د شبکې مشران ډېر باوري ، هوښيار او سخت سري کسان دعملياتي برخې د مشرانو د پيغامونو د ساتنې او لېږنې لپاره غوره کوي. خو په قاطعيت سره ويلای شم چې د قبايلي سېمو ټول قومونه له هغه سره د همدردی او زړه خوږي نه لري. که وغواړم فکر وکړم اسامه به دافغانستان او پاکستان د پولې اخوا او ديخوا په حرکت کې وي. داچې ډېر سعوديان په کنړ کې دي دابنېي چې په قوي احتمال. سره به اسامه هم په همدغو سيمو کې وي. خو په ډاډ سره نشم ويلای. ما تل په ټوکې سره وېلي هېله منديم چې اسامه د پاکستان په خاوره کې د پاکستاني ځواکونو په مټ ونيول شي .

## ۲۲ څپرکی

جګړه پاکستان ته راوغزیده:

د امریکا متحده ایالات یوازې د سپتمبر د۱۱ قربانیان نه وو. دغو بریدونو پاکستان ته هم هغومره وحشت او زیان ورساو. خو په بل ډول پاکستان پدغه ورځ له څو خواو له تهدید او ګواښ سره مخامخ شو .هیڅ بل هیواد به له دومره تهدید سره مخامخ شوی نه وي، خو سره له هغه مونږ د امریکا په خوا کې ودریدو او د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې به د ټولې نړۍ په خوا کې ودریږو .خو پدی وخت کې د هیواد له بهر او دننه څخه له ګواښونو سره مخامخ وو. افغانستان زمونږ ګاونډی دی. موږ له افغانستان سره اوږده ګډه پوله لرو. همدارنګه مذهبي، نژادي، قومي او کورنۍ اړیکې هم لرو..

زمونږ ډیر قومونه اصلا له افغانستان نه راغلي او د پولې په دواړو غاړو کې دخلکو ترمنځ ګڼ ودونه شویدي.

زیات افغان کډوال دي چې په ۱۹۷۹ کې د شوروي تر یرغل وروسته پاکستان ته راغلل او دغه هیواد ته دخپل کور په توګه فکر کوي. د۲۵ کلونو په تیریدو سره لا هم څلور ملیونه افغان کډوال په پاکستان کې دي، چې د نړۍ د کډوالو غټه برخه ده.

پاکستان باید د شوروي تر وتلو او د امریکا لخوا دهیرولو ، اقتصادي او اجتماعي قیمت په غاړه اخیستی وړ..

په همدې حال کې زمونږ په هیواد کې دفکرونو یوه بله جبهه وه. پداسې حال کې چې د ډیرو پاکستانیانو سره د سپتمبر د۱۱ د امریکا دغبرګون په وړاندې قوي احساسات هم زیات شوي وو. دغه احساسات د مذهبي ډلو لخوا هڅول شوی وو.

او له افغانستان څخه د شوروي اتحاد تر وتلو وروسته چې کله امریکا پاکستان یوازې پریښود له هغه مهاله یو څه امریکا ضد احساسات وو.

۲۱ کاله وړاندې زمونږ لپاره عادي وه چې د شوروي په وړاندې د افغانستان له جهاد سره یوځای شو ځکه مو غوښتل شوروي اتحاد خپل موقعیت ټینګ کړی چې زموږ د ګرمو اوبو په فکر کې دي او په ۲۰۰۱ کال کې همدارنګه زموږ لپاره طبیعي وه چې د ترهګرۍ په وړاندې جنګ کې به له نړیوالو سره شو. ځکه چې پاکستان له کلونو راهیسې دبهرنۍ ترهګرۍ او فرقه یې اخ ډب قرباني شوی وه. په دواړو وختونو کې مو چې څه ترسره کړ د ملي ګټو له مخې وو.

لکه څرنګه مو چې د شوروي اتحاد اصطلاح ونه منله، د افراطیانو د هیڅ ډول شرایطو تحمل مو نه درلود چې غوښتل یې زموږ ټولنه د اسلام څخه د ناوړه تعبیر په مټ ګمراه کړي او کورنۍ ترهګرۍ خپره کړي.

د ټولې نړۍ ترهګرو زما په سر قیمت وټاکه او بهرنی ترور یې زموږ په هیواد کې خپور کړ. په ۲۰۰۲ کال کې ترهګرو په اسلام اباد کې د کلیسا په کارکونکو ،په موري کې د مسیحیانو ترسرپرستۍ لاندې دیوه ښوونځي پرزده کونکو او په ټیکسلا کې د مسیحیاتو دروغتون په ناروغانو باندې برید وکړ. د فرانسې سمندري انجنیران او په کراچۍ کې د امریکا په قونسلګرۍ باندې هم بمي بریدونه وشول او امریکایي خبریال ډانیل بیرر لومړی وتښتول شو او بیا ووژل شو .

د کتاب پدغه او راتلونکو فصلونو کې به د ترهګرۍ په وړاندې خپلې یو شمیر مهمې بریاوې تعریف کړم. حقیقت دادې چې د بل هر هیواد په پرتله دالقاعدی دغړو په نیولو او د دغې شبکې د بنسټونو په ورانولو کې ډیر فعال وو. ډیرې دغه کیسې په تیر وخت کې ندي بیان شوي.

د۲۰۰۲ کال د جنورۍ په ۲۳ او ۲۴ نیټه خبري رسنیو د امریکایي خبریال ډانیل د تښتول کیدو په اړه بریښنالیکونه ترلاسه کړل. پیرر چې د امریکا او اسرائیلو تابعیت یې درلود(د وال سټریټ ژورنال (د جنوبي اسیا د برخې مشروو.

تښتونکو د هغه د خوشې کولو په وړاندې له ګوانتنامو نه د پاکستاني بندیانو راخوشې کول، له پاکستان ژر د امریکایانو وتل، د ایف ۱۶ الوتکو ورکول، چې پیسې یې وړاندې پاکستان ورکړې وې او الوتکې هیڅکله ورنکړل شوې او په پاکستان کې د طالبانو د سفیر ملا عبدالسلام ضعیف خوشې کول غوښتل.

پدغه بریښنالیک کې همدارنګه یاده شوې وه موږ امریکایانو ته دا ډاډ ورکوو چې هیڅکله به د پاکستان په اسلامي خاوره کې په امن کې نه وي، او که زمونږ غوښتنې ونه منل شي دا پیښې به په وار وار تکرار شي.

هغه څه مې چې پدغه پیغام کې ولیدل قهر یې راوپاراوو او دا چې جنایتکارانو د اسلام له مقدس دین نه دخپلو جرایمو دپټولو دلفافې په توګه ګټه اخیستله، بد مې ترینه راغلل. اسلام د انسان دعقیدې نه پرته دبشر په حقونو ډیر تاکید کړی.

وژنه او ځان وژنه یې ستره ګناه او هغه یې محکومه کړې .سمدلاسه مې ټولو اژانسونو ته امر وکړ چې د پیرر تښتونکي پیدا کړي او دژغورنې عملیات دې پیل کړي .دایمیل داستولو ریښه فهد نسیم ، سلیمان ثاقب او محمد عادل ته ورسیدی، پوه شو چې دغه بریښنالیک نه یوازې خبري رسنیو ته بلکې د پاکستان او امریکا ولسونو ته هم لیږل شوی وو .همدارنګه دغه ایمیلیونه دیوه بل کس چې عمر سعید شیخ نومیده نورو کسانو ته هم لیږل شوی و..

وال سټریټ ژورنال موږ ته خبر راکړ چې پیرر د۲۰۰۱ کال د ډسمبر په ۲۹ نیټه دخپلې میرمنې ماریان سره پاکستان ته راغلل ،چې د پیر مبارک علیشاه جیلاني سره د هغه رپورټ په اړه مرکه وکړي چې د بریتانوي ریچارد ډ ایډ بم چونکي په اړه وپوښتي .سره له دی چې دژورنال خپرونه نه پوهیده چې پیرر د تښتولو پرورځ څه کوي او یا یې له چا سره مرکې کړی وي. داسې ښکاري چې پیرر هغه رپورټ تعقیباوو چې په ترڅ کې یې دخبریالانو په وینا دخبریالۍ اساسي

اصل چې امنيت دی تر پښو لاندې کړي وو او د رپورټ د برابرولو لپاره يې هيڅا ته نه وو ويلي چې چيرته ځي..
د پاکستان پوليسو جيلاني ونيو او پلټنې يې ترې پيل کړې چې ويې ويل عمر شيخ له دغه امريکايي خبريال سره دليدلو ډېر ليواله وو. دعمر شيخ د نوم په يادولو ډيره روښانه شوه چې هغه پدغه تښتونه کې لاس لري.
موږ دا ايميليونو له ترلاسه کولو سره سم دعمر شيخ دنيولو په لټه کې وو. لومړی دهغه درک نه و خو پوليسو دهغه يو شمير ملګري او خپلوان پيدا او ونيول.
هغه مهال دعمر شيخ د تيليفون شميره پيدا شوه چې دعديل شيخ په نوم يو کس ونيول شو .عديل ومنله چې د پيرل په تښتولو کې يې لاس درلود او فراري عمر شيخ هم پکې شريک دی.
رسنيو ته دنورو ملګرو لخوا دا ايميليونو دليږلو په تعقيبولو پوليس وتوانيدل چې دهغه مهم شريکان، دوستان او دکورنۍ غړي له هغې ډلې نه دهغه ۱۸ مياشتنی ځوی هم ونيول شو.
په پايله کې د۲۰۰۲ دفبرورۍ په ۵ نيټه عمر شيخ د پنجاب دکورنيو چارو دوزارت مخې ته راغی او ځان يې تسليم کړ.
د پلټنو په مهال يې په ډاګه کړه چې کله يې دکورنۍ غړي ونيول شول نو دی ناهيلی شو. شيخ خپل يوه ملګري ته په کراچۍ کې زنګ وواهه او ورته يې وويل چې پيرل خوشې کړي.وروسته هغه ته وويل شو چې ډانيل پيرل وژل شوی دی. عمر شيخ دالقاعدې يو مهم غړي امجد فاروقي ته زنګ وواهه چې معلومه کړي ايا ريښتيا پيرل وژل شوی او که نه؟
فاروقي تاييد کړه چې هو پيرل وژل شوی او هغه هم ديو عرب په لاس. او ځل وو چې دا مجد فاروقي نوم مې واوريد. بيا په دغه ډول وحشتناکو حالاتو کې مې ځوځلې دهغه نوم واوريد. هغه زما دوژلو د توطيې طراح هم و.
د۲۰۰۲ کال دفبرورۍ په ۱۲ دا احمد عمر شيخ تسليمي رسما اعلام شوه .دهغه له نيول کيدو وروسته معلومه شوه چې پيرل وژل شوی. د پيرل د سر پرې کولو ويرونکی فيلم په پټ ډول دانټرنيټ دشبکې پرمخ راغي. سره لدی چې شيخ په جزياتو سره ومنله چې د پيرل دتښتولو طراح او ترسره کونکی دی خو په يوه خوله يې ټينګار کاوه چې دهغه وژل دده له امر خلاف ترسره شوی. دده اعترافات ډېر شيطاني او ناهيلي کونکی وو.
عمر شيخ له پاکستاني موره او پلاره په ۱۹۷۳ کال دد سمبر په ۲۳ نيټه په لندن کې زيږيدلی وو لومړنۍ زده کړه يې په بريتانيې کې کړې وې خو څلور کاله تحصيل يې دلاهور دايتچسن په معتبر کالج ته ولاړ دلندن داقتصادله پوهنځي LSE کالج کې وکړې.هغه وروسته دلندن داقتصاد پوهنځي ته تر فراغت وړاندې محروم شو. ويل کيږي کله چې عمر دلندن داقتصاد په پوهنځی کې تحصيل کاوه دبريتانيې په استخباراتي اداري ورته MI_6 کې مامور شو ويل کيږي چې MI_6 د برتانيي په ورته دنده سپارلې وه چې په بوسنيا کې دسربيانو په وړاندې په لاريونونو کې فعاله ونډه واخلي او حتی هغه يې کوسوو ته وليږه چې جهاد وکړي. يو وخت احتمالا شيخ عمر دوه طرفه جاسوس شوی وو له بوسنيا څخه وروسته پاکستان ته راغی او له مولانا عبدالجبار سره يې وليدل چې هغه يې دافغانستان خوست ته وليږه چې ددينې زده کړو ترڅنګ چريکي جګړه هم زده کړي..
له يوه کال روزنې وروسته په ۱۹۹۲ کال کې په برتانوي پاسپورت عمر شيخ هند ته ولاړ چې دمولانا مسعود اظهر دخوشې کيدو لپاره هڅې وکړي. چې دمولانا عبدالجبار مرستيال وو. اظهر دهند په کشمير کې دجګړې دتحريکولو په تور د ۱۹۹۲ په فبروري کې ونيول شو او د۷ کلونو لپاره زندان ته وليږل شو. هغه لاره چې عمر شيخ او ملګرو يې دمسعود اظهر دخوشې کولو او دهند پر حکومت دفشار دراوړلو لپاره غوره کړې وه داوه چې هغوی دبريتانويانو ايز پارتريچ، پاول بينجامين، ريډاوټ، کرستوفر مايلز کروستين او يو امريکايي بيدا جوزف ناس د ۱۹۹۲ دسپتمبر په ۲۹ په نوي ډهلي کې وتښتول .وروسته هغوی خوشی شول او په همدې کال کې عمر شيخ دهند امنيتي ځواکونو داوتراپرديش په ايالت کې ونيو، خو په ۱۹۹۹ کال کې دهغې الوتکې دتبادلې په ترڅ کې چې له هنده قندهار ته وتښتول شوه، عمر او اظهر دواړه پرې را خوشې شول.
له خوشې کيدو وروسته عمر شيخ په لاهور کې پاتې شو .خو ۴ ځله افغانستان ته ولاړ چې دحرکت جهادي اسلامي په نوم ديوه وړوکې ډلې جنګياليو ته په افغانستان کې روزنه ورکړې.عمر شيخ ادعا کوي چې ددغو ليدنو په ترڅ کې توانيدلی چې له اسامه او ملا عمر سره وګوري. سره له دی چې هغه دالقاعدې دايمي غړی نه وو خو دپيسو دراټولولو او سړي تښتولو له لارې يې له دغې شبکې سره مرسته کړې ده..
د۲۰۰۲ کال په جنورۍ کې دافغانستان حرکت جهادي اسلامي دډلې يو غړي محمد هاشم چې دعمر شيخ ملګری وو خبر ورکړ چې د ډانيل پيرل په نوم يو امريکايي خبريال په اسلام اباد او راولپنډۍ کې دافراطيانو دفتر ته ورغلی او د پير مبارک عليشاه جيلاني سره دمرکې قصد لري. په پيل کې عمر شيخ شک وکړ چې کيدای شي پيرل دغرب داستخباراتو غړی وي چې دافراطيانو په وړاندې به دنده ورسپارل شوي وي.سره له هغې يې هم له هاشم نه وغوښتل چې دده او پيرل ترمنځ غونډه برابره کړي.
دجنورۍ په ۱۰ او ۱۱ هاشم دا ناسته برابره کړه .عمر شيخ پرځان مستعار نوم کيښود او ځان يې د پير مبارک شاه له پلويانو څخه معرفي کړ. پيرل له جيلاني سره په کتلو ټينګار درلود او عمر شيخ ژمنه وکړه چې داليدنه برابروي.دواړو دخپلو ټيليفون شميرې او ايميل ادرسونه يوه او بل ته ورکړل.
ددغې ناستې پر مهال د شيخ په مغزو کې يوې لارې کړس ويل. شيخ تصميم ونيو چې ددغه په تښتولو سره دامريکا دولت تر فشار لاندې راولي چې دګوانتنامو دزندانيانو په اړه خپل سياستونه بدل کړي او همدا رنګه يو شمير بنديان خوشې کړي . لومړی يې فکر وکړ دغه تښتونه په پينډۍ کې وکړي خو دپټيې ځای يې ونه موند . بيا يې خپل پخواني ملګري امجد فاروقي ته زنګ وواهه. فاروقي پدې برخه کې له مرستو کولو خوشحاله شو. خو ټينګار يې وکړ

چې کراچۍ دی کار ته مناسب ځای دی. عمر شیخ پیرل پدې بهانه چې جیلاني په کراچۍ کې دی او غواړي د۲۰۰۲ دجنورۍ په ۲۳ ورسره وګوري فریب ورکړ او دام یې ورته وغوړاوه.

لږوروسته عمر شیخ کراچۍ ته الوتنه وکړه. کراچۍ ته په رسیدو دامجد فاروقي په لارښوونه دزده کونکو دمرغ بریاني رستورانټ ته ولاړل هلته دحسین نومي کس سره اشنا شول. عمر شیخ له۲ همکارانو سره شریک و. عاصم ،غفور او سلیمان ثاقب دغو دریو کسانو له حسین سره وکتل. هغوی یې داغا خان روغتون ته بوتلل او هلته یې بل کس ولید چې احمد بای معرفي شوی و. احمد بای هغه څوک و چې امجد فاروقي ددغه اختطاف دترسره کولو لپاره ټاکلی و..

ددغې لیدنې پرمهال عمر شیخ پوه شو چې احمد بای ددغه کار لپاره کافي تجربه لري. هغه همدارنګه وغوښتل چې دډانیل دساتلو ځای وروښیي. احمد بای یې ازمایي ،خو احمد بای دا غوښتنه رد کړه او ویې ویل دا ځای نه شي ښوولای. ځکه چې ټول عملیات لدغه ځایه کیږي. خو احمد بای دعمر شیخ دغوښتنې په ځواب کې موافقه وکړه چې یو دانګلیسي ژبې ژباړونکې دی پیدا کړي چې دډانیل سره ملګری شي.

په همغه مازدیګر له خپل ملګري عدیل شیخ سره دمک ډونالډ سیمې ته ولاړ. عدیل شیخ هغه څوک وو چې وروسته یې دعمر شیخ دټیلیفون شمیره مونږ ته .راکړه. دسږي تښتونې ددغې پیښې په اړه عمر ،عدیل ته معلومات ورکړل، عدیل هم په افغانستان کې روزنه ترلاسه کړې وه. حیران شو او پدغه توطیه کې دورګډیدو تیاری یې وښود.

داحمد بای سره دعمر شیخ وروستۍ لیدنه د۲۰۰۲ کال دجنورۍ په ۲۲ نیټه وشوه. عدیل هم پدغه لیدنه کې حاضر وو. دامتیاز په نوم داحمد بای یو ملګری هم حاضر و. موافقه وشوه چې احمد بای دپیرل دنیونې پروخت دهغه عکسونه په یوه معین جومات کې عمر شیخ ته وسپاري ،چې دا اختطاف دغه چاره تایید شي. عمر شیخ یو پولاروریډ کمره واخیسته اودګټې اخیستو ډول یې احمد او حسین ته وښود. وروسته عمر شیخ ۱۷ زره کلداري احمد بای ته ورکړې. هغه او حسین ته یې دوه پیغامونه ورکړل. یو په انګلیسي او بل په اردو ژبو ټایپ شوی وو اوهغوی ته یې لارښونه وکړه چې دغه عکسونه او پیغامونه دپیرل تر نیولو وروسته خبري رسنیو ته ایمیل کړي..

اوس یوازې پاتې کار کراچۍ ته دپیرل سالمه رارسونه وه. عمر شیخ ډانیل ته ایمیل وکړ او ورته ویې ویل چې دافتخار په نوم یو کس به یې پذیرایي ته په هوای ډګر کې ولاړ وي ،چې هغه پیر مبارک شاه جیلاني ته وروليي. دغه کس دافتخار په نوم هوای ډګر ته ورغی. دا کس داحمد بای ملګری و. د۲۰۰۲ دجنورۍ په ۲۳ ډانیل کراچۍ ته راغی او په همغه ورځ دمیتروپول هوټل ته نیژدې دامتیاز ، حسین، عدیل او احمد بای په مټ وتښتول شو..

په همدی ورځ عمر شیخ لاهور ته ولاړ. مازدیګر حسین له عمر شیخ سره اړیکه ونیوله او ورته یې وویل چې ماموریت مو ترسره کړ ؟له هغه وروسته عمر شیخ تل دسلیمان ثاقب، عدیل، حسین او احمد بای سره تیلفیوني اړیکې درلودی. چې دغه پروګرام وڅاري او هغوی ته لارښونه وکړي.

زه په پیل کې نه پوهیدم چې ولې عمرشیخ ځان تسلیم کړ او ولې ونه تښتیده. خو دټولو جزییاتو له راوړلو وروسته پوه شوم چې عمر شیخ ویریدلی وو او اوضاع یې له کنټروله وتلې وه اوهیله یې نه وه چې رسنۍ به داسې سخت غبرګون وښیي. هیله یې نه درلوده چې پولیس به په دومره اغیزمنتوب سره دهغه ددوستانو ، دکورنۍ دغړو اوشریکانو درک ولګوي..

نه پوهیده چې تښتونکي ډیر ماهره ندي. فکر یې وکړ چې په تسلیمیدو به ورسره رحیم چلند وشي د۲۰۰۲ کال دفبرورۍ په ۲۱ دډانیل دوژنې ویرونکی فیلم خپور شو. دوژونکو ځانونه نه ښودل کیدل دیوه وخت لپاره مو دډانیل جسد پیدا نه شو کړای. وروسته د۲۰۰۲ په می کې مو دفضل کریم په نوم یو کس چې دلشکر جنګوی یا سیاه صحابه دجنګي ډلې یو غړی و ونیو. هغه مو دبل څه لپاره نیولی وو خو دپلټنو پروخت مو پیدا کړه چې هغه هم دپیرل دسر پریکولو په کار کې لاس درلود. فضل کریم وویل دپیرل دخښولو ځای هم ورته معلوم دی. وپوښتل شو چې څرنګه پوهیږي؟ کریم بې له پیښمانۍ وویل چې هغه هم دپیرل دسرپریکولو پروخت دهغه یعنی ډانیل یوه پښه نیولې وه. خو دسرپریکونکي نوم یې ونه وایه یوازې دومره یې وویل چې شکل یې عربي ډول وه..

فضل کریم دکراچۍ په یوه څنډه کې یوه کورته موږ بوتلو. هغلته چې پیرل یې پکې ساتلی وو .وروسته یې دډانیل دخښیدنې سیمې ته وبوتلو. جسد مو له خاورو راوویست او مولیدل چې ډانیل یې لس ټوټې کړی و. ډاکټرانو دتوان تر کچې دهغه غړي سره وګنډل مایې عکسونه ولیدل. ویلو ته اړتیا نلري چې عکسونه څومره ځورونکي دي. په پای کې هغه کس ونیول شو چې احتمالا دډانیل په وژلو او قصابۍ کې اصلي غړی و. هغه بل څوک نه، بلکې خالد شیخ محمد دالقاعدې دریم نمبر غړی وروسته چې کله خالد موږ ونیو هغه پدغه وژنه اعتراف وکړ..

د۲۰۰۲ کال په جولای کې دترهګرۍ ضد یوې محکمې عمر سعید شیخ په مرګ محکوم کړ. دغې دوسیې اوس دا ستیناف غوښتنه کړې. دډانیل مرګ دسپټمبر د۱۱ له پیښې وروسته په پاکستان کې دګڼو ترهګرو پیښو نه یوه ده. خو وحشتناکه پیښه وه. جنګي خبریالان دپوځ دسرتیرو سره یو ګډ شی لري کله چې دغه دنده قبلوي دټولو خطرونو سره یې مني.

په خواشنۍ سره چې دا یوازې پیرل نه وو چې په ۲۰۰۲ کال کې دپاکستان په خاوره کې ووژل شو بلکې ډیری پیښې وشوې. پداسې حال کې چې موږ ددغو نارامیو ټولې اړوندې خواوې ماتې کړې..

د۲۰۰۲ کال دمارچ په ۱۷ دشپې یوه بجه چې هوا هم ډیره ګرمه وه داسلام اباد په ډیپلوماتیکه سیمه کې دپروټسټانو پریوه نړیوالې کلیسا برید وشو. پدغه کلیسا کې دعبادت مراسم ترسره کیدل. ۷که ۸ لاسي بمونه ورګوزار شو ، چې درې یې وچاودیدل چې نه۹ تنه پکې ووژل شو او ۴۲ نور ټپیان شول. چې

د سریلانکا سفیر هم پکې وو. ترټولو غمجنه پیښه د اسلام اباد په نړیوال ښوونځي کې د زده کوونکې امریکایي ۱۸ کلنه انجلۍ )کریشتن ورمسلي) وژل وو .سره لدې چې موږ د شکمنو یو ستره ډله ونیوله ،خو هیڅ پایله لاس ته رانغله. ځکه ترهګر پخپله هم ځان الوځولی وو، او هیڅ درک معلوم نه شو.**۵** میاشتې وروسته د مري د ښار په یوه ښکلي کلي کې چې د سیند له سطحې ۲۰۰۰ متره لوړ دی او د اوړي د رخصتیو لپاره ډېر مشهور ځای دی بیا یې یو مسیحي ښوونځی د ترهګر برید لاندې ونیوو. په مري کې ډېر ښه ښوونځی فعال دي چې یو شمیر یې د مسیحي مبلغانو د یوه پلاوي لخوا اداره کیږي او ډېر پاکستانیان هلته خپل ماشومان ورلیږي. د۲۰۰۲ کال د اګست په **۵** نیټه درې نقاب پوشه کسان د ښوونځي حویلۍ ته ورننوتل د ښوونځي ساتونکی وواژه .. دډزو غږ د ښوونځي کارکونکي وارخطا کړل او د نژدې خطر خبر یې ورکړ. ژر یې ټولې دروازې قلفې کړې. د ساتونکو دوژلو او له لنډ جنجال او غالمغال وروسته ترهګر و ویریدل او ځنګلونو ته وتښتیدل .دغه ښوونځي ته د پولیسو د تالاشۍ یوه پوسته او د پوځ یوه قطعه هم پرته وه. د پوځ د سپیو د تغذیې مرکز هم دلته نژدې وو..

د پاکستان د پوځ سرتیرو د ساتونکي جسد پیدا کړ او ویې لیدل چې برید کونکي تښتیدلي. پلټونکو سپې له ځان سره کړل او په ترهګرو پسې ځنګله ته ولاړل. کلیوال هم د ترهګرو د پیدا کولو په برخه کې له پولیسو سره یوځای شول .یو کلیوال د پوځ یو متقاعد خورد ظابط وو .هغه درې تښتیدلي کسان لیدلي وو او دی ورپسې ورغلی وو .هغوی یې د جهلیم درود په سر دیوې ډبرې پرسر درولي وو او ګواښ یې کړی وو که تسلیم نشي هغوی به ووژني .بده شیبه وه. ناڅاپه دریواړو سیند ته ځانونه واچول. سیند ډېر خپ خپاند وو. یو جسد مونږ ته لاس ته راغی. خو نور ګټور معلومات پیدا نشول.

پر ښوونځي له برید څلور ورځې وروسته ترهګرو بیا یرغل وکړ. دا ځل موخه په ټیکسلا کې د عیسویانو یو روغتون وو چې د بشري مرستو له کبله ډېر مشهور وو .دغه روغتون یوه کلیسا هم لري. د۲۰۰۲ کال د اګست په **۹** نیټه چې کله خلک له کلیسا راوتل **۳** تنه په زور کلیسا ته ورد ننه شول. او دوه لاسي بمونه یې د عبادت کونکو په لور وغورځول. یو نارینه او **۴** ښځې ووژل شوې او **۲۰** تنه نور ټپیان شول یرغل کونکي وتښتیدل .پولیس سیمې ته ورسیدل. یوه ترهګر چې ځان یې په لاسي بم وژلی وو د دروازې په خوا کې وموندل شو. خو هیچا ونه لیدل چې دغه کس څه ډول ووژل شو. یوه کس دا سې ویل چې دغه کس ډېر وخت لاسي بم په لاس کې نیولی وو..

خو د تیرو دوو نورو بریدونو په خلاف موږ د دغه برید په اړه معلومات ترلاسه کړل. د مړي همدارنګه د پیژندنې د کارت فوټوکاپي هم په جیب کې وو .کله چې پلټنې وشوې د دغه بم چونکي نوم کامران میر وو..

د پولیسو او د پوځ یوه ډله د غو پلټنو ته وګمارل شول .هغوی د کامران میر مور ته ورغلل او ښه معلومات لکه د ده د شریکو ملګرو او ترهګرې ډلې چې کامران ورپوری تړلی وو ترلاسه کړل. همدارنګه یې څو نسخې او د ټیلیفون شمیریې هم پیدا کړې. دا هم معلومه شوه چې کامران میر، د علي مستعار نوم کاراوه .یو ملګری یې محمد ایاز نومیده .چې د وقار په نوم یې فعالیت کاوه .هغوی د مبایل ټیلیفون له لارې وقار پیدا او ګیر یې کړو. داد بم ایښودونکو د مسالې په برخه کې لومړی مهمه نیونه وه.وقار ترهګرو ته د لاسي بمونو ،د چاودېدونکو توکو او تفانګچو په وېشلو اعتراف وکړ. هغه همدارنګه د خپلې ډلې د۲۰ ملګرو او د پټې ځایونه یې په ډاګه کړل.

ترټولو مهمه هغه د صیف الرحمن صیفي د نوم د ښولو وو. چې د دریواړو بریدونو مبتکر وو صیفي هغه څوک وو چې وقار ته به یې لاسي بمونه چاودیدونکي توکي او تفنګچې برابرولې.

د۲۰۰۲ کال د اګست په ۱۴ صیفي ونیول شو. هغه د پلټنو پروخت ادعا وکړه چې د دغو بریدونو موخه یې د امریکا لخوا پر افغانستان د برید غچ اخیستل وو. او په افغانستان ،کشمیر او فلسطین کې د مسلمانانو سره د کړو وړو غچ دی .خو په هغه څه چې احتمالا صیفي نه پری پوهیده داوو، چې دغه بریدونه وړاندې د بلې موخې لپاره د بل چا لخوا برابر شوي و. صیفي ترهګری د مولانا مسعود اظهر په روزنیز مرکز کې زده کړې وه .چې په افغانستان کې وو. د۲۰۰۲ کال په جنوري کې چې کله اظهر د یوې تښتول شوې الوتکې پر وړاندې هند خوشې کړ. موږ دغه دروا غجن مولانا ونیو. اوس هغه ویریده چې بیرته یې موږ هند ته ونه سپاره. د دغې مسلې د خنثې کولو لپاره هغه دوو نورو مولاویانو د هغې ډلې نه عبدالجبار ته امر وکړ ،چې د قدرت د ښولو په توګه دی په هیواد کې ترهګر بریدونه وکړي او خپل غضب دی هند ته د مولانا د احتمالی سپارنې په وړاندې وښیي.

عبدالجبار له اسامه نظیر سره اړیکې ونیوې .چې له صیفي سره یې یوځای په افغانستان کې د اظهر په روزنیز مرکز کې زده کړه کړی وه. هغه نظیر ته وویل چې بهرنیان او عیسویان پدغه هیواد کې تر بریدونو لاندې راولي. خو ناڅاپه د دغې پېښې نه یوازې څو ورځو مخکې اظهر جبار ته امر وکړ چې بریدونه ونکړي .هغه ادعا کوي کله چې ډاډه شو پاکستان بې هند ته نه سپاري جبار ته یې امر وکړ چې د بریدونو مخه ونیسي. چې جبار له نظیر وغوښتل بریدونه لغوه کړي .خو نظیر دا ونه منله او په بې پروایي سره یې د جیش محمد له ډلې واټن ونیو . پنځلس همفکره ملګري یې سره را غونډ او په دوو ډلو یې وویشل. لومړۍ ډله یې په خپله رهبری کوله او د بلې مشري یې صیفي ته ورکړه .چې په ډېر دقت سره یې درې بریدونه پلان کړي وو. هغه ډله چې صیفي یې مشر وو، د فدایانو په نوم وه او د دغو حملو ترسره کونکي همدا فدایان و.

صیفي ډېر مبتکر سړی و. هغه کله چې د۲۰۰۲ کال د اګست په **۱۵** په ملتان کې ونیول شو اعتراف وکړ چې د لشکری جنګوي یا سپاه صحابه او القاعدې. سره یې اړیکې درلودې. له همدې کبله د سیمه ییزو تندلارو مذهبي ډلو او القاعدې به پیسې، وسلې او تجهیزات برابرول .او سیمه ایزو ډلو به بشري ځواک او د عملیاتو دا جرا انګیزه برابروله. د پلټنو دوام وښودله چې یوسف اظهر د مسعود اظهر او ښی او فضل کریم چې په کراچۍ کې یې موږ ته د ډانیل پیرل قبر

رابنودلي وو ددغو بريدو پيسې برابرې کړې وې. اسامه نظير دچاوديدونکو موادو متخصص وو. د۲۰۰۴ کال دروژې دا ختر په ورځ په فيصل اباد کې ونيول شو. په۲۰۰۲ کال کې يوې بلې ډار اچونکې حملې زمونږ په ښارونو کې ويره خپره کړه. بيا مو دبريد عاميلين وپيژندل او محکمې ته مو کش کړل.
د۲۰۰۲ کال دمی په اتمه په اوو بجو کله چې د سمندري ځواکونو يو بس دکراچۍ دشيراتون له هوټله راووت.يوه ځان وژونکي خپل موټر ورسره وجنګاوه، درنې چاودنې بس، هوټل او نژدې ودانۍ ولړزولې. پدغه بس کې فرانسوي انجنيران او فني کارکونکي سپاره و ، چې د سيند لاندې په يوې پروژې باندې يې کار کاوه. يولس فرانسويان او پاکستانيان په بريد کې ووژل شول او ۲۴ نور ټپيان شول. شاوخوا ډير موټر خراب شول.دنوي زيلانډ دفوټبال لوبډله هم په همدې هوټل کې وه ،چې ديوې لوبې لپاره نيژدې راوتي وه .له نيکه مرغه دغو لوبغاړو ته زيان ونه رسيد. خو سخت روحي زيان ور ته واوښت چې دلوبو له بل پړاو څخه تير شول او لوبه يې په نيمايي کې پريښوده او کورونو ته روان شول.
دفرانسويانو او پاکستانيانو ګډې پلټنې پيل شوې.دځان وژونکي دموټر څخه لاس ته راغلي اسنادو په کراچۍ کې موږ دموټرو يوه پلورنځي ته ورسولو . پدغه پلورنځي کې خرڅونکي وويل چې دغه موټر يې په دريو نفرو پلورلی چې له موږ سره يې مرسته وکړه هغوی پيدا کړو. خو لا هم اصلي کس ته لاره پاتې وه. نور پرمختګ د سپټمبر په مياشت کې وشو. کله چې پخواني نيول شوی کس پلټونکي ته وويل يو ځوان پيژني چې شريف نوميږي.هغه پر فرانسوي انجنيرانو دبريد قصد درلود. د۲۰۰۲ کال د سپټمبر په ۱۸ شريف ونيول شو. په بريد کې يې له لاس لرلو انکار وکړ. خو ويې ويل دبريد مسول پيژني.دوو کسانو داصف ظهير او سهيل اختر چې دحرکت المجاهدين العالمي ډلې دي دغه بريدونه پلان کړي وو..
لس ورځې وروسته مو اصف ظهير ونيو. هغه سمدلاسه په بريد کې پهلاس لرلو اعتراف وکړ او دځان وژونکي هويت يې په ډاګه کړ. اصف ادعا وکړه چې لومړۍ هغه ددغه بريد لپاره غوره شوی و. خو ځان يې شاته کړ او له ځانه يې بل قوي کس درشيد په نوم وړاندې کړ چې د۲۰۰۴ کال دمارچ تر ۱۷ نيټې پورې ونه توانيدو چې دده بل ملګرې سهيل اختر ونيسو..
درې ترهګر په مرګ محکوم شول او ملکيتونه يې دکراچۍ دترهګرۍ ضد محکمې لخوا ونيول شو. دغې وحشي حملې زه ډير په قهر کړم.ددې لپاره په قهر وم چې دغو کسانو ځانو ته مسلمانان ويل او دعيسويانو او بهرنيانو په وړاندې بريدونه کوي. چې له امله يې زموږ دين ته زيان رسيږي.هغه دين چې وايي عيسويان اهل کتاب دي او دغه دين موږ ته وايي چې له هغو کسانو سره مه جنګيږئ. چې تاسو ته زيان نه رسوي. هغه دين چې ځان وژنه او قتل ستره ګناه ګڼي.فکر مې کاوه چې په هيواد کې به دسترو بريدونو سره مخامخ شو .خو نه پوهيدم چې زه ،دماليې وزير شوکت عزيزاو دکراچۍ دقول اردو مشر ډګر جنرال سليم حيات به هم ددغه بريدونو موخه وو. سره لدې چې لړ له موضوع ليرې ولاړم خو دوه وروستي بريدونه په تعريف ارزي. د۲۰۰۴ کال دجون په ۱۵ سهار وختي خبر شو چې دکراچۍ دقول اردو په قوماندان جنرال سليم حيات چې اوس دپوځ دارکان مرستيال دی سخت ځانمرګی بريد شوی. ډيره سخته خبره وه. پدې باور وم چې که په ما بريد شوی وايي نو څرګنده ده چې ولسمشر يم نظر دی ته چې دپوځ واک په لاس کې لرم. دا په پوځ کې ديوه افسر په وړاندې لومړۍ وژونکې حمله وه. اوس دترهګرۍ پر وړاندې جګړه له يوې بلې پولې هم تيره شوه..
سمدلاسه مې احسان ته زنګ وواهه. سره لدې چې ۷ تنه ساتونکي او ډريوران يې وژل شوي وو داحسان وضعه ښه وه او ټوله کيسه يې را ته وکړه..
احسان سليم حيات کورته روان و .کله چې يې موټر هغه پله ته ورسيد چې دکليفټون بډايه سيمه عرب سمندرګي ته نژدې دکراچۍ سره وصلوي دډزو لاندې راغی. دپوځي پوليسو جيپ چې دسليم دموټر په مخکې روان و او دبريد تر فشار لاندې راغی.خو بيا هم روان و .خو په خواشيني سره په وروستي جيپ کې ټول ۷ تنه ووژل شول.دوه بې ګناه لارويان هم مړه شول.دقول اردو دقوماندان موټروان هم په سرپه مرمۍ ولګيد او سخت ټپي شو .د موټروان مرستيال هم ولګيد او په همغه لحظه کې مړ شو. خو سره لدې بخت ياري وکړه .موټر چلونکی له خپل ټپ سره سره خپله پښه په اکسليټر ټينګه کړه او موټر يې ونه دراوو.. که موټر دريدلای وای نو سليم حيات هم وژل کيده. دترافيکو يوه افسر چې بريد يې ليدلی وه له ويريې تښتيدلی و نور هيڅوک نه وو چې موټر ودروي .موټر له عادي حالته ووت. وروسته داحسان ځانګړی ياور دموټروان شاته کښيناست او په کرار يې دموټر د اشتيرنګ کنټرول ونيو .دجنرال حيات وژونکي دا بريد په دقت سره برابر کړی و او په ډيرې باريکۍ سره ښپترسره کړ. يوازينی شی چې ددوی بريد ښناکامه کړ دجنرال بخت وو. دقتل طراحانو قوي چاوديدنکي مواد دسړک په خوا کې ځای په ځای کړی وو ،چې دمبايل دټيليفون په واسطه پله ته دموټر درسيدو سره سم وچاوديدل. پلان داو چې موټر ودريږي او هغوی پرې له دواړو خواو ډزې وکړي.خو تقدير خپل پلان درلود په حيرانونکي ډول موټر له چاوديدونکو موادو سره ونه ولګيد. دحيات موټر په خير له پله واوښت. وژونکي ويريدلي او په بې ارادې ډول يې دټوپک په ماشه ګوتې کيښودې.له مخې او له اړخ نه يې پرې ډزې پيل کړې. نا سمو ټيليفوني اړيکو ، په اکسليټر دموټر چلونکي دپښې ټينګيدل او دځانګړي ياور ذهن ددې لامل شو چې موټر وړاندې لاړ شي. دموټر واک واخلي او دبريدکونکو بريد ناکامه شي.
سره لدې هم پلټونکو مبايل ټيليفون پيدا کړ.دچاودنې تر هڅې وړاندې ترهګرو څو اړيکې نيولې وې موږ خپلو پخوانيو تجربو ته په کتو سره ژر وکولای شول درک معلوم کړو او يوه کورته ورسيدو .کله چې زموږ پلټونکي هغه کورته ور دننه شول دا کور دجنرال دقتل داصلي طراح و. په خپله هم هلته وو چې ونيول شو. خو دټيليفون له شواهدو او معلوماتو سره سره په بريد کې يې خپل لاس رد کړ مور يې هم هلته وه دغې ښځې خپل ځوی وا دار کړ له موږ سره مرسته وکړي چې تر دې وروسته هغه په بريد کې ټول ښکيل ترهګر يو يو راوغوښتل او موږ يو يو ونيول. دا ټول ګامونه تر بريد يو شپه وروسته وشول.پدې اساس (دجند الله )سرتيری ډله وځپل شوه. دا ډير ستر پرمختګ وو. ځکه دغې ډلې په يوازې سر پدې ډول ستر ترهګر بريدونه کول، د۲۰۰۴ کال دجولای په

دیرشمه نیټه چې کله شوکت عزیز د اسلام اباد نه اخوا ، نیږدی یو ساعت لیری په یوه ټاکنیزه حوزه کې د خلکو یوې سترې غونډې ته دوینا نه خلاص شو ،په بریالیو سیاسي غونډو کې تل زیات خلک ګډون کوي او دا ځل هم زیات وو .عجیبه ده، یوه ورځ وړاندی ماد شوکت عزیز د امنیت په اړه اندیښنه وښووله او خپل د مرمۍ ضد موټر مې ورته ورکړ چې اشتیرنګ یې چپ لاس ته وو. لکه د امریکا د موټرو په څیر، د شوکت عزیز موټر چلونکی به چپې خوا ته کښیناسته او شوکت به یې شاته، دغونډې په پای کې همدا چې د موټر ټایرونه تاو شول یوه ځان وژونکي د خلکو له ډک مجلس نه راووت.څو سانتي متره د موټر د مخکني چپې دروازې څنګ ته راغی ښي لاس یې پورته کړ او ځان یې والوزاو. ستر ویرونکې چاودنه وه. د تلویزیون یو کمره مین په ځمکه ولګیده. هغه را پورته شو او منډه یې کړه او کمره یې هملته خوشې کړه. پدې وخت کې د کمرې ساتل لومړیتوب نه درلود .خو کامرې تصویر اخیست ښي خوا ته یې ننښه نیولې وه او دلارویانو پرته هر څه یې ثبت کړي وو. ځکه د کمرې سترګه د پلي لاری په لور وه. ومو لیدل چې د ځان وژونکي سر یې له بدن نه پرې شوی .دفوټبال دیوه توپ په څیر په لغته ووهل شو او والوت. کله چې پرځمکه ولګید لکه ناریال غوندې، نور بدن یې ټوټه ټوټه شوی و تیت او پرک پروت وو.
شوکت عزیز ما ته وویل چې د موټر په ښي خوا کې ناست وو چې له هغه کس سره په ارامه خبري وکړای شي چې په وروستي سیټ کې ناست وو. خو بم چوونکی کیڼ لور ته تللی وو. له دی امله هغه ځانمرګی ونه لید او دا چې موټر زری وو ده یوازی د بم غږ اوریدلی وو. پوره هغه څه چې ما په لومړي برید کې لیدلی وو. د شوکت کیڼ اړخ ته ګرمه هوا ورسیدلې وه او دده جامې یې ښورولې وې بم د موټروان خوا سوری کړی وو او له همدی سوري د چاودنې ګرمه هوا موټر ته ننوته. شوکت عزیز ولیدل چې موټر چلونکې یې پر چوکۍ پروت دی. هغه فکر وکړ چې له ویرې بې هوښه شوی، ویې ښوراوه چې هغه په هوښ راشي خو هغه مړ شوی وو. د بم یوه وړوکې ټوټه موټر ته له ښیښې را ننوتې وه او د موټروان ژوند یې پای ته رسولی وو.کله چې شوکت عزیز له موټره روغ را کوز شو د پولیسو یو افسر ورته ویلي وو چې پټ شي. ځکه چې په ټولو ورته پېښو کې بل برید کونکی هم وي چې که څوک د لومړي برید نه بچ شي نو ډزې پرې پیل او پای ته یې رسوي.دا د ترهګرو معمول کار دی د پولیسو افسر رښتیا وویل په رښتیا هم بل ترهګر موجود وو .خو وتښتیده هله پوه شو چې بل ځانمرګی هم وو چې وړاندی له بریده د واړو یو ویدیوي پیغام ثبت کړی وه، چې هم زموږ او هم د نړۍ لپاره مهمه وه. له ویډیو نه د اسې ښکاریده چې ځانمرګی ضعیف شخص وو او تیروتی وو .کیدای شي د مذهبي احساساتو له مخې یې پدغه کار لاس پوری کړی وي له بله پلوه تښتیدلی ترهګر ډیر هوښیار معلومیده. د اسې ښکاریده چې هغه د پیسو لپاره پدغه معامله کې شریک شوی وو او کله یې چې ولیدل ملګری یې ټوټه ټوټه شو له بریده لاس په سر شو. دا کس لا هم ندی پیدا شوی.
ای ایس ای او پولیسو ګډې پلټنې پیل کړی د ځان وژونکي د ځان غوښې له ځمکې سره منښل شوې یوازی سر یې روغ پاتې و. د کالیو په جیب یې د عارف خیاط نوم لیکلی وه. دده جامې عارف ګنډلې وې.چې دا ټک د سیمې و. پولیسو خیاط عارف پیدا کړ او له ملګرو سره یې غبرګ ونیو. د قاتل د بدن دغړو اندازه او دګوتې نښې واخیستل شوې او د معلوماتو په ملي سازمان کې دا ټک د ۲۷ زرو او سیدونکو دګوتو سره پرتله شوی.دا نوم لږ ژر یوه نفر ته ورسید. دا کس د عرفان په نوم یو دوه ویشت کلن پاکستانی و. چې د ذیشان په مستعار نوم یې کار کاوه.په زندان کې د جیش محمد دیوه سرتیري له لوری ورته څه معلومات ورکول شوي وو. زموږ اندیښنې تائید شوې چې د دغو معلوماتو له مخې د جیش محمد د ډلې یو شمیر غړي ونیول شول او پوښتنې ترې وشوې. پدې پوښتنو کې موږ ته جوته شوه چې دا کار د مولوي امتیاز احمد په مشرۍ شوی..
سره لدې چې مولوی احمد د جیش محمد غړی و خو د القاعدې سره یې هم اړیکې درلودې.د ځان وژنې د دغې پیښې یوه ورځ وړاندې مولوي امتیاز دوه نفره بم چاودونکي د نصار په نوم دیوه بل مولوي کور ته راوستل او وروستۍ لارښوونې یې ورته وکړې. سبا دواړو ځان وژونکو د چاودیدونکو موادو کمربندونه پر ملا وتړل او دوه لاسي بمونه یې هم په لاس کې واخیستل.بل ځان وژونکی یو ۲۵ کلن ځوان وو چې سکندر نومیده .وروسته له هغه چې ذیشان ځان والوزاوه ، سکندر له سیمې وتښتید او د مولوي نصار کورته ورغی کمربند او لاسي بمونه یې بیرته ورکړل خپله ږیره یې وخریله بهر شو او ترننه ورک دی.کمربند یې موږ پیدا کړ چې اوه کیلو ګرامه چاودیدونکي مواد پکې سمبال شوی و په نازکه پاڼه پټ او په جیبونو کې د چاودلو تنۍ سمې شوې وې. زه د پیښې وروسته او د پیښې په لړ کې د شوکت عزیز غبرګون ته په کتو تر اغیزی لاندې راغلم.ځکه که برید د پوځ په یوه قومندان شوی وای نو د مرمۍ پرضد ورته روزنه ورکول شوې. خو شوکت عزیز پاکستان ته له راتلو وړاندی په نیویارک کې ژوند کاوه او یو بانکدار وو خو هغه په لوړ مورال لدی پیښې سره چلند وکړ او زما احترام ورته لا زیات شو. وروسته چې شوکت کورته راغی زنګ مې ورته وواهه او ورته مې وویل چې په خیر راغلې

# ۲۳ څپرکی

دجنایتکارانو لټون:

د سپټمبر له یولسمې لږ وروسته کله چې د القاعده ډیر غړي له افغانستان نه وتښتیدل پاکستان ته راغلل. موږ له هغوی سره د موړک او پیشو کیسه پیل کړه د دغه کتاب تر لیکلو د هغوی مشر اسامه بن لادن لاژوندی دی. خو موږ د هغوی زیات ملګري ونیول .ځینې یې نړۍ ته پیژندلی او ځینې ناپیژاندي دي، موږ ۶۸۹ ترهګر نیولي چې ۳۶۹ تنه مو ترې امریکې ته سپارلي..

لدی لاری مو په ملیونونو ډالره ډالې په توګه ترلاسه کړي .هغوی چې موږ له ترهګرۍ سره په کمه مبارزه تورنوي د سي ای اې څخه دی زمونږ د کارونو په اړه وپوښتي، چې د پاکستان دولت یې څومره پیسې ورکړي. پدی برخه کې دیو څو ترهګرو د ښکار کیسې درته کوم.

فلسطیني ابو زبیده چې له اره یې نوم زین العابدین دی د القاعدې مهم غړی وو چې د سپټمبر له۱۱ وروسته ونیول شو. زبیده د سپټمبر د یولسمې په پیښه کې هم لاس درلود. ابو زبیده د القاعدې لپاره د سرتیرو ډګمارنې، روزنې او راټولولو مشر دی.( سی ای ای ) د دغه ځوان په نیولو پنځه ملیونه انعام راکړ.

ابو زبیده د سپټمبر له یولسمې وروسته پاکستان ته راغی ،په دریو ښارونو او په ۱۳ سیمو کې په تیښته بریالی شو. د دغې ډلې نهه سیمې په فیصل اباد ، یوه سیمه په کراچۍ او درې نورې سیمې په لاهور کې وې. د۲۰۰۲ کال د مارچ په ۲۷ شپه موږ دغه ټول دیارلس پټنځایونه وموندل او په یوه وخت مو پرې یرغل وروړ. یرغل مو د استخباراتو اداری د پولیسو په مرسته وکړ. د سی ای ای چارواکو د ځایونو په ښوولو کې له موږ سره د تخنیکي اطلاعاتو مرسته کوله.کار بریالی وو ابو زبیده له ۲۷ نورو ملګرو سره یوځای ونیول شو. ټول بهرنیان ول ۱۳ یمنیان، ۳ سعودیان، ۳ دلیبیا ۳ ، فلسطنیان، یو روسی، یو مراکشی ، یو هم سوډانی او دوه د سوریې وګړي پدې عملیاتو کې ووژل شول او بل ټپي شو چې ۲۰۰۲ کال د مارچ په ۳۰ ابوزبیده امریکې ته وسپارل شو.

پدی اړه د پاکستان بهرنی سیاست دا وو چې لومړې به د نیول شوي ترهګر له خپل هیواده غوښتل کیده چې دا کس ورو سپاري که به د نیول شوي کس هیواد دهغه د منلو نه ډډه وکړه نو بیا به امریکې ته مونږ سپاره.

دا په یوه ځل ستره نیونه وه .د شمیر له پلوه نه بلکې د اهمیت له مخې دا عملیات د طالبانو د ماتې په لومړیو کې وشول. پدغه ورځو کې تازه دمې شکمن ترهګر پاکستان ته راغلي وو. د ابوزبیده نیولو القاعده په یوه نوي فکر کې واچوله. هوډ یې وکړ چې د وړو ډلو په ترڅ کې کسانا بایدو تښتي.

په لوېدیځ کې خالد شېخ دباکد په نوم پیژندل کیږي .د ترهګرو د نیولو په برخه کې زموږ دوهمه موخه وه هغه زموږ او د نورو د سخت تعقیب لاندی وه او د امریکا د کورني امنیت یا اف بي ای په هغه لیست کې وو .چې باید ونیول شي. خالد شیخ محمد چې اصلا ایرانی او په کویټ کې زیږیدلی وو ښوونځی یې هم په کویټ کې لوستی وو. بیا وروسته په کال۱۹۸۴ کې د امریکا د شمالي کارولینا کالج ته ولاړ. ترهغه وروسته یې د شمالي کارولینا دفن او کرنې دولتي پوهنځي ته یې لار پیدا کړه.

شیخ محمد د افغانستان د روزونکې ترهګرې ډلې غړی ده .د هغه اصلي موخه د زیاتو امریکایانو وژل وو چې په هره لاروي.

په ۱۹۹۳ کې خالد شیخ محمد د رمزي یوسف سره چې وراره یې وو د نیویارک د سوداګریزو برجونو د الوځولو پلان یې درلود .وروسته یې دیو درجن الوتکو د تښتولو پلان جوړ کړ چې له سویلي اسیا د ا مریکې په لوری تللې.

هغوی همدارنګه دیوه پیلوټ دلیږلو پلان جوړ کړ چې دویرجنیا دلین ګلي په ښار کې بې د سي ای اې له مرکز سره وجنګوي. د دغو عملیاتو نوم بوجنګا ، و. دغه یوه توطیه هم پلې نه شوه..

ځکه چې په کال ۱۹۹۵ کې رمزي یوسف د عملیاتو د فرمان له ورکولو څخه وړاندې په پاکستان کې ونیول شو او امریکا ته وسپارل شو. نور توطیه کوونکي هم ونیول شو خو شیخ محمد په تیښته بریالی شو. خالد شیخ محمد په پیل کې له القاعدې سره اړیکې نه لرلې. هغه خپله جلا شبکه درلوده. د ۱۹۹۰ لسیزې په دننه کې خالد لومړی هڅه وکړه خپل عملیات په جلا توګه پرمخ یوسي او د دی عملیاتو لړی خوندي کړي. تر دی چې د ترهګرو یوه مشر ته یې هم د بیعت لاس ورنه کړ. ځکه هغه ځان له ابن لادن کم نه ګاڼه خو د بوجنګاه د عملیاتو له ناکامۍ او د رمزي یوسف له نیولو وروسته بې خپله شبکه له منځه یووړه او پریکړه یې وکړه چې له القاعدې سره اړیکې پیاوړې کړي .په کال ۱۹۹۶ کې خالد غوښته وکړه چې له اسامه سره وګوري .خو ابن لادن هغه سره لیدو ته وخت نه درلود .ځکه له سوډان نه د خپلې کورنۍ او ډلې په رالیږدو نه بوخت وو. خو خالد د القاعدې له نورو غړو عبد الرحمن المهاجر او ابو عزیز المصري سره په تماس کې وو او له دغو ترهګرو سره یې اړیکې لا زیاتې غوړولې.

په لومړي ځل خالد په ۱۹۹۶ کې د اسامه سره هغه مهال په توره بوره کې وکتل چې هغه بیا افغانستان ته راغی .هغه په ۱۹۹۵ کې د نړیوالو سوداګریزو مرکزونو د الوځولو او د بوجینګاه په عملیاتو کې د خپلې ونډې په اړه اسامه ته زیات معلومات ورکړي وو .خالد شیخ محمد د سپټمبر د ۱۱ مې نظریه اسامه ته وړاندې کړی وه خو اسامه هغه نظریه په لومړي سر کې رد کړه او خالد ته یې له القاعدې سره دیوځای کیدو وړاندیز وکړ چې په پیل کې خالد شیخ د اسامه له دی وړاندیز سره جوړ رانغی ځکه خالد یوازې د خپلو کارونو په خپل سرپرمخ بیولو ته ژمن وو. په همدی مهال خالد د خپلو عملیاتو د تر سره کولو لپاره د لیبیا د اسلامي ډلې (ال ای اف جي )د جنګیالیو او له ابو زبیده سره اړیکې پراخې کړې چې پیسې پیدا کړي. په کال ۱۹۹۸ او ۱۹۹۹ کې اسامه د سپټمبر د

یولسمې پلان دابو حافظ المصری په ډېر فشار راوړلو سره ومانه. المصري په نړۍ کې د محمد هاتف په مستعار نوم پېژندل شوی. خو هغه وخت د دې بریدونو کره نیتجه چا ته نه وه معلومه. کله چې خالد د اسامه د دغه پلان منلو څخه خبر شو له خپلې کورنۍ سره یو ځای کندهار ته راغی. د سپټمبر د یولسمې پلان د اسامه، خالد شیخ محمد او محمد هاتف ترمنځ پټ پاتې شو. استخباراتي سرچینو اشاره ورکړه چې په ۲۰۰۰ کال کې اسامه د اسې نظر درلود چې د امریکا په خاوره کې لوی بریدونه ترسره کړي. خو د بریدونو جزئیات یې نه درلودل. دغه راز ویل کیږي چې ملا عمر له دغه کار سره جوړ نه وو. خو په ډاګه یې څه نه ویل..
اسامه ابن لادین او محمد هاتف د سپټمبر د یولسمې د ناورین د رامنځته کولو لپاره د نوموړو یو لست جوړ کړ او له خالد نه یې وغوښتل چې له دغې لست څینې کسان غوره کړي. د ۲۰۰۱ کال په اګسټ کې د القاعدې جرګګۍ یا د دغې شبکې سلاکارې کمیټې د سپټمبر د یولسمې عملیات تائید کړل. ټولو مخکښو غړو لکه محمد هاتف، نواف الحازي او خالد المحضار د شیخ محمد له لوري تر روزنې لاندې ونیول شول او امریکې ته ولیږدول شول. دوه نور کسان مصطفی احمد حوزوي، عمار بلوچ او د خالد شیخ دوراره ځوی د خالد لپاره پیسې او د الوتکو د تښتونکو لپاره لوجستکي مرستې برابرولې..
په هغه شومه ورځ خالد له خپلو څلورو ملګرو رمزي الشیبه، مصطفی احمد حوزوي، عمار بلوچ او جعفر الطیار سره د امریکا په دوو برجونو لومړی برید په کراچۍ کې له یوه انترنیت کافي څخه ولید. وروسته دی او نور ملګري یې یوه امن کور ته ولاړل او له هغه کور نه یې د مرګوني پلان تماشا کوله. خالد وایي کله یې چې د برجونو ورانیدل ولیدل حیران شوي و..
د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په ۲۱ او ۲۲ اسامه خالد افغانستان ته وروغوښت. سره لدې چې خالد غوښتل په پاکستان کې پاتې شي، خو د دغې پېښې له تحلیل وروسته دواړو خپلې کورنۍ پاکستان ته ولیږدولې او د افغانستان د دفاع په جبهه ودریدل..
تر هغه وروسته دغه ټول کسان تر پلټنو لاندې ونیول شول. د ۲۰۰۳ کال د فبرورۍ په ۲۸ سهار زموږ د استخباراتو کارکونکو د اسلام اباد په هوایي ډګر کې د خالد په یوه ملګري سترګې ولګیدې. دغه کس له خالد سره د هماغې ورځې په ماز دیګرو لیدل. زموږ سرچینو موږ ته خبر راکړ چې د لیدنې کتنې لپاره د هغوی د پیښور ـ پینډۍ په لویه لار له دوو کورونو څخه ګټه اخلي. سمدلاسه مو د هغوی د ژوندي نیولو پلان جوړ کړ. خو زموږ استخباراتي کارکونکو د دغې سیمې په اړه له پخوا هیڅ معلومات نه لرل یوازې یې په سیمه کې د کورونو پیژندنه کولای شوه. دوی په اسانۍ کورونه پیدا کړل..
سبا د شپې په ۱:۴۵ بجو د دې عملیاتو لپاره د ګمارل شویو پولیسو لخوا کورونه کلابند شول. دورننوتو دروازې یې ماتې کړې. دوسلو په ښورولو او چیغې وهلو کورونو ته ورننوتل د دغو کورونو په لومړي پوړ کې یو کس ولاړ وو چې ډېر وویریده. هغه له ویرې پولیسو ته وویل چې هغوی هلته دي..
وړاندی له دې چې دوی له ځایه وخوځیږي پولیس پرې په کوټه کې ورننوتل. خالد شیخ محمد او مصطفی حوزوي پداسې حال کې ونیول شو چې د دوی څنګ ته کلاشینکوفې کتار پرتې وې، خالد کلاشینکوف راواخیست خو د پولیسو یوه افسر پرې ورټوپ کړل او په زور یې د ټوپک ترې ونیو خو کلاشینکوف نابېره ډزې وکړې، او دغه افسر یې ټپي کړ. خو مخکې له دې چې دواړه پولیسو ته زیات زیان واړوي پرته له کوم جنجاله دوی د پولیسو په منګلو کې ور پرېوتل. دا عملیات هم په بري ترسره شول..
دری ورځې مو خالد له ځان سره په بند کې وساته او پلټنې مو پوره کړې او په زړه پورې معلومات مو ترې ترلاسه کړل. بیا مو د امریکې متحدو ایالاتو ته وسپاره..
ډېر لوستونکي د خالد او ابو زبیده له نوموړو سره پیژندګلوي لري ډېر نور د اسې کسان هم نیول شوي چې ډېر مشهور دي. د ډېرو نیول شویو کسانو په لړ کې دیوه پاکستاني د نیونې کیسه د بیلګې په ډول رایادوم
دا پاکستانې په کراچۍ کې زیږیدلی. په ۲۰۰۲ کې یې د انجینري له پوهنځۍ د لیسانس سند اخیستی. دغه کس د ۲۰۰۲ کال د مارچ په میاشت د خالد ګوتو ته ورغی، چې د ۲۰۰۳ کال په اګسټ کې بې قبایلي سیمې وانې ته ولیږداوه، چې له حمزه ربیعي، حمزه الجوفي، ابو الفرج الیبي او ابو هادي العراقي سره وګوري. دی دغه راز د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۲ کلونو په اوږدو کې د کابل د قرباغ په جبهه کې له طالبانو سره یو ځای وجنګیده. دده په سر پنځه میلیونه ډالره ایښودل شوي وو. دی د ۲۰۰۳ کال د ډسمبر راوروسته په لاهور کې اوسیده او په پاکستان کې بې د القاعدې د ټکنالوجۍ او معلوماتو د ځانګې مشري کوله. چې د خالد له نیونې وروسته د حمزه ربیعي تر امر لاندی را مات شو. دی په بریتانیا کې د هغې ډلې غړی هم وو چې د القاعدې درسنیو له دفتر سره یې د معلوماتو په برخه کې مرسته کوله. د القاعدې د دوو لوړو غړو عمار بلوچ او خلاد بن اتش د نیول کیدو وروسته دی په کراچۍ کې د القاعدې غټ سړی شو. ده د القاعدې هیلو ته په کتنې د امریکې په متحدو ایالاتو کې د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو په ترڅ کې د بریدونو لپاره د دغې شبکې له لوري د دولس کسیزه ځان وژونکې ډلې روزنه هم په غاړه واخیسته او دغه ۱۲ ځان وژونکي یې د شمالي وزیرستان د شاکي په سیمه کې تر روزنې لاندې ونیول. بیا روزل شوي ځانمرګي کراچۍ ته ولیږدول..
پدغه دوره کې د القاعدې د ګڼو مهمو لوړو غړو خالد شیخ محمد ، حمزه ربیعي، فرج الیبیي، هادي عراقي، حمزه الجوفي، جمبلي ګن کن د حمبلي ورورو ابو مصعب بلوچ، د خالد له بل ورور او د رمزي یوسف له ورور سره په نژدې اړیکو کې وو.
زموږ امریکایي ملګري له دغه کبله په حقه اندیښمن ول. د دی لپاره چې د هغه فعالیتونه لا هم دوام لري، هغوی هم ورپسې ول، د دغو ترهګرو د نیولو لپاره یې د دوی د پټنځایونو په اړه یو لړ معلومات هم موږ ته راکړل. د دغو معلوماتو پربنسټ د پاکستان د استخباراتو اداری هغه د ۲۰۰۴ کال د جولای په ۲۱

دپاکستان په لاهور کې پیدا او و نیوه..

دهغه لپ ټاپ کمپیوټر هم مونږ ته په لاس راغی چې دترهګرو په اړه یې بشپړ معلومات لرل.مونږ له دغو کسانو خالد شیخ محمد پیدا کړی وو چې دالقاعدې پلان جوړونکې دلندن دهیترو دګڼې ګوڼې ډک هوایي ډګر او ددغه ښار دځمکې لاندی اورګاډو یا دمیټرو چوولو پلان درلود. دغو شکمنو دخالد له لوری دلندن دهیترو دهوایي ډګر دالوځولو دپلان امر ترلاسه کړی وو. دوی دغه راز دلومړنیو پلانونو پرته دوو نورو احتمالي بمي موخو ته هم دتیاریو وړاندیز کړی وو.

یو کنیري والف اوبل دلندن دځمکې لاندې ترانسپورتي سیستم.

هیڅ پریکړه نه شوای کولای چې خالد به دسپټمبر دیولسمې په څیر دلویو ترهګریزو بریدونو لپاره په دومره کچه چمتو وي هغه دسپټمبر یولسمې ناورین هر شیبه په ډیر دقت شمیره او ترسره کړې و.

ضبط شوي لپ ټاپ پوره معلومات په ګوتو راکړل.ځکه چې په بریتانیا کې دکیدونکو بریدونو پلان پدغه کمپیوټر کې ثبت شوی وو.مونږ نه یوازې دغه معلومات دبریتانیا چارواکو ته ورکړل، بلکې په لندن کې مو دبریدونو دکونکو داطلاعاتو له مشر سره هم اړیکه ددې کمپیوټر له لاری ټینګه کړه .وروسته دغو اړیکو له صدیق خان او شهزاد تنویر سره بلد کړو صدیق خان او تنویر هغه کسان وو چې د۲۰۰۵ کال دجولای په ۷ یې دلندن دځمکې لاندې اورګاډو باندې برید وکړ.هغه بریدونه ۷/۷ په نوم مشهور شوي چې جولای دعیسوي کال ۷ میاشت او ددغې میاشتې په ۷ نیټه دغه بریدونه وشول.

دلندن له بریدونو ۷ اوونۍ وړاندې دصدیق خان اوتنویر په اړه له معلوماتو سره سره دهغوی دکارونو په اړه د۲۰۰۵ کال دجولای تر ۲۸ یعنی دبرید نه ۲۱ ورځې وروسته هیڅ راز معلومات له مونږ سره ګډ نه شول.

تر دغو عملیاتو وړاندې دالقاعدې هڅه داوه چې دچک، سلواکیا، کروشیا، پولینډ، رومانیا او مالتا له هوایي ډګرونو او ملي مسافر وړونکو الوتکو څخه په ګټې اخیستې دلندن دهیترو په هوایي ډګر برید وکړي.ځکه په یاد شویو هوایي ډګرونو کې امنیت ضعیف وي،د القاعدې پلان داسې وو چې داروپایي هیوادونو له سرسختو مسلمانانو او دافغانستان او بوسنیا دجنګ له پاتې شونو پدغو عملیاتو کې کار واخلي. له همدې کبله یې له عازم الشهیر چې په ۲۰۰۴ کال کې په عربستان کې ووژل شو او ددغې شبکې مشر وو وغوښتل چې په سعودي کې پیلوټان وګماري چې الوتکې وتښتولی شي او دغه ماموریت ترسره کړي او ورته ویې ویل که دا کار ناکامه شي نو زده کوونکي دې دهوایي ځواکونو ښوونځي ته واستوي.هغوی به همغه الوتنې غوره کړي چې په یوه وخت دهیترو په هوایي ډګر کې راکښته شي. دتښتونکو لپاره به ددغه کار دترسره کولو اشاره داوی چې دالوتکې تر ناستې وړاندې د کمربندونه مو وتړئ نښه روښانه شي.هغوی به دزنګ ضد فولادي چړو او دالکولي څښاک له خالي بوتلونه دوسلې په توګه کار واخلي. هغوی هیله لرله چې الوتکې به دهیترو په یوې بې مثاله ودانۍ وجنګوي دخالد شیخ په وینا دالقاعدې یو بل خوځنده غړی دخلاد بن اتش په نوم په وروستیو پړاونو کې وړاندیز وکړ چې موخه له هیترو څخه داسرائیلو یوې موخې ته بدل کړي. خو خالد دا خبره رد کړه.

مونږ دغه ټول اطلاعات بریتانوي چارواکو ته ورکړل چې له نیکه مرغه په هیترو کیدونکې بریدونه پاتې راغلل.دا زمونږ له سترو کامیابیو څخه وو. لپ ټاپ همدارنګه موږ دپنجاب په ګجرات کې دیوې ۱۵ کسیزې ترهګرې ډلې په لور بوتلو چې یو له هغو څخه دکمپیوټر نابغه دیرش کلن تانزانیایي احمد خلیفان غیلاني و چې د ۱۹۹۸ داګسټ په ۷ دنیروبي په دارالسلام کې دامریکا په سفارت دبمي چاودنو په تور تر څارنې لاندی وو ..

غیلاني دجعلي اسنادو په جوړولو کې فوق العاده حقیقي مهارت درلود چې هیڅ باور نه کیده هغه په خپل کمپیوټر دډیرو هیوادونو دویزو دننوتو او وتو ګڼ مهرونه درلودل. غیلاني همدارنګه ترهګر روزل او قوي چاودیدونکي مواد یې جوړول. هغه امریکا ته ډیر مهم وو او په نیولو او پیدا کولو یې ۲۵ ملیونه ډالره انعام ایښی وو. د۲۰۰۴ کال دسپټمبر په څلورمه هغه امریکایي چاراکو ته وسپارل شو.

دغیلاني دپلټنو له برکته په پنجاب کې دالقاعدې شبکې یوه وړوکې فعاله ډله افشاه شوه .دغه شبکه هغه مهال ختمه شوه چې دغیلاني دمعلوماتو پربنسټ ۱۵ تنه نور ترهګر، دهغوی کورنی چې پکې یو نوی زیږیدلی ماشوم هم وو ونیول شو..

هغه څه چې تاسو ولوستل په پاکستان کې دالقاعدې او نورو ترهګرو ډلو پر وړاندې زمونږ دعملیاتو یوه وړوکې بیلګه وه چې ددغو ترهګرو په وړاندې مونږ په خپلو ښارونو کې ښه پراخ جنګ کړی او ښه بریالي وو.

له ترهګرۍ سره زمونږ دجګړې دکیسې دښه پوهیدو لپاره باید د۲۰۰۳ کال ددسمبر په ۲۵ پیښې ته ور وګرځي هغه مهال چې زما دموټرو دکاروان له چاودنې څخه روغ رمټ راووتم ..

## څلورويشتم څپرکی

دډام تنګول

نيم شوی بدن، نيم سوځيدلی دپيژندنې کارت او خراب شوی مبايل پرما ددوهم بريد نه وروسته دپلټنو دترسره کولو ټوله لاس ته راوړنه وه، خو دغه شيان تر هيلې زيات برياليي وختل دعلم په نړۍ کې تل داسې واقع کيږي چې ځينې ستر کشفيات هغه مهال رامنځ ته کيږي چې څيړونکي په بل کار بوخت وي ،خو دکار په لړ کې بلې ستري لاس ته راوړنې ته ورسيږي. همدارنګه دجنايتکارانو په تحقيقاتو کې مهمې لاس ته راوړنې له بې صبره پرمختګونو څخه ترلاسه کيږي او کيدای شي ستر بدلونونه له ځان سره ولري، نيم بدن او دپيژندنې کارت اوسيم کارت دا درې مهم شواهد وو چې په پاکستان کې دترهګرۍ سره دجګړې په ډګر کې دسترې کاميابۍ لامل شو..

په ۲۰۰۳ کال دډسمبر په ۱۲ پرما دلومړي وژونکي بريد نه وروسته مې دراولپنډۍ دقول اردو له قومندان ډګر جنرال الشفق پرويز کياني نه وغوښتل چې دپلټنې مسرليت پرغاړه واخلي ځکه چې جرم دهغه تر واک لاندې سيمې کې شوی و . دا کوم عادي جرم نه و چې يوازې پولېس دې ورته رسېدنه وکړی شي . بلکه د پاکستان د بې امنه کولو هڅه او ددغه هېواد د مشر د وژلو له لارې. فکر وکړی ټول غمونه مو پلټنو ته خوشې کړل ..

څوسيال اژانسونه يا ادارې دجنرال کياني ترمشرۍ لاندې په دغه قضيه کی بوخت و.آی اس ای، نظامی استخبارات( ام ای) ، د استخباراتو اداره(ای بي ) ، او د پلټلو د ځانګړې ادارې يوه برخه ( سي ای ډي ) ، پوليس اودپوځ ځينې عنا صرپه دغه کارکې دنده درلوده.

کېاني هغوی ته وويل سيالي يو خوا پريږدي او دمعلوماتو په راکړې ورکړې کې ديوه ټيم په توګه کاروکړي.وي.

هغه همدارنګه ورته وويل که بې فکر وکړ چې حساس معلومات بې پيدا کړي نيغ په نيغه دې دده خواته راشي. او ددفتر دروازه به بې تل ددوی پرمخ خلاصه وي.هغه دندې معينې کړي چې دريواړه اصلي استخباراتي ادارې: ای اس ای،ام ای ، او سي ای ډي (په يوه کارپسې ولاړې نشي. ديوه او بل کارونه تکرار نه کړي.خپل لاس بې خلاص و او مشري بې په خپل لاس کې وه.

خو وينا تر عمله پورې واټن لري.په ټولو هيوادونو کې استخباراتي ادارې له يوه اوبل سره سيالي لري اوپه ډيرې کېنې سره خپلې لاس ته راوړنې له بلې ادارې نه پټوي. دغه کار داستخباراتو په ادارو کې د ډېرو خِطاوو لامل کيږي.چې پاکستان هم له دې کاره خالي نه دی.خو کله چې کياني فشار راوړ، نا هماهنګي به ورکه شوه او ټولې ادارې به لکه د تيلو ډک ماشين په څېر کار پيل کړ.

هغه هغوی ته ويلی و چې بايد درې شيان تحقيق کړي :

اول د بريد د ځاي ټول شواهد پيداکړی.

دوهم معلومه دې کړي چې په څه ډول چاودېدونکی مواد برابر شوي اوپه څه ډول چول شوي. دريم: ددې ابتکار عاملين څوک و.

په لومړي بريد کې برېدکونکوچاودېدونکي مواد تريوه پله لاندې ځای پر ځای کړي وچې له لېرې سېمې بې وچوي. چې اوسپنې او کانکريټ زما دموټر خواو شا ته ولويږي. دوی داسې فرض کړې وه چې زما موټر به دچاودنې سره سم ددغو اوسپنو په منځ کې ولويږي او يا به هم دپله دپرېکېدو سره سم زما موټر لاندې وغورځي. او دا به مې د کار پاې شي. دخداي شکر چې هيچا له چاودنې وروسته ژوند د لاسه ورنکړ. دچاوديدونکي موادو چارجر بايد ديوې ټيليفوني اړيکې په واسطه چې له اخيستونکي سره نصب شوي وفعال شوي وای.خو له نيکمرغه هغه ترهګر چې ټيليفون بې بايد له چاوديدونکو توکو سره ټينګ کړی وای پټ ناست و . چې پله ته زموږ د رسېدو موقيعت بې ښه ونه لېد او په سم وخت کې يې چاودنه ونشوه کړي.دغې دوه درې ثانېې تېروتنې موږ ته دژوند چانس راکړ.

په لومړيو تحقيقاتو کې اساسي پرمختګ دهمغه زاړه سيستم پر اساس پلټنې وې. په پيل کې يو قانوني څرک معلوم شو.پلټونکو د ټيليفون د صفحې يوه وړه ټوټه د پله پر سر پيدا کړه. داسې ښکارېده چې دا ټوټه دې د مبايل ټيليفون نه وي. هغوی وموندە چې د تيليفون دکېلي داټوټه ديوه چېنا بې بيسيم ټيليفون ده. چې اوږده خطونه بې لرل. داروپا او امريکا په څير په پرمختللو اقتصا دي هېوادونو کې ددې ډول ټيليفونې پلټنو کار کېدای شي ډېر اسانه وي .ځکه چې دټېليفون واردونکو ، وېشونکو او د خرڅلاو د بازارونو له لارې روښانه کېږي او دهغه د ثبت لپاره چې هېڅ مدارک او وسېله نشته دا کار ډېر ستونزمن دي.

خو موږ سره له هغه هم پايلو ته ورسېدو . دغه بيسيم ټيليفونونه جګ انتېنونه او يوه ګوشي هم لري.چې تنې او ځانګړې کېلي ددواړو پر مخ نصب دي. که څوک دغو تنيو ته فشارورکړي غوږۍ ته زنګ ورځي.

خو بالمقابل ترهګرو په ډېرې هوښيارۍ سره دغوړيو پر سر له تنيو څخه د ماشي په توګه کار اخيست.زموږ پلټونکو پيدا کړه چې دغه تنې له ۶ يا ۷ کيلو متره لېرې واټن او يوې متراکمې اوګڼ مېشتې سېمې هم فعاليدی شي. هغوی خپلې پلټنې دپله۷ کېلو متری ته پراخې کړی چې دفون سيټ هم پيدا کړي .خو څه شی لاس ته رانغلل ،وروسته داپلټنې د چکلالې ترهوايي ډګره وغزېدې چېرته چې زما الوتکه راکوزه شوې وه ، خو څه پايلې يې نه درلودې.
دغه پلټنې روانې وې چې دکويټې دقول اردو قومندان دکار غوټه پرانيسته . هغه کېاني ته فون وکړاو ورته وېې وېل چې دمشتاق په نوم يو ترهګر په پيښور کې د هوايي ځواکونو سره اړيکی لري. ده وويل که ترهګرو دپيښور او کويټې هوايي ځواکونو ته لاره موندلې وي نو له امکانه لېرې نه ده چې دچکلالې هوايي اډې ته دې نه وي راغلي. همغړي استخباراتي عمليات پيل شو چې له کبله يې مشتاق ونيول شو.
داد معما دحل پيل وو. مشتاق د پلټنو پرمهال دلومړي وژونکي برېد او په کې دده د مرستې دکچې په اړه معلومات ورکړل. هغه، استخباراتو ته دټولو ترهګرو په اړه ځانګړې معلومات ور کړل چې تقريبا ټول يې دپاکستان دهوايي ځواکونو ټيټ پوړي غړي و.کياني په نيمه شپه کی دهوايي ځواکونو له مشر سره تماس ونيولو او لاسته راغلي معلومات يې ورسره شريک کړل.۴ تنه دهوايي ځواکونو څخه ونيول شول. چې يا يې دپيسو او يا يې د عقيدوي موخو لپاره دې کارته ملاتړلې وه .
ددغو خلکو څخه ددې عملياتود څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه شول. هغوي تقريبا ۲۵۰ کېلوګرامه چاودېدونکي مواد کم کم انتقال کړي او دپله لاندې بې پټ کړي و. د پله شکل اوډول د ډېر وخت لپاره هلته د دغو موادو دپټ والي زمېنه برابره کړې وه.
د پلټنو پر مهال شکمنو افشا کړه چې پله ته نژدې د( چهانده چي چي ( په سېمه او اسلام اباد کې بې له بوه کوره د چاودېدونکو موادو او دپټېدو لپاره ګټه اخيسته. دهغوی د قوماندې مرکزونه د سرحد په پېښور اود نوښار په ښارونو کې وو . دوی اول چاودېدونکی مواد داسلام اباد کورته لېږدول او بيا يې کم کم د چهانده چي چي کورته وړل او له هغه ځايه بې په تدريجي ډول پله ته انتقالول.
په دغو عملياتو کې مشتاق يوازينی غير نظامي و ، هغه د چاودېدونکو موادو د چاودلو ماشې ته فشار ورکړي و. وروسته معلومه شوه چې هغه د ۱۵۰ تر ۲۰۰ کسېزې ډلې مشر او پلان جوړونکی دی. دې دملاعمر تابع دې. او دبن لادن دموخو لپاره بې دوفا داري لوړه کړې.
سره له دې چې هغه دبن لادن سره نېغې اړيکې نه درلودې او د مولانا مسعود اظهر په مشرۍ دجيش محمد دډلې لخوا ورسره مالي مرسته کېدله. جيش محمد نه يوازې له دغې ډلې سره مرستې کولې، بلکې داظهرورور په وسلو ددغې شبکې د سمبالتيا اود چاودېدونکو موادو څخه دګټې اخيستو اوروزنې زمېنه برابروله.
مشتاق په يوڅه وا رخطاي سره دپله په ۱۸۰ مترۍ کې موقيعت درلود . په پله زموږد موټرو دکاروان دتېرېدو پرمهال دغه واټن دهغه دلېدو دايره تياره کړه .چې له کبله يې د چاودنې وخت لږ ترې غلط او موږ ته بې دژوند چانس راکړ. هغه ترهګره ډله چې دچاودنې مسو ليت بې درلود ددوهم برېد له پلان کونکو ناخبره و.دواړه وژونکي برېدونه له يوه اوبله جلا پلان شوي او تر سره شوې وې. تر سره کونکي يې هم سره جلا و. دبرېد کونکو ۲ ډلې هم په اتفاقي ډول ددسامبر په ۱۴ پلان شوې وې. خو کله چې پل والوځول شو هغوی وار خطا او خپل پلان بې موقتا لغوه کړ. دد سامبر په ۲۵ چې کله بمونه وچاودېدل دومره قوي وچې کېاني ۳ کېلومتره لېرې په خپل کور کې دهغه غږ اورېدلې و . لاهم پرما دلومړي وژونکي برېد خاطره دهغه په ذ هن کې تازه وه. هغه موټر ته منډې کړې او په دومره بېړې سره د پېښې سيمې ته روان شو چې د امنېتي نظامي پوليسو موټر بې هغه نشو ګېر کولې.
اول کار يې چې وکړد سېمې ځاې او لارې بې بندې کړې ، داي اس اي کسان او پولېس له وړاندې سېمې ته رسيدلي و. د سيمې دامنېت په ټينګولو هغه د پوځيانو د کورونو په لور منډه کړه. په داسي حال کې چې زه لا په حويلي کې ولاړ وم زه يې روغ رمټ وليدم. هغه ته مې امر وکړ چې دغه پلټنې هم د خپل کار برخه کړي .
بيا هم کمو اسنادو او شواهدو مهم رول ولوباو ، د تيلو د دوهم ټانګ خواته د پوليسو بوه پوسته په يوې دوې پوړېزې ودا نۍ کې وه چېرته چې د وهم موټر زموږ په کاروان برېد وکړ.دشواهدو لومړۍ ځرک دځان وژونکي چاودل شوي بدن و چې دپوليسو د هڅو له کبله ددغه مرکز په حويلي کې لاسته راغی. ددغه کس بدن دلته لوېدلې و اوټوله ودانۍ په وينو لړل شوې وه. بدن داسې وو لکه چې دانسان دبدن په پوستکي پوښل شوی وي . او پوستکی هم تور سوځېدلې وي. لکه ماسک يې چې اغوستی وي. پوټکي دهډوکو او دسر له کوپړيه جلا شوي و ، ډېره وېرونکې وه. داسې ښکاريده چې کوم ډاکټرکومه فوق العاده عمليات په دغه بدن تر سره کړي وي او پوټکی بې جلا کړي وي. دبرېد کونکي جسد د پوځي روغتون يوه وتلي پلاستيکي جراح ته يوړل شو چې ددغه بدن ترمېم وکړي.چې دبرېد کونکي اصلي څېره معلومه شي.
همدارنګه مو د دې کس د پېژندنې نېم سوځېدلی کارت دلومړي برېد سيمې ته نژدې پيدا کړ ، ترميم شوي بدن د کارت د تصوير سره مطابقت پيدا کړ او يوشان و. پلټونکو کارت دثبت او راجستر ملي ادارې ته يوړ چې د۵۰ مېيليون پاکستانيانو ته بې کارتونه ويشلي اودهغوي په اړه معلومات پکې و. او ددغه کس په اړه بې معلومات پيدا کړل ، دهغه نوم محمد جميل او د ازاد کشمېر د بالاکوټ اوسيدونکی و .او هغه لومړي ځان وژونکی و.
دهمغې ورځې په ۳:۳۰ بجو په پينډۍ کې پوځي قطعې ته امر وشو ، چې دجمېل په کور برېد وکړي او هغه ونېسي. دشپې د تياري له رارسيدو وړاندې پوځيانود جميل په کور برېد وکړ. دکورنۍ ټول غړي يې ونيول شو. مهم شواهد راټول او د چورلکې په مټ پينډۍ ته راوړل شو. مهم شواهد د جمېل له کتابچې ترلاسه شول چې رمزونه يا مستعا ر نومونه ، حقيقي نومونه ، دټيليفون شمېرې او ادرسونه پکې و. هڅو ته اړتيا وه چې په دغو نومونو پوه شو .

خو زموږ کسان د یوه ساعت په دوران کی په دې وتوانېدل چې په دغو رمزونو پوه شي او د ترهګرو په اړه موږ زیات معلومات ترلاسه کړل. د جمېل خپلوانو وویل چې هغه له یوې افراطي ډلې سره کار کاو ، او کله کله به په میاشتو میاشتو ورک و ، هغه د ازا د کشمېر د کوټلې په سیمه کې د یوه ترهګر سازمان څخه روزنه تر لاسه کړې وه. او افغانستان ته تللی و ، چې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا یانو د یرغل په وړاندې جهاد کې برخه واخلي ، هلته ونیول شو او دوه کاله بندي شو ، خو پلار یې د پیسو په مټ هغه را خوشي کړ. کله چې پاکستان ته راغي په افغانستان کې د جنګ د پایلو په اړه ډېر نا ارامه وو. هغه یوازینی کس نه وچې قسم یې کړی وچې په افغانستان د امریکا د یرغل پر وړاندې غچ زما د ترور له لاری واخلي. دوهم ځان وژونکي یې له تورتو کېدو د اوسیدا د یوه اپارتمان مخې ته لوېدلی و .
دهغه نیم سوځېدلي د هویت کارت مو هم پیدا کړچې عکس یې پکې لګېدلی و ، خو نوم او ادرس یې غلط ورکړی و.

خو سره له هغه موږ وتوانېدو دهغه د هوېت کارت وپیژنو . کارت د ثبت شمېره درلوده چې موږ یې د کارت دورکړې ادارې ته وخوځولو. د دغه کس د کارت له غوښتنلیک نه دهغه ملي پژند نه وشوه . دهغه کس نوم چې دده پیژند نه یې تصدېق کړی وه په دغه لیک کې پیدا شوه. ضامن پیدا شو او د دغه کس حقیقي ادرس یې موږ ته راکړ. د ترهرر ښتنبنی نوم ( خلېق ) و ، په کارت کې یې بدل نوم شفیق لیکلي شوی و. د حېرانتیا ځای دی هغه کسان چې په دومره دقت عملیات کولای شي �د پیژند نې کارت په دومره بې باکی سره له ځانه سره ګرځوي. هغوی په دې نه پوهېږي چې د پیژند نې اسناد یې ددوی ټوله ډله له منځه وړلای شي. خو که دا سې نه وای شوي نو پلټونکي به دومره نه و نېکمرغه .
د ۲۰۰۵ کال دلندن جولای ۷ بمي برېد ونو هم دغه لاره وهلې وه. چې تر اندازې زیات شواهد د پیښې له سېمې لاس ته راغلل چې استخباراتي ادار بې له شکه وتوانېدل ترهر وپیژني .
همدا رنګه مو د پولېسو له همغه مرکزه یو مبایل ټېلېفون پیدا کړ چې د جمېل بدن او پوستکی پکې موندل شوی و. ټیلیفون خراب شوی و ، خو د سېمې د قبقې پلټنې له کبله سېم کارت هم پیدا شو .او له نېکمرغه سېم کارت هېڅ نه و خراب شوی. لکه چې مخکې مې وویل سیم کارت د اخېستونکي د هوېت په معنا دی. او لکه څرنګه چې ښکاري سیم کارت دهغه کس هویت معلوموي چې فون یې اخیستی وي ، که د سېم کارت وخت هم پای ته رسېدلی وي کولای شو د شویو او راغلو ټیلیفونونو درک پیدا کړو. ددغه ترهر د سېم کارت د روغوالي چانس ډېر کم و ، خو د ټېلېفون د شرکت لخوا مو ددغه ټیلیفون په مټ دشویو ټېلېفونونو یو مکمل لیسټ تر لاسه کړ. دغه پرمختګ په واقېعت کې موږد ټولې شبکې منځ ته ورسولو.
له لومړي ځان وژونکي برېد وروسته زما دموټرو د کاروان په تلونکي لاره ټول مبایل ټیلیفونونه تر ځار لاندې و. په همدې ډول له دوهم ځان وژونکي وروسته د شویو ټیلیفونونو له ارشیف نه مو پیدا کړ چې یو کس د سړک پر سر ولاړ دی او د برېد کونکو خبرو ته په هېله دی ، دا کس ټېلېفونونه کنټرولوي �وروسته دغه کس ځان وژنکي ته امر کاو. دغه ټېلېفون تر لاسه کونکي کس د اسلام اباد او پینډۍ د پولېسو ترمنځ مو قیعت نیولی و. په هغه ځای کې چې دموټرو کاروان پر دو لارو پر یوې د تلو انتخاب درلود . فقط کله چې زما د موټرو کاروان د غولارو ته ورسېد . کنټرولونکي ځان وژونکي ته وویل چې زه د لارې په فلانی سېمه کې پروت یم .

له دوهم وژونکي برید وروسته کیاني د شویو مختلفو تیلیفونونود شمېرو سره مخامخ شو.هغه ژر ترژره د پوځ له افسرانو یوه ډله جوړه کړه چې د کمپیوټر د کار پوهانو په خوښه و. هغوی د سافټ ویر یو پروګرام جوړ کړ چې ټولې اړیکی یې دوخت د ثبتولو په مټ ثبتولې چې له برېد مخکې معین ترتیب کړی. دغه کار کېانی ته دا امکان ورکړ چې د ترهګرو د شبکی محسوسې اړیکې پیدا کړي. دا ستر فني پرمختګ و چې له برکته یې د ترهګرو د پروګرامونو په معلومولو کې روښانه پرمختګ راغی .
کېاني پوه شو چې کومې شمیرې او د ترهګرو د سرتېرو او کومې یې د پلان جوړونکو پورې اړه لري. ځکه چې د پلان جوړونکو ډلې له برېده تقریبا ۲ سا عته وړاندې اړیکې نېولې وې او د برېد کونکو ډلګې بیا له برېده څو دقیقې وړاندې اړیکې ټینګې کړې وې. موږ یو شمېر لنډ مهالې د څو ثانیو مخ پر زیا تېدونکی اړیکی ثبت کړای شوې. د ویل شویو جملو په اړه دا سې وېلاې شو دوی ویل ( نژدې کېږي ، سل متری ته راورسېدل او اوس په ۵۰ متری کې دي. )
کېانی او پلټونکو یې له دغو اړیکو او دفون له شمېرو سره ډېر ژر له یوه بل داستان سره مخامخ شول. هغوی پوه شول چې ترهګرو خپل سیم کارتونه بدل کړ ي او یا یې یوه او بل ته ورکړي چې پلټونکې ګنګس کړي او ددوی نیول سخت شي. خو یو ځل بیا نا ځاپه پر مختګ د کار غوټه پرانیسته. یوه ورځ کیاني خپلې ستونزې زما له نظا مي یاور ندیم تاج سره شریکې کړې. ندیم وویل چې (نومې) ځوی یې د مبایل ټیلیفون له یوه شرکت سره کار کوي ، او هغه ورته ویلي وو که سیم کارت بدل هم شي د اړیکی نیونکی پیدا کیږی. دمبایل تیلیفون کمپنیو ددې برعکس خبره کړې وه. خو پلټونکو د کمپنیو له لوړو مشرانو سره خبرې کړې وې او هغوی معمولا هغه کسان دي چې د خپلو کارونو له جزیاتو نا خبره وي. کله چې کېا نې له خپلو کسانو وغوښتل چې د مبایل کمپنېو له لاندې کسانو سره خبری وکړي. دغو کارکونکو وویل چې دا کار کېدا ی شي. د سیم کارت له بدلولو سره سره بې پر همغې دستګاه کار پیل کړ. حقیقت دا و چې د فون هرې دستګاه د شمېرې ځانګړې کوډ نمبر او هر سیم کارت ځانګړي کوډ نمبر درلود . کله چې له فون څخه کار اخیستل کېده هم به فون او هم به سیم کارت ظبط کېده. نو دهمدې لپاره به که سیم کارت هم بدل شو دد ستګاه کوډ نمبر به په همغه ډول پاتې و. نو د اړېکې نیونکی کېدا ی شو تر ځا رنې لاندې نیول شوي وای .

اوس نو پلټونکو د موجوده لارو د تحلیل یوه بله لاره پیدا کړې وه. دغه د ترهګرو د فون د اړیکو د څېلو په ډګر کې ستر پرمختګ و بلل شو. یو وخت کیاني ډېر خسته شو او وېې نشو کولي دالقاعدې د کار د ډول په اړه معلومات پیدا کړي.
له همدې کبله هغه له ای اس ای وغوښتل د القا عده د وتلو غړو ابو زبیده او خالد شیخ د پلټنو رپوټ دې هغه ته ورکړي. ۱۰ جلده ستر اسناد ېې را کړل. کله یې چې د دوسې مواد له نظره تېرول ویې لېدل چې القاعده د هر ځانګړي هدف لپاره د ۲ بیلو حلقو له لارې پر مخ ولاړ شي. چې دیوه او بل له کاره نه وي خبر. هغه همدا رنګه وموندل چې القاعده د ګوتو په شمار د بمونو د دستګا ه جوړونکي لري. دغه کارپوهان چاودېدونکي توکي تیاروي او هغه دیوه پلا ن شوې توطیې اجرا کونکو ته ورکوي او هغوی له پېښې وا ټن نیسي. بم جوړونکي نه پوهېدل چې ولې، څرنګه، دچا په مټ او چېرته ددوی له تولید شویو بمونو ګټه اخیستل کیږي؟ نو په همدې بنسټ ډېره مهمه وه چې د القاعدې بمب جوړونکي وپیژندل شي او ونیول شي.
د پلټونکو بل پر مختګ هله تر سره شو چې دکیاني کسانو د هغه د سوزوکی موټر خر څونکی پیدا کړ چې جمیل پر ما دېرېد په ترڅ کې استعمال کړی و. خرڅونکي د اخیستونکي ټول مشخصات هغوي ته ورکړل. یوې مشخصې له جمیل سره سر وخوړ. موږ همدا رنګه د جمیل DNAد هغه د مور او پلار د نمونو سره پر تله کړل.
دویم بم چونکی د سر حد ایالت او سیدونکی و، وروسته معلومه شوه چې هغه یتیم و، او له چپل تره او ترور ګانو سره یې ژوند کاو. کورنۍ یې وویل چې خلیق د افغانستان په جهاد کې برخه درلوده. او کله کله به ۲ میاشتې له موره لیری و. او کله به چې کورته راغی نو کله کله ورکره بیګانه خلک را تلل. هغه ته یې کورنی ویلي و چې دګمرا کسانو په منګولو کې به ولویږي. خو هغه دغوګوا ښونو ته پام ونه کړ او د کورنۍ هڅو یې نتیجه ورنکړه.
ټول ځان مرګي بریدکونکي داسې خلک دي چې خبرې نه اوري. د بیکاره او بې سر پرسته کورنیو هلکان وی. ځېنې یې په غلطو مذهبي احساساتو کې غرق شوی وي او ځېني نور بیا د پیسو لپاره ترهګر شي. دمثال په توګه جمیل ته مذهبي احساسات ورکول شوي و، خو دوهم ځان وژونکي مذهبي نه و. ډېر یا نا لوستي او یا هم کم لوستي وي. ځېنې ډېر بې وزلي او ځیني نور بیا د خپلو کورنیو اړتیاوې نشي پوره کولي. او ترې لرې شوي و.
دځان وژونکو د موټر د څرک له معلومېدو سره جوخت مو دصلاح الدین په نوم یو کس ونېو چې دالقاعدې مهمو غړو ته نژدې کس و. د پنجاب ایالت ددولتي جرایمو د پلټنو د څانګې د بریالیو کا رکړنو په ترڅ کې دغه کس ونیول شو. دا ډېر مهم پرمختګ و، صلاح الدین په (چهانده چي چي ) کې ونیول شو، همغه پله ته نژدې چې بم ایښودونکي پکې د عملیاتو په تر سره کولو بوخت و. پوه شو چې صلاح الدین هغه کس دی چې پر ما ددوهم برېد لپاره یې کسان ګمارلي و، هغه همدا رنګه افغانستان ته د جنګ لپاره تللي و. هغه د القاعدې دوه مهم غړي ابو الفرج الیبي او هادي العراقي پېژندل. له افغانستانه د بیرته راتلو وروسته صلاح الدین واده وکړ. په چهانده چي چي کې یې یو کور په اجاره کړ او د ماشومانو خاوند شو. اوس نور مسولیتونه هم ورله غاړې شول او اوس نو د پیسو پیدا کول د هغه یوه اصلي موخه شوه.
هغه له هادي العراقي سره اړیکه ونیوله او د ملاقات غوښتنه یې وکړه. خو هادي شخصا نشو کولای له صلاح الدین سره وګوری په عوض کې یې له ابو الفرج الیبي سره کتنه ترتیب کړه.

هغوی د پېنډۍ په ۴۵ کېلو متري او د پیښور نه ډېر لېرې نه، د حسن ابدال په سیمه کې دوه ځلي سره وکتل. صلاح الدین ادعا وکړه چې ابو الفرج هغه ته پیسې ورکړې. د پلټلو پر مهال همدا رنګه هغه ادعا وکړه چې د پاکستان دځانګړې خدماتي ډلی دوه ټیټ پوړي کمانډو افسرانو چې زه هم په دغې ډلی پورې اړه لرم ور سره مرسته کړې. چې د یوه نوم یې ارشاد او د بل نوم یې دوګا وښود. موږ ته حېرانونکې وه ځکه تقریبا ناممکنه ده چې د وسله والو ځواکونو خور د ظابط افسران په هر هېواد کې د افراطیانو له هڅولو وژغورو.
د پوځ د ربس ارکان د معلوماتو پر اساس مو ارشاد ونیو. ارشاد اسلام اباد ته نژدې د ( کهولا ) د سیمې اوسېد ونکی و. ډېره حېرانونکې وه ځکه تر هر موږ ته دومره را نژدې شوي و. لومړی مې د ( دوګر ) په ظاهري لاس درلودنې ټکان وخوړ ځکه هغه زما له نژدې ساتونکو څخه و. او اتفاقا د دسامبر د ۲۵ د برېد پر وخت زما دموټر دمخې په سیټ کې نا ست و. له نېکمرغه هغه بې ګناه ثابت شو. د دوګر په نوم بل کس چې یو وخت مې له امنیتي کسانو څخه و، چې اوس نشته په دغه کار کې یې لاس درلود. دغه ګناهار دوګر مو هم ونېو. ارشاد زیات معلومات په ډاګه کړل. پوه شو چې هغه له ډېرې پخوا راهیسې ددغې ترهګرې ډلې غړی و. هغه له عمر سعید شیخ هغه چا چې د ( ډانیل پیرر ) په تښتولو کې یې لاس درلود خبرې کړې وې. دغه خبرې هغه وخت شوې وې چې شیخ د تښتونې نقشه په فکر کې درلوده. ارشاد همدا رنګه وویل د میزا یېل یو شمېر مرمۍ تیر کال اسلام اباد ته راوړل شوي او داسې پلان و چې د ۲۰۰۳ کال د اګست په ۱۴ د ملي ورځې د لمانځلو پر مهال زما په وژلو کې ځېنې کار واخلي.
دغو خبرو دمصر د ولسمشر انور سادات وژنه را په یاد کړه. په دې اړه مو پخوا هم یو څه اوریدلي و. خو نه پوهېدو چې مرمی له کوم ځایه راوړل شوېدي، او چېرته ساتل کیږي. ارشاد وویل چې دغه غټې مرمۍ د هغوی په کلي کې ( کهوتا ) ته نژدې دي. په همغه ورځ یې په کور باندې نظامي استخباراتو یر غل وکړ او درې قوي راکټونه ترې پیدا شول. په لاسي بمونو کې د کار اخېستنې لپاره ساعتونه هم پیدا شول. د ځان مرګو بریدونو ټول توکي لکه د بم جوړونې

لوازم ، دسامانونو بکسونه او چونکي وسیلې هم ونیول شوې. د بمونو د فعالولو وسایل ډېر پیچلي و . ارشاد هم لکه دوهم ځان وژونکي ډېر مذهبي نه و ،بلکې یوازې د پیسو مزدور و.

د ۲۰۰۴ کال د جنورئ په ۲۴ زموږ پلټنو د ځان مرګي برېد دریمه واسطه پینډۍ ته نژدې د ( شاکربال ) په سیمه کې پیدا کړه. دا کار د جنورئ په ۲ د جنوبي اسیا د سیمه ییزې همکارې دمشرانو کنفرانس نه په اسلام اباد کې څو ورځې وړاندې کله چې ما او دهند د هغه وخت لومړي وزیر اتل بهاري واجپاى د اسلام اباد مشهور ټرون لاسلیک کړ، چې له مخې یې د هند او پاکستان تر منځ د خبرو اترو د له سره نیولو توصیه شوې وه. کله مو چې دغه موټر پیدا کړ ، بېخي برېد ته تیار و . د موټر په منځ کې یوه لوبه ډبه وه چې د طبعي ګازو لپاره ترې ګټه اخیستل کېده. ترهرو په دغه ډبه کې سورى کړى وا و له چاودېدونکو موادو یې ډک کړى و . له سوري نه را وتلي لین ښه معلومېده . همدارنګه له هغه کور نه زیاته اندازه چاودېدونکی مواد ونیول شو ل چې دغه موټر پکې ولاړ و . دغه موټر د اوبو په یوه ټانکر کې پټ شوى و . ترهر د اقتصادي همکارى پر سیمه ییز غونډې برېد ته تیار و . له یو لړ نیونو او پلټنو وروسته وتوانېدو د شبکې جوړښت معلوم کړو .

د صلاح الدین او د القاعدې د دریم نمبر کس ابو الفرج اللیبي او همدارنګه د صلاح الدین او ارشاد تر منځ یقیني اړیکې موجودې وې . صلاح الدین د اللیبي او برېد کونکي تر منځ منځګړى و . د القاعدې کار له مرکزه لیرې و. کله چې د برېد مبتکر موخه معلوموي هغه منځګړې ته وایي چې د دغه عملیاتو ډول پلان کونکي ته ولیږدوي. کله چې پلان جوړونکي پلان جوړ کړ هغه د اجرا کونکو ډلې ته د عملیاتو د اجرا لپاره سپاري. هغه وخت د عملیاتو د ترسره کونکو ډلى عمل کوي. هېڅ تقسیم او قات ته اړتیا نشته.وخت د برېد د ترسره کونکو په لاس کې وي.

پر ما ددوهمې حملې مبتکر ابوالفرج اللیبي و. صلاح الدین یوازې پیغام رسونکى و چې برېد کونکو ته یې د لیبي پیغام لېږدلى و. خو د عملیاتو پلان جوړونکى څوک و؟ موږ ته یې ویل چې د ځانمرګو ځواکونو د ډلې کوماندو یان و ، چې موږ ونیول .

لوبغاړي نسبتا واړه و. لامو کومه اړیکه نه وه پیدا کړې چې پلټونکي د امجد فاروقي سره مخامخ شول. فاروقي او لیبي په افغانستان کې له یوه او بل سره لېدلي و. وروسته معلومه شوه چې فاروقي په پاکستان کې د القاعدې خاص پلان جوړونکى و . هغه نه یوازې پر ما دوهم وژونکي برېد پلان کړى و او لارښونه یې ورته کوله ، بلکې په خپله د عملیاتو سیمې ته نژدې و. فاروقي څو ځلې افغانستان ته تللى و . هغه ته دالقاعدې او افراطي ډلو او کړیو په منځ کې ډېر احترام ځکه کېده چې عملیاتي وړتیا ، د رهبرى ښه صفات او حرفوي چلند یې درلود .

د امجد فاروقي د نیولو پلټنه مو پیل کړه. پوهېدو چې هغه د دوهم وژونکي برېد لپاره ظرفیت او منابع درلودې او دغو ټولو عملیاتو ته هغه لارښونه کړې وه. نو ایا صلاح الدین د فاروقي په پیدا کېدو کې له موږ سره مرسته کولاى شي ؟

په دغه ټوله دوره کې ز موږ دامریکایي ملرو افسرانو راتلل چې په پلټنو کې زموږ سره مرسته وکړي. یوه ورځ کیاني هغوى د قومندې مرکز ته وغوښتل او دچاودېدونکو توکو په برخه کې یې دهغوى څخه دفني مرستو غوښتنه وکړه. امریکایانو وویل چې ددې کار لپاره باېد سیمه وګوري ، چې کیاني ورته لاره هواره کړه. وروسته کیاني وپوښتل چې څومره وخت ته اړتیا لرى ؟ دوى وویل ۴ اونۍ. له څلورو او نیو وروسته هغوى کیاني ته خپل رپوټ وړاندې کړ. کله چې کیاني ولیدل چې په رپوټ کې نوې څه نشته. نو حیران شو . امریکایانو یوازې دچاودېدونکو موادو د ډول نوم یاد کړى و. هغه له امریکایانو وپوښتل په دغه رپوټ کې څه شی پاتې دي چې ده به نه وي لیدلي ؟ هغوى وویل چې همدومره معلومات لري .

کیاني له هغوى مننه وکړه او و یې ویل چې وړاندې مو هم معلومات تر لاسه کړي . زباتې نیونې شوي او پلټنې مو پوره کړې. داهغه مرسته وه چې له خپلو امریکایي ملرو مو تر لاسه کړه .

اللیبي ددغه سیند تر ټولو ستر ماهی و . هغه دالقاعدې دریم نمبر غړى و چې د خالد شیخ محمد ځاى ناستی و. موږ د هغه دنیونې تږي و.خو د امجد فاروقي د نیولو لپاره هم همدومره تږي و. که مو دواړه نیولي واى یوه معجزه به وه. ځکه په پاکستان کې به د ترهرو بریدونو پلان جوړونکي له لارې یو خوا شوي واى ، او دابه په پاکستان کې ترهرى ته کلکه ضربه واى او یو څه ارامتیا به مو په برخه شوى واى .

لومړى مو امجد فاروقي تر کار لاندې ونیو . له نیکمرغه د دوه زره دریم کال د دسامبر په پنځه ویشتمه مو دهغه ټولې ټیلیفوني اړیکې پیدا کړې او د فاروقي د پیدا کولو کار مو پیل کړ. هغه په پرلپسې توګه د خپل فون شمېرې بدلولې او د یوې مودې لپاره به بېخي غلی و. خو هغه زموږ تر نظر لاندې و هغه نشو کولى ډېر وخت غلى پاتې شي. د دوه زره څلورم کال په سپټامبر کې مو دهغه درک معلوم کړ. هغه له دو ځانمرګو کسانو سره د فیصل اباد په پنجابۍ لهجه خبرې کولې. فیصل اباد د پنجاب ایالت دریم لوى ښار دى. دهغوى خبرې به ډېرې لنډې وې. ژر معلومه شوه چې هغه په دغه درې کسیزه لوبه کې مهم کس دى. ځکه هغه به تل امر کاو . په دغو خبرو کې به کله کله د لېبي نوم هم یادېده.

دوه بیلا بیل خپلواکې پلټنې په یوه وخت کې روانې وې. یو په پینډۍ کې دکیاني او بل په کراچۍ کې د ( ای اس ای ) د یوه افسر لخوا تر سره کېده. لکه څرنګه چې معلومه شوه په کراچۍ کې د ای اس ای افسر اطلاعات د کیاني د ډلې په پرتله ښه او دقیق و. دواړو ډلو د فاروقي یو لړ اړیکې ضبط کړې وې. کیاني د ای اس ای د افسر ثبت کړې غږونه واخیستل او دخپل ټیم له غږونو سره یې پرتله کړل، پو ه شو چې دریواړه غږونه یو ډول دي.

ددوه زره څلورم کال د سپټامبر په پنځه ویشتمه نېټه د جاسوسی ضد سازمان مشر تورنجنرال ذکي ، کیاني ته فون وکړ او اطلاع یې ورکړه چې فاروقي په

حرکت کې دی . دهغه موخه د سند په ایالت کې د کراچی په 160 کېلو متری د نوابشاه سیمه وه. دواړه ډلې په یوه غږ د فاروقي په موندنې پسې ولاړې. فاروقي د سویل په لور په حرکت کې و . له ډېره اسماعیل خان بهر شوی و او لکي مروت سیمې ته روان و. کله چې د نوابشا ه سیمې ته ورسېد زموږ مامورین یې مخې ته را ووتل. امجد فاروقي او ملري یې په یوه کور کې پټ شول. زموږ کسانو کور محاصره کړ ، کله چې یې د کور زنګ وواهه یو کس را بهر شو ، زموږ کسانو دا کس ونیو او د بام په لور ورغلل. امجد چې د کور په منځ کې و پوه شو چې محاصره دی. ددغه کور شاته یوه بله حویلي چې په بل کونج کې لمر ته مخامخ یوه کوټه پکې وه ، فاروقي د کوټې له منځه یو ماشوم او ښځه ونیول او همغه د پیتاوي کوټې ته یې منډې کړې چې ننوت دروازه یې په ځان پسې بنده کړه. زموږ کار کونکي د کوټې په بام ورغلل او ورته یې وویل چې را بهر شي ؟ خو فاروقي رد کړه ، او وېې ویل چې د ځواکونو مشر دې له ده سره خبرې وکړي. موږ ډېر اند ېښمن و ، او هڅه مو داوه چې فاروقي ژوندی ونیسو . دهمدې لپاره زموږ کار کونکو د کوټې کانکرېټي بام له پاسه سوری او وښکې بهونکی ګاز یې پرې استعمال کړ. دود فاروقي را بهر کړ اوزموږ د عسکرو خواته یې رامنډه کړه. د چپنې په څېر یو لوی ځادر یې له ځانه تاو کړی و.داسې ښکارېده چې په ځان پورې به یې چاودېدونکي توکي تړلي وي. زموږ مامورینو پرې غږ کړچې ( ودرېږه؟ (خو هغه همغسې را روان و. له دې ویرې چې هغه سرتېرو ته نژدې ځان ونه چوي ، زموږ کار کونکو پرې ډزې وکړې. او فاروقي یې وواژه. کله یې چې ځادر ځینې لیرې کړ وېې لیدل چې نه یوازې یو شریط مرمۍ ور سره وې ،بلکې د چاودېدونکو توکو یو کمر بند یې په ځان پورې تړلی و .
کله چې یو کس پریکړه وکړي چې وجنېږي، ژوندی نیول یې ستونزمن کار دی. اوس ستونزه داوه چې دهغه د هویت پېژندنه وکړو. ځکه فاروقي ژېره خریلې او خپل شکل ته یې یو څه بدلون ورکړی و . له همدې کبله په زندان کې خالد ته ورغلو . خالد له امجد سره ښه پیژندل. د ګډ فعالیت په لړ کې هغه د فاروقي ( سیوری ) و. خالد د جسد په لېدلو تائېد کړه چې همدا فاروقي ده. وروسته موږ د ډي ان اې په ازموینو هم دا خبره ثابته کړه چې وژل شوی فاروقي و .
د ۲۰۰۵ کال په مئ کې مې په عراق او افغانستان کې د امریکایي ځواکونو مشر جنرال جان ابي زېد ته چې زما د لېدو لپاره راغلی و وویل چې ښه خبر درته لرم (( لیبي مو ونیو. (
ابي زېد تکړه جنرال او ښه ملری بولم.
دغه امریکایي چارواکي په حیرانۍ سره وپوښتل: رښتیا څه وخت ؟
ځواب مې ورکړ :. ځو ورځې دمخه.
ابي زېد وپوښتل: اوس چېرته دی.
په عادي ډول مې ورته وویل همدلته په اسلام اباد کې. ( لطفا ولسمشر بوش ته وواياست او که زه ورته وو ايم ؟
ابي زېد وویل ښه ده چې تا سو ورته وواياست .
ما ورته وویل نه پوهېږم . تاسو ته ورته وواياست کافي ده.
هغه په ځواب کې وویل: نه زه نشم کولی تاسو پخپله ورته وواياست .
ما ورته وویل ډېره ښه ده .

په همغه مازدیګر مې ولسمشر بوش ته زنګ وواهه او هغه مې خبر کړ. هغه له ډېرې حېرانۍ چیغه وکړه (( لېبي مو نیولی؟ ((

د بن لادن او الظواهري تر څنګ د القاعدې دنورو غړو په منځ کې یوازې لیبي ولسمشر بوش پېژانده. هغه کس چې په خپله بوش یې له ما دنېولو غوښتنه کړې وه هغه همدا فرج الیبي و .
دهغه اصلي نومصطفی محمد و. خو د ابوالفرج الیبي په نوم مشهور و. دهغه نیونه د خالد شیخ محمد په څېر مهمه وه. او په دې ارزي چې ښه بحث پرې وشي. لېبي په همغه پخواني ډول ښکار شو . درې تنه مو ونیول چې پوښتنه یې وکړه په څه غواړو چې پوه شو؟
ابوالفرج د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې کله چې په افغانستا ن کې شوروي ځواکونه مات شو او جهاد پای ته ورسېد هغه افغانستان ته د جنګ لپاره راغلی و ، چې وروسته د القاعدې مهم غړی شو .

د ۲۰۰۳ کال د مارچ په لومړۍ نیټه د خالد شیخ له نېولو وروسته هغه په القاعدې ډله کې دغه ځای خپل کړ. او دا ډېر لوړ مقام و .دی هغه مهال بیخي زیات مشهور شو چې پر ما یې دوه وژونکي برېدونه تر سره کړل .
په ۲۰۰۱ کال کې د امریکا په مشری د ایتلاف په مټ د کابل له سقوط وروسته لیبي کراچی ته راغی خو په خوځښت کې و. له کرچۍ نه د پنجاب ګوجرا انوالې ، له هغه ځایه ایبټ اباد او له هغه ځایه به باجوړ ته تلو راتلو . لیبي په پاکستان کې د القاعدې د عملیاتو د برخې مشر و . او دالقاعدې د بهرنۍ ځانې لخوايي پیسې تر لاسه کولې. د لیبي نیول اسانه و. دهغه دمخ په پوستکي د سپینو لکو یا داغونو د راپیدا کېدو له کبله په اسانۍ سره د پیژندلو وړ و . مخکې له دې چې هغه بیخي ونیسو دوه ځلې د هغه د نیولو پولې ته ور نژدې شوي و .دا کتاب د بېنوا ویب پا ڼې څخه کاپي شوی دی لومړی د ۲۰۰۴ کال د اپریل میاشتې ته ورګرځو. پر ما له دوهم برېده ۴ میاشتې وروسته مو ډېر کسان نیولي و چې یو پکې د لېبي مو ټروان و. هغه موږ ته د لېبي په اړه زیات

معلومات راکړل .
د همغو معلوماتو پر اساس مو په گوجرانواله کې یو کس ونیو چې لیبي یې په خپل کور کې ساتلو او قاصد یې هم و. دغه کس د پلټنو پر مهال په ډاگه کړه چې په ایبټ اباد کې یې یو کور په کرایه نیولی چې همدا وسهم لیبي پکې ژوند کوي. دغو کسانو خپلې کورنۍ هلته لېږدولې وې. چې لیبي افشا نشي. هغه څه چې هغه موږ ته ونه ویل دا و چې لیبي په ایبټ اباد کې له دریو کورونو گټه اخیستله. کله چې لیبي په دریم کور کې و ، زموږ کسانو پر اول کور یرغل وکړ او لیبي وتوانېده چې وتښتي .
بله تېروتنه هم په ایبټ اباد کې وه ، چا معلومات ورکړل چې د القاعدې یو مهم غړی هلته په یوه کور کې ژوند کوي ، او یو بل ډېر مهم کس چې موږ یې په لټه کې و د هغه لېدلو ته راځي. موږ نه پوهېدو چې دغه مهم کس به ابو الفرج وي. خو د دغې کتنې د مخنیوي لپاره مو کافي معلومات درلودل. زموږ کسانو د کور شاوخوا ته موضع ونیوله. کله چې ټاکل شوی میلمه راغی کور والا را ووت چې د هغه مخې ته راشي. خو کله چې ورنژدې شو میلمه شکمن چلند وکړ او هڅه یې وکړه چې وتښتي. ډزې تبادله شوې او هغه ووژل شو. دغه کس لیبي نه و ، وروسته مو چې لیبي ونیو او پلټنې مو ترې وکړې کیسه داسې وه چې لیبي تل له ځانه وړاندې د لومړي مړي په توگه یو کس چېرته استوي او خپله یې ننداره کوي. بې له شکه چې په هغه ورځ هغه کس د مړي په توگه مرگونې ننداره په خپله وکړه .
د لیبي د نیولو کیسه باید له سره پیل کړم. پاکستان وتوانېد چې د لیبي یو ملری د هغه له خبرتیا پرته ونیسي. زموږ مامورینو نیول شوی کس اړ کړ چې د لیبي سره اړیکه ونیسي او له هغه سره د لیدنې کتنې وخت وټاکي. دغه ملري یې هڅه وکړه چې په بنو کې دغه کتنه تنظیم کړي. خو لیبي ونه منله . ، لیبي وویل یوازې یو پیغام وړونکی به ور ولیږي ، چې وروسته یې دا خبره هم رد کړه. زموږ د لارښوونې سره سم دلیبي دغه نېول شوي ملري بیا وروسته د **۲۰۰۵** کال د مئ په لومړۍ د مازدېر په **۴:۳۰** بجو پېښور ته نژدې په مردان کې د کتنې نوی وخت وټاکه. د پاکستان استخباراتو خپل عملیاتي پلان جوړ کړ .
جاسوسانو معلومات ورکړل چې لیبي په یوه موټر سایکل سپور دی او بل څوک یې چلوي چې د یوه مسافر په توگه بهر شوی دی. زموږ کسانو هم خپلې وسلې پټې کړې او د موټر سایکل سپرو سره عملیاتو ته تیار شول. د **۴-۳۰** دقیقو په پوره کېدو سره لیبي په پرلپسې توگه نیول شوي ملري ته زنګ واهه او د یوه رمز یا شفر په توگه یې ځینې پوښتنې چې هر څه ښه دي. نېول شوي ملري یې ډاډ ورکړ چې هر څه عادي دي. زموږ کسانو نیول شوی یوه بازار ته یوړ چې په تیلیفون کې لیبي د ازاد چاپیریال غږ واوري او ډاډه شي چې دا کس په زندان کې نه دی او ازاد دی. موږ له هغه سره دالوبه تر سره کړه خو بیا هم په ټاکل شوي وخت کې د لیبي درک نه و. وروسته یې فون ځواب نه ورکاو .
سبا سهار ټېلېفون وشو او وویل شو چې لیبي به په **۹-۳۰** دقیقو په همغه سیمه کې حاضر وي. داد دې لپاره و چې که څه وي چې پای ته رسېدلی وي. زموږ ټول کسان هلته نه و. خو سره له هغه مو هم عملیات تر سره کړل. د لیدنې کتنې ځای یوه زړه تیاره هدیره وه. چې له زیارت کونکو ډک یو زیارت هم پکې و. زموږ درې تنو چادرې واغوستې. پوره **۹-۳۰** لیبي را ورسېد . د لیدنې کتنې له سیمې لږ لیرې له موټر سایکله کوز شو. د هغه عادت خلاف یې چې یو کس مخکې سیمې ته ولیږي هغه په سادگی سره زموږ د کسانو خواته راروان شو .سره له هغه چې هغه خولۍ او عینکې په سترگو کړې وې خو زموږ نفرو هغه پوره وپېژانده. ځکه چې د مخ په پوستکي یې داغونه له ورایه ښکارېدل. د موټر سایکل ځغلونکی یې د موټر سایکل سره نژدې ولاړ و ، خو یو وسله وال کس ورپسې را روان و. کله چې لیبي زموږ د چادرې اغوستونکو کسانو خواته را ورسېد دغې په اصلاح ښځې ورگام کړ او لیبي ته یې غېږ ورکړه. ډېره جالبه صحنه وه. د سرحد په څېر په محافظه کاره سیمه کې یوه ښځه په عام محضر کې سړي ته غېږ ورکوي. هېڅ باور نه کېده. کله چې دا پیښه وشوه د لیبي وسله وال ساتونکي چې وروسته معلومه شوه دغه پاکستانی پیغام رسونکی ابراهیم و بې واره په ماشې گوته کېښوده او بې موخې ډزې یې پیل کړې او منډه یې کړه. دغلته په نژدې کور کې پټ شو. زموږ سرتېرو هغه تعقیب او کور یې محاصره کړ. هغه ته یې ویل چې را بهر شي کله یې چې ونه منله او ښکې بهونکی گاز یې پرې استعمال کړ له مجبوریته را بهر او ونیول شو.
په همدې وخت کې موټر سایکل والا په ډېرې بېړې سره وتښتېد . هڅه مو وکړه چې روغ رمټ یې ژوندی ونیسو خو هغه په تېښته بریالی شو. نو ابو الفرج اللیبي داسې ونیول شو. او د ترهری په وړاندې دا زموږ ستره لاسته راوړنه وه. د لیبي په نېونې اود فاروقي په مړینې د **۲۰۰۵** کال دد سامبر په **۲۵** د برېد کیسه پای ته ورسېده ، او د برېد مبتکر زموږ لاسته راغی. د برېد پلانونکی ووژل شو. صلاح الدین او ملري یې چې ددوی په منځ کې یوه واسطه وه زموږ سره په بند کې و. یو شمېر واړه لوبغاړې لاهم فراري دي .
کیانې چې اوس د ( ای اس ای ) مشر دی په بریالیتوب سره یې دغه دوسیه وتړله. دغې لاسته راوړنې ډېر کسان خوښ کړل .
خو یو بل گذار پاتې و ، د **۲۰۰۳** کال د دسامبر په **۱۴** پر ما د لومړي برید مهم غړی مشتاق په پینډۍ کې د هوایي ځواکونو د یوې اډې له زندانه وتښتېد .دا ځکه چې دغه زندان معیاري نه و ، او د نظارت خونې امنیت یو څه ضعیفه و. د تېښتې وخت د سهار په **۲** بجو برابر شو چې مشتاق له ساتونکي وغوښتل د حمام لپاره اجازه ورکړي. کله چې له حمامه را بهر شو وې لیدل چې ساتونکی ویده دی. هغوی په یوه سالون کې بندیان و چې د هوایي ځواکونو رخصت شویو انجینرانو پکې خپل وسایل ساتل. مشتاق د انجینرانو کالي واغوستل د ویده ساتونکي له څنه تېر شو او له پنجرې یې ځان بهر کړ. د نظارت خونې د عمومي دروازې ساتونکي یې د انجینرانو د کالیو په اغوستلو تېر ویستل. ځکه هغوی داسې فکر نه کاو چې یو مهم بندي به یې پداسې جامو سره وتښتي.
وروسته چې کله مشتاق غواړي په بېړې سره بې له تعقیبه وتښتي او ضاع بیخي خندنی شوه. مشتاق د هوایي ځواکونو یوه موټر سایکل سپاره ته لاس

ورکړ او ترېنه غواړي چې د ډايوو موټرو اډې ته يې بوځي . له هغه ځايه د پيښور په بسونو کې چې ۱۲۰ کېلو متره واټن يې درلود سپور شو . هغه مبشر ته زړ وهي . مبشر مشتاق نور جهان ته معرفي کوي چې ۲۰۰۵ تر جنورئ پورې مشتاق له هغه سره وي . نورجهان معمولا ښځېنه نوم دی ) خو دلته نه.

له پيښوره مشتاق لاهور ته ځي چې د مبشر د تره له زامنو سره وګوري چې وايي د چرګانو په يوه فارم کې د هغه له۲ ورونو ( نوخېز او جاوېد ) سره د بهای پيرو په ښار ګوټي کې کار وکړي . هغه هغوی ته وايي چې استخباراتي اداړې ورپسې دي . وروسته مشتاق د کليم په نوم له يوه کس سره ګوري ، او دواړه په اسلام اباد کې د بهرنيانو په وژلو بحث کوي . او حتا ځيني عمليات هم پلانوي .

وروسته مشتاق د خپل کار ټلوری بدلوي ، دنوخيز او جاويد سره د اسلام اباد او راولپينډۍ ترمنځ په لويه لاره کې زما د بيا ترورنقشه جوړوي . هغوی ضروري ترتيبات نېول او د مشتاق د ۲۰۰۵ کال د اپريل په ۱۹ نېټه له لاهوره د اسلام اباد په لور راځي چې د اپريل په ۲۰ ځان وژونکی بريد تر سره کړي . خو دا هغه مهال دی چې ای اس ای يې د ښو څرک ته ور رسېدلي او د سليم په سيمه کې يې ونيو .

دا چې څه ډول ای اس ای مشتاق پيدا کوي بل په زړه پورې داستان دی . دهغه تېښتې چاروا کو ته ټکان ورکړی و . دهغه پلټنه داسې وه لکه څوک چې يوه ستنه د وښو او لوخو په درمند کې لټوي . خو په هره بېه چې وه ای اس ای ته دمشتاق د پيدا کېدو دنده وسپارل شوه . په ای اس ای کې د مشتاق د پيدا کېدو لپاره يو ځانړې ډله جوړه شوه . د کورنۍ يو شمېر غړي يې يا پخوا نېول شوي و او يا تر کلکې څارنې لاندې و . همدارنګه مو دهغه دملرو په اړه زيات معلومات درلودل او همدارنګه د هغه د پټې کورونه هم معلوم و . ای اس ای د ټيليفون درې نمبرو ته ډېر پام وکړ . لومړی نمبر په کراچۍ کې دمشتاق د مور . دويم يې په ګجرات کې دهغه د ملرې نجلی . او دريم په پيښور کې دمبشر د فون نمبر و .

کله چې مشتاق له تيښتې وروسته په همغه لومړۍ ورځ پيښور ته له رسېدو سره سم ټېلېفون وکړ مور پرې کار نه و پيل کړی.خو له۴ او نيو وروسته کله چې بل ځل هغه د تيليفون له يوې عمومي غرفې نه خپلې مور ته فون وکړ دا ځل د پيښور په ( باړه ) کې و .

خو مور پوه شو چې مشتاق په پېښور کې دی . څو ورځې وروسته هغه له مبايل ټيليفون څخه په ګجرات کې خپلې نجلی ملرې ته زړ وواهه او په خوشحالی سره يې ورته وويل ، زه له بنده تښتېدلی يم او هغوی به هېڅکله بيا ما ونه نيسي .

په ډېرې خواشينی سره چې دغې ملرې نجلی يې مشتاق ته وويل چې دده له نيولو وروسته يې اوس له يوه بل هلک سره دوستي پيل کړې . دغه خبره په مشتاق بده ولېده او ګواښ يې وکړ چې ډېر ژر به ګجرات ته سفر وکړي او دغه هلک به ووژني . سره له دې چې مشتاق ګجرات ته ژرنه ولاړ او په پېښور کې پاتې شو . چې وروسته بيا لاهور او له هغه ځايه د ۲۰۰۵ کال په جنورئ کې ( بهای پيرو ) ته ولاړ . تردې مهاله ای اس ای دهغه دټيليفون شمېره او د سېم کارت کوډ نمبر پيدا کړی و .

تردې وروسته د ۲ اړېکو په ترڅ کې ای اس ای وتوانېده چې په پيښور کې دمشتاق ټلوری او دهغه دملرو پته ولوي . مشتاق پوهېده چې ټېلېفون به يې ورته يوه ورځ جنجال پيښ کړي . دهمدې لپاره به يې په پرلپسې توګه د خپل ټيليفون سېم کارتونه بدلول . په پای کې به هغه له مختلفو سېم کارتونو ، مختلفو کسانو ، له هغې ډلې نه په ګجرات کې خپلې نجلی ملرې ته زړ واهه.

ای اس ای په دې ټولو پوهېده او لکه سېوری غوندې په پسې و . ترڅو چې د لاهور او اسلام اباد لوېې لارې ته پسې را ووتل او د سليم په چوک کې يې ونيو . هغه چې د بس په وروستۍ څوکۍ کې ناست و مبايل ټيليفون يې روښانه کړی خو خپله يې خو بونه کول . کله چې د ای اس ای افسر له هغه وغوښتل ځان وروپيژني مشتاق وويل تاسو ښه پوهيږۍ چې زه څوک يم ؟

هيله لرم چې د مشتاق قهرماني به په پای کې پای ته رسېدلې وي

## القاعده په غرونو کې

د القاعدې ډېرو غړو غرونو په ځانګړي توګه د سرحد ایالت خود مختاري قبایلي سیمو ته پناه یوړه. چې افغانستان ته نژدې وي. او د پاکستان په ښارونو کې د دغه هېواد لخوا د ترهرۍ ضد برېالېو عملیاتو څخه په امن کې وي. او همدارنه په لېرې پرتو سیمو کې د دفاعي اډو په جوړولو سره حضور ولري. له افغانستان سره ۲۳۲۰ کیلو متره پوله لرو. چې د پاکستان خوا ته سیمه په ۷ برخو ویشل شوې (خیبر، باجوړ، مهمند، اورکزی، کورمه، شمالي وزیرستان او دجنوبي وزیرستان سېمې دي.) دغه سېمه په غرونو او ناهوارو غونډېو پوښل شوې. ددغو غرونو لوړ والی له ۲۴۰۰ تر ۴۵۰۰ مترو پورې رسیېږي. چې ګرم اوړی او سخت یخ ژمي او خالي سړکونه لري. د برتانوي استعمار پر وخت هغوی د څو محدودو سړکونو څخه د تلوراتلو اجازه درلوده. چې کم یې پرانستي و.

د پاکستان د اساسي قانو ن پر اساس د فدرالي قبایلو سېمې نیمه خپلواکه دي. په دغو سېمو کې ۳،۲ میلېون قبایل ژوند کوي. چې پراخوالی یې ۲۷۲۲۰ کیلو مترمربع ته رسیږي. او په قبېلوي سیستم اداره کیږي. چې قومي مشران سیاسي او نظامي چارې په لاس کې لري.

سره له دې چې قبایل مذهبي خلک دي خو دملاېانو رول دجوماتونو پورې محدود نه دی. فدرالي حکومت د سیاسي استازو یا پولیټیکل ایجنټانو لخوا اداره کیږي. چې دمالیو په ورکړې او دخصه دار په نوم د سیمه یزو پولېسو د یوې دستېا ه لخوا اداره کیږي.

د پاکستان او افغانستان ترمنځ پوله د قبایلي سیمو له منځه تیریږي چې خلک ژورې نژادي، کورنۍ او ټولنیزې ریښې لري. په ۱۹۸۳ کې د ډېورنډ د تړون یوه ماده چې افغانستان او پخوانی هند یې سره جلا کړل د (( دخلکو د اسانتېاو دحقونو )) په نوم ده. چې د برتانیې د امپراتورۍ په وروستیو کلونو کې یې د پولې د دواړو خواو قبېلو لپاره سوداګریز او اجتماعي چارې برابرولې.

دا لړۍ تر دې دمه هم روانه ده. قبایل چې په وسلو سمبال دي په خپله وزارتونه هم لري. د جنیالیو په تاریخ کې ډېر ترخه یاد شوي. خو هغوی تل خپل هېواد پاکستان ته وفادار پاتې شوي. هغوی په ۱۹۴۸ کال کې د کشمیر په جړه کې فعاله ونډه واخیسته. او له هند سره دجړې لپاره یې د پاکستان پوځ ته جنیالي ورکړل.

سره له هغه دوی ډېر قهر جن دي. په لومړي ځل د پاکستان پوځ په ۲۰۰۲ کال کې ټولو قبایلي سیمو ته د ورننوتو اجازه ترلاسه کړه. چې لارې جوړې کړي او اقتصادي پرمختې ته وده ورکړي. زموږ ټوله موخه داده چې قبایلي سیمې له سیاسي پلوه د سرحد له ایالت سره یوځای کړو.

د سپټامبر له ۱۱ وروسته د پوځ ورتېا زیاته شوه. او په سیمه کې د انساني استخباراتو شبکه جوړه شوه. کله چې هلته دالقاعدې د شته والي په اړه لومړني معلومات ترلاسه شول ورسره مو ډېر جدي چلند ونکړ. او د ګوابښ کچه هم روښانه نه وه. د اطلاعاتو په ډېرېدو سره کرار کرار حقیقت موږ ته روښانه شو.

د ۲۰۰۱ کال په دسامبر کې چې د توري بوړې د عملیاتو له کبله د طالبانو او القاعدې ډېر غړي پاکستان ته راغلل، ما دهغوی د نیولو لپاره پراخ جا ل خپور کړ. د پوځ عادي ځواکونه او د سرحد د قول اردو چورلکې مو سېمې ته ولېږلې. ځکه چې دغه سیمه غرنی ده. موږ همدارنه له ټول هېواده قچرې او اسونه راټول کړل چې د انتقالي کنډکونو په توګه خپلو ځواکونو ته وسایل او نور توکي ورسو. او ویي ساتلای شو. د توري بوړې جال دالقاعدې د ۲۴۰ جنیالیو د نیولو لامل شو، چې د ۲۲ ملتونو غړي وو. خو ډېر یې دافغانستان او عربي هېوادونو و. دا په ټولې نړۍ کې د سپټامبر د ۱۱ له پیښې روسته د ترهرو دنیولو ستره شمېره ده. تردې وروسته مو هم لوی او واړه عملیات درلودل چې خبري رسنیو ورته ځغلنده کتنه کړې. ټولې پایلې او کیسې ښیي چې زموږ پر مختې تر هغه زیات و چې خلک پرې خبر دي.

د توري بوړې وروسته لومړیو سترو عملیاتو هرڅه روښانه کړل. دغو عملیاتو ته مو د کړه پنا د سېمې نوم ورکړ. د ۲۰۰۲ کال دجون په ۲۵ شپه مو په جنوبي وزیرستان کې عملیات پیل کړل. داسې معلومات مو ترلاسه کړل چې په دغه سیمه کې له ۳۰ تر ۳۵ پورې جنیالیان له خپلو کورنیو سره په کړه پنا کې اوسیږي. د ځانګړو ځواکونو او د سرحد دقول اردو څخه جوړ ۵۰۰ کسیز ځواک سیمې ته واستول شو، چې سیمه ویلټي د غوځواکونو شپه په ډېرو کړلېچنو لارو کې تېره کړه. د کړې پنا نه لرلیري ودرېدل او د سیمې د لارښونکو په مرسته یې د سیمې په لور بیا حرکت وکړ.

دځانګړي ځواک کسان د یو شمېر چورلکو په مټ ولیږل شو. وروسته متوجه شو چې ترهرو په لاره کې دوربینونه نصب کړي و، او سیمې ته زموږ له ور رسېد و وړاندې دوی خبر شوي دي. کله چې امنیتي کمربند ټېنګ شو ددغې سېمې ترهرو د ځان د پاک ښولو په خاطر په زاریو پیل وکړ، او ویې ویل چې دوی دوه نارینه او څلور ښځې دي چې یوه یې امیندواره ده. دا ټول دروغ و، هغوی همدارنه د ځان د بې ګنا ښولو لپاره زموږ له سرتېرو وغوښتل چې سیمه تلاشي کړي. زموږ کسانو ومنله او تیر وتل. او داسې فکر یې وکړ چې زموږ اطلاعات غلط و هغوی بې له توجه سېمې ته ور ننوتل، چې له سختو ډزو سره مخامخ شول. زموږ درې سرتیري او دوه ترهر ووژل شول او نور وتښتېدل.

دا عملیات ځانګړی بدلون وځکه چې د ګوابښ اندازه یې په ډاګه کړه. همدارنه یې د توري بوړې د بهرنیو ترهرو حضور تا یئد کړ. او دارنه داهم ثابته شوه چې ترهر د سېمه ېېزو خلکو ملاتړ له ځانه سره لري. او زموږ کسان هم دکار په سختوالي پوه شول چې د دښمن دغه معصومیت څومره تباهي راوړله.

د کڅده پنا عملیاتو همدارنه له موږ سره مرسته وکړۀ چې موږد چټک غبرګون ځانګړي ځواک او په غرونو کې سختو ضربو ته اړتیا لرو. د CENTCOM د

ځانګړي امریکایي ځواکونو او استخباراتي اجنسیو په مرسته مو په چورلکو سمبال د ځانګړي عملیاتي ډلې یو ځواک جوړ کړ.د امریکایانو د مرستو په پایله کې دغه قطعه دځانګړو ځواکونو او ګرځنده هلیکوپترو څخه جوړه وه. موږ د شپې پر مهال د الوتنو او دډزو دوړتیا د پوره کولو غوښتنه وکړه.چې د تیارولو ډاډ راکول شو .همدارنګه مو د امریکا سره ګډ همغږي تخنیکي اطلاعاتي مراکز جوړ کړل. او د بې پیلوټه الوتکو غوښتنه مو وکړه چې د امریکا لخوا دې اداره شي.

خو په خواشینی سره چې مرستي د ژمنې په پرتله کمې وې. د استخباراتي مرستو او تجهیزاتو برابرولو له هیلې زیات وخت ونیو.ترهغه مو چې نویو ځواکوو ته روزنه ورکړه او په سیمه کې مو استخباراتي شبکه جوړه کړه د القاعدې د موخو پر ضد مو په لسګونو واړه عملیات تر سره کړل. خو متاسفانه چې ډېرې بې نتیجې پاتې شول. زموږ اطلاعات به ناقص او نا وخته رارسیدل ، او زموږ ځواکونو د القاعدې دسرتېرو په وړاندې پڅ عمل کاو. موږ یوازې داسې الوتکو ته اړتیا درلوده چې د شپې پر مهال الوتنه وکولای شي. او ژمنه شوي تجهیزات تر اوسه نه دي رارسیدلي. موخو ته زموږ د کسانو د رسېدو لپاره ډېره سخته لاره وه. چې بایډ وهلې یې وای. ترهرو دکلیوالو په منځ کې جاسوسان درلودل ، او په خپله به یې هم زموږ د چلند څار کاو. د هغوی اړیکې ښې وې او له وړاندې به خبریدل چې له عملیاتو ځانونه وژغوري.

په ۲۰۰۲ کال کې مې د ښې استخباراتي شبکې د جوړولو لپاره ډېرې هڅې وکړې. چې دعمل په نوم د خپلې ډلې اغېز زیات کړم. د اطلاعاتو په برخه کې به تل د پوځ او استخباراتي ادارو ترمنځ ناوړه پوهاوی رامنځ ته کېده. پوځ به په استخباراتو تورلاو چې معلومات یې زاړه وي او استخباراتو به په پوځ د پڅ غبرګون تورونه لول.دواړه ادعاو حقیقت درلود . په ډېرو برخوکې استخباراتو زاړه او کم معلومات برابرکړي و.او پوځ هم معمولا چټک غبرګون نه دی ښولی. زموږ هدف معلوم و، خو چورلکو ته مو اړتیا وه . دامریکا متحده ایالات د تجهیزاتو په ځانګړي توګه د چورلکو دبرابرولو په برخه کې ډېر پڅ چلند درلود. د پاکستان پوځ مجبوره شو په خپلو محدودو چورلکو یرغل وکړي او یو شمېر ارزښتمنې الو تکې چې د پوځي عملیاتو لپاره ساتل شوې وې په کار واچول شوې .

یو کال وخت یې ونیو چې امریکا د چټک غبرګون ځواکونو ته چورلکې ورکړې. چې هغه هم د ورځې د عملیاتو لپاره جوړې وې. یو کال وخت د پیلو ټانو روزنې ونیو چې د شپې پر مهال عملیات ترسره کړي. وسلې، لېږدونکي بیړۍ تر اوسه نه دي برابرې شوي. دغه حالت دامریکایانو او پاکستانیانو ترمنځ په یوه او بل تورونو ته لاره هواره کړه. په پای کې پاکستان وتوانېد دپام وړ وسلې او تجهیزات د چټک غبرګون د ځواکونو لپاره ترلاسه کړي. او د ۲۰۰۳ کال تر پایه وتوانېد بریالی کیسې د ویلو لپاره ولري.

د چټک غبرګون د ډلې لومړي عملیات د بغارچین په نوم ترسره شول. عملیات د ۲۰۰۳ کال د اکتوبر په لومړۍ اونۍ کې په همغه نوم وشول. عملیات د پیاده ځواکونو په مرسته تر سره شول. چې دغې سېمې ته د تلو او راتلو په لاره کې یې د تلاشي پوستې جوړې کړې وې. کله چې د محاصرې کړۍ جوړه شوه ترهرو ډزې پیل کړې. سختو ډزو د ورځې هم دوام وکړ. چې په پایله کې مقاومت مات شو ، ټول اته تنه چې پکې سمرقند اردنی ،د القاعدې یو مهم غړی چې په وژلو یې ۵ میلیون ډالره اېښول شوي و او چیني حسن معصوم چې د ختیځ ترکستان د اسلامي غورځنګ مشر و هم ووژل شول.۱۹ تنه نور چې اته پکې بهرنیان و ونیول شول . دغو عملیاتو په جنوبي وزیر ستان کې د بهرنیو منظمو ترهرو شتون ثابت کړ .

پنځه میاشتې وروسته د ۲۰۰۴ کال د مارچ له ۱۲ تر ۲۸ پورې د سوېلي وزیر ستان د وانې په سیمه کې ستر عملیات تر سره شول. په دغه سېمه کې مو د القاعدې د فعالیتونو په اړه رپوټونه تر لاسه کړل. د سیمې له خلکو مو د جرګې پر وخت غوښتنه وکړه چې ټول بهرنیان موږ ته وسپاري. تسلیمېدونکو ته عمومي ښښنه اعلان شوه. په دې اساس هغوی نه یوازې د ښښنې چانس تر لاسه کړ بلکې په وزیر ستان کې د سوله ییز ژوند چانس یې هم وموند .د جرګې ځواب مثبت و ، او زموږ وړاندېز یې ترهرو ته ولېږداو. خو بهرنیانو رد کړه.دې کار داسې وښوله چې د القاعدې کسان په خپل واک کې دي او د سېمه ییزو خلکو تر اغېز لاندې نه دي.

له دې کبله مو تصمیم ونیو چې د سرحد د قول اردو په مټ عملیات تر سره کړو .کله چې زموږ کسان وانې ته ورسېدل ځان یې د دښمن په غوړیدلي دام کې ګیر ولېد . زموږ ځواکونه په لاندې هواره ځمکه کې و ، خو ترهرو لوړې څوکې او غونډۍ نیولې وې.

له غرونو د مرمیو باران پیل شو . زموږ ځواکونو ته درانه بشري تلفات واوښتل .له دغو جنیالیو سره چې سېمه یې په واک کې وه مبارزه ډېره سخته شوه . پوځ را وغوښتل شو چې اړو دوړ وځپي .او د سرحد د قول اردو نیمه پوځي ځواکونه له دامه بهر کړي.نږدې ۷زره سرتېري فورا سېمې ته ولېږل شو ، چې ۷ سوه یې د الوتکو له لارې ډېسانټ شو.دغو ځواکونو د چټک غبرګون د ځواکونو سره په ګډه د برغل له سېمې د محاصرې کړۍ تاو کړه ، او د پلټنې عملیات یې پیل کړل. په خواشینی سره چې د ترهرو یوه ډله له محاصرې بهر پاتې شول. ددغې ډلې لخوا درنې ډزې د پوځ په لور وشوې. چې زموږ ۱۲ تنه یې ووژل. ددغې سېمې دپاکولو لپاره مو برېد وکړ. او جګړه مو وګټله ، او وانه د القاعدې له شته والي پاکه شوه. دغو عملیاتو د ترهرو د قومندې او اړیکو مرکز له منځه یوړ. یو لړ تونلونه مو ولېدل. چې پکې پیچلي الکترانیکي تجهیزات له هغې ډلې نه د تیلیفون بدلونکي د ستاوې وې. په دغو عملیاتو کې زموږ ۲۴ سرتېري ووژل شول ،او ۵۸ نور ټپیان شول. د ترهرو تلفات هم ۶۳ تنه و چې پکې بهرنیان او سیمه ییز خلک و.

د وانې عملیات د ترهرۍ پر وړاندې ملا ماتونکي عملیات و. ځکه د عملیاتو پر شدت او قوت سربېره د ترهرۍ په وړاندې یې زموږ دمبارزې کلکه اراده وښوله.سره له دې دغو عملیا تو زموږ د تجهیزاتو او د شپې لخوا د چورلکو دالوتنې کمو والی وښود . چې زموږ او د امریکا ترمنځ یې اړیکې نورې هم

تریناڼې کړې.ددغو عملیاتو پر وخت حتي د هغو چورلکو د ګټې اخیستنې او ورکړې پر سر هم بحران پیدا شو چې دامریکا دمتحد ه ایالاتو د مخدره توکو سره دمبارزې ادارې د پاکستان د کورنیو چارو وزارت ته برابرې کړې وې . دا به ډېره ګټه وره وه که د اطلاعاتو د تایید لپاره د بې پیلوټه الوتکو څخه ګټه اخیستل شوې وای. خو موږ له هغو هم محروم و.

د وانې عملیات په سوېلي وزیرستان کې د پاکستان د پوځ پراخ عملیات و. موږ د پیښور سیمه ییزه فرقه په۲ نورو لوا ګانو سره قوي کړه. د غو ځواکونو د وانې د ساتلو دنده درلوده. په سړک د تلاشي پوستې او خندونه جوړ شول، چې د ترهرو د ازاد تګ راتګ مخه ونیسي او له وانې بهر ترهر تعقیب کړي .

د افغانستان سره په پوله او دوانې په دره کې د پاکستان د پوځ له۲ مېا شتو اضافي عملیاتوو روسته یو شمېر فراري ترهرو د ( شاکي په دره ) کې پنا ه واخیسته . هغوی هلته بیا روزنه او پلان جوړونه پیل کړه. داسې رپوټونه وه چې هلته له۲۰۰ تر ۲۵۰ پورې چچنیا یان ، ازبېکان او یو شمېر عربان او له۳۰۰ تر۴۰۰ پورې ددوی سېمه ېېز ملاتړي شته. د ۲۰۰۴ کال د جون په۱۰ مو د ترهرو د دومره ډېروالي په خاطر د شاکي عملیات پیل کړل. دغه عملیات پراخ و چې لس زره ځواکونو پکې برخه درلوده.چې پکې د چټک غبرګون او سرحد سېمه ېېزو ځواکونو برخه درلوده.

وروسته له هغه چې ۳ زره سرتېرو د بهرنۍ کړۍ محاصره جوړه کړه او شاکي ته تګ راتګ په امن کې شو ، د پاکستان هوايي ځواکونو په سیمه برید وکړ. چې د دقیقو وسلو په مټ یې پر ۹ موخو بمبار وکړ. د توپچي او دقیقو هوايي ګذارونو څخه هم کار واخیستل شو. ورسره جوخت مو د چورلکو په مټ د چټک غبرګون کسان سېمې ته ډېسانټ یا واستول. چې د پلټنې عملیات پیل کړي. په همدې وخت کې پیاده ځواکونو عملیات پیل کړل چې دره پاکه کړي. او دچټک غبرګون له سرتېرو سره یو ځای شي. وروسته ۳ زره نور سرتېري سیمي ته راواستل شول. چې د سنټوی منټوی او اپخشان نوش دري پورې دغه دره پاکه کړي.

په دغو عملیاتو کې ۴ سرتېري مړه او ۱۲ تنه نور ټپیان شول. او تر ۵۰ زیات ترهر هم ووژل شول. خو د ترهرو یوه اصلي او تبلیغاتي آډه مو دړې وړې کړه. چې پکې د قوي بمونو د جوړولو یو ه اندازه تجهیزات هم پیدا شول. د هغوی په یو شمېر پټنځایونو کې مو د تلویزون دستاوې ، لپټاپ کمپیوټرونه ،ډسک ، ثبتونکي ماشینونه او پټې یا کسټې پیدا کړې. عملیات د قبایلي کسانو سره د ټکر له امله هم د یو بدلون یو ټکی و. د ترهرو دماتې نه خوړلو ادعا ماته شوه او سیمه ییزو خلکو دهغوی له ملاتړه لاس واخیست. د سیمې خلکو د پاکستان له پوځ سره د دولت د واک په ټینګولو کې مرسته وکړه. ددغو عملیاتو بریالیتوب د وزیرو قوم دیته اړ ویست چې د شاکي په نوم تړون له دولت سره لاسلیک کړي. چې ورپسې مو د سیمې د پر مختیا لپاره کارونه پیل کړل. موږ داوخت د ښونځیو. روغتیايي مرکزونو او داوبو لولو د پروژو په رغاونه بوخت یو .

سره له دې چې موږ ۲ درې له ترهرو پاکې کړې خو هیلې مو پای ته نه وې رسېدلې. ډېر بهرني ترهر د جنوبي وزیرستان او شاکي له سمېو د تېښتې وروسته د مسعودو په قبایلي سیمه کې چې خلکو ورسره ملاتړ وښود پنا واخیسته. داسې رپوټ راغی چې د( ډېله خولا ) په سیمه کې له۲۰ تر۷۰ پورې بهرنیو ترهرو پنا ه اخیستې. او داسې وویل شو چې سېمه د ترهرو د روزنې او اکمالاتو په اصلي اډې بدله شوې. سېمه ۳ جلا ادارې او عملیاتي اډې لري. د ۲۰۰۴ کال د سپټامبر په ۹ نیټه مو هوايي برید تر سره کړ. چې په ترڅ کې یې اویا بهرني او کورني ترهر ووژل شول.لس زره پوځیانو د توپچي ځواکونو په ملاتړ د ترهرو د دریواړو اډو پر ضد ځمکني عملیات وکړل. مقاومت سخت و ، ۴۲ سرتېري مو شهیدان او ۱۴۲ نور ټپیان شول چې ۵ تنه پکې افسران و .او له اویا و زیات ترهر ووژل شول. عملیات له تلفاتو ډک و خو بریا خوړه وه ، او یوه بله دره هم پاکه شوه.

دا ستر عملیات و او په جنوبي وزیرستان کې یې د پوځي عملیاتو وروستی اندازه وښوده. تر هرو د خپلو ۳ اصلي اډو په ورانېدو دقومند ې ، روزنې ، اکمالاتي او تبلیغاتي منظمه وړتیا له لاسه ورکړه. نور پاتې ژوند ي کسان یې په وړو ډلو کې غرونو ته وتښتېدل. د هغوی سیمه ییز ملاتړي سخت بې اعتباره شول او تصمیم یې ونیو له دولت سره مرسته وکړي.د ترهرو ۳۵۰ تنه ووژل شول او ۸۰۰ نوریې ژوند ي ونیول شول. زمو ږهم ۳۰۰ سرتېري مړه شول. خو دوی به تل زموږ په خاطرو کې ژوندي وي.

مبارزه دوام لري. سره له دې چې القاعدې په جنوبي وزیرستان کې ماتې وخوړه. خو دوی د شمالي وزیرستان له مېرعلي او میرانشا نه سرونه راپورته کړل. بیا نو موږ هم دې سیمو ته توجه واړوله.

له دغو ټولو عملیاتو وروسته مو دالقاعدې د شبکې د برخو او صفاتو په اړه ښه تصویر ترلاسه کړ. القاعدې په پاکستان کې دخپل ټول زور په وخت کې ۳۰۰ تنه عرب. چچنیايي ، ازبېک او افغان جنیالي درلودل. سره له دې چې په شمالي وزیرستان کې موږ د هغوی د قومندې ، تبلیغاتو اړیکو او ادارې مرکزونه له منځه یوړل. خو لاهم هغوی په شمالي وزیرستان کې فعاله دي. ترهر دحملې په لوبه او تېښته کې ښه روزل شوي و ، او په یر غل او فرار کې بد نه و. د هغوی ډېر حرکتونه تېز او سخت دي.هغوی ډېر جړېېز توان لري. وروستی سرتېری یې تر وروستی مرمی او سلی پورې جنګېږي. هغوی په پرمختللې ټکنالوژی او پیچلو تجهیزاتو سمبال دي. چې د قومندې او ادارې په برخه کې تري ښه ګټه اخلي.

له مالي پلوه القاعده ډاډه ښکاري. دغې شبکې د مالي تر غیب او مذهبي تلقین له لارې ډېر پاکستانیان را جذب کړي دي. د سېمې د کورونو لپاره د ډوډۍ ورکول ددې شبکې په توان کې دي. یو وخت یې په زور له خلکو مرسته اخیسته .

ددغې شبکې د فزیکي عملیاتو په اړه د معلوماتو راټو لول ستونزمن کار دی. د ترهري ټول عملیات مهمو معلوماتو ته اړتیا لري. خو ددغې شبکې پر وړاندې دشپې او ورځې لخوا دحرکت کول ضروري خبره ده. په خواشینی چې زموږ له ښو هڅو سره سره موږ په خپل وخت د اطلاعاتو د راټولولو ، کشفولو

او ځارلو لپاره مډرنه ټکنا لوژي نه درلوده. زموږ د پوځ عملیات د ډاډ منو فني معلوماتو پر اساس تر سره کېده. چې د امریکا د متحده ایالاتو د منابعو لخوا ورکول کېده.

د القاعدې يو اغېزمن کار د تبلیغاتو په ډګر کې داو چې خپل غړي يې د اسلام رېښتې پیروان بلل، او د پاکستان پوځ يې د امریکې او لوید یځ تر ببرغ لاندې کافران ګڼل.له دغو زهرجنو تبلیغاتو سره مبارزه ډېره مهمه وه. ځکه چې د القاعدې دا پیغام د نا لوستو لپاره د تېر وتنې ښه وسیله وه. زموږ د پوځ قومندانانو د دې ډول تبلیغاتو په وړاندې مهمه دنده د خپلو کسانو په منځ کې درلوده. زه ویاړ کوم چې زموږ د پوځ مشرانو خپل سرتیري پوره په خپل نظر سمبال وساتل، چې حقیقت ورته تیاره ښکاره نشي. او په ډېر قوت سره د پاکستان ضد عناصرو پر ضد وجنیږي او پدې پوه شي چې جګړه د دین پر سر نه ده.

ورسره جوخت دا سې ویل شوي چې پاکستان د ترهری ضد جګړه کې کافي هڅې نه کوي. دا سې ادعاوې د هغو کسانو لخوا کیږي چې له حقیقته نه وي خبر. د ترهری پر وړاندې نړیواله مبارزه پاکستان د خپلو ملي ګټو په اساس کوي. نو هیڅ دلیل نشته چې موږ د خپلو ملي ګټو لپاره کافي کار ونکړو.په واقیعت کې پاکستان د ترهری ضد جګړه کې تر ټولو هیوادونو زیاتې هڅې کړي دي. او موږ تر ټولو زیات تلفات او قرباني ورکړې ده. موږ د ترهری ضد مبارزې لپاره خپل اتیا زره ځواکونه ګمارلي. د تلاشي او ځارنې ۹۰۰ پوستې مو د افغانستان سره په پوله اچولي. دا ډېره نا هیلې کونکې ده چې زموږ له دومره هڅو سره سره ځینې کسان عمدي نیوکه کوي. او د ترهری ضد جګړه کې زموږ ونډه ریشخندوي.موږ تر ټولو هېوادو زیاته قرباني ورکړې. او د دغې مبارزې دوام ته هم ژمن یو.

په پاکستان يو بل معمول تور دادی چې په افغانستان کې کېدونکي ترهر کارونه د پاکستان له قبایلي سیمو منشه اخلي. دغو ادعا وخلکو ته منفي انېرنه ورکړې چې پاکستان ترهر تحریکوي او هغوی ته پې پټن ځایونه برابر کړي دي. دا تبلیغات په هغو هڅو پورې تړلي چې په افغانستان کې د پاکستان ضد احساسات را وپاروي. ټوله نړی په ځانړي توګه د ترهری ضد د نړیوال اییتلاف غړي هیوادونه د دغو ناوړه تبلیغاتو د پردې شاته موخې باندې باېد پوه شي. د پاکستان ټیکاو د افغانستان په سوله کې نغښتې.افغان دولت باېد په نورو د نیوکو پر ځای د خپل هېواد په دننه کې د سولې را وستو ته زیات کار وکړي.

د طالبا نو اډه د افغانستان په سوېل کندهار کې ده. د ایتلاف پر ضد زیات ترهر عملیات د افغانستان له دننه څخه پلان کیږي چې له پاکستانه هلته نشي رسیدی.خو پدې هم سترګې نشي پټېدای چې د پاکستانه افغانستان ته د اوږدې او نا هوارې پولې له کبله د ترهرو داوښتو پوره مخه نشي نیول کېدای. او دا صفا دروغ دي چې وویل شي په افغانستان کې د تاو ترخوالي ټوله پړه د پاکستان په غاړه ده.

پدې سربېره د القاعدې غړي د بهرني توب له کبله د پیژندو وړ دي، خو طالبان د پښتنو د قبیلې څخه دي او د دوست او دښمن د پیژندو کار يې سخت کړی دی. حقیقت خو دادی چې په افغانستان ډېر ترهر فعالیتونه هېوادنۍ ریښې لري. سره له دې چې له پاکستا نه هم دځینو مبارزو ډلو کسان افغانستان ته اوړي خو اصلي ناروغي په افغانستان کې ده. موږ باېد له یوه او بل سره مرسته وکړو چې دغه شومه پدیده له لارې ورکه شي. نه دا چې په یوه او بل نېوکې وکړو او یوې ګډې موخې ته ونه رسېږو.

له یوه بل ناوړه تعبېر سره چې پاکستان باېد مبارزه وکړي داده چې وایي د طالبا نو او القاعدې مشر د پاکستان له خاورې فعالیت کوي. دا بې ثبوته ګمان دی. د پولې غرونو او نا هواره سېمو د ترهر د پټېدو لپاره فرصت برابر کړی دی. د پولې اخوا د افغانستان خوا ته هم ورته کېسه ده. ځکه دواړو خوا و ته یو ډول ځمکه پرته ده. دا په داسې حال کې ده چې موږ د پاکستان خوا ته کلک امنیتي ګامونه او چت کړي خو د افغانستان خوا ته د داسې څه درک نشته. د افغانستان په کلیوالو سیمو کې هېڅ پوځي عملیات نه دي تر سره شوي. له همدې کبله ډېره اسانه ده چې د پاکستان په پرتله د افغانستان خوا ته پناه واخلي.

د دغو ټولو تورونو، ناوړه تعبېرونو او اختلافونو سره سره موږ د ترهری ضد جګړه کې واټن له مینځه یوړ. پا کستان په افغانستان کې د ترهری سره د نړېوالې مبارزې په برخه کې د ایتلاف له ملرو، په ځانړي توګه له امریکا سره ښې اړیکې ټینګې کړي دي. او س موږ د ستراتیژیکو، عملیاتي او تاکتیکي همغږی لپاره ګډو اړیکو ته اړتیا لرو.

خو هغه مهم سوال چې لا ځوابه پاتې کیږي د اسامه بن لادن او ایمن الظواهري د اوسېدا سېمه او ځای دی. کېدای شي په قبایلي سېمو کې د خپلو پلو یانو خوا ته پټ شوی وي. خو کېدای شي د افغانستان په دننه کې له ملا عمر سره میلمه وي. او یا هم کېدای شي د افغانستان او پاکستان په ګډه پوله کې چېرته پټ وي. چې پلټونکي يې پیدا نکړي. پا کستان د القاعدې شبکه داسې ځپلې چې او س په تیښته کې ده. او په هېله ده چې د څو کاله پخوا په څېر په ځواک بدل او د منظمو پلان شویو عملیاتو وړتیا پیدا کړي، خو او س هغه څه ته چې موږ اړتیا لرو دادي چې پر دغې ډلې خپل فشار روان وساتو، او القاعدې ته د بیا سمبالتیا وخت ورنکړو. زه په باور سره وایم چې موږ د ترهری ضد جګړه ګټو. زه په خپل پوځ د هغو ټولو قربانیو په خاطر چې د خپل هېواد او ملت د دفاع لپاره پې ورکړي ویاړ م. دا جنګ باید زموږ په ګټه پای ته ورسېږي

## ۲۲ څپرکی

له د بن سره د ترهرۍ تړاو .

کله چې د شپې لخوا يوازې مطالعه کوم په وار وار راته دافکر پيدا شي چې پاکستان څرنګه له دغه افراطيت سره مخامخ شو ؟
ولې زموږ ملت د خرابۍ خواته مخه شوه ؟
د شيعه او سني مذهبو ترمنځ يو څه تاو تريخوالی و ، خو نورپاکستان يو عادي هېواد و. نو دا فکر کوم چې څرنګه د ترهري او افراطېت له او سني وضعې سره مخامخ شو ؟
د بنسټ پالی دغه ذخم له کال ۱۹۷۹ راپه ديخوا چې کله شوروي اتحاد پر افغانستان يرغل وکړ راپيدا شو. د روسانو غوښتنه دا و ه چې د هند په بحر کې د پاکستان ګرمو اوبو ته ورسېږي. ناڅاپه متوجه شو چې له دوو خواو له ګواښ سره مخامخ شوي يو ، هند په ختيځ او شورويان په افغانستان کې له بدا ګي حکومت سره له لوېد يځې خوا له سخت ګواښ سره مخا مخ کړي و. ملت او پوځ له حيرانۍ او سرګردانۍ سره مخا مخ شوي و. له نېکمرغه په امريکا کې د رونالډ ريګن په ټاکلو سره امريکا د شورويانو د نړولو لپاره افغانستان مهمه سېمه وبلله. په افغانستان کې جهاد پيل شو . پا کستان هم افغانستان ته د نژدې والي له کبله د جهاد د لومړی کرښې ملاتړی شو .افغان جنسالاران او مليشو ته وسلې ورکول شوې چې له شورويانو سره وجنيږي. د ټولې اسلامي نړی ، او د پاکستان له ځينو دېني مدرسو نه له۲۰ تر ۳۰ زرو پورې مجاهدين سمبال. تمويل او وروزل شول چې له افغانانو سره د شورويانو پروړاندې جړې کې مرسته وکړي. تر ۱۹۷۹ کال وړاندې زموږ د دېني مدرسو شمېر ډېر کم وو. او دومره مهم فعاليتونه يې هم نه درلودل. دافغانستان جهاد دغو مدرسو ته اهميت ورکړ او دافغانستان د جهاد څخه د ولسمشر ضيا الحق کلک ملاتړ هم ددوی تر شاو .
1980لسيزه ټوله د مذهبي تندلاری شاهده وه. چې د ضيا لخوا هڅول کېده. په دې هم سترګې نشو پټولای چې د سرحد ايالت سخت دريځي ملايان د دغه جهاد ښکاره ملاتړي و. ځکه چې دافغانستان پښتانه د اسلام څخه خپل ځانګړی فرقه يې تفسير لري. جنرال ضيا د خپلو سياسي او شخصي ګټو لپاره مذهبي تندلاري په غبږ کې ونيول. او د پاکستان اکثريت منځ لاري يې له پا مه وغورځول. د شوروي کافرانو سره جړه د جهاديانو لپاره يو سپېڅلي دلېل شو. او ګڼ پاکستانيان په خپله خوښه له دغه بهير سره يو ځای شول .
دغه جهاد لس کاله دوام وکړاو په کال ۱۹۸۹ کې شورويانو ماتې وخوړه. هغوی په بې شرمی سره له افغانستانه ووتل ،او په غټه اندازه درنې وسلې ، ټانکونه ، توپونه او حتي اولوتکې يې د مهماتو له زېرمو سره تر شا پرېښول. د برلين د دېوال په نړيدو او د شورويانو د ګواښ په له مينځه تلو سره اروپا او امريکا هم ژر سېمه خوشې کړه. په افغانستان کې د واک د ناڅاپي تشې د رامنځ ته کېدو له کبله لومړی په کابل کې د شوروي لاس پوڅی دولت چپه شو .
وروسته ددغې تشې لمنه د واک پر سر د جنسالارانو د جړو له کبله دافغانانو د وژلو او وينې تويېدو کچې ته لوړه شوه. له ۱۹۸۹ تر ۲۰۰۱ کاله پورې د ۱۲ کلونو لپاره افغانستان په کورنۍ جړه کې ښکېل شو .ددغو بدمرغيو له کبله( د شورويانو له اشغاله د کورنۍ جړې تر وينې بهولو پورې دافغانانو ستونزې ۳ برابره شوې. لومړی څلور ميليونه خلک پاکستان ته په کډوالۍ مجبور شول ، دوهم په ۱۹۹۵ کال کې طالبان راوټوکېدل ، او دريم نړيوال مجاهدېن د القاعدې په چوکاټ کې سره را غونډ شول ، چې د منځنی اسيا د تازه خپلواکه شويو جمهوريتونو ، دناراضه چچنيايانو او د ګڼو عربي هېوادونو لخوا ورسره ملاتړ وشو.په همدې وخت کې د سپټامبر د ۱۱ پېښه رامنځ ته شوه. نړی ته يې بدلون ورکړ. حتی مخکې له دې چې د امريکې د هغه وخت د بهرنيو چارو وزير کولن پاول ماته زنګ ووهي او د مرستې غوښتونکي شي او يا ولسمشر بوش په خپله وينا کې ووايي چې (( نړی يا له موږ سره ده او يا زموږ په وړاندې ده. ) ) زه په دې پوهېدم چې پاکستان په بوه دوه لارې کې ودرېد. په پاکستان کې زموږ لپاره چانس په لاس راغلی وچې د خپلو ملي ګټو پر اساس د ترهری ربښې له بېخه وکاږو . او دا فرصت بايد له لاسه نه وای تللای. سخت دريځي چې شمېر يې زيات شوی و له اندازې زيات وسه وال شوي و او موږ په پټ ډول له هغوی سره مبارزه نشوه کولای. په افغانستان کې د امريکا د متحدو ايالتونو لخوا د قهرېدلي برېد او هلته د نا ارامیو او چريکي جنګونو وروسته د القاعدې ډېر جنياليي زمو ږ لوېد يځو ښارونو او غرونو ته را ننوتل .
پر ما له ځان وژونکي بريد وړاندې د پاکستان وضيعت خراب شوی و .
دا يوازې د افغانستان اوږد مهالی جنجال نه و ، بلکې په ۱۹۸۹ کال کې د هند تر اداري لاندې د کشمير د ازادي غوښتنې جنګ هم په پاکستانی ټولنې ژور اغيز وکړ. دغه مبارزې په بوه کورني پاڅون پيل شوې ، چې وروسته د خلکو لاريونونه د سرينګر سړکونه ډک کړل. دهند د قانون پلي کونکو ادارو په بېرحمانه ډول سره د ازادي غوښتونکو غورځنګ وټکاو. د پوځ د ملاتړ لپاره ستر ځواک د سرينګر درې ته واستول شو. چې غورځنګ له سياسي پلوه په بنسټ کې له منځه يوسي. غورځنګ د خپلې دفاع لپاره غبرګون وښود . ډېر کسان يې وتښتېدل او وسلې ته يې لاس کړ. وروسته له هغوی نه سخت جنياليان جوړ شول. چې دهند پر ځواکونو چريکي برېدونه ترسره کوي. د پاکستان خلک د احساساتو او مهربانی له مخې له خپلو کشميري ورونو سره خوا خوږي لري . دټول هېواد څخه په لسګونو ملاتړې ډلې دهند ي پوځ پر وړاندې جهاد ته منظمې شولې .
موږ ۲۲ کاله په خپلو لويد يځو او شپاړس کاله په ختيځو پولو په کشمير کې له نا ارامیو سره مخا مخ و. اوس په پاکستان کې د دمخدره توکو ، وسلې

درلودلو او جنالیتوب فرهنګ وده کړیده. د القاعدې په څیرد خطرناکې ډلې خاښونه او پانې په لویو ښارونو او له افغانستان سره په پوله په قبایلي سیمو کې پراخې شوې. د یوې موخې لپاره وژل، چاودنو، موټربمونو او ځان وژونکو بریدونو رښتې نیولې. پر ما او لومړي وزیر شوکت عزیز وژونکي بریدونه ددغې کیسې بوه برخه ده. دا هغه شرایط دي چې له۲۲ کالونو راهیسې پاکستان ورسره مخامخ دی او اوس هم ترې ځوریږو. خو ترهری سره په روانې مبارزې کې زموږ یو لږ بریاو تریوې کچې خطرونه کم کړي دي. کله چې فکر کوم که موږ له دغو کسانو سره دمبارزې تصمیم نه وای نیولی او سه به په کوم حالت کې و ټکان خورم. خو هغه څه چې زموږ زړه خوري په لوبدیځ کې دځینو کسانو ناوړه پوهاوی او نه پوهېدنه ده چې موږ په دغه ډګر کې څومره تلفات ورکړي. . که موږ د شوروی ضد جهاد سره نه و یوځای شوي او هغوی له افغانستانه نه وای وتلي ایا تر اوسه به سړه جګړه پای ته رسېدلې وای ؟ موږ هغه کار وکړ چې هېتلر او ناپیلیون ونشو کولای. موږ په جهاد کې دخپلو ملرو پر مټ شوروی مات کړ. که پاکستان له صحنې بهر ساتل شوی وای هیڅکله به جهاد نه و بریالی شوی. له بلې خوا که امریکا له صحنې وېستل شوې وای هېڅوک نه پوهیږي څه به شوي وای ؟

کله چې د المان د استخباراتو مشر د پاکستان د استخباراتو مشر ته د برلین د دېوال دېوې تابلو یوه لېکلې نسخه ورکړه. چې ماولوسته (( هغه چاته ډالۍ چې لومړی ضربه یې وځپله )) زړه مې ډاډ پیدا کړ.

د القاعدې د پاکستاني شبکې دله منځه وړلو په برخه کې زموږ بریا د پاکستان د ژغورنې لپاره ښه پیلو. خو د سخت دریځو دماتې لپاره ستر واړین پاتې دی. موږ باید همدارنګه له هغوی سره مخامخ شو او پاکستان یو ځل بیا د سوله ییز ژوند ځای او دخپلې ټپي ټولنې درملنه وکړو.

د پاکستان خلک له دننه یو مذهبي او منځ لاري ټولنه ده. پاکستان هغه اسلامي هېواد دی چې د هند دلوېي وچې د مسلمانانو لپاره جوړ شو. خو ددغې ټولنې بوه وړوکې برخه تندلاري دي، چې دغه ډله دد ین په اړه لنډفکر، متعصب او پیچلې نظر لري. ستونزه له هغه ځایه راپیدا کیږي چې دغه تندلاري ډله غواړي خپله عقیده او نظریه پر نور وتپي. دغه کسان نه یوازې جګړه مار او دعوه جلب دي، بلکې کېدای شي د ترهری خواته تلقین او وهڅول شي.

له دغو تندلارو اخوا د ټولنې غټه روڼ اندې برخه په ۳ لوبو برخو ویشل کیږي.

په بوه خوا کې نیمه لوستي روحانیون په ډېرې ښې نظریې او د اسلام په اړه د ښه درک درلودونکي

بله خوا لوستي روڼ اندي دي چې په ریښتینې توګه دین پیژني.

او دریمه ډله د پاکستان کم لوستي ټولنه ده چې په کلیو او نیمه ښاري سیمو کې ژوند کوي. هغوی هم منځ لاري کسان دي چې د (( ژوند وکړه او نوروته هم د ژوند اجازه ورکړه )) په فلسفې ولاړ دي.

هغوی د سپیڅلو ځایونو زیارت ته درومي، او دخوبولې موسیقي یا تصوف سره مینه لري. خو سخت دریځي دهغوی د بې وزلی او بې سوادی څخه ګټه اخلي او په خپلو ډلو کې دهغوی د ګمارلو هڅې کوي. چې معمولا بریالي کیږي. په ځانګړې توګه نیمه لوستي ملایان ژر ددوی تر اغېز لاندې راځي خو سره له دې ټولو زموږ په ټولنه کې داسې تندلارې شته چې نه نالوستي او نه هم بې وزلي دي. نو هغوی څه شي هڅولي ؟ زه فکر کوم چې هغوی د مسلمانانو له خرابو حالاتو او بېزارۍ له کبله له هغوی سره یو ځای شوي. لکه سیاسي بې عدالتي، ټولنې ځپل او دهغوی ګوښه کول. چې ډېر مسلمانان یې خنډې ته کړي دي. د ببلې په توګه اسامه بن لادن، ډاکټر ایمن الظواهري، خالد شیخ محمد، او عمر سعېد شیخ. دا ټول بډای او تحصیل کړي کسان دي. چې دو تنو یې د امریکا او برتانیې په پوهنتونونو کې لوست کړی دی. او یو هم په برتانیې کې زیږیدلی. چې ددغه قشر دتازه نمونو شاهدان په لندن کې د جولای د ۷ دچاودنو یو. په خواشینی سره چې پوهو او روښانه مسلمانانو، ټولنې ته دحقیقي اسلام د روزنې مسولیت نه دی ترسره کړی. بلکې هغه یې نیمچه ملایانو ته خوشې کړی دی. د ټولنې روڼ اندي خپلو ماشومانو ته د لمر د رڼا لاندې هر ډول مضامین ښیي. خو کله چې خبره د اسلام شي نو هغوی بیا د اهمم مسولیت د کوڅې ملاېانو ته خوشې کوي. تحصیل کړو خلکو په دیني جنجالونو کې په ښکېلتیا ځان نه دی پوی کړی. هغوی هېڅکله د سپټامبر ۱۱ او پر مسلمانانو یې د اغیز اټکل نه کاو. اوس هغوی له ناوړین سره مخامخ شوي دي.

نن د ټولنې غټه برخه نه پوهیږي چې دمختلفو او جدي مسلو په وړاندې چې نړی او په ځانګړې توګه اسلاکې نړی ورسره مخامخ ده د اسلام واقعي دریځ څه ده ؟ هغوی باید دملایانو له دغو پیچلو نظریو څخه خلاص کړو، او د اسلام د روښانه پیغام (عدالت (په لوړیې وخوځو. دا ستره ننګونه زموږ په مخ کې ده. خو بې له شکه به پرې بریالي کیږو.

لکه څنګه مې چې وړاندې وویل تجربې ښولې چې د القاعدې بهرنیان په پاکستان کې د ترهرو بریدونو مبتکرین دي. څه موده وروسته دغو مبتکرینو پاکستاني پلان جوړونکي پیدا کړل. دغو پلان جوړونکو تندلارو مذهبي ډلو ته لاره پیدا کړه، او یا یې هم په خپله متعصبې ډلې جوړوي او دمعینو ترهرو بریدونو ماموریت ورسپاري. دغه برید کونکي دنورو په واک کې دي. دوی تل په مذهبي مفکورو نه هڅول کیږي، خو سره له دې دغه ډول په پاکستان کې د بن له ترهری سره ګډ شوی دی.

که ترهر یوه ونه وبولو نو برید کونکي یې یوازې پانې دي. تر کله چې ونه تازه وساتل شي پانې ستریږي او ډېریږي. نو په داسې حال کې دالقاعدې ټوله شبکه، د بریدونو مبتکرین او پلان جوړونکي یې خاښونه دي. د القاعدې په له منځه وړلو سره به د ونې یو خاښ له منځه ولاړ شي. که دا غټ خاښ هم وي خو ونه هېڅکله نه ده وچه شوې. تر کومه یې چې ریښې ژوندی وي د ترهری (ونه) به هم په پرلپسې توګه تازه وي.

څه شی ددې لامل کېږي چې یو انسان بل انسان ووژني ؟

څه شی د دي لامل کيږي چې يو کس د خپل ځان په ضايع کولو سره د نورو ژوند اخيستلو ته چمتو کيږي؟
هرڅه چې دي يوه قوي انبږه لري. زه پوره باور لرم، يو لامل چې يو کس تندلاري او افراطيت ته مجبوره وي ، نا هيلي ، ناتواني او سياسي بې عدالتي ده.
دا اتل د ترهری د ونې ريښې دي. دا ونه بايد له څانګو او ريښو سره له منځه يوړل شي. يوازې هله( ونه ) ورکولای شو چې لومړی يې ريښې ور وچې کړو. او دغې موخې ته د رسيدو لار د بې عدالتی او سياسي ځپلو حالاتو له منځه وړل دي. که د(ونې) ريښې له منځه ولاړې نشي نا هيلي به زياته شي. ريښې مهم او قوی دلیل دی چې بلاخرا د ترهری ونې ته قوت ورکوي.
دغه احساسات هله چوي چې له بې سوادی او بې وزلی سره يو ځای شي. دا هغه څه دي چې نن سبا په نړی کې ډېر مسلمانان ورسره مخامخ شوي دي. کله چې يو کس په دغه ډول فکر او په همغه اندازه بې سوادی چې دی عقيده ولري دځان وژنې په برید سره د جنت کليد دده په غاړه کې لويږي. چې ډېر ځان وژونکي په همدې عقيده دي. دغه ډول بد مرغه ژوند دوی پر مخ بيايي. د انتحار لپاره به ښه ښکار وي. نو ولې موږ بايد دخپلو سياسي موخو لپاره کار ونکړو؟
او خپله تباره نړی دخپل ځان لپاره ښه هوسا سيمه نکړو؟
په لندن کې د جولای د ۷ نيټې بم ايښودونکو نه هم بې وزلي ، نه هم نالوستي او نه هم سياسي محروميت درلود .په ډاګه ويلای شو چې دې لارې ته دهغوی دورې لامل په هغه ټولنه کې اقتصادي او ټولنيزه ځپلتيا مسله وه. په هغه ټولنه کې چې دوی ژوند کاو دوی ته نه وه جوړه ،.نا انډوله چلند او ددوی پر هم مذهبو د بې رحميو کول، دوی ترهری ته د تلو لپاره اړ ويستل.
نن بايد له دې ټولوسره مبارزه وکړو. موږ ځام پوهونې ، وړ چلند او ريښتينې تلارې ته اړېتيا لرو. زه ښه بولم چې ترهری ته ځواب په دوه ډوله ټلارو ، لنډمهالي او اوږد مها لو باندې ور کړو. په لنډ مهال کې په ټول زور سره ترهری ته بايد ځواب ورکول شي. او موجودېت ته يې پای ورکړو. خو بيا هم اړتيا ده چې د ترهری ګوابښ له بېخه ورک کړو. له هغو مسلو سره چې ترهری روزي په دريو کړيو کې په خاصو شرايطو مبارزه وکړو.
اول په نړېوا له کچه.
دوېم د اسلامي نړی په کچه.
او دريم دهر هېواد په ملي کچه.
په نړېوا له کچه د نړيوالو ستونزو او جنجالونو د حل لپاره بايد لارې وپلټو.
د اسلامي نړی په کچه بايد ډار اچونه او ترهري وغندو او د اقتصادي او ټولنيزو پرمختيا لپاره خپلې تلارې ځانړې کړو.
په کورنی او ملي کچه ځان يادوم چې پاکستان ته د کومو کارونو د کولو اړتيا ده. بې له شکه بايد د ترهری سره د جړې په کرښه کې مخامخ شو. او په ټول زور ور سره وجنيږو. چې له خپل هېواد ه يې ريښې ورکې کړو.
کومه تلاره چې پاکستان په مخ کې نيولې داده چې په لوړه کچه د ترهرو اعمالو پلان جوړونکې نيسي او له منځه يې وړي. او داموخه په پاکستان کې بريا لی ختلې او زموږ په هېواد کې يې د ترهری ملا ماته کړې. خو سره له دې هم بايد زېات کار وشي. پر تروريزم بايد روان فشار وساتل شي. او ترهرو ته د بيا منظمېدو وخت ورنه کول شي. ستره بريا د ترهری د رهبری په له منځه وړلو کې پرته ده . خو وروستی بريا به هله تر لاسه شي چې د تروريزم ريښې ورکې شي ، او هغه دا چې د مسلمانانو په وړاندې بې عدالتي ته بايد پای ور کول شي. او دا کار د لوېدېځ ، په ځانړې توګه د امريکا دمتحدو ايالتونو په واک کې دی .
د ترهری ستونزې ته پای ورکول احتياط غواړي چې پکې مذهبي او فرقه يي افراطيت ته ځواب ورکول هم راځي. دا دخلکو دزړونو او فکرونو د لاس ته راوړلو مبارزه ده. فکرونه په زور نشو بدلولای ، افکار بايد د قوي منطق له لارې بدل شي. او بايد دې کار ته لاره هواره شي. دغه هڅه د ټولنې خاموش معتدل قشر ته دحرکت په ورکولو کې دی، چې را پورته شي او مثبت رول ولوبوي. دغو مسلو ته د پام کولو پر وخت ډاډه يم چې دا ټولې ستونزې به حل شي .موږ ټولې بنسټپاله ډلې غېر قانوني اعلان او له منځه يوړې. د پيسو له ترلاسه کولو مو محروم او او دڅارنې لاندې مو ونيولې چې د نورو ډلو په توګه را دبره نشي . دغو هڅو ته بايد په جرات سره دوام ورکړو.همدارنګه مو دنفرت دخپرولو کتابونه ، مجلې ، ورځپاڼې ، اعلاميې ، او نورو خپرنيز شيان منع کړي دي . د ښونځيو د رسمي پروګرام مو اصلاح کړ ،چې د مذهبي نفرت او جلا والي ټول مواد مو ترې لرې کړل. دهغه پر ځای مو د ريښتينې دين روحيه او حقيقي ارزښتونه ور زيات کړل.چې فردي او ټولنيزه ازادي ته پکې پام شوی. همدارنګه مو د جوماتونو د لوډ سپيکرونو له لارې ناوړه تبليغات او مذهبي تا و تريخوالي ته لمن وهل تر څارنې لاندې ونيول.دېني مدرسو ته پر ديني مضمونو نو سربېره د معياري او عصري لوست لارښونه کو ، چې د ازموينو داخيستو د اداري لخوا د ازموينو اخيستل هم په نظر کې نيول شوي دي. چې د مدرسو زدکونکي دروحانيت تر څنګ په نوې حرفيې هم سمبال کړو .
په پای کې به د روښانه دېني عالمانو په مرسته د اسلام په اړه ملي بحثونه جوړ کړو چې د ټولنې د خلکو ذهنونه ښه لوري ته رهبري کړي. کېدای شي دا به د مسلمانانو د رنسانس د دورې پيل وي. لکه هغه ډول چې په پاکستان کې شوی.
د ډېرو اسلامي هېوادونو ترمنځ ګډ فرهنيي ، فکري ، او عاطفي يو والي شته ، ډېر څه د زدکولو او د تجربو د بدلو لو لپاره لرو. ډېر کارونه بايد تر سره کړو خو هله به بريالي شو چې يو ځای او ژمن سره پاتې شو.

۲ برخه
د پاکستان ننئ او بهرنئ څېره.

د هستوي وسلو پراختیا:

د هستوي وسلو له کبله سویلي اسیا د نړی د اندېښنو مرکز ګرځېد لی . د سړې جګړې له پای ته رسېدو وړاندې د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ سیالي چې دواړه ځواکونه په زرګونو هستوي وسلو سمبال دي نړی یې په میخونو پوښلې وه. کله به چې دغو دواړو هېوادونو خپلې تورې له تېکې را وویستې ، په ځانګړې توګه د کوریا د توغندیو د بحران له کبله ، نو دنړی نفس به ودرېد . خو کله چې پاکستان په هند پسې دهستوي وسلو د د رلودونکو هېوادونو په کتار کې ودرېد ، او سره مخامخ به شول دنړی نفس به تنګ شو .دا د سړې جګړې نه بد حالت و ،چې له لېرې وا ټنه به د دوو ځواکونو په استازېتوب روان و، ځکه دښمن زموږ په ګاونډ کې و. او په پرلپسې توګه به جګړې ته سره مخامخ شو. چې دیوې لوېې سېمې د کنټرول پر سر مو سره جنجال و. دا سې اختلاف چې د بوه هېبواد له جوړېښت راهیسې دکنترول د کرښې دواړو خواو ته د پرتو سېمو د اداره کولو پر سر مو سره دعوه وه. دا سړه جګړه نه بلکې دواړو هېوادونو یو اوبل د مرګ غېږې ته غورځول.
په دې وخت کې وسلې په ننبه -او ګوتې هم په ماشې سپرې وې. په هستوي وسلو د سویلي اسیا سمبالتیا هله تائېد شوه چې هند په ۱۹۹۸ د مئ په ۱۱ او ۱۳ ، پنځه هستوي ازموېنې وکړې . او پاکستان یې هم په ځواب کې د همدې میاشتې په ۲۸ او ۳۰ نیټه ۲ هستوي بمونه وازموېل. دا ځل نړی د ۱۹۴۷ کال په پرتله چې هند په یوازې سر خپل لومړی هستوي ازموینه کړې وه ډېر ټکان وخوړ.
هند د ۱۹۴۷ کال ازموینه سوله ېېزه چاودنه ونوموله ، او نړی هم دنا خوښی د اشارو په ورکولو سره ومنله. خو دغې سوله ېېزې ازموېنې نه یوازې په جنوبي اسیا کې د هستوي وسلو د سیالی لپاره لاره پرانېسته بلکې هستوي ترهری ته یې هم لاره برابره کړه. ځکه چې ګا ونډېو هېوادونو له دې کبله فوق العاده اند ېښنې تجربه کړې. خو په ۱۹۹۸ کې پاکستان له دې کبله محکوم شو چې لومړی اسلامي هېواد و چې هستوي وسله یې تر لاسه کړه. دغه ډول هڅه د پاکستان په دننه کې ډېر عادلانه وبلل شوه. ځکه هغه هېواد چې سیال یې اتومي بمب لري همغه لاره وهي چې موږ پرې ګام اېښی. موږ پوهېدو چې د پاکستان د سا تلو لپاره یوازې په امرېکا تکیه کول ناسم کار دی.
حقیقت دادی چې پاکستان تل دهند سره د واک او ځواک د انډول په لټه کې و. ګوا ښونه ددغې هڅې غوښتنه کوي. تر ۱۹۴۷ کاله پورې دا انډول یوازې په پیاده ځواکونو پورې تړلی و. خو کله چې هند اتومي وسله تر لاسه کړه ، نو موږ یې له مجبوریته د هستوي وسلو جوړولو ته اړ ویستو ، او په هره بیه چې وایي موږ باېد دواک انډ ول په سېمه کې برابر کړی وای.
دغه ګام د ۱۹۷۱ کال له جګړې پوره درې کاله وروسته پورته شو. چې هند ختیځ پاکستان له موږ جلا کړ. خو عجیبه داوه چې له ۱۹۷۴ تر ۱۹۹۸ پورې د پولې دواړو غاړو ته وضیعت نسبتا ارام و. موږ د ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ او ۱۹۲۵ تر ۱۹۷۱ پورې خونړې جنونه تر شا پرېښې و. په سېمه کې د ۲۴ کلن هستوي انډول د نشتوالي په ترخ کې موږ د کشمیر او سیا چین په سېمو کې دکنټرول پر کرښه په نا قصو جګړو کې ښکېل و. خو شدت یې کم و. سره له دې چې موږ د ۱۹۲۵ تر ۱۹۷۱ کلونو په څیر جګړې تر ۱۹۹۸ پورې نه درلودې. خو په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۲ کې دوه ځلې د پام وړ ځواکونه دواړو غاړوته په حرکت راوستل شول. کېدای شي دغه تیار جنګ ته دواړه هېوادونه دخپلو ګټو له کبله نه و ور غلي. خو هېڅکله باېد وضیعت دومره خراب نشي چې بېرته عادي کول یې ستونزمن کار وي.
ددې مسلې او نړیوال امنیت په خاطر باېد دکشمیر کړکیچ حل کړو.
په دغه څپرکي کې به پدې رڼا واچو چې په څه ډول پاکستان هستوي وسلې تر لاسه کړې او له پولو اخوا د هستوي وسلو خپرېدل څه خطرونه لري.
ډاکټرعبدالقدیر خان چې د فلزاتو د استخراج او ویلې کولو په برخه کې تخصص لري.په هالنډ کې(URENCO)په نوم د یورانېمو د بډایه کولو په یوه لابراتوار کې یې کار کاو . هغه په ۱۹۷۵ کال کې دېته تیاری وښود چې د پاکستان دحکومت لپاره خدمت وکړي چې سمدلاسه پاکستان ته را وغوښتل شو.
ډاکټر خان له هغه ځایه د سنټرفیوژ د دسټاو نقشه هم له ځا نه سره راوړه.
موږ دهغه د پلان پر اساس د سنټرفیوژ د جوړولو کار د یورانېمو دغني کولو په خپلو لابراتوارونو کې پیل کړ. په وروسته کلونو کې مو دخپلې اړتیا وړ مواد او ټکنولوژي د یوې ځمکنی شبکې له لارې چې په اروپایي هېوادونو کې وه ترلاسه کړه.
ددغو کلونو په ترخ کې هند هم د خپلو هستوي وسلو په پراخولو بوخت و. کېدای شي دواړو هېوادونو ته دهمدغې یوې غېرې دولتي شبکې له لارې دهستوي وسلو دپراختیا مواد را رسول کېدل.
ځکه هند لومړی تخنیک او بیا هستوي وسلو ته اړتیا درلوده. هند غوښتل په دې کار سره په سېمه اونړی کې خپل زور او ځواک ، او په سویل ختیځې اسیا او دخلیج په سېمه باندې خپل برلاسی وښیې. خو داچې ولې پاکستان تصمیم ونیو هستوي تخنیک تر لاسه کړي ؟ ځواب یې ډېر روښانه دی. او د نورې نړی د نظریې خلاف موږ دهند د ګواښ په وړاندې خپلې دفاع ته اړتیا درلوده.
هند بر غلېزه موخه درلوده. خو دپاکستان موخه دفاعي وه. نړیوالو دهند پر ځای پر موږ فشار راوړ ، چې د یورانیمو له غني کولو لاس په سر شو. دا زما

لپاره منطقي خبره نه وه. زه تل دغه چلند غیر عادلانه بولم. که نړۍ په رښتیا په سیمه کې د هستوي وسلو د پراختیا دمخنیوي جدي پلان درلودلای باید اصلي بنسټ یې مهار کړی وای. سترو هیوادونو باید دهند دهستوي وسلو د پراختیا او ورتیا مخه نیولې وای . که لومړۍ هند دغه گام نه و پورته کړی ، پاکستان به هیڅکله هستوي تخنیک ته لاس نه و اوږد کړی.چې په عوض کې یې سویلي اسیا دهستوي وسلو او ټکنالوژۍ د لیږدولو تور بازار شو.
د پاکستان هستوي پروگرام ډیر پټ ساتل شوې و . د هستوي ټکنالوژۍ د پراختیا رهبري د ۱۹۷۰ په لسیزه کې د لومړي وزیر ذرلفقار علي بوټو په غاړه و، چې نیغ په نیغه یې له ډاکټر عبدالقدیر خان سره معامله کوله. پیسې د خان په واک کې ورکړل شوې او د کار څخه یې هیڅ لید نه نه کیده. ددې کار امنیت هم د قدیر خان په واک کې ورکړل شوی و . کله چې ضیاالحق د هیواد مشر شو ، ورته اړیکې د ولسمشر او کارپوهانو تر منځ ټینګې پاتې شوې.
په ۱۹۸۸ کال کې د ضیا تر مړینې وروسته غلام اسحق خان ولسمشر شو . له کومه چې هغه یو غیر نظامي سړی و د پوځ د مشر پښه دې معاملې ته راکش شوه. له هغه وروسته د پاکستان د پوځ مشر د ولسمشر په استازیتوب د هستوي ټکنالوژۍ د پراختیا مدیریت په غاړه واخیست او له قدیر خان سره یې اړیکې درلودې. دغې لړۍ دوام پیدا کړ خو دا زنځیر په پرله پسې توگه اوږد شو . د پروگرام مسوولیت له لومړي وزیر نه وروسته د پوځ یو مشر ته چې تورن جنرال و سپارل شو ،چې د مبارزې او تجهیزاتو د پراختیا د عمومي ریس په توگه وټاکل شو.
ډاکټر خان به خپل رپوټ هغه ته وړاندې کاوه. بلې هیڅ اداري پدې کار کې لاس نه درلود او د پوځ څخه هم هیڅ چا پدې کار کې ونډه نه درلوده.
د پوځ په اړه په ټول صلاحیت سره دا خبره کوم. ځکه زه په ۱۹۹۲ کال کې د پوځي عملیاتو عمومي مشر وم. هغه دنده چې باید ټولو حساسو پوځي پروگرامونو او عملیاتو باندې خبر وای ، خو زه د هستوي مسلې له کارونو څخه څومره لرې ساتل شوی وم.فکر کوم دا ډول چلند د کاري پروگرام د پټ ساتلو لپاره سم کار و.
د پاکستان ټول خلک د هستوي ټکنالوژۍ او اتومي وسلو د ترلاسه کولو غوښتونکي وو. ډاکټر قدیر خان ددې ټولو هڅو سره کارپوه نه و . خو هغه د خپل ځان د مشهورولو او مطرح کیدلو لپاره یې ډیره لوړه پوهه او استعداد درلود او خلک یې داسي قانع کړل چې فکر یې کاوه قدیر خان اتومي بم په یو لاس جوړولې شي.
پدې سربیره سیاسي مشرانو هم په عمومي غونډو کې د هستوي ورتیا په اړه د استراتیژیکو لاملونو له مخې قصدا ځان غوښتني کولې او ځان به یې معلوماو ، خو نه پوهید م چې د هستوي ټکنالوژۍ د پراختیا کوم پړاوته رسیدلې و . د هغه زیات باور او پوره ازادۍ له کبله چې قدیر خان ته ورکړل شوی و نور هم له دې کاري بهیر ناخبره و . موږ اصلا فکر نه کاوه چې قدیر خان به دومره غیر مسوولانه او بې پروا چلند وکړي.
ما د ۱۹۹۸ کال د اکتوبر په ۸ نیټه د لومړۍ هستوي ازموینې پوره پنځه میاشتې وروسته چې تر دې مهاله قدیر خان عملا ملي قهرمان شوی و د پوځ لوې درستیز ته ارتقا وکړه. څه موده وروسته قدیر فورا "د اسلامي اتوم بمب د پلار "لقب د خلکو او نړۍ په منځ کې خپل کړ. لکه چې اتوم بم هم دین ولري. ما دغه صفتونه ظاهري او سپکونکي وبلل. د هیڅ هیواد بم ته د هندو ، یهودي ، عیسوي ، کپیټالیست یا کمونیست نوم نه و ورکړل شوی ،خو ز موږ بم په یو ډول اسلامي وبلل شو .لکه چې اسلامیت هغه غیر مشروع کړي وي. زه فکر کوم دا غیر منطقي او اساسا نژاد پرستانه نظریه ده.
اوس نو په هره بیه چې وه قدیر خان زما مسوولیت و . له همدې کبله لومړي وزیر نواز شریف ته مې لومړی وړاندیز داو چې د هستوي ټکنالوژۍ د پراختیا او ستراتیژیک سازمانونه باید د باوري ساتونکو تر کنټرول لاندې راولو.

ما خپل وړاندیزونه لومړي وزیر ته د پوځ په مرکزي قوماندانی کې وړاندې کړل او همدارنګه مې د(( ملي قومندې د اداري )) په نوم یوه لیکلې طرحه د حکومت په دننه کې دعملیاتو د مالي او امنیتي کنټرول د مسولیت دمنلو ، د یوه مدیریت دجوړولو وړاندیز هم وکړ. هغه مسولیت چې تر دې دمه قدیر خان ته ور پاتې و. دا طرحه مې ځکه ورکړه ، چې د څو علمي سازمانونو له هغې ډلې دخان د تحقیقاتي لابراتوارونو او د پاکستان د اتومي انرژۍ د کمیسیون ترمنځ د نا هماهنۍ شاهد وم.
په خواشینی سره چې وړاندیز ونه منل شو. او د نواز شریف په دوره کې ورته هیڅ رڼا ونه رسیده. سره له دې د ۱۹۹۹ کال په اپریل کې مې تصمیم ونیو چې په لومړنیو پوړیو کې په غیر رسمي توگه د ستراتیژیکو پروگرامونو یو مدیریت د عمومي قومندانی د مرکز په چوکاټ کې جوړ کړم. تردې مهاله د مبارزې د پراختیا اداره له ستونزو سره مخامخ شوې وه. خو سمدلاسه د قدیر خان په شکمنو حرکتونو پوه شوم.
پاکستان له شمالي کوریا سره د نقدو پیسو په وړاندې د معمولي بالستیک توغندیو او ټکنولوژۍ د رالیږدولو تړون لاسلیک کړی و. په ټینګار سره وایم چې دغه تړون په هیڅ صورت دهستوي ټکنالوژۍ په بدل کې نه و ،لکه څرنګه چې نا خبره لیکوالان وایي.
داسې رپوټ راورسید چې د شمالي کوریا یو شمیر هستوي کارپوهان دتوغندیو دانجینرانو په جامو کې دخان تحقیقاتي لابراتوارونو ته را رسیدلي. او د سنټر فیوژ د دستګاو په اړه پټ معلومات ترلاسه کوي چې د کارخانو څخه لیږد نه هم ددغه پروگرام یوه برخه ده. ما دا خبره ډیره جدي ونیوله ، لوی درستیز ، د آی اس آی مشر او عبدالقدیر خان مې د پوښتنو گرویږنو لپاره را وغوښتل. هغه سمدلاسه دغه تورونه رد کړل. نورمې څه معلومات ترلاسه نکړل ، خو اندیښمن وم. د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر په ۱۲ د پاکستان د دولت دمسولیت له ترلاسه کولو وروسته مې شخصا د ټولو ستراتیژیکو پروگرامونو مسولیت په خپله غاړه واخیست.

زه پوه شوم چې ددغه کار لپاره کافي وخت نه لرم. تصمیم مې ونیو هغه سیستم رامنځ ته کړم چې وړاندې مې یې وړاندیز کړی و. د ۲۰۰۰ کال په فبروری کې زموږ د ستراتېژیکو وسلو له پامه لوېدلی پروګرام تر رسمي پلان شوي کنټرول لاندې راغی. او ما هم هغه تائید کړ.

ددغه جوړښت په سرکې د ملي قوماندې مرکز و. چې پکې ولسمشر ، لومړی وزیر، د فدرال حکومت مهم وزیران ، نظامي ریسان او مهم کارپوهان شامل و.

دا لوړ رتبه جوړښت د ټولو سیاسي مسلو له هغې ډلې زموږ د ستراتیژیکو پروګرامونو مشولېن شول.

د( ستراتېژیکو پروګرامونو دڅېړېدا ) په نوم یوه نوې اداره د پوځ دعمومي ریس تر اداري لاندې جوړه شوه چې د ملي قوماندې له مرکز سره زموږد ستراتېژیکوپروګرامونو د اجرا او څارنې په برخه کې مرسته وکړي. د ټولو علمي سازمانونو ، مالي او امنېتي کنټرول ددغې ادارې په واک کې ورکول شو. ورسره جوخت مو د( پوځ ستراتېژیکه قوما نداني ) ، سمندرې ځواکونه او هوايي قواوې جوړې کړې چې ټولو سترا تېژیکو سیمو ته ورسیږي. چې ورسره یې د مرکزي او سازماندهي شویو عملیاتو کنټرول ( دملي قومندې له مرکز ) سره رامنځ ته کړ.

ددغو ګامونو په پایله کې دوه موخې ترلاسه شوې:

اول: ډېر ژر په راتلونکو څو میاشتو او کلونو کې له جزئیاتو پرته د قدیر خان د پټو فعا لیتونوپه اړه بوڅه معلومات وشول.

دوهم: دولت د قدیر خان د روانو فعالېتونو د کنټرول په اړه یو څه ښه شو. چې یو شمېر دغه خطرونه په بل قوه توګه خطرناک و.

تردې وړاندې قدیرخان د اجازې له اخیستلو پرته په پرلپسې توګه بهرته تلای شو. خو تردې وروسته دا سې ټېنګار وشو چې دهغه د سفر دموخو په اړه باید موږ ته معلومات راکول شي. خو له دې سره سره مو معلومات ترلاسه کړل چې خان له یو شمېر دا سې هېوادونو لېدنه کړې چې نوم یې د سفر په غوښتنلیک کې نه دی لیکلی.

یو ځل خبر شو چې د شمالي کوریا څخه د توغندیو د رالیږلو لپاره په کرایه شوې الوتکه کې د قدیر خان یوڅه بار شوي دي. خو د ورکول شوي خبر منبع نور جزئیات ورنکړل. موږ دقدیر خان په کارونو شک درلود.

په الوتکې د ېرغل او پټې تا لاشی پلان مو ونیو. او الوتکه مو له الوتنې وړاندې وپلټله ، خو په خواشینی سره چې څه پیدا نشو. وروسته خبر شو چې دخان کسان د پولېسو له پلانه خبر شوي وا و شکمن بار یې الوتکې ته نه و خیژولی.

یو ځل بل مو معلومات ترلاسه کړل چې قدیر خان له ګمرک څخه د یوې قرار دادي الوتکې د توکو د بېرته رخصتولو یا لېږلو غوښتونکي شوی ، چې له دربېم هېواده اسلام اباد ته راوړل کېده. ددغې الوتکې په پلان کې د ایران د زاهدان څخه د تلواو راتلو پر وخت د دوه ځلي تېلو د اخېستو پروګرام و.

دهغه دغې غوښتنې بو ځل بیا ډېر فکرونه او ګمانونه راپیدا کړل. کله مو چې ددغه کار د لامل پوښتنه وکړه. ویې ویل الوتکې د توپونو یوه اندازه قرار دادي مهمات راوړي دي.خو په ډاګه د تلو او راتلو پر وخت په ایران کې ددغې الوتکې د کیناستلو په اړه توضیحات ورنکول شو. پاکستان ته دمهماتو راوړل مو تائید کړه ، خو الوتکې ته مو په ایران کې د ناستې اجازه ورنکړه . څو ورځې وروسته مو معلومات تر لاسه کړل چې دغه الوتکه اصلا پاکستان ته نه ده راغلې . روښانه خبره وه چې مهما ت دنورو شیانو لپاره بوه بهانه یا پوښ و.

ورته نورې پیښې هم شوي. او زه باور لرم چې قدیر خان له خپل موقف او دندې ناوړه ګټه اخیستې ده. چې د پاکستان دملي امنیت لپاره فوق العاده خطرناکه ده. ځکه لکه څرنګه چې وویل شو قدیر خان دهستوي وسلو په برخه کې تخصص درلود. او له دغه مقام څخه ناوړه ګټه اخیستنه ډارونکې وه. په پای کې له سختو ګواښونو او دده پر کار کړنو له څارنې وروسته هغه خپل چلند محطا تانه کړ. وروسته ښاغلي خان دا سې ګامونه پورته کړل چې ښکاربدل هغه غواړي پر خپلو یو شمېر کړنو خاورې اړوي.

کرار کرار په ډاګه شوه چې عبدالقدیر خان د ستونزې یوه برخه نه ده بلکې پخپله هغه ( ټوله ستونزه ) ده. دهغه په موجودیت کې دخان د تحقیقاتي لابراتوارونو د کار کړنو په اړه پوره معلومات نه ترلاسه کېدل.

له دې کبله بوازېنی اصلي چاره دهغه ګوښه کول و. بنا په ۲۰۰۰ کال کې مو تصمیم ونیو چې دهمدې کال د مارچ په مپاشت کې دهغه دکار د ترون له پای ته رسېدو سره سم مو هغه متقاعد کړ. خو سوال دا و چې دهغه دتقاعد طرحه څه ډول عملي کړو. هغه د پاکستان دعادي خلکو لپاره یو قهرمان و. په تیر وخت کې څوځلې په اتومات ډول دهغه کاري ترون نوی شوي و.خو ما داځل پریکړه وکړه چې نوردهغه کاري ترون ته د پای ټکی کیږدم.په همدې ډول مې دپاکستان د اټومي کمیسیون د مشر ډاکټر اشفق احمد ترون چې ډیر اوچت کار پوه او د احترام وړ کس و له منځه یوړ. حقیقت دادی چې اشفق د قدیر د ګوښه کېدو قرباني شو.په اشفق مې ډېر زړه بد شو. ځکه هغه لاهم د هېواد د پرمختګ لپاره ډېرې وړتیاوې درلودې. د ۲۰۰۱ کال د مارچ په ۳۰ نېټه قدیر دخان د تحقیقاتي لابراتوارونو د مشر په توګه له خپل مقامه په اغېزمنه توګه ګوښه او جلا شو. خو د خلکو دنیوکو او غالمغال د کمولو لپاره مو هغه دفدرال وزیر د واکونو سره سم سلاکار وزیر وټاکه. تردې وروسته هغه زموږ دهستوي وسلو د پراختیا په ډګر کې هېڅ عملي کاراو واک نه درلود. په خبري رسنیو کې انتقادي تبصرې خپرې شوې ، خو وروسته او ضاع ارامه شوه. او زه له خپل نیول شوي تصمیمه خوښ وم. کله چې قدیر خان له منځه لېرې شو د پاکستان علمي ټولنو د متقابل احترام او دوه اړخیز و مرستو په مټ وکولای شو روښانه کړنلاره پر مخ بوزي . قدیر خان دا سې ځان غوښتونکی کس وچې اصلا یې نه غوښت ډله بز کار وکړي. هغه له ځانه پورته کس نه غوښت چې د هستوي ټکنالوژۍ په ډګر کې وړاندې ولاړ شي. ډاکټر خان ډېر نفساني خوا هشات درلودل. او په ډېر هنر سره یې دخبري رسنیو څخه په ناوړه ګټې اخیستو کې ښه بلد و. دغو ټولو صفاتو له هغه نه یو بل ډول کس جوړ کړی و.

د سپټامبر له ۱۱ وروسته زه د هستوي وسلو د پراختیا په برخه کې د امریکا د متحدو ایالتونو تر زیات فشار لاندې راغلم ، په واقیعت کې ۲ مسلو امریکا ته اندیښنې پیدا کړې وې.
اول دا چې هغوی زما د کاریز امنیت په اړه ډیر ډاډه نه و ، او له دې یې ویره درلوده چې که احتمالا د پاکستان مشری ته کوم تندلاری لاره پیدا کړي او هستوي وسلو ته یې لاس ورسیږي.
دویم: امریکا زموږ د هستوي وسلو د ساتنې د څرنګوالي په اړه اندیښنه درلوده ، چې خدای مکړه دا وسلې د افراطي ډلو لاس ته ورنشي. ډیره هڅه مې وکړه چې دغه دواړه شکونه او ګمانونه لیرې کړم ، ما د خپل ملت په ملاتړ او د ترهری ضد نړیوالې ټلوالي سره د یو ځای په تصمیم باور درلود.
زه همدارنګه د پاکستان په هستوي وسلو د څارنې او کنټرول د سیستم د جوړېدو په ګټو ډاډه وم ، خو له دې اندیښمن وم چې کېدای شي قدیر خان د ۲۰۰۱ کال له مارچ وړاندې په غیر قانوني فعالیتونو کې لاس درلودلی وي. خو ټینګ باور مې درلود چې د هغه لخوا د هستوي ټکنالوژۍ د لیږدولو ټولې لارې مې بندې کړې او په ګوښه کولو یې ستونزه له منځه تللې ده.
خو زه تیر وتی وم . ظاهرا هغه په دوبی کې د خپلې شبکې د یوې برخي لخوا په ډاګه کارته دوام ورکړ. د امریکا اندیښنې څو برابره شوې. هر امریکایې چارواکي له ولسمشر بوش نیولې تر بل ټیټ پوړي چارواکي پورې به چې کله له ما سره غږېدل او یا به یې له پاکستا نه لیدنه کوله د پاکستان د هستوي وسلو د امنیت له پلوه به یې خپلې اندیښنې شریکولې. کولن پاول چې نه یوازې زما ښه دوست بلکې یو متوازن ، هوښیار او توانا شخص دی هم په دې اړه له ما د ډاډ غوښتنه وکړه.
زما ځواب دا و چې د پاکستان په چاپیر یال او د وسلو د ساتلو په خپل پلي سیستم پوره باور لرم. سره له هغه د قدیرخان له ګوښه کولو وروسته د متحدو ایالتونو په یوه رسمي ناسته کې په تیر وخت کې په پاکستان کې د هستوي وسلو د پراختیا د پروګرام په اړه یو لړ سوالونه وشول. هغوی هم لکه موږ غوندې کلک شواهد په لاس کې نه درلودل. موږ بیا تورونه رد کړل ، ځکه هیڅ قطعي شواهد مو نه درلودل. دا یوازې ګمانونه و ،مهمې لوڅونې یا افشا ګری چې ګوابسونکي و ،او ټولو د قدیرخان په فعالیتونو پورې اړه درلوده له ۲۰۰۲ کال وروسته رامنځ ته شوې.
په دې وخت کې د امریکا ستره اندیښنه د شمالي کوریا په اړه وه. موږ یو ځل بیا له شمالي کوریا سره د هستوي وسلو د پراختیا په ډګر کې د مرستې تورونه رد کړل. موږ توضیح کړه چې موږ په یوه ډول د قرار داد شوېو وسلو د پراختیا په برخه کې د شمالي کوریا سره همکاري کړېده ، خو د هستوي وسلو په برخه کې هیڅکله داسې کار نه دی شوی. تر کومه چې د پاکستان حکومت خبر و دا څرګندونې پوره سمې او صادقانه نه وې.

د ۲۰۰۲ کال په وروستیو کې چې د امریکا متحدو ایا لاتو له شمالي کوریا سره رسمي مذاکرات درلودل کوریا یانو افشا کړه چې هغوی حتی تر دې (( پیچلي ټکنولوژی )) لري چې کېدای شي د یورانیمو د غني کولو ټکنالوژۍ ته یې اشاره وي. هغه څه چې متحده ایالات ترې خبرنه و. امریک دا څرګندونې له پاکستانه هغه هیواد ته د سنټرفیوژ د ټکناولوژی د انتقال په توګه درک کړه. د پاکستان پر وړاندې بد ګماني تردې کچې زیاتې شوې چې امریکا مجبوره شو د خپلو حاکمو قوانینو له مخې پر پاکستان بندیزونه ولوی.
دا سې بندیزونه چې د پاکستان لپاره یې ناورین راوړ.خو له نیکمرغه په دغه موده کې ما له ولسمشر بوش سره دوستانه اړیکې ټینګې کړې � د دغه اړیکې په باور او ګډو ګټو ولاړې وې. ولسمشر بوش بندیزونه یوازې د خان د لابراتورونو کچې ته راکم کړ. سره له دې هم د خان د هستوي پوهې د غیر قانوني لیږدونې په اړه پر موږ پرتو فشارونو دوام وکړ. موږ په پټه هڅه وکړه د خان د کارونو په ټولو برخو ښه پوه شو ، خو بریالي نشو.
څه موده وروسته د بمب په تړا بله مسله رامنځ ته شوه . د ۲۰۰۳ کال په منځ کې د ایران څخه د اتومي وسلو د څارنې د نړیوالې ادارې د پلټنو پرمهال د هستوي وسلو د پراختیا نښې هغه مهال پیدا شوې چې په ایران کې د یورانیمو د غني کولو ډیرې کارخانې پیدا شوې. زموږ په ګمان دغې پیښې فوراً د خان له کارونو سره د احتمالي رابطې درلودلو ته قوت ورکړ.
زه د قدیرخان په هکله هره ورځ په زړه او مغزو کې زیات بد ګانه کېدم � وروسته پدې عقیده شوم چې مسله باید له بیخه او که اړتیا وي له رسمي پلټنو لاندې دې ونیول شي.
د ۲۰۰۳ کال په سپټامبر کې د ملرو ملتونو په عمومي غونډې کې له ولسمشر بوش سره په لیدنه کې ښاغلي بوش زه ګوښه کړم او راته ویې ویل که سبا وخت ولرم د امریکا د استخباراتي ادارې له مشر جورج ټینیټ سره ووینم ، بوش وویل ډیره جدي مسله ده او ستاسو لپاره هم ډیره مهمه ده ، ما منله.
سبا سهار ټینیټ زما دا وسېدا هوټل ته راغی له لومړنی احوال پوښتنې وروسته یې یو شمیر پاڼې را ووېستې او زما مخې ته یې کیښودې.. مادغه اسناد چې د پاکستان p-1 سنټر فیوژ جزئیات پکې راغلي و ښه وپیژندل. دغه سنټر فیوز اوس له کاره لوېدلي و ، خو په لومړیو پړاونو کې د هستوي انرژۍ د پروګرام د پراختیا په وخت کې د قدیر خان تر څارنې لاندې وه. دغه پاڼې په رنګه عکسونو ، د هرې برخې په شمیرې ، تاریخونو او لاسلیکونو ډکې وې ، د خبرو لپاره مې هیڅ نه درلودل. زه ډیر کم له داسې حالاتو سره مخامخ شوی وم ، خو داځل مې د ویلو لپاره یوه کلیمه هم نه درلوده. سمدلاسه مې فکر پا کستان ته وا وښت ،چې په څه ډول یې له دغه خطر څخه وساتم ؟ دوهم فکر مې د قدیر خان په اړه له اندازې زیات قهر و.
ځکه هغه پاکستان له خطر سره مخا مخ کړی و. هیڅ شک نه و چې قدیر زموږ هستوي ټکنالوژی هیواد په هیواد ګرځولې او پلورلې وه. خو سره له دې هم

ټينګښت په دې اړه څه ونه ويل او په پاڼو د قديرنوم هم نه وو ذکر شوی، نور يې د تېرو کړنو په اړه هيڅ شک نه و پاتې. ځان مې شاته وويست، او ټينګښت ته مې وويل غواړم دغه پاڼې يوسم چې مفصل تحقيقات پيل کړم، هغه ومنله. بايد ووايم چې ټينګښت په ما خپل پوره باور ننداريې ته وړاندې کړ. د ولسمشر بوش او دهغه دټولې ډلې باور په داسې حالاتو کې د پاکستان د ښه وضيعت د تابتولو لپاره خاص اهميت درلود.
اوس نود کېسې ټول مرداري را وتی و او د پاکستان مخ يې لړلی و. وروسته د هستوي انرژي د پلټنې د نړيوال سازمان پلټونکو د ايران د ډورانېمو دغني کولو سنټر فيوزونه پيدا کړل چې ايراني چارواکو په اسانۍ سره په بهرنيو منابعو پورې وتړل. پاکستان دخبري رسنيو لپاره د سرټکی شو. خو لکه چې دا هم کافي نه وه، د ۲۰۰۳ کال په وروستيو کې په مديترانه کې د ( BBCCHINA) په نوم يوه بېړۍ ونيول شوه چې له ماليزيا نه يې ليبيا ته دحساسو سنټرفيوژونو ځينې برخې لېږدولې، د ماليزيا د کارخاني اړيکه د خان له کارونو سره پيدا او ثبت شوه. ليبيا دخپلې هستوي انرژۍ او سنټرفيوژ منبع پاکستان وښوده .دنړۍ په وړاندې موږ د غير قانوني هستوي ټکناولوژۍ منبع او ځينو ته د خطرناک حاکم رژيم په توګه وپيژندل شو. له دې کبله بايد په چټکۍ او قاطع ډول موعملي کار کړی وای چې د نورو غير قانوني فعاليتونو مخه ونيسو، او په دې پوه شو چې ريښتيا څه روان دي. د ۲۰۰۳ کال د نوامبر په لومړيو کې مو خپلې پلټنې پيل کړې. افشا ګريو موجونه وهل، پلټونکو په ډاګه کړه چې قدير خان له۱۹۸۷ کال راهيسې خپل فعاليتونه له ايران سره پيل کړي و.
له۱۹۹۴ تر ۱۹۹۵ پورې قدير خان د ۲۰۰ P_1سنټر فيوزونود جوړېدو امر کړی و، چې ۱۹۸۰لسيزې په منځ کې د پاکستان لخوا يو خوا پرېښول شوی و. دغه وروسته دوبی ته لېږدول شوي و. وروسته چې کوم تصوير لاس ته راغی ډېر خراب و. عبدالقدير خان ټولې نړۍ ته دهستوي تخنيک يوه غير قانوني خصوصي شبکه له دوبی نه رهبري کوله. د شبکې يوه برخه يې دخان په تحقيقاتي لابراتوار کې وه. چې دخان تر لاس لاندې د زرګونو پو هانو په منځ کې ددغې شبکې کسان له څلورو تر شپږو پورې کسان وو. خو ثابته شوه چې ډېر نوريې بې خبره شريکان و، چې دخان د وينا سره سم به يې کار کاو او دخپل کار له موخو او پايلو نا خبره و.

د شبکې د رهبری برخه په دوبی کې وه. چې د هستوي ټکنالوژۍ د برابرولو او لېږلو سره يې کار درلود. په شبکه کې څو اروپايي سوداګر او يو شمېر شکمن کسان و.
د هغو پلټنو پر اساس چې موږ له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۴ پورې تر سره کړل ټول راټول شوي معلومات د اټومي انرژۍ د نړيوال سازمان او نړيوالو استخباراتي ادارو سره صادقانه او پوره شريک شوي دي. په باور سره ويلای شم چې نه د پاکستان پوځ او نه هم د پاکستان حکومتونه د هستوي پراختيا په دغه پروګرام کې ګډ يا شريک و. او حتي له هغه يې معلومات هم نه لرل. دا ټوله ننداره د قدير خان وه. چې د پيسو د ترلاسه کولو لپاره يې تر سره کوله. دخپلو لاس ته راوړنو څخه د نه ساتنې له کبله خان په اسانی سره دملت له پامه ولوېد.
د هستوي زدکړې په برخه کې د خان پټ ګډون کېدای شي هغه سخت غمجن ناورين وي چې زه ورسره مخا مخ شوی يم. لوېدیځ په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالاتو دهغه د بدن پوټکی غوښت. خو د پاکستانيانو لپاره لاهم هغه يو اتل و، يو په زړه پورې نوم دا چې د پاکستان دغرور پلاريعنې ددغه هېواد د اتومي بمب دپلار په توګه پيژندل کېده. خو حقيقت دادی چې هغه يوازې د فلزاتو د ويلې کولو او را ويستلو د فن يو کارپوه او دهستوي انرژۍ په پيچلي پروګرام کې يوازې يوه وړه برخه وه.
خو خان توانېدلی و، د البرت انشټين او روبرت اوپنهېمايرد يوه ترکيب په توګه ځان وښيي. ما بايد چټک کار کړی وای چې نړيوالو اندېښنو ته ځواب ويل شوی وای او ورسره جوخت مې ددغه قهرمان په اړه دخلکو داحساساتو د راپارېدو مخه نيوله. په خواشينی سره چې مخالفو ډلو ددې پر ځای چې يو عمومي وحدت دملي غم پر وخت وښيي.
ددغې رسوايي په لړ کې يې پر ما د بريد لپاره ډېره علاقه درلوده.
ما نړۍ ته ډاډ ورکړ چې نورو هېوادونو ته دهستوي انرژۍ د پراختيا چاره د يوه کس کار و، نه د پاکستان پوځ او نه حکومت په دې کې لاس درلود. تر دې سخته مسله د عبدالقدير خان علني محکمه وه. ځکه خلکو د هغه دجرم د ثبوت پر وخت هم اعتراض کاو. زه دحل دداسې لارې د پيدا کولو په لټه کې وم چې ټولو ته دمنلو وړ وي.
له همدې کبله مې غوښتل له قدير خان سره مخامخ وګورم او خبرې ورسره وکړم. کله مې چې خبرې ورسره وکړې او موجود شواهد مې ورته وښول، قدير خان مات شو او وېې منله چې د ګناه د کولو احساس کوي.
خان له ما وغوښتل چې رسمي عفوه ورته وکړم. له هغه مې وغوښتل چې د پاکستان له ملت نه رسمي بخښنه وغواړي. تصميم ونيول شو ښه لاره داده چې خان د تلوېزيون پر پرده راڅرګند شي او د ملت دشرمولو او نړيوال پرستيج ته يې د زيان رسولو له کبله شخصا بښنه وغواړي. له هغه وروسته مې دهغه د عفوه کولو غوښتنه ومنله. خو هغه مې تر څارنې لاندې ونيولو چې د پاتې پلټنو سره مرسته وکړي او همدارنګه دده شخصي امنيت هم خوندي وي.
دهمدغو موخو لپاره مو هغه يوې خواته کړ او په کور کې مو محدود کړ دهغه دفعاليتونو په اړه مو زيات جزيات تر لاسه کړل چې ټول مو د اټومي انرژۍ د څارنې د نړيوال سازمان او نړيوالو استخباراتي ادارو سره شريک کړل. دغه معلومات ددغې شبکې د له منځه وړلو په نړيوال ډګر کې ښه په درد وخوړل.

هیڅ شک نشته چې د هستوي ټکناولوژی د ډېرولو په شبکه کې مرکزي عنصر و. خو د یو شمیر پیسه دوستو کارکونکو د کلونو همکاری له برکته د ټولو هېوادونو له هغې ډلې داروپا د هستوي تخنیک د سنټر فېوزونو په برخه کې مواد برابر کړي دي.
د قدیر خان په وینا همکاران یې د سویس، هالنډ ، برتانیا ، او سریلانکا و. ډېر دغه کسان چې په دوبی او اروپا کې میشت و په شخصي سوداگری کې بوخت و. په دوبی کې میشتې شبکې همدارنګه زیات هندیان گمارلي و. چې ځینې یې د پلټنو له پیل وروسته ورک شول. قوي احتمال شته چې د هند د بورانیمو د غني کولو پروگرام هم د دوبی په شبکه کې رېښې درلودې او کېدای شي د پاکستان د سنټر فیوز د طرحې کاپي وي. دې موضوع ته همدارنګه په دې وروستیو کې د هستوي وسلو نه خپرېدا یوه مهم کار پوه اشاره کړېده.
لیبیا ته د نظر ورکولو پر وخت قدیر خان مشوره ورکړې وه چې د سنټر فېوز داسې کارخانې جوړې کړي چې د ژویو یا اوبانو له فارمونو سره مشابه وي. او هغوی یې قانع کړي و ، چې د دغه ډول پټن ځایونو جوړول نسبتا ساده دي
جالبه داده له هغه ځایه چې قدیر خان پوهېده لیبیا د ټکنولوژی ضعیفه اډې لري .د سنټر فېوزبرابرې شوې برخې یې د مختلفو منابعو څخه په دغه هېواد پلورلې وې.
خو په دغو کې د کم اهمیته ټوټو جوړول چې د ماشین چلونکی و هغه یې په خپله لیبیا یانو ته پرېښی و چې خپله یې جوړ کړي. د دغو تر تېباتو پر اساس ،په داسې حال کې چې لیبیا یانو د دغې شبکې نه ډېر زیات تجهیزات واخیستل او د ټیم ټولو غړو ډېره گټه وکړه. دغه هېواد د ماشین د چلونکې دستګا د نه جوړېدو له کبله د سنتټر فیوز په فعالولو او جوړولو ونه توانېده. د لیبیا سره دغه معامله۱۰۰ میلیون ډالره تخمین شوې وه. دډاکټر خان بې پروایي له دې معلومېږي چې د لیبیا لپاره دهستوي وسلو برابره شوې طرحه د جامود جوړولو د یوه خیاط په یوه کڅوړه کې چې په اسلام اباد کې فعالیت لري اېښول شوې وه ، چې دغه کڅوړه وروسته له لیبیا څخه ترلاسه شوه.
ډاکټر خان همدارنګه د شمالي کوریا لپاره ۲ درجنه سنټرفېوز p-1__p-2برابرکړي و. هغه همدارنګه د اندازه کولو او سنټر فېوزد تېلو داندازې ځانګړی میټر هم دشمالي کوریا لپاره برابرکړی و. او هغه د سنټر فیوز د ټکنالوژی رهبري او لارښونه کوله ، چې له همدې کبله یې هغوی د پاکستان د سنټر فېوژ سخت محرمو کارخانو ته هم بېولی و.
هغه د لیبیا او ایران لپاره د دوبی د شبکې له لارې نژدې ۱۸ ټنه مواد چې د سنټر فېوژ د د سټاوو ځینې برخې او دهغه نقشې وي ، برابرې کړې وې. موږ دغه ټول معلومات ددغه کار له اړو ادارو سره شریکې کړي دي . کله مو چې د ۲۰۰۳ کال په نوامبر کې د قدیر خان له خوا د هستوي انرژی د خپرولو د فعالیتونو په برخه کې پلټنې پیل کړې ، په همدې لړ کې زموږ اسخباراتي ادارو دهغه د ۲ لیکونو د استولو مخه ونیوله.
لومړی لیک دهغه د سوداگری د یوه شریک قاصد لخوا ایران ته لېږل کېده. هغه په ایران کې خپلو ځینو دوستانو ته لیکلي و چې په هیڅ صورت او تر هیڅ ډول شرایطو لاندې دهغه نوم د نړیوال اټومي انرژی سازمان ته په ډاگه نکړي. هغه همدارنګه ایرانیانو ته نصیحت کړی و چې د پلټنو پر وخت دمړو شویو کسانو نومونه واخلې. پوره همغه کړنه چې خان په پاکستان کې له موږ سره کوله. هغه همدارنګه په بې پروا ډول وړاندیز کړی و چې ایرانیان باید دهستوي تخنیک د پراختیا پړه د اژانس په پلټونکو واچوي ، او ووایي چې داژانس په شته والي کې نشي کولای په پټه هستوي انرژي ته پراختیا ورکړي
هغه ایرانیانو ته وړاندیز کړی و چې ( د هستوي وسلو دنه خپریدا یا (NPT له تړونه ووځي. چې ددغو جنجالونو په یو خوا کېدو سره به له دغه هېواد سره زیاتې مرستې وکړي.
دوهم لیک یې خپلې لور ته لیکلی و چې په لندن کې اوسېده. دغه لیک د پاکستان د دولت د پلټنو په اړه له نیوکو ډکې جملې درلودې. او خپلې لور ته یې لارښونه کړې وه چې په برتانیې کې دځینو خبریالانو له لارې د پاکستان هستوي رازونه افشا کړي.
قدیر خان د کلونو کلونو لپاره ډیر له لښته ډک ژوند درلود ، چې د اداري فساد ، د دولتي شتمنیو بیځایه لول ، دملکیتونو اخیستل او د پانې پټول هم دده د کارونو یوه برخه وه. خو دا ټول قصدا د وخت دحکومتونو لخوا نا لیدلي ونیول شول. ځکه چې د قدیر خان تر لاس لاندې کار تر دې زیات اهمیت درلود . خو په پای کې ددغو کارونو لاندې یوه جدي تېر وتنه پټه وه .

## ۲۸ څپرکی

نړېواله ډيپلوما سي.

د سپټامبر تر ۱۱ مخکې زه د داخلي ، اجتماعي او اقتصادي چارو په ټېنولو ډېر بوخت وم. خو د سپټامبر ۱۱ نړی ته بدلون ورکړ. نړی د يوه بد تاو تريخوالي سره مخامخ شوه. ځان وژونکي بريدونه زيات شول. زه هېڅکله په عراق د بريد پلوی نه وم. ځکه ما دا ويره درلوده چې افراطيت به زيات کړي ، هغه څه چې وروسته سم وختل. د عراق جګړې نړی ته امنيت نه دی را وستی ، بلکې نړی په څو څو ځله خطرناکه شوې. په داسې حال کې چې لويديځ د (( تمدونونو د جګړې )) د احتمال خبرې کوي ، ايا د حيرانتيا خبره ده چې ځيني مسلمانان د صليبي جنګ له يوه نوي زمانې څخه وېرېږي ؟
ما په پاکستان دروان تاو تريخوالي ، د سېمې د بې ثباته شرايطو ، د اسلامي نړی د بې واکه شرايطو او په ټولې نړی کې د تاو تريخوالي په اړه هر اړخيز فکر کړی دی. ډېر د خواشينی ځای دی چې ټول تا وتريخوالی د مسلمانانو پر محور څرخېږي. دا فکرونه مې په پرله پسې توګه نا ارامه کوي.
يوه شپه مې مطالعه کوله چې د همدې مسلې پر سره ، د (( منځلارې روڼ اندې )) نظريه مې په فکر کې را وګرځېده. مورږ د تاو تريخوالي د کنټرول لپاره يوې نړيوالې حل لارې ته اړتيا لرو. په اسلامي نړی کې ګوښه والی او خفه والی په پيل کې د اوږد مهاله لاينحله سياسي جنجالونو ريښې لري ،چې په ټولنو کې يې د بې عدالتی ، ګوښه والي ، محروميت ، ناتوانی او نا هيلی حس رامنځ ته کړی دی. دغه حالت په هره برخه کې په اسلامي هېوادونو کې بد اجتماعي شرايط رامنځ ته کړي دي. سيا سي محروميت چې له بې وزلی او بې سوادی سره يو ځای شي ، افراطيت او ډار اچونې ته زمينه برابره وي.
اسلامي ټولنې که له دغو حالاتو او شرايطو څخه د خلاصون او ازادی هيله لري.
بايد ترهري او تندلاري رد کړي. خو ورسره ور سره بايد معينو سياسي جنجالونو ته د حل عادلانه لاره پيدا کړي.منځلاري روڼ اندي يوه دوه څنګه ستراتيژي ده چې باور لرم يوه بريالی ستراتيژي د څنګ دواړو غاړو ته اغېزمنه ده.
د يوه څنګ مسوليت چې د اسلامي نړی په غاړه دی بايد له تندلاری او ترهری سره مبارزه وکړي چې وکولای شي ټولنيز او اقتصادي پر مختګ ته وزګار شو. او بل څنګ د لويديځ تر ګورت لاندې دی. په ځانګړې توګه د امريکا د متحدو ايالتونو چې په ټول زور سره د ټولو سيا سي کړکيچونو د عادلانه حل لپاره هڅه وکړي ، چې اسلامي نړی يې پر يشانه کړې ده. نه يوازې دې د ټولې نړی د مسلمانانو لپاره عدالت تر سره شي بلکه ټول بايد د هغه شاهدان وا وسو. د فلسطين کړکيچ او په کشمير کې هستوي مخامختيا سملا سي حل ته اړتيا لري چې د سويلي اسيا امنيت ډاډ من کړي. دا دنړيوال خفګان په منځ کې ځای لري.
ما پوره هڅه کړې چې دغه نظريه په ټولې نړی کې مطرح کړم. پداسې حال کې چې ډېرو کسانو ددغې نظريې په اړه مثبت ځواب ورکړی.خو عملي پر مختګ کم تر سره شوی دی.
زما سياسي هڅې به په دوو جبهو کې جريان ولري:
لومړی: زه په ټېنګار سره د نړی له ځواکونو غواړم چې د فلسطين، اسراييلو او کشمير لانجې د فشارونو په راوړلو سره حل کړي. زما په فکر دواړه مسلې د وروستی پريکړې لپاره تيارې شوې دي.
دوېم : زه هڅې کوم د امکان تر کچې اسلامي نړی وهڅوم چې د ترهری پر ضد عملي ګامونه پورته کړي. که ټول ( لويديځ او اسلامي نړی ) يوې موافقې ته ورسېدو ، په پايله کې به يو ګډ همغږی خو ځښت رامنځ ته شي ،او په دواړو څنګونو کې به د هېلو په پوره کولو سره وخوځېږو او نړيوال مسايل به حل کړو.
زه ډېر خوښ شوم او وياړم چې د( منځلاري روڼ اندی ) وړانديز مې د ۲۰۰۴ کال د اسلامي هېوادونو په کنفرانس کې تر بحث لاندې راغی . دغه کنفرانس همدا رنګه تر هري او سخت دريځي وغندله. د اسلامي کنفرانس سازمان د جوړښت د ترميم په اړه زما نظريه هم تر بحث لاندې ونيول شوه چې پکې دغه سازمان د ډله ييزو اقتصادي او ټولنيزو ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې لانور فعال شي. له دې کبله د ۹ غړو هيوادو پوهانو يوه ډله ددغه سازمان په جوړښت باندې په کار پيل وکړ. همدا رنګه دغې ډلې د مکې شريفې په ځانګړې ناستې کې چې په ۲۰۰۵ کال په مکه شريفه کې د اسلامي کنفرانس د ټولنې د ټلارې د بيا ليېکلو دنده په غاړه واخيسته.نو د همدې لپاره د څنګ دوهمه برخه په ښه توګه په خپل کاريز ټلوري درومي. سره له دې چې دا حرکت ورو روان دی خو هغه څه چې زه يې اند ښنمن کړی يم د لومړي څنګ ( لويديځ ) ګامونه دي. ځکه چې د کړکېچونو د حل وخت زمورږ له ځغاستې څخه تېز درومي. که ټول ښکېل اړخونه هغه ونه دروي وخت به تېر شي او په نړی کې به د سولې او يوځای ژوند کولو ښه فرصت د لاسه ولاړ شي . دا به داسې ګنا ه وي چې نه به خدای او نه هم تاريخ مورږ وبښي.
ځينې کسان د ) منځلاري روڼ اندی ) مفکورې ته کم ارزښت ورکوي. ځکه هغوی پرې نه دي پوهېدلي. او ناوړه انېرنه يې ځينې کړې ده. ځکه پرې نيوکې کوي چې ګواکې د اسلام له اصلي نظريې څخه ناوړه تفسير شويدی. په يقين سره چې داسې نه ده. زه ځان ته ديني عالم نه وايم. خو يو مسلمان يم او د اسلام بنسټ او ماهيت ښه پيژنم.حتا که يې له ټولو جزئياتو سره بلد هم نه يم. په هرصورت منځلاري روڼ اندي د اسلام سره هيڅ اړيکه نه لري. ددغې مقولې اړيکې له مسلمانانو او دهغوی له ازادېو سره دي.

په لوبه کې سوله د اسیا او نړیوال ټیکاو لپاره ،خو په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د امنیت لپاره ډېره مهمه ده. ما له هند سره د ښو اړیکو د جوړولو په برخه کې مهم ګامونه پورته کړیدي. دهند او پاکستان دلانجې غوڅېدل په سویلي اسیا کې اجتماعي او اقتصادي همکاری قوي کوي. لکه څرنګه چې یوه کار پوه ویلي (( د فېلانو دمبارزې په مېدان کې وابنه پایمالېږي )).ماله هند سره دښمې پیږۍ نه د زیات وخت خرابې اړیکې له هغې جملې نه د سبا چېن ، کا ر ګیل او دهند تر ولکې لاندې کشمېر د ازادی غوښتونکي مبارزې په اړه ژور فکر کړېدی. ددغو ټولو پو ځې عملیاتو ډله ییزې هڅې دا وې چې دواړه غاړې پو ځل بیا دخبرو د مېز تر شا کیناستو ته مجبوره شوې. نو له دې کبله نو ر پوځي عملیات هېڅ په درد نه خوري.
هیڅ پوځي لاره زموږ ستونزې نشي حلولی. د حل یوازینی لاره ډیپلوماسي ده. زه باور لرم چې هند هم پوه شوی چې نور نشي کولای د پاکستان پر وړاندې له پوځي زور څخه ګټه واخلي. حتا په۲۰۰۱ کال کې پدې باور وم چې اوس د یوه بلې پاڼې د را اړولو وخت راغلی.
د ۲۰۰۱ کال په لومړیو کې چې کله دهند په ګجرات کې زلزلې درانه زیانونه واړول ، ما داړیکو دښه کولو لپاره سم چانس برابر ولید. دهند دوخت لومړي وزیر اتل بهاري واجپاي ته مې زړ وواهه او دخپلې خواشینی مراتب مې ورته وړاندې کړل. ورسره دپاکستان د مرستې توکي او درمل مې هند ته واستول. دغه کار چوپتیا ماته کړه ، او ددې لامل شو چې هندي چارواکو زه هغه هېواد ته وبللم. د ۲۰۰۱ کال د جولای په ۱۴ نېټه ډهلي ته ورسېدم. عمومي وضیعت مې په هند کې ښه ولېد او په ښه سترګه راته وکتل شو. که هرچېرته زه او صهبا ولاړو که هغه هوټل و ، که دهندي چارواکو یا عادي خلکو او دهغوی دکورنیو په منځ کې او که زما د نېکونو سېمې نهر والې ته ولاړو یو ډول مینه او محبت مو ولېد. له دواړو هېوادونو څخه روښانه غوښتنې موجودې وې. موږ هم په همغو مره ګرمی سره ځواب ورکړ. زه په ډېر ازاد فکر او په ښې روحیې سره هلته تللی وم.
ډهلي ته زموږ د ورننوتو له ټولو تر تیباتو او تشرېفاتو وروسته �سبا مود ۲۰۰۱ کال د جولای په ۱۵ له لومړي وزیر واجپایي سره د ( اګرې ) په تاریخي ښار کې وکتل. اګره هغه سېمه ده چې د مغلي دورې د مېنې مشهوره ودانۍ ( تاج محل ) د نړۍ د ۷ عجائېبو یوه تر ټولو ښکلې ودانۍ پکې ولاړه ده. رسمي خبرې مو د جولای په ۱۲ نېټه پیل کړې. د خبرو اترو پیل ډېر هڅونکی و. خو نا هیلې کونکې پایلې یې درلودې. تر غرمې وړاندې او وروسته د دوځلې خبرو اترو په ترڅ کې مو لومړی یو په یو ، وروسته دبهرنیو چارو د وزیرانو په ګډون د یوې ګډې اعلامیې مسوده برابره کړه.
دغې اعلامیې تر هري غندله ،او په ډاګه شوې وه چې ددوه اړخېزو اړیکو پراختیا ته اړتیا ده ،چې د کشمېر پر سر لانجه پای ته ورسیږي. فکر کوم مسوده ډېره ښه لیکل شوې وه. متوازنه او د دواړو غاړو لپاره د منلو وړهم وه. د ګډې اعلامیې د لاسلیک مراسم له ماسپښېن وروسته د )) جي پي ) د هوټل په ماڼۍ کې چې د لومړي وزیر د اوسېدو او زموږ دخبرو اترو ځای هم و ، وځنډېدل. په هوټل کې پوره تیاري نېول شوی وه. دمېز خوا ته دوه کوچونه هم زموږ د ناستې لپاره کېښودل شوي و ، چې د اعلامیې د لاسلیک دستوره پرې پیل کړو. دهوټل کار کونکو او ټولو استازو په واقیعت کې ښه خدمت وکړ.
له لومړي وزیره مې اجازه واخېسته چې د خپلې استوګنې ځای د ( امېر وپلاس هوټل ) ته ولاړ شم او په خپل دود بز کمیس پرتوګ کې به بېرته راشم. داسې پلان مې ونېو چې د اعلامییې تر لاسلېک وروسته به د ډېر ښاغلي ( صوفي شاعر اجمیرشریف ) زیارت ته ورځم.
د امېر وپلاس د هوټل کار کونکي هم ډېر خوښ معلومېدل. دخپل سفر د بریا وروستیو پړاونو ته نژدې کېدم.خو یو ساعت وروسته د بهرنیو چارو وزیر او زما د بهرنیو چارو منشي خبر راکړ، چې هندیان په شا شوي دي.ډېر خفه شوم. باور مې نه کا و. پوښتنه مې وکړه څه ډول دا کار امکان لري؟ ولې ؟ دڅه لپاره ؟ځواب داو چې ( ښاغلي: کابینې رد کړ) پوښتنه مې وکړه کومې کابینې؟ په اګره کې خو هېڅ کابینه نشته ؟ ډېر عصباني شوم ، او قصد مې داو چې سمدلاسه اسلا م اباد ته ستون شم.۲ ډیپلو ماتانو هڅه وکړه چې په کرار مې کړې او د مسودې د بیا لیکلو لپار ه یې د زیات وخت غوښتنه وکړه. اجازه مې ورکړه او په ډېرې بې میلی سره مې د اجمېر شریف زیارت کول لغوه کړ.
د تړون لیک بیا لیکنې وخت ونیو چې د کلېمو او جملو پر سرپه چنو وهلو سره مل و. په پای کې زما ډله له بریا سره راوګر ځېده ، هغوی نوي مسوده ماته را وښوده چې ما تائېد کړه. فکر مې وکړ چې د ژبې له بدلولو سره سره زموږ غوښتنې پکې ځای شوې وې. هغوی بل هوټل ته ولاړل چې ددغې مسودې متن کاپي کړي. ما خپلې مېرمنې ته ډاډ ورکړ چې سبا به د ورځپاڼو لومړی کرښې د اګرې په اعلامیې ډکې وي. خو د اهم تر سره نشو. فقط په همغه وخت کې چې ما غوښتل د اعلامیې د لاسلېک لپاره له هوټله بهر شم ،داسې پیغام مو تر لاسه کړ چې هندیانو بیا په شا ټ وکړ. دا نوره خندونکي وه. پریکړه مې وکړه چې هند سمدلاسه پرېږدم. خو دبهرنیو چارو وزیر مې ټینګار وکړ چې هېواد ته له تلو وړاندې یو ځل واجپایي وګورم. دخپلې خوښې پرته راضي شوم چې دغه ډیپلو ماټیک تشریفات هم تر سره کړم. ورسره جوخت مې خبري رسنیو ته خبرورکړ چې زما د اوسېدا په هوټل کې یو خبري کنفرانس شته. وروسته خبر شو چې هندیانو خبري رسنیو ته هم اجازه نه وه ورکړې ،چې په دغه کنفرانس کې ګډون وکړي. هېڅ یو ه خبریال زما او دواجپایي داوسېدا هوټل ته د راتلو اجازه پیدا نکړه. د بیان ازادي د نړۍ په دې لویه ډیمو کراسی کې دا ډول وه.
ما په ډېر زړه تنګۍ او نا ارامه روحیې سره د شپې په ۱۱ بجو له واجپایي سره وکتل او نېغ په نېغه مې ورته وویل: ( داسې ښکاري چې پر تاسو له پاسه بل څوک شته ،چې پر موږ دواړو امر چلو. همدارنګه مې هغه ته وویل چې نن موږ دواړ و ته سپکاوی وشو. هغه بې له کومې خبرې چپ ناست و. له چټکې منڼې وروسته په بېړې سره را ووتم. انسان او وخت له یوه او بل سره یو ځای دي. کله چې انسان او زمان موافقه وکړي تاریخ جوړوي. واجپایي ونه توانېد وخت را ونېسي. ده په تاریخ کې وخت د لاسه ورکړ. کله چې زه او مېرمنه مې له هوټله را بهر شو ، له ورایه د هوټل د کار کونکو په څېرو کې غمګیني ښکارېده. کله چې زموږ موټر پر سړک روان شو ومو لېدل چې د خبري رسنیو په سلونو خبریالان او کار کونکي د سړک دواړوخوا و ته صفونه تړلي و. خو په ډنډو سمبالو

پولېسو موږ ته نژدې نه را پرېښول �تقریبا ۱۸۰ متره پدغه ګڼه ګوڼه کې زموږ موټر روان وو. زما مغزو بېرته کرار کرار عادي حالت غوره کاو.

دغې غمګینی او خندونکو برخو له هند سره داړیکو د عادي کولو چټکې هڅې له نا کامی سره مخامخ کړې. بیا وروسته په ۲۰۰۲ کال کې چې هندي ځواکونه په پوله را غونډ شول او سره مخامخ شو ،نو یوه سخته ترینګلې دوره مو تېره کړه. موږ هم د خپلو ټولو ځواکونو په خوځولو سره هغوی ته ځواب ورکړ. په پوله کې د سرتېرو حضور ۲ میاشتې دوام وکړ.وروسته هند یان یوه شول او په ډېر شرمونکي ډول یې د پولې له دواړو خوا څخه دځواکونو له وېستلو سره مو موافقه وکړه. په ۲۰۰۲ کال کې د نیپال په کټمندو کې د ( سارک ) یا د سویلي اسیا د سیمه ییزو همکاریو د سازمان د غونډې په ترځ کې مې یوځل بیا ډیپلو ماټیک مانور تر سره کړ. د سیمې ټول مشران د یوه اوږده میز تر شا د خبرو د نوبت لپاره په هیله و. زما نوبت راغی او دوینا له پای ته رسېدو سره سم مې په همغه یوه لحظه کې د مخې میز خوا ته ورغلم او د لومړي وزیر واجپایي سره مخامخ ودرېدم. لاس مې ور اوږد کړ چې سترې مشې سره وکړم. هغه بل هېڅ لاره نه درلوده بې له دې چې لاس را کړي. د وېرې او وارخطايي احترام ستر موج د ټول تالار د واکمنو خوښی او تحسین ونیو. کله چې د (( نړی دسترې ډیموکراسی )) لومړی وزیر غافلګیره شوی وه. خو زما قصد د لومړي وزیر نا بېره ګیرکول نه و، بلکې ما غوښتل هغه تباره چې په اګرې کې رامنځ ته شوې وه ،له منځه یوسم. خوښ یم چې دغه لاس ورکولو په زړه پورې پایلې لرلې. لومړي وزیر واجپایي تصمیم ونیو چې د ۲۰۰۴ کال په جنوری کې د ( سارک ) د ډلې په غونډه کې له اسلام اباد څخه لېدنه وکړي. موږ دخوښیو په ډکه فضا کې لېدنه کتنه درلوده. او داځل مویو ګډ لیکلی تړون لیک هم لاسلیک کړ. چې وروسته د اسلام اباد دتړون په نوم یاد شو. همدارنګه موږ ومنله چې د سولې بهیر د) ګډو خبرواترو ) له لارې مخ پر وړاندې بوزو. چې په دغه بهیر کې د جامو کشمیر لانجه هم شامله وه. بله موضوع چې باید داسې نه وای شوي د ګډو خبرو وړاندې په هند کې له وخته وړاندې ټاکنې وشوې ،چې د واجپایي د ( بهاراتا جاناتا ) یا BJP ګوند پکې ماتې وخوړه. او د سونیا ګاندي د کنګرې د ګوند لخوا یو ایټلافي حکومت جوړ شو. خو د سونیا ګاندي پر ځای ددغه ګوند څخه ( من موهن سنګ ) لومړی وزیر وټاکل شو. په هند کې د دغه سیاسي بدلون د سولې ټول بهیر ته بدلون ورکړ. ای کاش چې د سولې دغه لاس ته راغلی فرصت یو کال وړاندې په اګرې کې د لاسه نه وای تللی. ما همدارنګه د ټېلیفون له لارې لومړي وزیر (من موهن سنګ) او( سونیا ګاندي ) ته د ښه نیت ډیپلو ماټیکې پیروزوینې وړاندې کړې.او احساس مو کړه چې دهغوی چلند ډېر مثبت و. همدارنګه مې ښه وبلله چې واجپایي ته هم ټیلیفون وکړم ، او د سولې د بهیر څخه دهغه د ملاتړ د ابتکارونو په توګه د اپوزیسیون له څوکی څخه یې وهڅوم. هغه ژمنه وکړه چې ددغه بهیر ملاتړ به کوي

له لومړي وزیر من موهن سنګ سره مو لومړی کتنه د ۲۰۰۴ کال د سپټامبر په ۲ نېټه په نیویارک کې د ملرو ملتونو د عمومي غونډې پر مهال وشوه. ښاغلی سنګ زما د اوسېدا هوټل ته راغی. ډېره په زړه پورې ناسته وه. دهند لومړی وزیر راته ډېر هوښیار شخص معلوم شو. چې له موږ سره یې د جنجالونو دحل او د ښو اړیکو ټینګول غوښتل. زموږ له لېدنې وروسته ګډې بیانیې دا پیغام درلود ، چې د سولې لړی ته به دوام ورکوو.

له لومړي وزیر سنګ سره مې دوهمه کتنه هغه مهال وشوه چې د پاکستان د کرکېټ لوب ډلې په هند کې سیالي درلوده .زه ښاغلي سنګ ور وبللم ، چې له دغو دوو لوب ډلو یوه لوبه ووینم. بلنه مې ومنله او د ۲۰۰۵ کال د اپریل په ۱۸ نېټه په یوه ورځنی لوبه کې د ګډون لپاره ډهلي ته ولاړم. د اجمیر شریف له لارې مو سفر وکړ. همغه لېدنه چې داګرې دغونډې پر وخت نیمه پاتې وه. پوره شو. او فکر مې وکړ چې د زیارت کول به ښه پیل وي.

د ۲۰۰۵ کال د اپریل په ۱۸ مو د کرکېټ د سیالی په ترسره کولو سره پیل کړه. خو په خواشینی سره چې زما د کوربنو ( هند یانو ) لپاره سیالي له شرمه ډکه وه. ځکه (شاهد اپریدي) د پاکستان د کرکیټ وتلي بال وهونکي ستوري به دهند یانو هر ور اچونکی توپ ډېر لېرې غورځاو. د هغه ډېر توپونه به نیغ په نیغه دمهمو کسانو خونې ته چې موږ هم پکې ناست و ، را رسېدل. ما هم لکه د کرکېټ د نورو مینه والو په څېر غوښتل له خپلې څوکی پورته شم او د لاسونو په پړه کولو خپل لوبغاړي وهڅوم. خو کوربنو ته د ډاډ ورکولو لپاره مې باید خپل شوق کنټرول کړی وای. د سیالی له پای ته رسېدو وړاندې د خبرو اترو د پیل لپاره له لوبغالي ووتلو. ویلو ته یې اړیتا نشته چې زړه او دماغ مې په لوبغالي کې پرېښول ، او د سیالی ته د بېرته ورتلو لپاره مړ مړوم.

له همدې کبله مې له ( من موهن سنګ( سره په یوازې خبرو کې وړاندېز وکړ چې د لوبې دوروستیو شیبو د لېدلو لپاره لوبغالي ته ولاړ شو. او بیا لېو لوبغاړو او ډلو ته انعامونه وویشو. د امنیت له پلوه له اندېښنو سره سره یې ومنله. په همدې حال کې چې رسمي خبرې اترې روانې وې کارکونکو مې راته د لوبې په اړه خبرونه راکول او دهندي لوب ډلې د ماتېدو او د( بیټینې) یا توپونو د وهلو پر مهال د هغوی د( اوټ کېدو ) وروستي معلومات به یې راته راوړل. د لوبې ترپای دمخه د هند دلوب ډلې ټول غړي اوټ یا وسوځېدل. ما په داسې حال کې چې دخپلې خوښی دننه احساسات سخت ځپل لومړي وزیر سنګ ته مې خبر ورکړچې د هند لوب ډلې خپل ټول توپونه ضائع کړل. او نور لوبغالي او سیالی ته دورتلو کوم دلیل نشته. شاید ځینې ووایي چې دا (( ماشومانه احساس دی )) خو هغوی دهند او پاکستان د سیالی په اهمیت نه دي خبر. سره له هغه زموږ یو په یو خبرې ډېرې اغېزمنې وې او د کشمیر په مسلې مو اغېزمنې خبرې وکړې. دواړو موافقه وکړه چې دالانجه باید حل کړو. لومړي وزیر ټینګار وکړ چې د پولو د بیا ویش پر سر موافقه نشي کولای. ما وویل چې زه هم نشم کولای د کشمیر د کنټرول لیکه د دایمي کرښې په توګه ومنم. نو اړتیا وه چې دحل داسې لاره پیدا شي چې دواړو غاړو په ځانګړې توګه د کشمیر خلکو ته د منلو او قناعت وړ وي. دغه کتنه د یوې اعلامیې په خپرولو سره په ډېره مثبته توګه پای ته ورسېده ، چې لومړي وزیر دخبریالانو پر وړاندې ولوست. موږ تصمیم ونیو چې د سولې بهیر په خلاص نیت پر مخ بوزو.

د ۲۰۰۵ کال د سپټامبر په ۱۴ نېټه د ملرو ملتونود عمومي غونډې پر مهال لومړي وزیر سنګ زه په خپل هوټل کې د ماښام ډوډۍ ته وبللم. دغه ناسته په عمومي غونډه کې زما د وینا څخه د هند یانو دناخوښی له کبله لومړۍ په سړه فضا کې پیل شوه.

فکر مې وکړ هغوی په غیر ضروري توګه دومره حساس شوي دي. خبرې لږ جدي شوې او کېدای شي لامل یې زما نظامي بدخلقي وي. خو زموږ د بهرنیو چارو وزیرانو ډېر ژر او ضاع عادي کړه.
له دریو ساعتونو بحثونو وروسته د ماښام ډوډۍ په ترینګلې فضا کې پای ته ورسېده. سره له دې چې تر ډوډۍ وروسته وضیعت ښه شو او وتوانېدو یوه ورځ ګډه بیانیه خپره کړو. خو خبري رسنۍ ډېر ژر د ترینګلو خبرو اترو د وضیعت په اړه وپوهېدل او داسې یې وانېرله چې خبرې اترې په صمیمي فضا کې نه دي تر سره شوي. سره له دې ما له لومړي وزیر سنګ نه وغوښتل چې پاکستان ته راشي، چې هغه په تیاری سره ومنله. د دغې لیکنې تر لیکلو (۲۰۰۲ له جون) پورې موږ د ښاغي سنګ راتلو ته په تمه یو. د ۲۰۰۲ کال په لومړیو کې د هند د کرکېټ لوبډله پاکستان ته راغله چې د لته د ښاغلي سنګ د را تلو لپاره ښه زمېنه برابره شوه. خو هغه دا کار د دې لپاره ونکړ چې هند ي چارواکو احساس کړه په نېو بارک کې زموږ بحث ډېر جدي شوی و او نژدې و چې د کرکیټ د بېهوده لوبې په څېر شي. وروسته هند د **۵** ورځنیو نړیوالو لوبو څخه پې **۴** لوبې وګټلې. لومړي وزیر (من موهن سنګ) کولای شول د هند په یوې برېالۍ لوبې کې برخه واخلي .حتی موږ هم کولای شو د هغه سره دغه لوبه ووینو.
له هند سره دغې پیچلې ډیپلو ماسی له ځانه سره ډول ډول پایلې درلودې. زموږ دوه اړخېزې اړیکې له بل هر وخته ښې شویدي. ما په وار وار ویلي:( دوسله والې جرې وخت تېر شوی او د دغې جرې د حل وخت را رسېدلی ). چې بابد ژر تر ژره ځواب ورکړو. څکه داسې فرصت به زیات وخت ونلري. موږ په **۲** متوازي کرښو حرکت کوو.
یو د باور د رامنځ ته کولو ګامونه دي او دویم د لانجو حل دی. ما تل تر جبع ورکړې چې دواړو کرښو ته په یوه وخت کې دوام ورکړو. خو داسې ښکاري چې هند یوان غواړي په بېړې سره د باور د جوړولو په کرښه حرکت وکړي. خو دلانجې د حل په کرښه پخ روان دي.
داسې ښکاري چې د من موهن سنګ هغه لومړی اخلاص او نرم والی اوس یو څه مړاوی شوی. فکر کوم د هندي نظام جوړښت لکه بېرو کراتانو، ډیپلوماټانو، استخباراتي ادارو او کېدای شي ان پوځیانو د سنګ له دې ښه صفت ځینې اخیستی وي. که کوم رهبر وغواړي له یخ وهلو مواضعو او تړلو ایډیا ګانو ځان لېرې کړي باید زړور واوسي. هغه باید پر دغه جوړښت با ندې واک ولري. نه دا چې خپل ځان دهغوی په واک کې ورکړي. زه لاهم د ښاغلي سنګ د وړاند یز په هیله یم. په همدې وخت کې مې زیاتې نوې نظریې هم پیدا کړې دي.
موږ به د کشمیر د لانجې د حل لپاره د متقابل لوري نظریو ته په هیله یو. زه پوره باور لرم چې د دغې لانجې له حل پرته سیمې ته سوله نشي راتلای.
ما شخصا ساعتونه ساعتونه د دغې لانجې د حل په لارو فکر کړېدی. هغې پایلې ته چې زه رسېدلی یم او البته چې پاکستانیانو �هندیانو او کشمیریانو ته هم باید قناعت ورکړو. داسې ده چې ټولې ډلې سره نژدې شي. دغه نظریه **۴** عنصره لري چې په لنډ ډول سره یې داسې خلاصه کولای شو.
۱ ---باید دکشمیر جغرافیایي سیمې او دلانجې د حل اړتیاوې په ګوته شي.
دا مهال د پاکستان تر کنترول لاندې کشمیر په **۲** برخو ویشل شوی: شمالي سیمې او ازاد کشمیر. دهند تر واک لاندې کشمیر په دریو برخو ویشل شویدی. جامو �سرینګر او لاداخ. روښانه دې شي چې داټولې سیمې دې د خبرو اترو میز ته وړاندې شي او که ځینې سیمې ؟ ایا نژادي، سیاسي ملاحظات دغه سیمې د خبرو اترو میز ته وړاندې کولای شي او که نه؟
۲ ---سیمه اوبا پېژند ل شوي سیمې دې غیر پوځي او دازادی غوښتونکي مبارزې د جنیالیو نښې دې له منځه یووړل شي. دا کار کشمیریانو ته د ارام کولو زمېنه برابروي چې دجرې او وژلو له کبله د پولې دواړو غاړو ته په عذاب دي.
۳ ---په پېژندل شوي سیمه یا سیمو کې دې خود مختاره حکومت یا ازاده اداره جوړه شي. او کشمیر یان دې خوشي شي چې بې له کوم نړیوال لوبغاړي او یا دا چې له ازادی محروم وساتل شي په خپله پرې رضایت ولري.
۴ ---او تر ټولو مهمه دا چې د پاکستان، هند او کشمیریانو څخه دې یوه ګډه اداره جوړه شي چې دغه خود مختاره اداره وڅاري. او ټولو هغو مسلو او سیمو ته دې رسېدنه وکړي چې د خپلواکې اداري له توانه بهر وي.

دا نظریه بېخي شخصي ده، چې جوړېدنې او ښه کولو ته اړتیا لري. همدارنګه باید د ټولو شریکو غاړو او د سیمې د ټولو خلکو رضایت د دغې طرحې د اجرا لپاره تر لاسه شي.
اوس پرېږدی چې څو جملې د پاکستان د یوه بل ګاونډي افغانستان په هکله ولیکم، چې د سیمې او نړۍ یوه ترینګلې سر چینه ده. په وچه پورې تړلی افغانستان نورې نړۍ ته د رسېدو لپاره په پاکستان پورې تړلی. د مرکزي اسیا جمهوریتونه هم د خپلې سوداګری او له نړۍ سره د سوداګریزو فعالیتونو لپاره لارې ته اړتیا لري. که افغانستان کې سوله وي او له خپلې خاورې د سوداګریزو توکو او ټرانزیټي مالونو ته اجازه ورکړي. ټوله سیمه به اقتصادي ګټه وکړي. په دې منځ کې به پاکستان تر ټولو زیاته ګټه وکړي. ځکه چې د افغانستان د ننه او بهر ته به ټوله سوداګری، هغه که منځنی اسیا ته وي د پاکستان د سړکونو، داوسپنې دلارو او سمندري بندرونو له لارې تر سره شي. زه باور لرم چې یو سوله ییز افغانستان د پاکستان، سیمې او ټولې نړۍ په ګټه دی. له همدې کبله موږ د زړه له کومې د بن له پروسې ملاتړ وکړ. او په افغانستان کې د سترې بیا رغاونې ملاتړي یو. موږ د افغانستان لپاره د ولسمشر کرزي د سوله ییزو سیا ستونو څخه ملاتړ کو و. زموږ ګډه جره د ترهری په وړاندې باید په ټول زور او همکاری سره دوام پیدا کړي. بله موضوع د اسرا ییلو او

فلسطېن ده. د تاريخ په اوږدو کې پاکستان تل د اسرايېلو په وړاندې د عربو او فلسطينيانو طرفداري کړې. له اسرايېلو سره تل زموږ چلند خصمانه دی. د يهودېانو او يهودي حکومت سره راشه درشه منع شوې. سره له دې چې موږ عرب نه يو. او ځېني عرب اسلامي هېوادونه تر يوې کچې اسرايئل په رسمېت هم پيژني. موږ خو په دې مسلې کې حتا له خلېفه اعظم نه هم وړاندې يو، او د فلسطين سره مو ښه همدردي کړې ده. ماتل فکر کړی چې په دغې موضعگيری به موږ ته هيڅ شی لاس ته رانشي. روښانه ده چې اسرايئل د امرېکا دمتحده ايالاتو سره پر يوه قوي ملري سربېره د يوې ستړې يهودي ډلې ملاتړ هم له ځانه سره لري. چې کولای شي هره لحظه د پاکستان گټو ته زيان ورسوي. خو که د فلسطينيانو دحقونو داخېستو موضوع وي ،فکر کوم په خبرو اترو کې د گډون له لارې کولای شو تردې زيات څه لاس ته راوړو. دنړی او منځني ختيځ په سياسي حقايقو کې هغه بدلون چې له سړې جړې او د سپټامبر له ۱۱ وروسته راغلی، داسې وايي چې د اسرايېلو په وړاندې بايد د پاکستان په سياست کې بدلون ته دې ببا کتنه وشي. زه په ملي او د عربي نړی په کچه ددغې مسلې له حساسيتونو څخه خبر يم، او پوهېږم چې په دې لاره کې بايد په ډېر دقت سره گامونه او چت کړو. په دې لړ کې ما د پاکستان دننه حساسيتونه وازموئېل. محطا تانه بيانيه مې صادره کړه. يعني که چېرې اسرايېل د ټولو فلسطېنيانو په خوښه د يو تل پاتې دولت د جوړېدو په لور گام واخلي هغه مهال به پاکستان د اسرايېلو په وړاندې په خپل سيا ست کې ببا کتنه وکړي. هغه ډول مې چې هېله درلوده خبري رسنيو او روڼ اندو متبت غبرگون وښود. پداسې حال کې چې دغې ببا نبې په واټونو کې عادي کسانو ته کوم خاص اهمېت نه درلود.همغه مهال په امرېکا کې د يهودي ټولنې يو شمېر استازي د امريکا د يهودېانو د ټولنې د کېرې دمشر (جک روزين) په مشری راته راغلل او زما لخوا يې په نېويارک کې د يهوديانو ټولنې ته د بيانيې د ورکولو غوښتنه وکړه.زيات وخت بې ونه نيو ،موافقه مې وکړه. د فلسطين د لانجې په اړه د اسرايېلو د وخت د لومړي وزير ) ايېريل شارون) په چلند کې د ښکاره بدلون شاهدان و، هغه د غزې د يهود ميشتي ښار گوټي څخه د يهودېانو با اسرايېلو په زور ويستل پيل کړل. کله مې چې په تلوېزېون کې دا خبر ولېد سمدلاسه مې احساس کړه چې ښه فرصت لاس ته راغلی. فکر مې وکړ ددې وخت رارسېدلی چې د پاکستان او اسراييلود بهرنيو چارو وزيران سره وگوري. ددغه ډول لېدنې لپاره مو ترکېه ښه ځای وباله. او فکر مو وکړ چې د ترکېې دلومړی وزير ښې اداري به ددغې لېدنې لپاره ښه زمېنه برابره کړي. په يوه ورځ کې دا ټولې چارې ترتيب شوې �د اسرايېلو ځواب ډېر روښانه و. او زه د ترکېې له لومړي وزير او خپل نژدې ملري څخه ډېره مننه کوم.

داسرايېلو او پاکستان د بهرنيو چارو د وزيرانو ترمنځ دا تاريخي او مهمې خبرې د ۲۰۰۵ کال د سپټامبر په لومړی نېټه وشوې. دا يوه متبته لېدنه وه چې ورپسې ما د ۲۰۰۵ کال د سپټامبر په ۱۷ د امرېکا د يهودېانو ټولنې ته وينا وکړه. چې ډېر تود هرکلی ورته وويل شو. د امرېکا د يهودېانو د ټولنې ټول مهم شخصيتونه پکې حاضر و. له رسمي مراسمو وړاندې مې له هريوه سره وکتل. دا لومړی ستر گام وو چې د پاکستان يو مشر دامرېکا د يهودېانو سره گډ شي او وروسته هغوی ته وينا وکړي. مراسم په تشريفاتي ډول د يهوديانو د ډوډی په ماتولو پيل شو. (جک روزين) په خپلې پرانېستونکي وينا کې زما ستاېنه وکړه. ((ټام کنتوز)) د امريکا د کېرې غړې د ولسي جرگې ستاېنلېک چې) دپاکستان ولسمشر مشرف ته د درناوي) تر سرلېک لاندې لېکل شوی و ولوست او يوه کاپي يې ماته هم راکړه. زما وېنا هم له احساساتو ډکه وه. او فکر کوم دهېلې سره سم اغېز يې له ځانه سره درلود. يو لوی پر مختې تر لاسه شوی و. د پاکستان په دننه کې هم غبرگون متبت و، او د نړېوالو غبرگون هم له خوښېو خالي نه و. داسرائېلو دموجودېت حق ته د فلسطين دخپلواکې اداري لخوا ددغه سازمان په منشور کې د رسمېت له ورکولو وروسته اوس پاکستان اسرايېل ديوه يهودي دولت او ديوه نه پټېدونکي حقېقت په توگه پيژني او مني يې. خو د فلسطېنيانو ديوه خپلواکه او تل پاتې دولت په ملاتړ ټېنار کوي چې ټولو فلسطېنيانو ته دمنلو وړ وي. فکر کوم اوس د فلسطين د لانجې دحل او دفلسطېنيانو ددولت دجوړولو په برخه کې ديوه اغېزمنن رول د ترسره کولو جوگه شوي يو، چې له اوږدې مودې داهېسې يې غمونه گاللي.

ما دنړی، اسلامي امت، د سېمې لپاره د سولې او ټېکاو دراوستلو هڅې کړې چې ټول په سوله ييز ډول د يوه او بل ترڅنې اوژوند وکړو. زه دهغو هېوادونو سره د دوه اړخيزو اړيکو په قوي کولو باورلرم چې ورسره گډې گټې لرو.دغه اړيکې کېدای شي دهغو هېوادونو اونورو ترمنځ له اړيکو څخه اغېزمنې نشي. ماشخصا هڅه کړې چې دهند وانواود نوروهېوادونوله اړيکو څخه ليري پاتې شم. بې له دې چې د چېن مخ پر وده اقتصادي اړيکې له هند سره ښې دي دغه هېواد زموږ ښه دوست دی. موږ په همدې حال کې د هند او امرېکا ترمنځ اړيکې تقويه کيږي. له امريکا سره په اوږد مهال کې د خپلو اړيکو په پراخولو بوخت يو.

په خليج کې هم د ټولو هېوادونو سره د ښو اړيکو په ټېنولو موږ تل د سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو سره ډېر نژدې اړيکې لرو. او له دغو دو هېوادونو سره به دا اړيکې همداسې رواني وي. ما د خپلو شخصي اړيکو له لارې د سعودي او عرب اماراتو له مشرانو سره گرمې اړيکې ټېنې کړي دي. اېران زموږ مهم گاونډی دی .زموږ هڅه تل داوه چې له دغه هېواد سره صميمي او نژدې اړيکې ولرو .خو په حقېقت کې دغو اړيکو لوړې او ژورې درلودې.. د اېران د هستوي پروگرام پر سر دهغه هېواد او امرېکا ترمنځ ترېنلی وضيعت، دهند سره د اېران او پاکستان بېلابېلې اړيکې، او د افغانستان په اړه د دواړو هېوادونو جلا دريځ د اېران او پاکستان په دوه اړخيزو اړيکو کې پيچلتيا را وستې ده. موږ بايد د يوه او بل په حساسېتونو ښه پوه شو. او داسې کلکه دوستي چې زموږ تارېخي اړيکې او جغرافيايي موقېعت يې غواړي ټېنګ کړو.

۲۱ پېړی د ژېو پولېټېک ډگر په پرتله د ((ژېو اېکونومې)) ډگرخواته ډېر مېلان لري. د دولتونو ترمنځ اړيکې به په اقتصاد، سوداگرېزو راکړو ورکړو، گډو معاملو او پانگونو سره جوړاوټينيږي. باورلرم چې زموږ بهرني مامورېتونه به د سوداگرېزو چارو په پراختيا، د پاکستان د صادراتو د ودې او په دغه هېواد کې په پانگونې ولاړ وي. دغو ۲ ډگرونو ته په تېر وخت کې پام نه و شوی.

## 29څپرکی

ټولنیزه برخه:

زه د محدودو مالي سرچینو او ضعیفه اقتصاد د بې وسۍ له کبله په ۱۹۹۹ کال کې په مطلقه دوه لارې کې ودرېدم. چې ایا د روغتیا او ښوونې لپاره یوه ټلاره جوړه کړم. یاداچې د اقتصادي پر مختې د پروژو لپاره ډېرې پیسې بېلې کړم ؟ ما تصمیم ونیو چې اقتصاد ته پر اختیا ورکړم. ځکه موږ د ټولنېزې برخې د بودجې د زیاتوالي لپاره ښه اقتصاد ته اړتیا درلوده. دغې ستراتېژۍ ښه وړتیا درلوده ، او په دوو درېو کلونو کې مو وکولای شو یوه ښه ځای ته ورسیږو چې کولای مو شو د روغتیا او زدکړې د برخو لپاره بودجه ډېره کړو.
زما دولت د ښوونې برخې ته ښه پاک نظر درلود چې په بې باکه ډول د تباهی ښکار شوی و. تصمیم مو ونیو چې په بیلا بېلو برخو کې د ښوونې ډگر ته پام وکړو. د ښوونې د زېنې په لاندې برخې کې مو تصمیم ونیو چې سواد قوي کړو. همدا رنګه مو تصمیم ونیو چې د نجونو لپاره پوهنتون جوړ کړو او د لویانو باسواده کولو ته ډېر پام وکړو.
د ښوونې د زېنې دوېمه پله عبارت له لومړنیو او منځنیو زدکړو څخه وه. ددغو دوبرخو د تقوېې لپاره مو تصمیم ونیو چې درسي پروگرام تعدېل کړو. او دازموینې د تر سره کولو لپاره باېد ښه نظام جوړ کړو. همدا رنګه د زدکونکو په روزنې باندې مو ټېنګار وکړ. دهمدې لپاره مو د دولتي اوخصوصي همکاریو یو سازمان جوړ کړچې (( د بشري قوې د ودې لپاره ملي کمیسیون )) نومېده ،چې د روغتیا ، ښوونې او روزنې او په بېلابېلو برخو کې د ظرفیتونو د جوړولو لپاره رامنځ ته شو. دغه کیسیون چې د ۲۰۰۲ کال تر دسمبره د پاکستان ۱۱۰ ولسوالیو ته درسېدو په خاطر په کار پیل کړی او تر ټاکل شوي وخته به خپل کار پای ته ورسوي. دغه کمېسېون د سېمه ېېزو خلکو په مرسته (فرعي) ښوونځي جوړکړي چې او سپنې او خښتو ته هیڅ اړتیا نه لري ، سېمه ېېز هلکان او نجونې مود ښونکو په توگه گمارلي چې دلوېانو لپاره یې ۲۰۸۰۰ د سواد زدکړې مرکزونه جوړکړي. ددغو لاسته راوړنو ټول ویاړ له امرېکې را غلې د پاکستانی ډاکټرې نسیم اشرف دی.چې دغه نظریه یې ماته راکړه ، او اوس یې ددغو هڅو مشري په غاړه ده.
اېالتي حکومتونو هم دغه هڅې پراخه کړې. د بېلې په توگه په پنجاب کې د ټولو دولتي ښونځیو زدکونکو ته د کتابونو ورکول وړیا شو. یو کمپیوټري پروگرام پیل شوی چې ټول ښونځي وارزوي چې څه شي ته اړتیا لري. او دغه درزونه لېرې کړي. د پنجاب په ۱۸ ولسوالیو کې د ۵ او ۲ ټولیو د نجونو زدکونکو لپاره چې دهرې زدکونکي حاضري تر اتیا په سلو کې زیاته وي ۲ سوه کلداري د هڅونې په نوم ورکول کیږي. د تعجب خبره نه ده چې د نجونو غېر حاضري په حېرانونکې ډول کمه شوې ده.
د ښوونې لوړه پله چې جلا پرې بحث شوی لوړې زدکړې دي. موږ پوهنتونونو ته د تلو د شرایطو د برابرولو کمیسیون چې له تباهی سره مخا مخ و بېخي له منځه یوړ. او دلوړو زدکړو کمیسیون یاHECمو رامنځ ته کړ. چې د ښوونې د ډگر دیو کار پوه ډاکټر عطا الرحمان لخوا یې مشري کیږي. د لوړو زدکړو کمیسیون د پوهنتونونو د نوي نظم پر ځای په پوهنتونونو کې د بدلونونو انقلاب معرفي او د ښوني کیفیت یې قوي کړی.د لوړو زدکړو بودجه له ۱۰ مېلېون روپیو څخه په کال کې ۳۵۰ میلیون روپیو ته لوړه شوه. دځان غوښتنې یو داسې پروگرام په لاره واچول شو چې له ۲۰۱۰ کال وروسته باید هرکال ۱۵۰۰ کارپوهان د دوکتورا په سویه د انجینری او ساینس په ډگر کې ټولنې ته وړاندې کړي. په تېر وخت کې به هر کال یوازې ۱۲ یا ۲۴ ویشت کسان د دوکتورا په کچه فارغېدل. خو په ۲۰۰۸ کال کې به په نړېوالو معیارونو برابر ۲ پوهنتونونه پرانیستل شي. د لوړو زدکړو کمیسیون د لېرې زدکړو یو پروگرام هم تر لاس لاندې ونیو.چې د پاکستان ۵۹ پوهنتونونه یې له یوه او بل سره ونښلول او نژدې ۱۲ زره ارزښتناکه علمي لیکنې یا مجلې یې د ټول هېواد د زدکونکو لپاره د انټر نېټ په پانه برابرې کړې. دغه گامونه د لوړو زدکړو په سیستم باندې ښه مهم اغیز شیندلی.
موږ په تېر وخت کې فني زدکړو ته پام کم کړی و. له همدې کبله په هره برخه کې د معینو فني کارکونکو او انساني ځواک د کموالي احساس شوی. او س مو د حرفوی او فني زدکړو ملي کمیسیون (NAVTEC) جوړکړی دی. چې په ټول هېواد کې فني او حرفوي ښونځیو ته پراختیا ورکړي. نو له همدې کبله او س حرفوي زدکړې د لوړو زدکړو له اداري څخه جلا شوی او له مړاوي کیدو ژغورل شوی. یوه عمومي نظریه داده چې زموږ دانجېنري پوهنځیو او حرفوي ښونځیو له زدکونکو سره اوسنیو اړتیا و او زموږ د صنایعو راتلونکي ته په کتو سره باېد یوه اړیکه ټېنه شي. دانه یوازې زموږ حرفوي وړتیا پورته بیا یې بلکې د کارموندنې زمینې هم برابروي.
وروستی سرخوږونکې مسله چې غواړم رسېدنه ورته وکړم په دېني مدرسو کې لوست دی. موږ په پاکستان کې ۱۴ زره دېني مدرسې لرو چې یو میلیون فقېر طالبان پکې زدکړه کوي.اتیا په سلو کې دغه مدرسې د وفاق المدارس(دمدرسو څخه دملاتړ ) د اداري تر چتر لاندې راغلي.ددې کار اهمیت په دې کې دی چې وفاق المدارس د زدکونکو لپاره د اوسېدا ځای برابروي. له دې کبله هغوی د بشري مرستو لوی برابرونکي دي. خوددغو مدرسو ضیعه ټکی دادی چې عموما دېني مضمونونه پکې تدرېسیږي.
چې په پایله کې یې یو شمېر زدکونکي ترهری او تندلاری ته ور دننه کیږي.
ډېر طالبان عموما د نورو مذهبونو د نه منلو اونرمی نه ښودل زدکوي. په مدرسو کې دغه نظام هر کال په زرگونو ځوانان تولېدوي.چې کیدای شي یوازې د

جومات ملا بې ( امامت ) وکړي. موږ د وفاق المدارس سره په خبرو کې باید دغه شرایط بدل کړو . هڅې روانې دي چې موږ مدرسې هم د لوړو زدکړو اصلي نظام ته ور دننه کړو.

اوس مو دټولو مدرسو څخه غوښتي چې له دولت سره ځانونه ثبت کړي. او یوازې د دیني زدکړو پر ځای دې د ښوونې دادارې لخوا ټول عادي مضمونونه ولولي او ځانګړي ازموینې دې واخلي. دولت تصمیم نیولی یوازې هغه مدرسې تمویل کړي چې دغه شرایط ومني. د وفاق المدارس ټولو ۵ ادارو په لویه کې د غه شرایط منلي. په داسې حال کې چې هغوی دعادي دولتي تحصیلي نظام پلي کولو ته تیاری ښولی. خو د دولت د اصلي ښوونې د بهیر سره د یوځای کېدو مخالفت کوي. په دواړو خواو کې د بې باوریو سره سره موږ د یوې موافقې په لورې پر مخ روان یو. او زه باور لرم چې ژربه یوې پایلې ته ورسېږو ، چې د پاکستان او مدرسو ترمنځ د ښو اړیکو ټېنګولو ته به لاره هواره کړي.

دهغو شل په سلو کې مدرسو چې د وفاق المدارس تر چتر لاندې نه دي ،یوه وړوکي او مخ په کمیدونکې برخه یې د تندلارو په واک کې ده. غواړم بیا تکرار کړم چې د پاکستان د ۱۵۰ میلیون وګړو یوه کوچنی برخه تندلاري دي. دلته هم ستونزه لکه دنورې نړی په څېر ده. تندلاري داسې له چېغو او زوره ډک دي او داسې زورور کارونه کوي چې ډېره توجه یې ځانته راجلب کړې. په داسې حال کې ډیری منځ لاري خلک داسې غلي او سوله غوښتونکي د ي چې د لږکیو تصویر وړاندې کوي. ډیری پاکستانیان منځ لاري روڼ اندې دي . بیا باېد ووایم چې په هند کې اسلام د صوفیانو په مټ خپور شو ، نه د تورې په څوکه. له همدې کبله زموږ ډېر مسلمانان سوله خوښونکي او ارام دي.

په پای کې د معیاري درسي پروګرام او ازمویني له لارې به د وړتیا او غوښتنې په شراېطو برابر د مدرسو زدکونکي ، کالجونو او پوهنتونونو ته لاره پیدا کړي. په نړی کې ډېر هېوادونه شته چې ټول علوم یې سره ګډ کړي دي او هیڅ دلیل نشته چې پاکستان دا کار ونشي کولای.

# ۳۰ ښځې

## د ښځو ازادي

د مختار ماۍ نوم په ټوله نړۍ کې په یوه اشنا نوم بدل شوی. دډېر غم او خواشینی ځای دی چې د جنسي تېري ټکان ورکونکې پېښې هغه دې شهرت ته ورسوله. ددغه جنسي تیري په اړه ډېرې لیکنې شوې. ویل شوي او اوریدل شوي دي. خو دا پیښه د هغو نهونو یوه برخه ده چې موږ په پاکستان کې ورسره لاس او ګریوان یو.
مختارماۍ د ګوجرو دقوم ښځه ده. په ۱۹۷۹ کال کې د پنجاب په سویل د مېروالا په کلي کې زیږېدلې. هغه طلاقه شوې وه. او د جنسي تیري پروخت یې خاوند نه درلود. ویل کیږي چې ددې ورور عبدالشکور د( مستویي ) دقوم له یوې نجلې نسیمې سره جنسي اړیکې درلودې. دا قوم ځان په ګوجرو لوړ بولي ظاهرا عبدالشکور او نسېمه، د نسېمې د ورونو عبدالخلېق او الله دیتا لخوا ګیر شوي و. عبدالشکور ووهل شو ، تیری پرې وشو او پولیسو ته وسپارل شو. کلیوالو تصمیم ونیو چې د سپین ږېرو د یوې سنتي جرګې له لارې دا ستونزه حل کړي. جرګې فیصله وکړه چې شکور باېد له نسېمې سره واده وکړي او مختارمایي دې د نسیمې یوه ورور ته ورکول شي.
د نسیمې ورو او ځینو نورو دا خبره ونه منله. مختار مایي د نسېمې د دوو ورونو او څو تنو نورو لخوا یوې خونې ته بوتلل شوه ، چې دعېني شاهدانو په وېنا لږ وروسته مختار مایي نېمه لوڅه او ژړېدلې له خونې را ووتله ، نور ویلو ته اړتیا نه لري چې مختار مایي هیڅ ګناه نه درلوده او د نسېمې سره د ورور دجنسي اړیکو په ګنا باېد جزا نه وای ورکول شوې.
اسلام هم زنا او هم د نورو په ګناه یوه بېګناه ته جزا ورکول منع کړې دی. اسلام همدارنګه په بدو کې د نجلی ورکول هم منع کړي. دا غیر اسلامي ، غېر قانو ني ، غیر انساني او له تمدنه لیري کار دی. خو له بده مرغه زموږ په یو شمېر لېرې پرتو سېمو کې دغه پخوانی دود شتون لري. چې هم یې په اسلامې قانون او هم پر سیکولر نظام سېوری غوړولي. خو دا په دې معنی نه ده چې دولت ددغه دود د له منځه وړلو لپاره هیڅ کار نه دی کړی. دا د دولت دنده ده چې د ټولنې د ناتوانه کسانو لاس نیوی وکړي. خو د ۱۲۰ میلیون وګړو په هېواد کې دداسې پخوانېو دودونو د ربښې ویستل چې غټه برخه یې په کلیو کې او سېږي او کم لوستي دي ستونزمن کار دی. خو له دې سره سره موږ خپلې هڅې کړې دي.
خو۲۰۰۲ کال د جون په ۲۲ قومي نا سته او د کوټې پیښه وشوه. د جون په ۳۰ پولیسو ته شکایت وشو. د خبري رسنیو چیغو نارو زما توجه هم جلب کړه. او سمدلاسه مې مختارمایي ته لس زره ډالره ولیږل او خپل ملاتړ مې ور سره وښود . زه پوهیږم چې هغه ته رسېدلی زیان نه جبېره کیدونکی دی. دغه دوسیه په ډېره غازي خان کې د ترهری ضد یوې محکمې تر ارزونې لاندې ونېوله. چې د۲۰۰۲ کال د اګسټ په ۳۱ ، محکمې د نسیمې ۲ ورونو او څلورو نورو ملروته د اعدام حکم ورکړ. مجرمو کسانو د لاهور محکمې ته شکایت وکړچې له عبدالخلېق پرته ټولو ته یې برآت ورکړ. او خلېق یې د کافي شواهدو د نشتوالي له کبله په عمري بند محکوم کړ. دغه حکم د ۲۰۰۵ کال د مارچ په ۳ نیټه صادر شو.
د محکمې پرېکړه د خبري رسنیو ، د بشري حقونو مدافعانو ، غیر دولتي موسسو او د ښځو دحقونو د فعالینو پراخ تبلیغات په لاره واچول. د ۲۰۰۵ کال د جون په ۲۲ د لاهور د محکمې په وړاندې مختار مایي د پاکستان سترې محکمې ته غوښتنلیک ورکړ. ددغو ټولو کسانو د نیولو امر بیا صادر شو. او ټول یې د زندان د تمبو شاته واچول. او ضمانت یې هم منع شو.
ددغو ټولو جنجالونو په ترڅ کې ما په ډېر احتیاط سره د مختار مایي خوا ونیوله. حکومت د مختار مایي په کلي کې د ۳۰۰ زرو ډالرو په لګښت دیو ښوونځی ، د پولېسو د یوې پوستې او ناورین ځپلو ښځو ته د رسېدنې یو مرکز پلان کړ. ګڼو مرسته کونکو ادارو ، د بیلا بیلو هېوادونو سفیرانو او د بشري حقونو فعالانو له دغه کلي لیدنه وکړه. او مختتار مایي یې مختلفو مراسمو ته وبلله ، او له هغې سره یې روحي او مالي مرسته وکړه. د ۲۰۰۵ کال د اګسټ په ۱۲ هغې ته د ټولنېزو خدمتونو لپاره د فاطمې جناح طلایې مډال د لومړي وزیر د سلاکار لخوا ورکول شو.
مختار مایې بهر ته ډېر سفرونه درلودل.د ۲۰۰۳ کال په فبروری کې اسپانیا ته ولاړه. د ۲۰۰۴ کال د اګسټ په ۱۲ سعودي عربستان ته ولاړه . د ۲۰۰۴ کال د جنوری په ۱۰ هند ته ولاړه ، د ۲۰۰۵ کال په اکتوبر، د ۲۰۰۶ په جنوری او مئ کې یې دامریکا متحدو ایالتونو ته سفرونه وکړل. او د۲۰۰۶ کال په جنوری کې یې له فرانسې لېدنه وکړه. هغه له ډېرو تلوېزونونو سره په خبرو او د نورو رسنیو په لیکنو کې ګډون وکړ. او ګڼې نړیوالې جایزې هم وګټلې.
مختار مایې اوس ډېره مشهوره شوې.سره له دې چې کومه غمېزه هغې تیره کړې ددغې کلېمې له کارولو سره ډېر احتیاط کوم.هغه د یوه ښونځي او د ناورین ځپلو ښځو دمرکز مشري کوي. یوه ویب پاڼه هم لري او یو منشي یې هم د خپلو کارونو لپاره ګمارلی. که د مختار مایي سره د بد چلند ګټه رسېدلې هغه داده چې د پاکستان د کلیوالو معصومو ښځوته یې پام وروا ړاو.
جنسي تیری چې د نړۍ په هر ګوټ کې رامنځ ته شي غمجنه پیښه ده او قرباني ته یې ډېره زړه بوږنونکې ده. له همدې کبله زه له مختار مایي او ورته نور ښځو سره د همدردی احساس کوم.
د قرباني شوې ښځې لخوا د ظالمانو او تیري کونکو راکشول کومه عادي خبره نه ده. هره ښځه چې پر دغه لاره ګام اوچتوي دهغه په جرآت پورې اړه لري. او

بې له شکه چې مختار مايي ورته ښځه وه. د مايي صبر له موږ سره مرسته وکړه چې اصلاحي پروګرام ته اغېزمن سرعت ورکړو.
د پاکستان ښځې واقعا ځوريږي.او معمو لا عدالت دهغوی لپاره نه اجرا کيږي.چې دا په يوه متمدنه ټولنه کې د منلو وړ نه ده. په پاکستان کې تاو تريخوالي له هغې جملې نه جنسي تيری کومه غير عادي خبره نه ده.موږ بايد ددغې غمجنې ناروغې د اصلاح لپاره جدي ګامونه پورته کړو.
له ښځو سره تاو تريخوالی او جنسي تيري يوه نړيواله پديده ده.خو دا ددې دليل نشي کيدای چې په پاکستان کې دې هم حتما وي. ما خپل کورته د نظم د راوستو اړتيا لرو. خو زما نيوکه له پاکستان سره د يو اړخيز چلند له کبله دی. کله چې په پاکستان کې د ښځينه طبقې يوه دوسيه مطرح کېږي، کله هم رښتيا هغه لومړې تلفات وي. ولې داسې کيږي؟ خبري رسنی معمولا د داسې پيښو لومړی سرچينې وي. د رسنيو کار اغيز من دی. ځکه مسله ښه په ډاګه کوي. او دولت سمدلاسه ګام پورته کولو ته اړ باسي. خو په خواشينی سره چې ځيني رسنی په غېر مسول ډول سره خپل نظريات خپروي. او خپلې شخصي انيرنې د پيښې د اصلي حقيقت له خبرتيا پرته خپروي. نيمه پوه خلک داسې څر ګندونې کوي چې د پدېدې حقيقت بېخي اسماني شي. رسمي اژانسونه هم کله کله د بې رحمي او کله هم د معينو حقايقو دنه په ډاګه کولو او دوسېې ته د زيان رسولو له ويرې پڅ غبرګون ښيي. سيا ستوال په ځانړي توګه اپوزيسيون ډېر په منډه غوغا پيل کوي او د حقايقو په خرابولود دولت د بدنامولو هڅې کوي. غېر دولتي اداري هم د ښه نيت له کبله غوغا پورته کوي. خو په سلونو کيسې د اسنادو د نشتوالي له کبله قرباني کيږي. له همدې کبله حقايق ترډېره پټېږي. او کله ښا ددوسې او حقايقو د ورکولو لپاره ډېرې پيسې مصرف شي.
حکومت بايد د ښځو دغمجنو او شرمناکو شرايطو د له منځه وړلو لپاره سم عملي ګامونه پورته کړي. د بې عدالتيو د ترسره کيدو پر وخت چارواکي بايد لومړي کسان وي چې سېمې ته ځانونه ورسوي او غبرګون وښيي. هغوی بايد هغه کسان وي چې حقايق روښانه کړي. هغوی بايد د شواهدو د پټولو لپاره ډېره اند ښېنه ونه لري. اوس زموږ هڅه داده چې په دغه لاره حرکت وکړو .دښځو ازادې راته دولسمشری وړاندې يوه مهمه مسله وه. د پوځ د يوه افسر په توګه دداسې شرايطو شاهد وم چې د ټول هيواد ښځې ورسره لاس او ګريوان وې. دغه شرايط راته د منلو وړ نه و، او بايد ددغو شرايطو د له منځه وړلو لپاره يو څه وکړو.
که داسې وي چې د پاکستان په سيا سي او ټولنيز چوکاټ کې کوم بحث کيږي ، زه تيار يم چې د ټولو جنسي مسلو په اړه چې زموږ په ټولنه اغيز کوي په ملي سطحه بحث او ورته رسېدنه وکړم .زه ددغه کتاب له لارې خپل پوره ملاتړ او کلک هوډ دښځو د غوړځنګ سره اعلاموم
د پاکستان د ښځو دحقونو دسېمه يز قهرمان نظريه له ما سره يوډول ده. زموږ اختلاف دغو موخو ته د رسېدو په څرنګوالي کې ده. کله چې څوک د ښځو لپاره د برابرو حقونو غوښتنه مطرح کوي بايد په دې پوه وي چې په کومو برخو کې ښځې تر نارينه وښې ، په کومو برخو کې له نارينه و سره مساوي او په کومو برخو کې تر نا رينه و نا توانه دي. چې له هغوی سره ښه مرسته وشي. زه شخصا فکر کوم چې بايد تدريجي او پر مختللي پروګرام جوړ ورسره جوخت په هغو سېمو کې د ښځو د ظر فيتونو د لوړولو ګامونه بايد اوچت شي چې ورته اړتيا لري.
زما لپاره لومړی موخه د ښځو دسياسي حقونو قوي کول دي ، داکار له ښځو سره مرسته کوي چې خپل راتلونکی په خپله جوړ او وټاکي. ددغه پروګرام له لارې ښځې ددولت په لوړو څوکيو کې د خپلو غوښتنو لپاره مبارزه کولای شي. وړاندې مې وويل چې د ښځو د سياسي تقويې لپاره په ملي او سيمه يېزه کچه کوم کارونه بايد وشي.
موږ د ۳، ۴ مېليون ډالرو په لښت د ښځو يو سياسي ښونځی جوړ کړ چې د سياسي پوستونو لپاره ښځې وروزي. تر کال ۲۰۰۶ پورې ۲۷۰۰ ښځې روزل شويدي.
موږ همدارنګه د ښځو دچارو ملي کميسيون جوړ کړ. چې د ښځو د حقونو څارنه وکړي. همدارنګه د پاکستان د حکومت په پيسو دجنسي چارود اصلاح لپاره يو پروګرام جوړ شو، چې د ښځو تولنيزه ازادي تضمين کړي. دغه کار د ښځو لخوا د سترو ګامونو اوچتولو ته لاره هواره کړه. نن دپاکستان ښځې په بېلا بېلو ادارو کې کارونه کوي. ۷ ښځې د فد رالي حکومت په کابينه کې حضور لري. ۲ ايالتي وزيرې لرو ، په پارلمان کې د لسو کميسونو مشرانې ښځې او د سنا يا مشرانو په جرګه کې د ۱۲ کميټو مشرانې ښځې دي. په دې سربېره د لومړي ځل لپاره يوه ښځه د پاکستان دمرکزي بانک لوړې څوکی ته رسېدلې. دپوځ يوه تورن جنراله هم ښځه ده. د لومړي ځل لپاره دوه ښځې د سند د ايالت په محکمو کې قاضيانې وټاکل شوې. او يوه بله د لوی څارنوال مرستياله شوې. پدې سربېره يو شمير ښځې د پاکستان پوځ ته ور دننه شوي او د پيلو ټا نو په توګه د دغه هېواد په هوايي ځواکونو کې دندې تر سره کوي.
ښونې او روزنې ته د ښځو د تشويق لپاره ستر پروګرامونه د هڅونې او اسانتيا و د برابرولو له لارې جوړ شوي دي. دا ټول پروګرامونه ګټور دي. د ښارونو نجونې د هلکانو په پرتله ښونې او تحصيل ته ډېرې ژمنې دي ،يعني د لوست پايلې يې تر هلکانو ښې دي.
د ښځو د اقتصاد د ښه کولو لپاره هم هڅې شوي دي. د مختلفو مهارتونو د روزنې پروژې هم د اعتباري اسانتيا و له لارې برابرې شوي. د ښځو د سوداګری اتا ق هم فعال شوی. په همدې وروستيو کې په کراچی کې د ښځو د تولېداتو يو ستر نندارتون جوړ شوی و. ما ددغه نندارتون سره دمرستې افتخار تر لاسه کړ. په دغه نندارتون کې له ۱۰۰ زرو زياتو ښځو ګډون درلود.
موږ بايد دښځو سره د تاو تريخوالي ستونزه حل کړو او د هغو قوانينو سره مبارزه وکړو چې ښځو سره تبعيض شوی دی. ملي شورا داسې لايحه تصويب کړه. چې د( عزت ) په نوم د ښځو وژل منع کوي.سره له دې چې دغه ځواب وروستی نه دی. دعزت په نوم د ښځو وژل يو شيطاني کار دی. چې د پاکستان په

وروسته پاتې سيمو کې دپخوانيو دودونو له کبله روان دی. يوازې ښونه او د خلکو د ذهنونو روښانول دا ستونزه پای ته رسوي. دا ستر گام ددولت لخوا پورته شوی خو پلي کول يې وخت ته اړتيا لري. د ښځو سره د تاو تريخوالي د مبارزې يو ه کميټه هم جوړه شوې. چې له قانونه ملاتړ وکړي او د بدرفتاری له کبله ځورېدلو ښځو ته ډاډ ورکړي. ناورين ځپلو ښځو ته د رسېدنې لپاره د پناه ځايونو يا مرکزونو يو زنځيري کړی جوړه شوي. همدارنګه د پوليسو په پوستو کې د دښځو د شکايتونو لپاره يو خاص ټيليفون فعال شوی دی.

له ټولو حساسه موضوع د ( حدودو ) قانون دی، چې دجنرال ضيا لخوا تصويب او محکمو ته يې د مذهبي تندلارو دتلو لپاره لاره هواره کړه. د حدودو قانون د زنا، جنسي اړيکو او غلا کولو لپاره جزاگانې ټاکلي. مذهبي سياسي ډلې دغه قانون د اسلامي قانون سره سم بولي. خو ډېرې ښځې، روڼ اندي او ډېر روڼ اندې دينې عالمان هم فکر کوي چې دغه قانون زموږ دين ناوړه تعبير کړی او دښځو په وړاندې تبعيض لري. دغه قانو ن د پاکستان تصوير ډېر تياره کړی دی. همدا اوس دغه قانون د ښځو د چارو دملي کميسيون تر بيا کتنې لاندې دی. چې پايلې به يې پارلمان ته وړاندې شي. د ښځو د پراختيا وزارت هڅه کوي چې د ټولود نظر يو والی ددغه قانون د له منځه وړلو لپاره را وپاروي. دا مسله ماهرانه سياسي او قانوني چلند ته اړتيا لري. خو زه فکر کوم چې د تېرو تېروتنو د له منځه وړلو لپاره زړور توب ولرو.

پدې ټولو سربېره باور لرم چې د ښځو دازادی بنسټ مو د پر مختلونکی غورځنگ له لارې ايښی دی. دا غورځنګ په شا نه راځي. ځکه په خپله ښځې د خپلو حقونو د اخېستو لپاره را پورته شوي او ډېر نارينه پوی شوي چې دا لړی نشي درولای.

# ۳۱ څپرکی

د پاکستان مهربانه تصویر یا عکس:

ډېر د خواشینی ځای دی چې په نړی کې د پاکستان تصویر ډېر تپاره شوی او نړیوال پاکستان یوازې د ترهری او تندلاری سره تړي. ډېر زموږ ټولنه متعصبه او او وروسته پاتې بولي. زموږ له ډېر هڅو سره سره چې زموږ د ټولنې اکثریت مسلمانان منځ لاري دي او یوازې په لویدیځ او ختیځ کشمېر کې کم شمېر تندلارې دي. لامل یې په افغانستان او کشمېر کې نا ارامی دي. نور هیڅ لامل نلري. خودا تورتصویر به هېڅکله لیرې نشي. له همدې کبله ما هڅه کړې د پاکستان رښتېنی تصویر نندارې ته وړاندې کړم چې هغه مې ددغه هېواد مهربانه تصویر بللی. ترهری مې د فرهنګ او سپورټ له لارې بیان کړې ده.
..................................

بې له شکه په پاکستان کې د نړی یو شمېر ښه لوړ غرونه شته. همدا رنګه ددغه هېواد په سویل کې ډېر لاس نه خوړلي ساحلونه پراته دي، څپڅپانده سپېندونه، خړې دښتې، لوی ځنګلونه. د هندوانو، سیکانو، بودا یانو ډېرې تاریخي ودانی په پاکستان کې شته. همدا رنګه ډېر تاریخي ابدات او لرغوني مو زیمونه لرو. خو په خواشیني سره کم بهرني سیلانیان پاکستان ته راځي. د سپټامبر د ۱۱ مخکې خو موږ بیخي بهرني سیلانیان په اغېز منه توګه نشو راجذبولای. د سیلانیانو لپاره د اسانتیا وو په برابرولو کې پاتې راغلي یو. اوس خو د تندلاری او ترهری له کبله په پاکستان کې د ترهری برخه خواره ده.
زه د پاکستان په ضعیفه او قوي ټکو پوی وم. له همدې کبله مو خپله مخابراتي شبکه قوي کړه او یو ساحلي سړک مو له ختیځ، کراچی نه نوي جوړ شوي بندر ګوادر، د لویدیځ خواته وغزاو. دغې پروژې ډېر ساحلي ښارونه او د لېدلو ګنې وړ سیمې سره ونښلولې. موږ همدا رنګه د هېواد په شمال کې ۴ اصلي درې د (چترال، کاغان، ګلیت- او ایسکاردو) سره ونښلولې. دغه کار د سیلانیانو تړ راتړ د زمکې له لارې اسانه کړ، چې له یوې ښکلي سېمې بلې ته ولاړ شي. او س موږ هڅې کود کورنیو او بهرنیو سیلانیانو د جذبولو خپله وړتیا نندارې ته وړاندې کړو. خوښ یم چې د کورنیو سیلانیانو په کچه کې یو څه زیاتوالی راغلی. دا کار د هوټلونو او د اوسېدا د سېمو په برابرولو پورې اړه لري. دا کارونه باید نورهم زیات شي چې بهرني سیلانیان هم زړه ښه کړي.
زه په یوه ډول ورزشکار هم وم. پاکستان د تاریخ په بیلابیلو پړاونو کې د لوبو لپاره منا سب ځای و. چې په کرکېټ، هاکي، نېزه بازي، او حتی بیړی ځغلونې. بیلیارد او سنوکر کې نړیوال اعتبار لرو.
بې له شکه د نړی ښه کښتی ځغلونکی پاکستانی ضیا محمود و. هاشم خان، جهانیر خان او جان شیرخان د نړی ښه نیزه وهونکي و. چې جهانیر یې تر ټولو وتلی و. که هالیوډ دهغه له غمجنې کیسې، ازار او عزم نه خبر شوی وای نو حتما به یې لکه د ((اور ارابې)) په څېر بل فلم پرې جوړ کړی وای. څوک چې جهانیر پیژني هغه د نړی ښه لوبغاړی بولي. پاکستان په اسیا یې لوبو کې لوړه درجه لري. ورزش کولای شی ټولنیز غمونه له مینځه یوسي او خلکو ته تفریح شي. خو په ۱۹۹۹ کال کې زموږ د ورزش کارنامې په ټیټه سطحه وې. له همدې کبله مې د ورزش د تقوېې لپاره پلانونه ونیول.
اولین کار چې باید شوی وای د ټولو ورزشي جوړښتونو پیژند ګلوي وه چې د تقلب او انډیوالی ښکار شوی و. له همدې کبله مو ټول ورزشي فدراسیونونه ورغول. او کسان مو د وړتیا له مخې وروپیژندل. وروسته مو په دریو پړاونو کې د یوه جذابه رقابتي سیستم یوه ستراتیژي د هېواد لپاره جوړه کړه. دغه سیالی د ښونځیو، کالجونو، دولتي او خصوصي ادارو، د سېمې او ولسوالیو په کچه په لاره واچول شول. موږ همدا رنګه خصوصي ډګر د ټیمونو سره دمرستې، اداره کولو او همدا رنګه د سیالیو جوړولو ته وهڅوو. هیله کو دغه هڅې سیمه ییز استعداد ونه راجذب کړي، خلک دورزشي سیالیو سره اشنا، او دهیواددعمومي ورزش ته به قوت ورکړي، چې ورسره جوخت د پاکستان څوریدلو خلکو ته د ساعتېری زمینه هم برابره شي.
..................................

په نړی کې کم خلک پوهېږي چې پا کستان ډول ډول بډایه فرهنګي میراتونه لري. موږ د تاریخ نه وړاندې د موهنجو دارو او هراپا، دمهرګړ د تمدن، لوی سکندراو برتانیې د راج کبند نې او پلتنې لرو. هم سکندر او هم بریتانیا زموږ په هېواد کې دخپلو پښو نه پاکېدونکې نښې زموږ په خاوره کې پرېښې. ویل کیږي چې د کلاش د قوم خلک چې د چترال د کلاش په دره کې اوسیږي د اسکندر د پوځ پاتې شوني دي. چې دلته پاتې شول. زموږ په تېر تاریخ کې د مغلو د دورې ابدات، د مسلمانانو د اهل تصوف زیارتونه او د برتانیې د استعمار نښې شته. په (ټیکسلا، صوابی او سوات) کې د بودا یانو څو مذهبي ځایونه، په (کټلاس راج) کې دهندوانو، او په (حسن ابدال او نانکانا صاحب) کې د سیکانو د عبادت سېمو زموږ فرهنګي میراتونو ته نور رنګ هم ور زیات کړی دی. کله چې زموږ په خاوره کې څوک روان وي له تاریخ سره سم ګام پورته کوي. زموږ هره تبګه، هره لاره، د زمکې هره ټوټه او دیوال او د همالیا د غرونو، هندو کش او قراقرم هره څوکه، ویلو ته یو څه لري.
د پاکستان ۴ ایالته بډایه او یو له بله جلا فرهنګ لري. موسیقي، نڅا او هنر له زرګونو کلونو راهیسې زموږ په هېواد کې شته. خو په خواشینی سره چې دا ټول د پاکستان په زړه کې پټ ساتل شوي. تردې بده دا چې تندلارو مذهبیانو دغه کار غیر اسلامي بللی. او هیڅ حکومت په تېر وخت کې جرات نه دی کړی چې دوی ته ووای چې تېر وتي دي.

داړتیا مهم شی یو قوي بدلون و، موږ باېد د فرهنګي یو ځای او سېدنې عادي ژوند ته را ګرځولی وای. نو د پاکستان د میراتونو د ژوندي کولو ګامونه مو پورته کړل. له یوځه مې وغوښتل چې په کراچۍ کې دې د قائد اعظم د ژبا رت باغونه ښکلي کړي. او هغه دې د ملت د پلار سوېې ته برابر کړي. نن سبا په زرګونو کسان له دغه زیا رت څخه لیدنه کوي. موږ همدارنګه یو ښکلی منار په اسلام اباد کې جوړ کړ. او د پاکستان ملت ته مو ډالی کړ. دغه منار د پاکستان د غورځنګ او ددغه ملک د ترلاسه کولو لپاره د مبارزو تصویر وړاندې کوي. همدارنګه د لاهور د والټون په سیمه کې دیوې بلې ودانۍ جوړېدو چې موږ ورته (باب پاکستان) وایو کار روان دی. ددغې ودانۍ پراخوالی د هغې سېمې په اندازه دی چې د ملت پلار پکې له هنده راتښتېدلي او ۱۰۰ زرو خلکو ته یې پکې وینا وکړه. پردغو تاریخي اثارو سربېره موږ په اسلام اباد کې د ملي میراتونو لپاره د یوه موزېم د جوړېدو پلان لرو چې د پاکستان د سېمې فرهنګ او دودونه ننداري ته وړاندې کړو. دا پروژه د (اوکس مفتي) لخوا بشپړه شوې. مفتي په ډېر شور او شوق سره د هېواد د هنر او فرهنګ په ډګر کې بوخت دی. او ددې پروژې په خوا کې یې د ستاینې وړ نور کارونه هم کړي دي. دغه موزیم او س د ډېرو کورنیو او بهرنیو لیدونکو لپاره د لېدو وړ ځای دی.

ما همدارنګه دپاکستان هنر، موسیقي، نڅا او تیاتر وهڅاو. موږ په کراچۍ کې د عملي هنر لپاره یوه ملي اکاډمي جوړه کړه. او وتلي شاعر ضیا محی الدین مې ددغې اداري ریس وټاکه. همدارنګه مو په اسلام اباد کې د هنرونو ملي شورا او موزیم پرانیست. دواړو مرکزونو اجرایي هنرونوته د ځوانو استعدادونو د جذب، په ځانګړي توګه د موسیقی په برخه کې مهم رول لوبولی.

او لکه څرنګه مې چې وویل په پاکستان کې د مطبوعاتو د ازادي په لړ کې ډېرو خصوصي تلویزوني شبکو په کار پیل وکړ. موږ نړۍ ته د خپل ښه تصوېر د وړاندې کولو لپاره جدي کار ته اړتیا لرو. او باېد په یوه وخت کې په ټولو جبهو کې حرکت وکړو. موږ باید تندلاری او ترهری ته ماتې ورکړو. ورسره جوخت له اقتصادي او هنري پلوه یوه هوسا او ښډابه هېواد ولرو. چې نړۍ یې لېدلو ته وهڅیږي. خبري رسنی باید نړۍ ته د پاکستان په ښه ور پیژندلو کې ډېره بیړه وکړي.

## ۳۲ خپرکی

د رهبری ازموینه ، د پاکستان زلزله:

د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر ۸ د سهار ۸:۵۲ بجو نړۍ د میلیونو پاکستانیانو په حال اندیښمنه شوه . د ریختر په مقیاس ۷،۲ درجو زلزلې زموږ غرنی شمالي سیمې ولړزولې ، چې پر سرحد او ازاد کشمیر یې اغیز وشینده .دغې زلزلې په څو ثانیو کې درنه مرگ ژوبله او ورانی رامنځ ته کړه . زلزلې ۳۰ زره متر مربع سیمه ونیوله او تر درې نیم میلیون زیات خلک یې بې کوره کړل. ۷۳ زره تنه پکې ووژل شول او ۵۰۰ زره کورونه او ودانۍ پکې ورانې شوې. چې غټه برخه یې ښوونځي او روغتیا یې مرکزونه و. ټول حکومتي بنسټونه وران شول. کله چې په مارګلا سیمه کې یو ه غټه ودانی ونړېده ، پلازمینه اسلام اباد له دې زلزلې اغیزمن شو. کله چې ددغو ودانیو دورانېدو په ترڅ کې ډېر او سېدونکي مړه او ژوندي تر خاورو لاندې شول . ملت ټکان وخوړ. د خبر د جزئیاتو په ترلاسه کېدو زما ، نړۍ او زما د ملت لپاره د زلزلې څومره والی په ډاګه شو.

په پیل کې مو د کشمیر او سرحد دا بالت په اړه څه معلومات نه درلودل چې هلته څه پیښ شوي. یوازېني خبر په اسلام اباد کې د یوې ودانی نړېدل و. سمدلاسه مې له سیمې لیدنه وکړه. خو دغرنیو سیمو څخه د رپوټو له ترلاسه کولو سره سم مې د پوځ لوی درستیز ته د سیمې څخه د لیدلو امر وکړ چې د ناورین کچه معلومه کړي.

د مارګلا د برج ورانېدو وښوله چې د ژغورنې د عملیاتو په ډګر کې څومره کم سمبال یو. زه باید د ترکي او برتانیې څخه مننه وکړم چې ډېر ژر یې د ژغورنې سمبالې روزل شوې ډلې زموږ مرستې ته را ولیږلې. ډېر هغه کسان چې تر خاورو لاندې ژوند ي را ووتل د دغو ډلو او د دوی د روزل شویو سپیو له برکته و. دژغورنې دغه ډلې همدا رنګه د سرحد او کشمیر سیمو ته هم ورسېدې. چې ډېره ښه دنده یې تر سره کړه او زه یې مننه کوم.

د پوځ لوی درستیز د مازدیگر په ۵ بجو د ځپل شویو له لومړۍ ډلې سره د پینډۍ پوځي روغتون ته را ورسید. اوس د افت پراخوالی روښانه شوی و. تصمیم مې ونیو چې سبا سهار وختي په خپله سیمې ته ورشم. دا سفر نه یوازې د پیښې د زیانونو د کچې د معلومولو لپاره و ، بلکې د ناورین ځپلو او بېځایه شویو سره د خواخوږۍ د ښکاره ولو لپاره و. پوځ چټک غبرګون وښود. د پاڼونو را ښوېدو د دغې سیمې دا څو لارې هم بندې کړې وې. د پوځ جنرالانو ته د ژرلاس په کار کېدو امر وشو ،چې لارې پرانیزي. د پوځ قطعات چې ټول ۵۰ زره کسان و ، د قومندې له مرکزه پنجاب ته ولیږل شول. په ټول قوت سره د پوځ چورلکې او هوایي ځواکونه په حرکت راغلل ،چې فورا له خاور و لاندې مړي را وباسي او د مرستې رسونې چارې تر سره کړي.

د اکتوبر په ۹ د سهار ۹:۳۰ د زلزلې سیمې ته ور سېدم. د سرحد له ۲ اود ازاد کشمیر له درېو سیمو څخه مې لیدنه وکړه. د سرحد د شمال لویدیځ ښارګوټی بیخي وران شوی و. هغه څه مې چې ولیدل زړه یې را مات کړ. یوه ودانۍ هم روغه نه وه پاتې. ټول سیمه بېز حکومت له منځه تللی و. هغه چې ژوند ي پاتې و ، په زړه ماتي ډول یې ورانیو ته کتل. ددغو کسانو د لیدلو تحمل مې ونشو کړای.ما ورسره د مرستو له وعدې او د غمشریکی له ښولو پرته نور هیڅ ونشو کولای. هرې سیمې ته چې ولاړم ډاکټرانو په ازاده هوا او یا موقتو خیمو کې د ناروغانو درملنه کوله. کله چې د کشمیر مرکز مظفر اباد ته ورسېدم د ژغورنې د ترکی ډلې په لیدلو حیران او خوښ شوم. څرنګه هغوی ترما وړاندې سیمې ته رسیدلي و؟لکه څرنګه چې زه په ترکي پوهېدم دهغوی د فداکاری او زما له ملت سره د مینې له کبله مې ترې مننه وکړه. د ماسپښین په یوه بجه یو ښه خبر په مظفر اباد کې راته را ورسید ، چې پوځي انجینرانو سیمې ته د دوو غزیدلو لارو څخه یوه خلاصه کړه.

هغوی حتما د شپې کار کړی و ، چې دغه دنده یې تر سره کړه. د ۲ ورځو په ترڅ کې د سیمې نورو ښارونو ته نورې ورغلې لارې هم د ګټې اخیستو وړ شوې. خو غرنیو درو ته د رسېدو لپاره اونیو ته اړتیا وه. دغه سیمې د چورلکو مرستو ته پاتې شوې.

دفتر ته د ژر را ګرځېدو سره سم مې د حالاتو د څېړنې وروسته تصمیم ونیو چې د بیا رغاونې لپاره د ولسمشر پلان (پي ار ای ) جوړ او عملي کړم. دغه پرووګرام ۴ پړاونه لرل. ژغورنه ، مرسته رسول ، بیا رغاونه او نوې کونه . لومړی مې د مرستې رسولو فدراله ټولنه جوړه کړه. چې د ژغورنې او مرستې رسونې چارې پر مخ بوزي. وروسته مو د زلزلې د ورانیو د بیا رغا ونې او نوې کونې اداره جوړه کړه . چې د پلان دریم او څلورم پړاونه تر سره کړي.

د ژغورنې عملیاتو یوه میاشت وخت ونیو. پاکستان د تجربې او فني تجهیزاتو د نه لرلو له کبله دې ناورین ته تیار نه و ، موږ باید د ترکې او برتانیې د چټک غبرګون منندوی واوسو.دغو ۲ هیوادونو د ډېرو کسانو ژوند وژغورو.

زموږ اصلي دنده دمرستې رسولو عملیات و. ځکه څو میلیونه کسان بې کوره شوي و. او ژمی هم دخلکو د کورنو شاته را رسېدلی و. دغه عملیات درې جلا عناصر درلودل. د اوبو او دلوړې دمخنیوي لپاره دخوړو برابرول ، د بېځایه شویو لپاره د دارو درملو او روغتیا یې اسانتیا و او د صحرایي روغتونونو او پناه ځالو جوړول . پاکستان لکه د لویدیځ د بډایه هیوادونو په څېر نه دی چې دورته ناورین لپاره پراخې مالي او نور سمبال توکي او ټولنیز ملاتړ ولري. په پاکستان کې سره له دې چې حکومت د مرستو معینې سرچینې د ورته نامعلومو ناورینونو لپاره ذخیره کوي ، د خیریه موسسو یوه غټه شبکه هم مهم رول لوبوي. او خالیاه ډکوي. په دغه ورځ ټول ملت سره یو او مرستې ته تیار شو.ډیر کسان او دمو سسو کار کونکي په خپله خوښه د ډالی شویو مرسته شویو

توکو راټولو ته تیار شول. پدسلونو کورنیو او بهرمیشتو پاکستاني ډاکټرا نو د مرستي رسونې څخه یو ستر جوړښت رامنځ ته شو. د پاکستانیانو او زموږ د بهرنیو ملرو سخاوت دومره قوي و چې دغه ناڅاپه افت یې له منځه وړای شو.غیر دولتي موسسو ، دملرو ملتونو اړوند ادارو او ټولې نړیوالې ټولنې په پراخه ټنډه له مور سره چلندوکړ. د پاکستان ملت به هېڅکله دهغوی زړه سوی هېر نه کړي.

په دې منځ کې زما دحکومت رول همغږي کول و ، موږ پوه شو که زلزلې ځپلو سېمو ته مو دمرستو د سترو کاروانونو بهېر نه وای منظم کړی او خپله پوره بوخته مخابراتي شبکه مو نه وایې فعاله ساتلې ،ټوله لړی به له بې نظمی او پاشل کېدو سره مخامخ شوې وای. پوځ یوازېنی اداره وه چې دغه ماموریت یې تر سره کولای شو. نو دهمدې لپاره مود پوځ فرقې سره وویشلې. لس لوا گانې او تقریبا ۵۰ کنډکونه په مختلفو سیمو کې ځای پر ځای شول. چې اړو کسانو ته رسېدنه وشي.

دغه سېمې په برخو وویشل شوې. د مسولو افسرانو نومونه او دټیلیفون شمېرې د رسنیو له لارې اعلان شوې. چې اړ خلک په اسانی سره له هغوی دمرستو غوښتنه وکړي. له دې کبله پوځ ټول ټ راټ تنظیم کړ ،او مرسته شوي توکي یې ډېرو اړمنو کسانو ته د لومړیتوب په ډول وویشل. دغو ډلو همدارنګه د مخابراتي مرکزونو په توګه هم کار کاو .موږدوه هوايي اډې د کومکونو دترلاسه کولو لپاره معرفي کړې. د کومکونو د لېږدولو ۲ اډې مو په غرونو کې جوړې کړې او ددغو توکو د لېږلو د لارښونې لپاره مو په اړو سېمو کې مرکزونه جوړ کړل. دغه مرستې د چورلکو په مټ له پاسه راغورځول کېدل. د اسونو ، قچرو او همدارنګه د پیاده لارو څخه لېږدول کېده .بده به وي که په خاص ډول د امریکا دمتحده ایالتونو او برتانیې د شینوک الوتکو له لارې ناورین ځپلو سیمو ته د مرستو د لېږلو له دندې څخه مننه ونه کړم. د ژغورنې او مرستې رسونې د عملیاتو په ټول پړاو کې وخت ډېر مهم وي ، او د خپلو شینوک الوتکو له سرعت پرته نشو بریالي کېدی.

زه نه یوازې ددولتونو بلکې دسعودي عربستان او ترکې د خلکو له مرستې څخه مننه کوم. هغوی د خوړو ، خېمو او درملو په برخه کې له موږ سره ډېره مرسته وکړه. ددغو خلکو دولتونو دخپلو هېوادونو د یوه ملي پروگرام له لارې دخپل هېواد له گوټ گوټه مرسته شوي توکي راټول کړل ، ددواړو هېوادونو خلکو په خلاص زړه له موږ سره مرستې وکړې.

ترټولو اغېزاچونکې مرستې د ښونځیو د هلکانو دجېبونو پیسې وې چې موږته یې راډالی کړې. د مرستي رسونې د څو اونیو په ترځ کې یو ډېر هوښیار تصمیم مو چې ونیو کېدای شي د ( پیسو دویشلو دمرکز ) جوړول و. ومو لېدل چې په سلونو زره کسان بې پیسو پاتې دي. هغه ناروغان چې په گرځنده یا لیرې پرتو اصلي روغتونونو کې تر درملنې لاندې و د بېرته راټ پیسې یې نه درلودې. په زلزله ځپلو سیمو کې ټول کاروبار او وړې سوداګری له منځه تللې وې.

هیڅ خرڅونکی او پلورونکی نه ښکارېده. نو موږ تصمیم ونیو چې سمدلاسه ټولو ناروغانو ، ټپیانو او د وژل شویو د کورنیو پاتې کسا نو ته نقدې پیسې وو بښو. په ۳ میاشتو کې ۳۵۰ میلیونه ډالره وویشل شو. دا گام په ربښتیا سره اغېزمن و. یو ځل بیا سوداګریز فعالیتونه پیل شول. خلکو پخپله بیا رغاونه پیل کړه. او داقتصادي کارونه څرک راښکاره شو.

بد بېنو کسانو او عیب پلټونکو فکر کاو چې په لسګونو زره کسان به د ټپونو ، په زرګونو نور به د لوږې او ناروغېو د خپرېدو له کبله ومري.خو دا وړاند وینې غلطې وختې. هغوی همدارنګه وړاند وینه کړې وه چې په لسګونو زره کسان به دهمالیا په یخو غرونو کې د ژمي د سوړ والي له کبله مړه شي. زه دغه کسان نا پوه خبرداری ورکونکي ، ضعیف الفکره ، بې زړه او که مبالغه ونکړو احمقان بولم. زه له پیله پو هېدم چې ددوی وړاند وینې بیځایه خبرې دي.

بیا رغا ونه یو پیچلی کار او وخت ته اړتیا لري. موږ په تجربې سره ولېدل چې د بیا رغاونې بهېر په نړی، په خاصه توګه د سوېلي اسیا د سونامي له وړانې او په امریکا کې د کاترینا له طوانونو وروسته څرنګه تر سره شوه. په پاکستان کې د ۴۰۰ زره ښونځیو ، کورونو ، روغتونونو او دولتي ادارو ته اړتیا وه. د کورونو د بیا رغا ونې په اړه مو فکر وکړ دا به سمه نه وي چې دولت دخلکو کورونه ور جوړ کړي ، تصمیم مو ونیو چې د خصوصي کور جوړونې یوه ټلاره جوړه کړو ، او دخلکو دکورنو د ورانېدو له کبله ورته یوه خاصه اندازه پیسې ورکړو. او ځانړې نقشې د خلکو دکورنو د جوړولو لپاره ورکړو. د ښونځیو او روغتونونو د بیا رغا ونې لپاره مو د اړتیا پر اساس یوه ستراتېژي جوړه کړه. چې له مخې مو په اړو سېمو کې لومړنې ، منځنې ښونځي ، لیسې ، روغتونونه ، او کالجونه جوړ کړل.

په مظفر اباد کې مو د دولتي ادارودجوړولو لپار تصمیم ونیو چې ټول په نورو سېمو کې جوړ کړو چې د ښار چاپیریال هم ښکلې او ښه شي. بېوزلو ښځو ، معلولو او یتیمانو سره مرسته هم د بیا رغاونې د بهیر مهم ټکي دي. تصمیم مو ونیو چې د یتیمانو سره دمرستې مرکزونه ( اشیانې ) په اسلام اباد کې جوړه کړو. او وروسته دغه مرکزونه بې وزلو سېمو سرحد او ازاد کشمیر ته ولیږدو. په دې اړه مو یوه اند ښښنه په اوږد مهال کې دما لي منابعو پیدا کول دي چې وکولای شو په دوامداره توکو دغو بې وزلو ته مرستې ورسو ، او ددوی د ژوند دښه والي لپاره هڅې وکړو. د نړیوال بانک ، د اسیا د پرمختیا بې بانک ،د ملرو ملتونو داړوندو ادارو اودپاکستان دولت په ګډه سره د زلزلې د زیانونو د معلومولو لپاره پلان جوړ کړ.غوښتل مو چې ټول زموږ د لومړنیو اړتیاو سره موافقه وکړي. اټکل وشو چې ۵،۲ میلیارده ډالره زیان به اوښتی وي.په یوه کال کې ۱،۲ میلیارده ډالره د مرستو بودجه وه ، ۳،۲ میلیارده ډالره د بیارغاونې او سل میلیون ډالره. د ناتوانه کسانو د وړتیا د لوړولو لپاره اټکل شوی و. دد غو معلوماتو په ترلاسه کولو سره مې تصمیم ونیو چې په اسلام اباد کې د مرسته ورکونکو هېوادونو نړیوال کنفرانس را وبلم . همدارنګه مې د ولسمشری دمرستو پروگرام په لاره واچاو. په دغه کنفرانس کې دنړیوالو له

سترځواب څخه ډېر خوښ شوم. په دغه کنفرانس کې ۷۲ هېوادونو ګډون درلود. او د ۲،۴ میلیارده ډالرو د مرستې ژمنه یې وکړه ،چې ۱،۲ مېلیاردو ډالرو ته یې زموږ سخته اړتیا وه. ځینې دغه مرستې بلاعوضه او ځېنې یې اوږد مهالي پورونه و.د پاکستان ټول ملت په ځانګړي توګه زه د نړیوالې ټولنې له دغې پراخې مرستې څخه چې د پاکستان سره یې په ډېر مهم وخت کې وکړه مننه کوم. د ولسمشری د مرستې موسسې ته ډېرې مرستې را ورسېدې ،چې ډېرې یې د پاکستان داوسېدونکو او له پولو بهر د پاکستانیو موسسو مرستې وې. دغې موسسې ته په ۲۰۰۶ کال کې تر ۱۷۰ مېلیون ډالرو زیاتې پیسې را ورسېدې. زلزله یو خدایي کارو چې د ستر غم او زیان لامل شو. خو د بې وزلو او اړو کسانو د پیاوړي کولو پروګرام هم په ښه او منظمه توګه تر سره شو. په دغو ټولو مرستو سره به ناورین ځپلې سیمه او خلک بېرته عادي حالت ته ستانه شي، او موږ به د نړېوالې ټولنې د مرستو پوروړي پاتې شو .

## وروستی۳۳ څېرکی

غبرگونونه

کله چې د خپل ژوند بهیرته له همغه وړوکوالي بیا تر ډېرو حساسو شیبو پورې وگورم ، دخدای له مهربانی مننه کوم. څوک چې په یوه متوسطه کورنی کې پیدا کیږي او دمشر پالونکو په ټولنه کې ژوند کوي باید لوړو دولتي پوړیو ته د رسیدو خپال دې نه کوي.
زه له همغه پیله چې له نوي ډهلي نه کراچۍ ته د گډوالو په خطرناک گاډي کې سپور شوم له جنجاله ډک ژوند مې درلود.ما هیڅله داسې هوښیاري او وړتیا له ځانه نه ده ښولې، چې د یوه روښانه راتلونکي تصویر دې راکړي . په پوځ کې ماته د یوه وخت غوښتونکي ، ازاد او جنې افسر په سترگه کتل کېده. نه د یو جدي مسلکي افسر په توگه. ما هیڅکله ژوند ته په جدي نظر نه دي کتلي. زما خرابه انظباط او تهذیب ته که څوک وگوري فکر نه کیږي چې یو روښانه راتلونکی دې ولرم.
خو خدای پاک تل په ما مهرباني کړې. خدای پاک نه ېوازې په۲ مخامخ جړو بلکې په ډېرو ځان وژونکو ، دالوتکې تښتولو او دنورو ټکرونو له کبله له مرگه ژغورلی یم . حېران یم چې ولې یې داسې کړي.
د رتبې ترفیع مې له جنرالی پورته له سیاسي ، او د ځینو مشرانو او افسرانو سره دمخالفت له خنډونو سره مخامخ وه ، خو سره له دې مې هم کارې پر مخټ درلود. دا حالت زموږ د ترفېعاتو نظام ته ښه نمره ورکوي. خو زما قوي نقطې دجگړې په کړنو کې وې. د جړې په میدان کې د یوه قومندان او د ځواکونو دمشر په توگه زما کړنې او له ټولو مهمه هغه اړیکې چې ما له خپلو مشرانو او همکارانو سره درلودې ،ټولې زما د قوت نښې دي. په واقیعت کې زما حرفوي تېز فکر اوذهن دکار پروخت څرگند شو او زه یې د قوي پوځي تاکتېک جوړونکي سطحې ته ورسولم.
زما له ضعېفه او قوي ټکو اخوا د پوځ دمشرۍ د وروستي څوکی له نېولو وروسته زما باور په تقدېر زیات کړ. زه چې کله ډگر جنرال وم دې پایلې ته ورسېدم چې په عزت سره تقاعد واخلم. خو د نواز شریف لخوا پر دولتي ادارو د ولسمشر د واکونو داخیستو تصمیم دې هرڅه ته بدلون ورکړ.
زه پوره باور لرم چې د انسان دژوند بریا تر ډېره دهغه په شخصیت جوړونې پورې اړه لري .نسبت و فکري روڼتیا ته.
د فزیکې ودې په پراختیا سره فکری پرمختړ تر ډېرې مودې پورې دوام کوي . هرڅوک خپل وړپاتې طبېعي او فکري ظرفېت لري . خو دهغه د په ډاگه کولو لپاره بېلابېلې شخصي هڅې مهمې دي.
روحي پرمختیا د انسان د شخصیت هسته جوړوي.صداقت ، ربښتېن ولی ، قناعت او انسانیت د یو شخص مهم صفتونه دي.
لومړی: ماخپله تجربه کړې چې صداقت په بده ورځ او بدو شرایطو کې مقابل کس تل تسلیموي.
دوهم: اخلاص دښه شخصیت مهمه نښه ده.
او دریم: دهرشي په اړه چې ما کومه خوښې درلوده زه یې له حرص او ځان غوښتنې ژغورلی یم. زه بختور یم چې دغې کچې ته رسېدلی یم. خو که زما بخت برعکس وای ، هغه مهال به هم خوښ وم. ما هیڅکله ناتوانه کسانو ته خپل پام نه دی کم کړی . او له دې کبله له خدایه شکر کوم . انسان باېد لکه میوه داره ونه غوندې وي . چې هرڅومره وده وکړي سري راښکته شي.
څلورم:خاکساري انسان ته لوېې ورکوي. انسان باېد دنورو کسانو صفتونو ته گوته ونه نیسي . دهغه پر ځای دې اجازه ورکړي چې نو ر کسان ددغو صفتونو برخمن شي. زما د شخصیت څرنګوالی زما دمور او پلار لخوا د مستقیمې روزنې او ژوندیو نمونو له لارې موږ ته راپیچکاري شوی.

............................

رهبري یا مشري څه ته وایي؟

د رهبری صفت تر یوې اندازې ذاتي وي ،خو دهڅو له لارې هم تر لاسه کېدای هم شي. رهبري یو هنر دی ، چې هېڅکله علم نشي کیدای. زما ملري (کولن پاول) په ډېر ښو ټکو کې ویلي(( رهبري دهغو چارو له اندازې زیات ترسره کول دي چې مدېرېت هغه نا ممکن گڼي . (( رهبري له خلکو سره داړیکو او خبرو اترو هنر دی.رهبري شرایطو ته دغبرگون هنر دی .او رهبري د نهونو سره دمخامختیا هنر دی. د یوه رهبر تر شخصیت زیات هغه څه چې خلکو ته مهم دي هغه قاطیعیت دی.خلک همدارنګه په سختو شرایطو کې د یوه رهبر زړورتوب او سړه سینه خوښوي.
یو مشر باېد خپل ټول پیچلي شرایط درک کړي. دهغه گو ته تل باېد د وخت پر سر وي.
کېدای شي د یوه رهبر مهمه دنده له یوې ډلې یا یوه ځایه دیوه تن غوره کول وي. رهبر باېد فوقالعاده باتدبېره او پرېکنده وي. وفاداري ، صداقت او ښه کار کړنه باېد دیوه مشر دهمکارانو اصلي اړتیا ده. د رهبر ملري باېد د رهبر تر نظر لاندې کاري وړتیا ، دخدمت اراده او هغه ته دنظرونو دورکړې توان ولري.
یوه رهبر ته وفاداري کیدای شي په مستقیم او یاغېر مستقیم ډول وي. خو که څوک درهبر د باورونو او موخو پر اساس غوره شوی وي کلکه ژمنه باید ولري

مشر باېد د چاپېریال په مطالعې او دخپل ټیم په ټاکنې سره پرتې دندې وارزوي. په دغو دندو کې لومړیتوبونه وټاکي او بیا د ټولو لپاره ټلارې جوړې کړي . دا بهیر باېد داسې ترسره شي چې ټول ټیم ته د منلو وړ وي. ددغه بهیر لپاره ښه لاره دېموکراتېک انتخاب دی. نه دا چې رهبر په خپله یوه ټلاره جوړه او په خپلو نورو ملرو یې ورو تپې. د خپلو پلویانو او مخالفو ترمنځ د خبرواترو په لاره اچول چې له کبله یې په دې اړه د مخالفینو نظر معلوم کړي ډېر مهم کار دی. دلته نو بیا د مشر دنده ده چې وروستی تصمیم ونیسي . دا کار باېد په اغیزمنه توګه ترسره شي. او چې هر څرمره ژر شي ښه به وي. لکه څرنګه چې ریچارډ نکسون د (( رهبر ) ) په نوم په خپل کتاب کې لېکلي( رهبر باېد د تحلېل له لارې کنېس نشي ) ، زه له هغه سره موافق یم. ناپیلیون ویلي :( د تصمیم غټه برخه په مطالعې ، تحلیل، نتیجه ګیری ، ارقامو او شمیرو نیول کیږي. خو یوه کوچنی برخه یې تل تیاره وي او یو پوخ جرات غواړي. هر څوک چې دغه وروستی برخه په واک کې ولري ډېر بریالی دی. او هر څوک چې په لومړی غټې برخې ولاړ وي رهبر نه دی ). له دې سره هم موافق یم. ویلو ته یې اړتیا نشته چې تر ډېره با ېد رهبران سم تصمیم ونیسي.
کله چې یو مشر ستراتیژي جوړوي او تصمیم نیسي د رهبری دوه نور صفتونه پاتې کیږي.
اول:وروستی تصمیم دی ،چې د ټیم ټول غړي هغه چې دد ې پریکړې مخالف هم دي باېد هغه ومني ، د وروستي تصمیم تر نیونې وروسته د نا رضایتي لپاره هیڅ ځای باېد نه وي. هر څوک چې ددې تصمیم سره ملری نه وي باېد له ټیمه بهر شي.
رهبر باېد د ټیم له دغه غړي سره چې پرېکړه ورته دمنلو وړ نه وي په قاطع او سړه سېنه چلند وکړي.
بله دا چې: یو رهبر باېد دخپلي ټلاري د اجرا ټول واک ترلاس لاندې ونیسي او په ټول قوت سره له دغې اداري ملاتړ وکړي. یو رهبر باېد ځان په وړو خبرو کې ورګډ نکړي. هغه باېد یوازې د لارې نقشه وړاندې کړي ، چې غواړي په بېلا بېلو وختونو کې کوم پرمختیونه وکړي ، او په بېلو وختونو کې د کار د پرمختې څارنه دې وکړي. دغه ډول څارنه په ځانړي توګه په پاکستان کې ډېره مهمه ده. ځکه په ټولو مخ پر ودې هېوادونو کې د سیاسي پلان جوړونې او پلې کونې ترمنځ ستر واټن موجود دی.
ټلارې هېڅکله سل په سلو کې بریالۍ یا پوره نه وي . زه دې پایلې ته رسېدلی یم چې که هڅې ښه لوري ته رهبري شي د ډېرې ښې پایلې په هېله باېد واوسو.خو نسبي موفقېت باېد قبول کړو. ځکه نېمه ډکه پیاله ښه شی دی چې تل هرڅه ورزېاتولای شو.
دملتونو مشران ډېر درانده مسو لېتونه لري. دا سې مسولېت چې خپل ملت او خلک وهڅوي ، انېزه او الهام ورکړي ، په هغوی کې باور رامنځ ته کړي او هغوی ته کاري روحیه او وړتېا ورکړي. دیوه هیواد مشر دا ټول د تمرین او شخصي تجربې له مخې تر سره کولای شي.
ملت باېد له شا دخپل رهبر څارنه وکړي. یوازې یو با جوهره او پوه کس کولای شي یو واقعي رهبر شي. یو رېښتېنی مشر په خپلو خلکو ګران وي. هغوی تیاردي چې دخپل مشر څخه د احترام او عزت په خاطر پیروي وکړي ، نه ده مقام او منصب په خاطر.
زما کلک باور دادی چې یو رهبر باېد دعامه افکارو سره سم په حرکت کې وي . خو کله کله داسې کیږي چې عامه افکار تېروتي وي. په داسې حالاتو کې د یوه رهبر رېښتېنې صفتونه غوړیږي. ځکه چې رهبر باېد دخپلو خلکو دعامه افکارو ټلوری بدل کړي . یو رهبر باېد هغه مهال عامه افکارو ته بدلون ورکړي چې د ملي ګټو پر اساس وي.

...................... .................... ...................

تر کومه چې زه په واک کې وم یو په بل پسې مې بحرانونه ولېدل.زما کار په ستړې کورنۍ ننونې پیل شو ، او هغه دا چې د ملت ماته ېېړی باید ساحل ته سلامته ورسوم.ما په اړو سېمو کې سمونو ته ډېر پام وکړ ، او د ۷ مادو یوه اجنډا مې جوړه کړه. وروسته مې ځانړي ځایونه د برېد لپاره په ګوته کړل.د دېمو کراسی د پیاده کولو لپاره د لوېدېځ له فشارونو سره سره کورنۍ په ښه توګه پر مخ تللې. ما په خپلو مو خو تېښار وکړ، او په دې خبرې ټینګ وم چې نغواړم تپلې دېمو کراسي وکاروو ،بلکې د رېښتېنې د یمو کراسی د پلي کولو په لټه کې یم. ما دغه مبارزه په کورنی او بهرنی جبهه کې دوه کاله پر مخ یوړه ، او په بریالی توګه مې وکولای شو هېواد له خرابی څخه په ښه توګه د پر مختې په لور بوزم.
وروسته د سپټامبرد ۱۱ پیښه او نور تحولات را غلل چې ټولې نړی ته یې بدلون ورکړ. نړیوالو قدرتونو ۵ سېمو ته نوی پام وکړ:

.1د ترهری سره مبارزه.
.2د هستوي وسلو پراختېا.
.3د ېمو کراسي.
.4د بشر حقونه.
.5او مخدره توکي.

پاکستان هم ددغو ټولو په مرکزکې و او نړیوال فشارونه هم په کور دننه زېات شول. دا په دې معنی نده چې زموږ ډېر خلک دمخدره توکو په قاچاق ، ترهری او دهستوي وسلو په پراختېا کې ښکېل و. وړې وړې ډلې د له ترهری او دمخدره توکو له قاچاقه ملاتړ کوي. او تردې کم بیا د هستوي وسلو د پراختېا

طرفدار دي. خو زموږ ډېر خلک له لويديځ سره د ترهرې پرضد مبارزه کې زموږ دهمکارۍ مخالف دي. هغوی د ډاکټر قدير خان په جزاې کولو کې هم مخالف و. باور لرم چې ددغو ټولو مسلو په وړاندې زموږ غبرګون د ملي ګټو پر اساس و. خو داسې وختونه راغلي چې زموږ لويديځوالو ملرو زموږ يو والی لږ مهم بللی.

دغه ادعا په ځانړې توګه د لويديځ لخوا دترهرې ضد جرې د سيا ستونو په نيولو کې ښه معلوميږي. لويديځ په ډاګه د ازادۍ لپاره سرښندونکي بريدونه ردوي. لويديځ او دامريکا متحدو ايالتونو د ازادۍ لپاره سرښندنې له ترهرې سره يوشان بللي دي. په ځانړې توګه هغوی د کشميريانو دازادۍ مبارزې له ترهرې سره تړلي .پاکستان تل دغه ډول له واقيعته لېرې چلند ردکړی. موږ غوښتي چې هرډول ترهرې ته بايد پام وشي. دا يوه جدي بيا نيه ده. خو کله چې دولت دازادۍ غوښتنې لپاره خپل او سپدونکي ځپي موږ دغه (دولتي ترهرې) بولو. زما احساس دادی چې د بې دفاع خلکو وژل که دهر چا لخوا وي ترهرې ده. هغه دولت چې بېناه خلک ووژني او هغه هم د دملرو ملتونو دامنيت د شورا د پريکړه لبک خلاف ،يقېنا چې دولتي ترهرې ده. البته د يوې موخې لپاره د يوځي بريد پر مهال خلکو ته تلفات نه يادوم. خو قصدا د خلکو وژنه بيخي جلا مسله ده.

کله چې د هند تر کنترول لاندې د کشميري مجاهدينو ازادي غوښتونکې مبارزه په هند او نړۍ کې د ترهرو پيښو سره تړې پاکستان په سخت ځای کې راځي.

دا سم تعبېر نه دی چې يوه ډله دېو ه کس لپاره ترهره او دبل کس لپاره ازدۍ غوښتونکې وي. بلکې يو کس کېدای شي مشروع ازادي غوښتونکی وي. خو که بې کارونه ناسم او غلط وي همدا کس به د ټولو لپاره ترهروي. زما هڅې د هند سره داړيکو په ښه کولو او دښه نيت د ښولو په برخه کې دي.

ډېموکراسې د سړې جرې وروسته دغرب يو نوی فکر دی. په خواشينی سره چې دغه فکر دلويديځ تصويرډېر پيکه کړی دی. زه تل په ډېموکراسي باور لرم. خو د مختلفو هېوادونو لپاره دهمغه يوه فورمول د ډېموکراسی مخالف يم. که غواړو چې د ډېموکراسي اغېزمنه او داجرا وړ وي ، بايد دهمغه هېواد له شرايطو سره پيوند ولري. ما ټولې نړۍ ته سفر کړی چې د پاکستان شرايط ورته تشريح کړم. او داسې هېوادونه مې وليدل چې هلته دېموکراسي له ماتې سره مخامخ شوې، ځکه دهمغه هېواد له اړتياو او سېمه ييزو شرايطو سره يې اړخ نه لاو. ټول ملتونه بايد د دېموکراسي له اساساتو څخه پيروي وکړي: د خبري رسنيو او بيان ازادي ، اقليتونو او ښځو ته دحقونو ورکول ، درائې دورکولو حق ، دبشري هوسابنې چاروته پام کول ، پردې سربېره د يوه نظام ټول خصوصيات ، سياسي او اداري جوړښتونه بايد د ملي او قومي دودونو پر اساس وي. نه د داسې نظريې تپل چې ملتونو ته بيخي نا اشنا وي. هر څومره ژر چې لويديځ دا حقيقت ومني هغومره ژر به په نړۍ کې ګډ سوله ييز ژوند خوندي شي. زه تر اوسه له لويديځ سره په دې لانجه کې يم چې پاکستان نن تر بل هر وخته ډېر ډېموکرا تيک دی. خو بايد ووايم چې ددغو شرايطو راوړلو ته اړتيا وه چې زه په يوځي جامو کې پاتې شم.

حتی د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر نه وروسته چې کله ملي پارلماني او ايالتي ټاکنې وشوې او ما منتخبو استازو ته واک وسپاره ، دا شکايتونه و. او په خپله لدې کبله چې د وزيرانو او نورو دولتي ادارو د مشرانو ترمنځ مې يو معين انډول تضمين نشو کړی تر نيوکو لاندې وم. حتی زه يې کله کله له بې هدفه او بېکاره ګوندونو سره د ابېتلاف په کولو پړ وبللم. په ډېرو برخو کې دا تورونه رښتيا دي. خو زه دغه تېروتنې د يوه الترنتيف په توګه ښه بولم.

په بې سواده ، لنډ فکره ، قبيلوي او فيوډالي ټولنوکې ډېموکراسي کېدای شي بدې پايلې ولري. ځکه کسان د وړتيا له مخې نه غوره کيږي. هغوی د کورني اړيکو او مالي سرچينو له لارې لوړو سياسي پوړيو ته رسيږي. ما له ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۲ کاله پورې کسان يوازې د وړتيا له مخې غوره کړيدي. اوس خلک هم هغوی پر همدې اساس ټاکي. که ډېموکراسي غواړی بايد سمو کسانو ته رايې ورکړی. که داسې مو ونکړل نو د پارلمان دغړو او وزيرانو دضعېفه پايلوپه اړه زړه مه خوری.

په پاکستان دا توردی چې د بشري حقونو وضيت پکې خراب دی، زه له دې سره موافق يم چې د بشري حقونو وضيعت په پاکستان کې هغه ډول نه دی چې ويار پرې وکړو. خو تل مې په دې ټينګار کړی چې په دغه هېواد کې د بشري حقونو وضعيت د مخ پر ودې هېوادونو او ځينو پر مختللو هېوادونو په پرتله خراب نه دی. مو ږ دبشري حقونو د وضيعت لپاره ستر ګامونه پورته کړي دي. خبري رسنی مو ازادې کړې او دبيان دازادۍ لپاره مو زمينه برابره کړې. ښځې مو له سياسي کبله پياوړې کړې. د ګډ انتخاباتي قانون په پلې کېدو سره مو په سياست کې د لږه کيو دورګډيدو لپاره لاره هواره کړې. د عزت په نوم مو دوژنود مخنيوي لپاره يوه لايحه تصويب کړه. دکارګرو ماشومانو مسلې ته مو رسېدنه کړې. ديني مقدساتو ته د سپکاوي پر وړاندې مو په قانون کې اصلاحات راوستل. مهمه او جنجالي مسله د حدودو د قانون ده چې دپارلماني کميټې تر کار لاندې ده. دا کمې لاسته راوړنې نه دي. مخدره توکو قاچاق يوه نړيواله ناروغي ده. په تېر وخت کې پاکستان د کوکنارو د کرلو او له دغه هېواده بهر دنيشه يي توکو د لېږلو له کبله تورن و. دکوکنارو کرل مو بېخي ختم کړل او دمخدره توکو سره دمبارزې ځواکونه مو قوي کړي دي ، چې په قاطع او اغېزمنه توګه له قاچاق وړونکو سره چلند وکړي. او هيله کوم چې دنړيوالې ټولنې په خوښه خپل پروګرام ښه کړو.

ما دخپل رياست په لومړي کال ۲۰۰۰ کې په ورځ کې له ۱۵ ساعتونو زيات کار کاو. معمولا به سهار ۹ بجې له کوره تلم، لومړی به مې تر ۲ بجو پورې کار کاو ، بېرته به کورته راتلم چې منډې ووهم او خپلې جامې بدلې کړم. په ۷ بجو به مې له يوې کاري ډلې سره لېدل او تر لسو بجو به مې ورسره کار کاو. کله به مو ډوډی خوړله او کله به مو بې له ډوډۍ کار کاو. وروسته به مې د شپې په ۱۱ له بلې کاري ډلې سره کتل.او تر ۲ بجو پورې به دغې لېدنې او کار دوام کاو. دېډول کار ته مې تر يوه کاله پورې دوام ورکړ. ددغه جدي کار او ناستو په ترڅ کې مو وکولای شو ډېرو حکومتي ادارو ته ټلاري جوړې کړو ، چې پخوا يې

نه درلودې. هله پوه شو چې پاکستانی دولت بې هدفه ورځ تېروله او بې موخې اداره کېده. دهمدغو ناستو او چټک کارپايله وه چې دهرشي ، په ځانګړي توګه د اقتصاد په برخه کې مې ډېر څه زده کړل.
لاهم ډېر کارونه پاتې دي چې ترسره کېدو ته اړتيا لري. خو باورلرم چې د پاکستان شرايطو ته په ښه توګه وګورو .هغه کسان چې يوازې نيمه خالي پياله ويني ، د بدبينی ، منفي کتنې په لور په حرکت کې دي. معقوله داده چې نيمې ډکې پيالې ته وګورو. او سختې هڅې وکړو چې پاتې نيمه پياله هم ډکه کړو.
زه ښه پوهېږم چې کوم نور کارونه بايد ترسره شي چې پاکستان د پرمختګ په لور وخوځېږي. خو دغه چارې بايد ترسره کړو چې دهېواد وضيعت ښه شي.

-د القاعدې په ناکامولو او د طالباني کيدو په ځپلو بايد دسرحد اېالت ته ټيکاو راولو.
-موږ بايد نا ارامي ختمه کړو او دهغه رېښې په خپلې ټولنې کې وچې کړو.
-د کرنې او اوبو خور دښه نظام له لارې خپلې اقتصادي پراختيا ته دوام ورکړو. نېغه بهرنی پانګه دخپل صنعت د پراختيا لپاره زياته او د صادراتو کچه لوړه کړو.
-همدارنګه بايد پاکستان په يوه فعال سوداګريزې او دانرژۍ په سېمې بدل کړو.
دا ټول کارونه بايد داسې وشي چې دخپلې بودجې کسرهم په پام کې ونيسو.
-موږ بايد خپلې اقتصادي لاس ته راوړنې د بې وزلی دکموالي ، کار پيدا کولو او دتورم يا انفلاسيون دکنترول له لارې خپلو خلکو ته وړاندې کړو. بايد خلکو ته د بربېښنا ، پاکو اوبو او طبيعي ګازو په رسولو سره د هغوی ژوند ښه کړو.
-موږ بايد خپل ټول زور او پام د روغتيا او ښوونيزو اسانتيا له لارې په مختلفو برخو کې د بشري سرچېنو د پرمختيا لپاره متمرکز کړو.
-بايد خپله دېموکراسي قوي کړو او د اساسي قانون برتري تضمين کړو.
-تر ټولو مهمه دا چې خپلې نړېوالې ډيپلماتيکې اړيکې پراخې او ښې کړو.

پاکستان لاهم اوږده لاره په وړاندې لري. موږ سترې لاسته راوړنې ترلاسه کړې. خو دا بس نه دي. موږ به انشا الله د کلکې ژمنې ، هيواد پالنې او رېښتېنې ارادې په مټ په يوه معتدل ، پرمختللي او فعال اسلامي دولت بدل شو . چې دنړېوالې ټولنې يو ښه غړی وي. داسې يوه نمونه هېواد چې دنړۍ لپاره بېلګه وي ،نه دوېرې او ترهې هېواد .

Download from:aghalibrary.com